حیات افغانی

دویم ټوک

لیکوال: محمد حیات خان

۱۳۷۰

حیات افغاني

دویم ټوک

PROPERTY OF ACKU 19239

لیکوال: محمد حیات خان

ژباړونکي: محقق فرهاد ظریفي او محقق عبداللطیف طالبي

سریزه تحشیه او تعلیقات د اکاډمیسین عبدالشکور (رشاد)

خپرونکی: د سرحدونو چارو وزارت
د خپرونو او فرهنګي چارو ریاست

UNESCO

حیات افغانی (دویم ټوک)

دسر حدو نو چار و وزارت دنشراتو او فر هنګی ریاست له خپرونوڅخه

لیکونکی : محمد حیا ت خان ،

ژباړونکی : محقق فرهاد ظریفی او محقق عبداللطیف طالبی .

مهتمم : محمد انور شمسه خیلی

د چاپ شمیر : (۳۰۰۰) ټوکه

دچاپ ځای : آریانا مطبعه

کابل ـ افغانستان ـ ۱۳۷۰

دمطالبو فهرست

عنوان | مخ

دویم فصل

دغرغښت د اولا دی بیان ۱
دکاکړو ښاخ . ۱٤

دریم فصل

دقیس عبدالرشید دریم زوی
شیخ بیټ بیټنی دنسیب شجره ۱۹
دهغوښاخونو بیانچیدبیټنیقبیلیدنسب په شجره کی راغلی دی . ۲۵

دریم باب

دمتی قبیلی بیانچی غلجی لـودی .
او سر وانی پکښی راځی . ۲٦
دلودی دتسمیی وجه . ۲۹

لمړی فصل

دغلجی ابن شاه حسین غـور ی
دنسب بیان . ۳۱
هغه غلزی چی په نورو ملکو کی
خواره دی. ٤۹

عنوان	مـخ

عنوان	مـخ
د ناصر قبیلی، بیان .	٥٣
دهند واکمن بهلول لودی.	٦٢
سلطان سکندراوسلطان ابراهیم.	٦٤
دسوری قبیله او سوری شیر شاه	٦٥
سلیم شاه .	٦٧
محمد شاه عدلی یا محمد شاه سور چی .	٦٨
ددغی ځانګی دمشری څرنګوالی.	٧٢
د بختیار قبیله .	٧٦
دسروانی قبیله .	٨٠

ځلورم باب

عنوان	مـخ
دکرړان داولادی بیان .	٨٦
ددلازاك قبیله .	٨٧
داورك زی قبیله .	٨٩
دمنګلو قبیله .	٩٢
داپریدیو قبیله .	٩٣
د ختکو دقبیلی دحالاتو بیان.	٩٨
د پخوانیو پیښو بیان او اوسنی ملك ددوی د راتلونکی څرنګوالی.	٩٩
دختکو قبیلی ترمنځ د یو والی او بی اتفاقی څرنګوالی .	١١٥

عنوان	مــــخ
دنورو همسایه قومو نو اوقبیلی سره د دښمنیو څر نګوا لی .	۱۱٦
دځدرانو قبیله .	۱۲۰
داتمانخیلو قبیله .	۱۲۲
د وزیر و نرخ .	۱۳۸
په نکاح پوری تړلی جرمو نه اود. ښځو ساتنه .	۱٤۷
پخپلو منځو کی د شخړود فیصله کولو څرنګوالی .	۱۵۵
پنځم با ب	
د افغا نستان دهغو متفر قــــو قومونو بیان چی ذکرئی دافغا نانو په بر خه کی نه دی لیکل شوی	۲۱۵
دهغو څلورو قومونو ذکر چــی‌خپل لوی نیکه سید محمد کیسو دراز بـولی .	۲۱۷
دګندا پور قبیلی تاریخ .	۲۲۲
هغه واړه‌قومونه چی دخپل‌اصلی ملك په نوم مشهور دی .	۲۷۳

دویم فصل

دغرغښت داولادی بیان

دغر غښت دقبیلی بیان:

دنسب له شجری نه داسی څرګند یږی چی غر غښت دقیس عبد الرشید منځوی زوی اود غرغښت له اولادی نه چی شپږ لوی ښاخونه منځ ته راغلی او تفصیل یی دنسب په شجره کی ذکر شوی دی دهغوی له جملی نه کاکړ ډیرمشهور او با قدر ته ښاخ دی آن تر دی چی ځینی خلك دغر غښت ټوله قبیله دکاکړ ښاخونه بولی او داسی ښکاری چی ددغه قبیلی ټول خلك هم خپل ځانونه کاکړ بولی . دغرغښت قبیلی شجره چی وړاندی یی ذکر راغی دهغی یوه برخه له مخزن افغانی څخه اخیستل شوی ده او یوه برخه یی ددغه قبیلی ددریو تنو مؤثقو او باوری اشخاصو له شفاهی بیان څخه لیکل شوی دی او ددوی دثبوت په دی ډول تر لاسه شوی چی هغه نومونه چی تر اوسه دنسب په شجره کی شته دی ددغه قبیلی ښاخونه تر اوسه په هغه نامه بلل کیږی . د مولف دهغو سره سره دغرغښت قبیلی دنسب ټوله شجره د څانګو سره ترلاسه نه شوه او زما په فکر ددغه قبیلی دنسب نامی دمربوطو ښاخونو او څانګو تر لاسه کول تراوسه هم پاتی دی خو سره له دی هم دپورتنی شجری له مخی ددغه قبیلی دلویو ښاخونو نومونه اوددوی تر منځ ارتباط څرګند یږی خو بیا هم ددی امکان شته چی په دغه

برخه کې یولړ تیرو تنی شوې وی‌او ددغې خبرې علت داد ی چی‌نومو ړ ی قبیله ډیره لرې او سیږې اودد وی‌تګ راتګ دی خواته حورا بږ دی او درې تنه باور ی کسا ن چـــی‌مؤلف په ډیر کو ښښ سره پیدا کړل هغوې په زیا ته اندازه نـــه پو هیدل نو په دغو مشکلو شرایطو کې چې مؤ لف کوم معلو ما تـتـــرلاسه کړې ، ددغه قبیلی دښا خونو دذکر سره به یو ځاې و لیکـــــــل‌شی .

د کا کـړ و ښا غ :

دغر غبنت زو ی دانی په څلورو زامنو کی کاکړ تر ټو لو مشرو چې بی شمیر اولاده‌یی په یوه لو یـــه غر نی سیمه قبضه ټینګه کړ ی‌ده. دکا کړ و دملك شما لی خواتـــه دغلجیو دملك جنو بی څنډ ه ی‌مــوـ قعیت لرې او شمال لو ید یځ تـــه یی دار غستان سیمه او هم دتو بی هغه برخه مو قعیت لرې چی‌ا څکزی‌درانیان په کی او سیږې . لویدیځ او سهیل ته یی د بلو چستان سیمه دسپینو تر ینود علاقی یوه بر خـه اود سلیمان غره یو ښا خ پـرو تـ‌دی . دکا کړو ټول ملك لـه هر ی خوانه تقر یبا دسلو میلو په‌انـــدازه‌پلن والی لرې او ټوله سیمه یـی غر یی او دغرونو په و اسطه احاطه شوی ده او تر ټو لو یو لوړ غریی له شمال څخه جنوب خواته غزیدلی‌دی که ددغه غره له لوید یځ‌خوانه څوك شمالی خواته را شی نومو ړی‌ځاې به چی هغه ور ورسیـــــږی دسیو نا داغ سیمه به وی چی یـوجګ لوړ او نا آباد میدان دی‌چـی یواز ی دمالو نو د څر و لو له پاره‌منا سب ګڼل کیږی ، خـو او سی هلته لږ څه آباد ی منځ ته راغلی‌ده، او کله چی څو ك دکا کـــړو سیمی‌جنو ب دتو بی خوا ته را شی‌نوهغه جګ میدان ختمیږی خود هغـه لو یدیځ خواته ډیر ی واد یګا نــی‌دغرو نو په منځ کی شته دی چـی دهغو څخه توره مر غه بر شـــور،نرین، توګی او هنه ډیــــــر ی مشهور ی دی او ددغو ټو لوواد یوخو لی لو یدیځ خوا ته دی.

د بـــر شور واد ی :

دغه وا د ی‌د لو ړ ه له چینـــی‌څخه پیل او دیو ی و یالی پردوا ړو غا ړو دښښښ تر سیمی پور ی غـز یدلی ده شمال ته یی دتو بــــی سیمه او سهیل ته یی یو سخت غرمو قعیت لرې ، ددغې واد ی‌پورتنی برخه تنګه ده او ځنګلو نه نلر ی‌او ښکتنی برخه یی آباده او حاصل خیره ده او هغه زرا عتی بو ټی اوپیدا وار چی په خراسان کـــــی

موندل کیږی دلته هم شته که ده غی سیمی منځ کی دو یمه قبیله میشته نـه وای نو دغه وادی به هم دپښتنیو برخه گڼل کیده ځکه ددوی تر منځ کوم فاصل حد نشته په دغه سیمه کی زیاتره د کاکړ دلو لادی دتـر - غزی او سنتیه ځانگی میشته دی.

دهنسه وادی:

ددغه وادی خوله دشال تـــــــر سیمی پوری رسیږی اودچپر کوتل له نږدی سیمو څخه پیل شوی ده په دغه ځای کی یو لوی پیچو می موجود او له دغه ځای څخه یـــوه لاره دژوری وادی ته ځی. دشال په سیمه کی هم دکاکړ و قبیلی یو ښاخ میشته دی ، د افغانستا ن پا چـــا ابدالی احمد شاه دبلو چستا نوالی نصیر خان ته دغه ځای دهغه دښو خدمتو نو په بدل کی ور کړی وکه څه هم اوس دغه ځای تش په نـوم په بلو چستا ن پوری تړ لـی دی، خو دبلو چستا ن در یاست دضعـف په وجه باید خود مختار او خپلسری وگڼل شی ، له دی نه پرته دکاکړو ملك دلو یدیځی برخی په منځ کـی وړی ،وړی سیمی ډیری دی لکـه، کوسه ، صحرا ، کوته ، تـــودهاونـــور .

دکنچو غـی وادی:

کنچوغی د کند غره لو یدیځ خوا ته یوه تنکه وادی ده چی ډیره ښه ځمکه لری او اکثر ځایو نه یی ښــه آباد دی، د پسر لی په موسم کـی ټول ملك او هم ددغه ځای غر نـی سیمی شنی او له گلانو نه ډکـی وی او دیو گلزار په شان ښکاری دکنجو غی دواد ی پور تنی بر خـه تنکه خو ښکتنی برخی یی په تدریج سره پرا خیږی او تقریباً دیـــــرش میله اوږ دوالی لری ، دد غی وادی جنوب غربی سیمه چی سور و ره ده دکنجو غی په نامه نه بلل کیږی اوددغه ځای په قنج کی څو کلـی هم شته چی په هغوی کی څلو یښت یا پنځو س کور ونه میشته دی او شاو خوا سیمی یی ښی آباد ی دی خو په اکثرو ځایو نو کی یی شپا نه خپلی دپسو نو رمی پیا یی، دد غه علاقی ټول او سیدو نکی د کاکـړ دنسل دسنتیه ښا خ یوه څانگه ده اوددغه سیمی خان په اور کس کـی او سیږی .

د بورۍ سیمه :

دغه سیمه یو پراخ او اوږدمیدان دی ، ځمکه یې حاصل خیز او آباده ده او دبورۍ دسیمې په باب ځینې خلك داسې عقیده لري چې د پیښنو رد میدان په شان آبا ده‌ده او په هماغه اندازه پرا خوا لي لري ،د امعلومه نه ده چې دغه روایت به صحیح وي او که نه. خو دا خبره ښکاره ده چې نوموړې‌سیمه ښه آباده او شنه ده او د دغه ځای تول خلك دکر نې په چارو بوخت‌دي، دبورۍ په منځ کې‌یو ډیر ښه سین دجنوب لوید یځ خوا ته جاري دی او له دې شخه پر ته ددغه ځای ځمکې دغرنیو ویالو په ذریعه هم خړو بیږي . همدا راز‌شو کار یزو نه‌هم دځمکو داوبو کو لو له پاره موجود دي. دذغه ځا ی پیدا وار ډیر ښه او داروپا ځینې‌میوی هم دلته مو ندل کیږي خو شفتالو ډکې نه پیدا کیږي .دد غه ځای خلك دکلیو په هغو کورو نو لږ څه لري کوډ لي جوړ وي او په هغو کې او سیږي دبورۍ په سیمه کې دو لس بیل بیل ښا خونه او څا نګې میشته دي، دا ټول ښا خو نه دسنجر یا سو ران ابن‌تفرق * چې د کاکړ لمسیو، او لاده ده په تیره بیا داري خیلو د ښا خ‌خلك په زیات شمیر او سیږي چې ددغه هر یوه ښاخ څو کلي بیل بیل‌او سیږي او دوی دبیلو مشرا نو تر‌واك لاندي ژوند کوي. که څه هم دکاکړو په غرنی سیمه کې نوري وړې سیمې له دغه قبیلې شخه ډکې دي خو د مبحث‌داوږد وا لي په سبب یې له ذکر شخه ډډه کیږي.

دود او دستور:

دکا کړ وپه شان په یوه لو یه قبیله کې دیو واحد دستور ا و دود شتوا لی نا ممکن دی په تیره بیا‌دکا کړو قبیله لکه څنګه چې دنسب په شجره کې لیدل کیږ ي‌په شلو ښا خو نو باندي ویشل کیږي او بیا له دغو ښا خو نو شخه څو نور واړه ښا خو نه را و تلي او‌بیا دکا کړو ،په لوی ملك کې‌خواره واره شوي دي نو ځکه ددو ی دوډ، دستور اوروا جونه سره‌بیل‌دي او په دغه ټو له لویه قبیله کې هیڅ یو ستر خان حا لمیت‌نه لري . دکا کړو هغه ښاخ چې دبر شور په سیمه کې پروت دی ،روا جو نه او دستو رو نه یې ددوی

---

*دغه نوم په اصل کې‌هم تفر ق‌لیکلی دی (وګ ۲۳۶ مخ) خو په نورو کتا بو نو کې دغه نوم تغرق لیکلی دی. (رشاد)

همسایه قبیلی ترین ته ور تـــه والی لری . اود پا تی لوید یخـــو
کاکړو پو ښاك او دستور اخکــزی‌درا نیو ته نږد یوا لی لری او هغـــه
شخړی چی ددوی تر منځ پیښـی شـــی‌د کلی دملکانو او سپین ږیر وپـــه
مرسته دسلا او مشـــور ی‌له لاری‌فیصله کیږی ،خو په ختیځو کاکړو
کی‌بی انتظامی پوه څه زیا تـــــــه ده دبوری او سیدو نکی ارب خیـل
عمو ماء په خپلو منځو کی جنګو نـــه او شخړی کوی که څه هم ځینـــی
وختونه سپین ږیری او منصفـــــا ن‌دشخړو داوا رو لو له لار ی‌فیصله
او تلاشو نه کوی خو عمو ماء دغـــه شخړی دتور ی له لا ر ی فیصلـــه
کیږی .داتمان خیلو او دو مـــــــړوتر منځ اکثراء دښمنی موجودی دی .

کسبو نه :

دکاکړو دقبیلی خلك عمو مـــاء‌په دو وکسبو نو یعني کرنـــــه او
ما لدا ری پا ندی بو خت دی خــــوشر نګه چی دکر نی ځمکی ددغـــه
بی شمیره قبیلی دګو زاری له پـــا ره‌کا فی نه دی نو له دی کبله دمالداری
شمیر دټولو نیما یی ته رسیـــــــږی،دوی په خپل کسب کی زیار کـــښ
دی .دغرو نو په مینځ کی دپو ونده‌وتوری کیږدی او دپسو نوډیزی رمی
تر ستر ګو کیږی . دوی اکثـــراء دخپلی قبیلی په مقبو صه غر و نو لی
څلور څلور یا پنځه پنځه کیـږ د ی‌په یوه ځای کی درو ی او پـــــه
ما لداری پا ندی خپله ګوزاره کوی‌خو ځینی وختو نه دوښود دلږ وا لـــی
په سبب په خپله سیمه کی په یوه‌لوی کمپ کی چی له څلو ښښتو نـــه
تر سلو کیږدیو پوری په کـــــــی‌شاملی وی سره یو ځای اودنــــو رو
قبیلو سیموته ځی. ختیځ کاکـــــړزیاتره د مینږ و اووزو رمی او ســـږ
شمیر دغوایانو ګلی هم ساتـــــی‌خو لوید یځ کا کړ او ښنان هم‌ساتی.
کاکړ ډیر زیات لاسی کارو نه نــه‌کوی خو تجارت شرم نه ګنی ،مګر
دوی دخپل ملك نه‌د باندی لږ تـــــګ‌راتګ کوی .دپسو نو وړی په زیا ته
اندا ز ه ، د دو ی له ملـــــــك‌نه کند هار ته ځی او همـــدا را ز
ختیځی خوا ته هم راځی. کو څـــــی‌او لمڅی پخپله دغه خلك دپو ښناك
له پاره له وړیو نه جوړوی او ځینی‌کا کړ په تیره بیا کوم چی په کوته
او سهیلی برخو کی اوسیږی دبولان‌په دری او نورو ځایو نو کی لـــوټ
او لارو هنه هم کوی. ددغه قبیلـــی‌خلك اینجه دتجارت له پاره دهـــرات
له غر نیو سیمو څخه په‌زیا تـــــه اندازه راوړی.

خویونه او عادتونه :

ددغې قبیلې خلك سپین زړي او ساده دي . دوی په مطلق ډول دعلم سره مینه نه لري ،* خو ځینې خلك قرآن مجید لولي. دوی دملا یا نو په خبر وباور لري او هغه منی خو هغوي ته خیرا تو نه او نور شیان لږ ورکوي ،دوی په مکارو اوغولونکو تعویذ لیکونکو ملا یا نو او پیرا نو باندی زیاته عقیده لري که څه هم ددوی روز نه علمي اړخ نه لري خوسره له دی‌هم په دوی کی درواغ ویل لږ دی. لوید یځ کا کړ سو له خوښو ونکی‌دی. په دوی کی غلا لار وهنه او لوټ کم دی، خوپه ختیځ او سهیل کی کاکړان ددغو عاد تو په خلاف اعمال ترسره کوی، سره له دی هم په عمومی ډول ددغه قبیلې دحالا تو په برخه کی ددی خبری لیکل ضروردی چی ددغی قبیلې عمومی کړه وړه ډیر خراب نه دی ،ښځی یی مخو نه نه پټوی او تقریباء هرماښا م په تیره بیاد سپوږ مۍ په شپو دماښام‌ډوډی تر خوړلو وروسته ښځی اونرپه بیلوډلو کی سره کیني اوداود خپلی سیمی په طرز سندر ی وایي. دوی دښې طبعی خاوندان دي .

خواړه :

په دغه قبیله کی خواړه دهری‌سیمې دغلو دانو په تولید پوری اړه لري او عموماء اوربشی غنم او هغه ځمکی چی زیا تي اوبه لري هلته ور یجی هم خوړل کیږی، دوی‌په ځمی کی زیاتره دپسو نو غوښی خوری او کرت هم‌په ډیره علا قمندی‌سره خوړل کیږی.

که څه هم په دوی کی‌د میلمه پالنی شوق ډیر نشته خودقدروړ میلمنو ته دخپلو معمولي خوړو په نسبت ښه خواړه ور کوی.

پوښاك:

کا کړ اکثراء خپل پو ښاك دپسو نودسپینو وړیو نه جوړوی دوی او د دوی ښځی داوبو، صابون په واسطه له وړیو نه یو ډبل لمځی جوړوی او بیا وړیسی له هغه نه‌د خپلی وضعی‌سره سم پو ښاك برا بر وی. ددوی

*مګر په کندهار کی چی کوم کاکړ ان اوسی په هغو کی‌د علم برخه درنه ده. (رشاد)

دلمځي دوله تو کر ښخه کو ښـــي مشهو ر دي چې د کميس په ځای بی
دیوی پرا حه او اوږدې چپـــي په شـان اغو ندی اود ژمی پـــه
موسوم کې د بر ستنی کار هم ورڅخـه اخستل کیږی ویل کیږی چی ابدا لی
احمد شاه په خپله زمانه کی یـوه ورځ د توبی په غر ه کی په ښکار بو-
خت و. او هلته یي دکو ښي پو شو کاکړو نه ددغي جامي دنوم پو ښتنه
وکړه او ويی ویل چی په دغه جا می با ندی باید درا حت جامي نـــوم
کیښو دل شی ددی له پاره چـــي. دغه یوه هوسا یی بخښو نکـــی
جامه ده ددغه وړیني جامي دزیا ت استعمال اودقبیلي دوګړود زیا توالی
په سبب په پښتنو کی یوه مشهوره مقو له ده:

که کاکړ وخامتا درلود له کزد روپي به خرڅیدله که دند وانو غنډه
خوږ له سیر دروپي به نشوه موندله چی څو مره هندوان تر کاری حواره
دی افغا نان (پښتانه) له هغـــه اندا زی نه دوی زیات سبری حواره
بولی؟ که څه هم په دی کی شك نشته چی د هغوی وړین پو ښاك زیات د ی
مګر سره له دی هم اکثراء لوید یځ کاکړ د صحرایی درانیو په شـــان
کالی اغوندی . دبوری دسیمـــی اوسیدو نکی کاکړ د تو کر ښخـــه
جوړ شوی کمیسو نه اغو نـــدی اودخولی په ځای لو نګی په سروی او
څینی یی له ملا څخه لو نګی تـړی ،همدا راز ختیځ کاکړ زیا تره دبوری
دسیمی دخلکو په دول کالی اغوندی خود منځنی برخی اوسیدو نکی کا ړ
ډیر ساده دی،دوی لنډ پر تـو ګ چی له زنګنو نه لږ ښکته وی اغو نـــدی
اود ګرمی په موسنوم کی عمو مـا ددملا نه پورته لغړ وی، خو په ژمـــی
کی دپسه دپوستکی څخه جوړ شـو ی پوستینو نه یادلمځي نه جوړه شوی
کوځي یعني راحت جامه استعما لوی څینی یی دکوځي او اوږده پو ستیـن
نه د شلو ار کار هم اخلي. دمنځنـــی بر خي او سیدو نکی کاکړ دکړ نـــی
په نسبت په زیاته اندازه پـــه ما لدا ری بو خت دی او دپسو نـــو
درمونه پر ته دغو او اوغوایانو ګلی هم ساتی او څینی خلك دخیبر دخلکو
په شان سمڅي ژوروی او په هغـــو کی او سیږی دوی له ناپوهی ســره
سره سو له خو ښو نکـــــی او بی زیانه خلك دی.

مذهـــب :

دکا کړو تو له قبیله سنـــــی مسلما نان دی ، خود مذ هبـــــی
فرا یضو او احکا مو نه ډیر با خبره نه دی اودپخو عمرو نو له خاو ـــد
انو نه پرته نور خلك لږ لمو نـــځ اداء کوی په دوی کی دو مره ښــه،
والی شته چی بی ځا یه تعصـــب نه لری .

کور نی شخړې:

دکا کړو تر منځ کور نی شخړې لړۍ دی خود اربې خیبلو ځینی ځا نگی پخپلو منځو کی دښمنی لرۍاو اتمانخیل اودوړ هم جنگ او جگړې کوی ، مگرد فسادو نود لړوالی سره سره دگوند لړی بازی او جنبو جوړ ول په کی شته دی.

بهر نی دښمن:

بلو ځان دکا کړو مؤ روثی دښمنان دی اود دوی تر مینځ شخړی او وینی تو یول جاری وی او حتی یودپـــلدنامه سره هم دښمنان وی کــــه څه هم دوی دډیری مودی را پـــه دی خوا یود بل پر ملك با نــــدی تیری نه دی کړی . خو هره یـــوهقبیله دښمن ته دنقصان درسو لو له پاره تیاره ده. اوهغه مشهوره جگړه چې د سنتیه کاکړو او بلو څو تر منځ دطهماس خان کاکړ په زما نه کـــیپیښه شوی وه دهغی نه له سلــو کا لو څخه هم زیاته موده تیریږیاو ددی جگړې بیان داسی دی چـــی

دکا کړود یرغل په سبب بلو ځـــان په قهر اود بلو چستان وا لی نصیر خان په مشری .شپږ زره بلوځـــان دشال په سیمه کی د حملی له پاره راتول شول او کاکړو دوی خپـــلکلك دښمنان وبلل اود دوزخ یـــاد وژك سیمی ته لاړل دغه سیمه یوډبر ین میدان دی اود هغو غرو نـــو دپاسه چی ژوره وادی لوید یځـــه برخه وه او تنگ راتگ پـــه ئی مشکل دی او اکثراء شاوخوا ته یی ولاړ غر دی چی دتیریدو لاره په ئی نشته ، بلو ځا نو په دغه وخـــتکی دشال لخوا یر غل کول سخـــت وگڼل اود هغه وادی لخوا دیـــوهسخت او صعب العبور غره څخـــه تر تیر یدو ورو سته دیوی تنگـــیوادی پا سنی برخی ته لاړل چـــی دهغه ځایه څخه یوه آسانه لارهدکاکړو قرار گاه دوزخ یاد وژك تـــه

تللی وه . طهماس خان چی دهغـــوکاکړو مشر و غلیم ته یی درا تلـــو موقع ور کړه تر څو پوری چـــیورو ستی سخت پیچو می ته راوسیدل او دلته کاک ړو دخپل زړور مشـــرطهماس خان په حکم پر بلو ځا نـــو باندی یر غل وکړ او تقر یباء تـــول بلو ځان یی دهغوی دمشر فا ضـــل خان سره یو ځای ووژل چی تر هغیمودی نه ورو سته بلو ځا نـــو دکاکړو په سیمی با ندی کو مـــه دیادولو وړحمله نه ده کړی .

دترین دقبیلی سره هم گا کړو یوځه دښمنی لرله اود ابدالی احمد شاه په وحت کی دکا کړو دبی اتفاقی په سبب تر ینود خپلو حملو لـه.

کبله دکلجو غی کاکړ تنگ کـړل نو ځکه دهغوی مشر چی، په ورکس کی او سیده دخپلی قبیلی دبـی اتفا قی په سبب مجبور شو ابدا لی

احمد شاه ته عرض وکړی، کلـه چی پا چا په توبی کی په ښکـار بو خت ونو هغه دپا چا په حضور کی په خپل سر باندی اور کیښود او په.

فر یا دونو یی پیل وکړ پاچا دهغـه عرض واور یده او داسی مر ستـه یی ورسره وکړه چی د خپل پوځ یـوتو لګی یی د تر ینود اصلاح کو لـو له پاره ور سره ولیږ له اودسنتیه کا کړو یه نوم یی فرمان جاری کـړ چی دخپل خان داحکا مو او اوامـر وواطا عت به کوی کله چی دسنتیه.

تو لی قبیلی بیا په خپلو منځو کـی سره اتحاد وکړ نو په دی سبب تـر ینود دوی سره دشخړو جر ئـت ونکړ. او اوس دتر ینو سره زیا تـی

شخړی نه رامنځ ته کیږی اود پاتی نورو کاو ند یو قبیلو سره هـم کومه بدی نه لری، خود کا کـړ واو وزیر و قبیلی کله کله په خپلو منځو کی شخړی او جګړی کوی .

د وزیر و قبیله دلوټ له پـاره په دوی یر غلو نه کوی او کلـه چی په دی پوه شی هغوی تعقیبـو ی او جګړه ورسره کوی ، لکه چـی

پرو سږ کال دری سوه سپـا ره او پلی وزیر دژوب دسیمی پـه ختیځو او سهیلی غرو نو کـی دکا کړو درمود لو تو لوله پـا ره را غلی وو . چی په دغه یر غـل کی اتلس وزیر مړه او شپږ کا کـړه وژل شول اود وزیر و مړی هما غلته پا ته شول .

د قبیلی شمیر:

دکا کړو دقبیلی دشمیر په بـاب مختلف روا یتو نه موجود دی ځینـی یی دو لس لکه ځینی یی اتلـس لکه او ځینی یی نه لکه ښییـی. ددا سی اختلا فو نو په سبـب داګرانه ده چی ددوی صحیح اود ډا د

ور شمیر ولیکل شی، خودکا کـړودقبیلی شمیر غا لباء دینځو لکـو څخه لږ نه دی .دد غه قبیلی خلک که څه هم دساده گی له کبلـه

په پو ځی چارو نه پو هیږی خـودمخا مخ جګړی له پاره ډیر ښـه سپا هیان دی که څه هم دوی دټینګ عزم خاوندان نه دی .دوی بتی دا ره (پو لته یی) اوږده تو پک چـی دوی پایی لری او چی ډیر لـر ی

لګیږی استعما لوی .په دوی کــــی ځینی ډیره ښه ښه ویشتو نکــی دی ، او دوسله والو کسا نو پـــــه پر تله یی تو پك لږ دی او فقــط څلور مه برخه یی دتو پکو خاوندان‌دي، خو تقریباً ټول یی یوه تـــوره لــــه ځان سره لــری ، خو په خپل‌ملك کی دوی اکثراء بی وسلـــــی ګرځی ،څر نګه چی په ډوی کـــــی‌داسو نو دسا تلو رواج لږدی نـــو ځکه دسپرو شمیر یی هم زیـــا تـــه دی .

لوبی :

هرډول مستیو او ساعت تیـــــر یو ته لو به وایي ، خو دلته‌د لو بی څخه مقصد یوه عجیبه او غیرمعمولي‌لو به ده ، په دی ډول چی اکثـرا دشپی ډوډی تر خو ړلو ورو سته ځوانان اوپیغلی د کلیو نه بهرسره راټو لیږی او په لوړ اواز ســـزه‌وایی پیر مړندی ژوندی دی اوبیـا هم په همدی ډول غږو نه کــــوی‌او ځا نو نه دلیو نیا نو غو نـــدی ړمستوی .راوی وا یی چی په دغــه حالت کی ددغو ځوانانو ،هلکا نـــو او نجو نو تر منځ به بد کارو نــه هم‌سرته‌رسیدل خو دغه رواج چـــی دپیرتاریك د مر یدا نو له خـــــواسر ته رسید. اوس مخ په ور کیدو دی . دتر ین په قبیله کی دغـــــه لو به دتیسوی په نا مه مشهو ره‌وه.

د ناغر قبیله :

دنسبی شجری دلیدلو څخه څرګند یږی چی ددانی‌د زوی ناغر قبیله په لو مړی سرکی په دوښا خــــــو ویشل شوی ده . چی وروسته‌ورنه خو ځانګی مینځ ته را غلی دی‌دخیږنو سره سره ددغه قبیلی په باب‌مفصل معلومات لاسته ندی راغلی نـــــو ځکه‌ویل کیږی چی دا یوه مشهـــوره قبیله نه ده او لږ شمیر خلك یـــی‌چی دی هغه هم دکاکړ وسره مخلوط شوی‌دی . یوه پوه سړی ویلی دی‌چی دکاکړو قبیلی ددمړ ښاخ د ناغر سره یو ځای او سیږی .

دپنی قبیله :

ددغه قبیلی دنسب شجره وړاندی‌ولیکل شوه چی له هغه څخه ددغــه قبیلي دښا خو نو او ځا نګو ویـــش‌په ښه ډول ښکاری ددغه قبیلـــــی ښا خو نه هم په کاکړو ورګډ یږی‌اودپنی قبیلی سیمه چی سیوی نو- میږی دکا کړو په ملك کی شاملـــه ده که یو مسافر دډاډ رله سیمــــی نه په لو مړی منزل دشمال خوا تــه ولاړ شی نو سیوی ته رسیـــږی .د

سیوی سیمهٔ دیو ی گلکی خاور یځخه جوړ شوی میدان دئ چــــی
په ځینو ځایو نو کی یی غرنی ویالی‌را وو ځی چی دځمکو په خړو بو لـو
کی گټه ورنه اخستل کیږی، دسیو ی‌او داد رنیل دیر اعلی جنسیت لـری
چی په کند هار او ایران کی دملتان‌دنیل په نسبت زیات خر یداران لری
اود خیر پو رله نیل سره یـــــی برابر بولی . ایسوټ او مو ســی
خیل دکاکړو دسیمی ختیځ خوا تـه په یوه غره او صحرا کی او سیږی ،
اود مو سی خیلو له دوو څا نګـوځخه یی د بلیل نسل ز یـــات
دی چی اکثر یت یی دکر نی پـــه چارو بو خت دی او لهر زی ددو یم
ښاخ یعنی بلبل په نسبت کم دی‌ا وذدغه ښاخ اکثره خلك په مالدا ری
او دغوا یا نو په ساتلو بو خـــت‌دی. دلهون ښاخ دچخن او کندر پـه
سیمو کی او سیږی چی دکا کـــړودسیمی په لویدیځو برحو کـــی
مو قعیت لری او ددوی داستو گنـــی‌له سیمی ځخه ما لګه دځمکی لـــه
ښوری ځخه تر لاسه کیږی .اوددغه کسب خلك دا مالګه تو لوی او دا
وښا نو او غوا یا نو په واسطه یـــی‌کند هار او دکا کړود مندو خیلـــو
ملك او نورو شا خوا سیمو تــــــه دخر ځلا وله پاره وړی او عمو مـاً
یی دغلی سره مبادله کوی ، ځینـــی‌وختو نه چی دغلی بیه لوړه وی نـو
دغلی سره په یوه وزن ور کو ی‌اوکله هم دوه چنده او ربشی ،او جوار
ور با ندی اخلی.
دپنی ښاخ دخلکو دود او دشتوردکاکړو په شان دی خو، امرزی چی
ذاو ستر یا نی سیمی لوید یـــځ‌ته پراته دی‌دهغوی دود او دستور
شیرا نیو ته دیر ور ته وا لـــی‌لری خو دهغوی په نسبت دښــه
سلوك خا وندان او کم آزاره خلـــك‌دی. دپنی ښاخ ټول شمیر چی پــه
خپله پخوا نی سیمه کی پرا ته دی‌اتیاء زرو ته رسیږی .ددغی قبیلـی
دهغو ښا خو نو ذکر چی نورو ملکو نو ته مها جرت کړی دی ددغـــه
فصل په ورو ستی برخه کی بـــه راشـــی .

د دا وی قبیلــه :

ددغه قبیلی دخلکو شمیر هـــم لږ دی . دکا کړود قبیلی پــو ر ی
مر بوط اودهغوی سره گډ شمیـــرل‌کیږی .دنسب له شجری ځخه داسی
خر کند یږی چی دداوی قبیلی دریم‌ښاخ چی خو بدی نو میږی دمحـــزن
افغا نی په روا یت د داوی له اصلی‌نسب ځخه نه دی بلکی هغه پـــه
دی ډول ور سره یو ځای شوی چی‌ددانی زوی دا وی دخپل پلار دژوند

په وخت کی دآسا نو تجارت پـــه منظور په سفر تللی و په دغـــه سفر کی له ده سره یو ښکلـــی ښځه چی د سید حسن په نامه یو زوی هم ورسره ؤ یو ځای شوه. داوی له هغی ښځی څخه دوطن پو ښتنه وکړه هغی ځواب ور کړ چی له خجند څخه راغلی یم او دا هلك دسید زوی دی او په هغه ملك کی قحطی را غلـــی اوزه غواړم چی د خپلی مشری خورکره ملتانځ ته لاړه شم داوی هغوی ملتان ته ور سول هلته هغی دخپلـــی خور په مشوره ددا وی سره نکـــاح وکړه او سید حسن چی دهغی لـــه لومړی میړه څخه وپه غلا اولوندې پیل وکړ خو څه موده ورو ستـــه له دغه مذ مومو او خرا بو چارو څخه پښیمان او تو به یی وا یستله دداوی له دغی ښځی څخه څلور زامن دنیاته را غلل او څر نګه چی حسن خجندی ونو په پښتو کی دغی لهجی تغییـــرو کړ او په اختصاری ډول افغا نـــان هغو ته پخپلی ور ځنی محاوره کـــی خو ندی وایی.

دبا بی قبیـــله :

د غر غښت دنسل دنسب شجره تر هغه ځایه چی ممکنه وه ولیکـــل شوه ، ددغه قبیلی حالات هم پـــه کمه اندازه تر لاسه شوی دی کـــه څه هم ددوی شمیر له دریو زروکسانو څخه زیات نه دی خو په افغا نا نـــو (پښتنو) کی با بیان په کند هار اوقلات نصیر خان کی ډیر با همتـــه سودا گران دی اود خپل ښه سلـوك او نیك چلند په ذریعه دښه ژو ند څښتنان او اکثراء شتمن دی، اوددغه ښاخ خلك دښی میړا نی اوښی رویی په سبب مشهو ر دی که نوروافغانانو (پښتنو) هم دلارو هنی او لوټ پـــه ځای ددوی په شان دحلال مـــال تر لاسه کولو کو ښښ وکړی. نـــو ددنیا یی آرامی اوښه ژوند نـــه پرته به داخرت له عذاب څخه هـــم خلا صون ومومی.

د بابی قبیلی خوراك او پو ښاك اکثرامیرانه او ددرانیانو په څیردی دبا بی قبیلی او ابدا لی درا نیا نـــو تر منځ یوه پخوا نی دښمنی موجوده وه او ددغه دښمنی سبب داو چـــی دمرادو په نوم یوه ابدا لی ښځـــه دبابی قبیلی دخان لخواد هغـــی دمور اوپلار له رضانه پرته تښتول شوی وه، ویل کیږی په لو مـــړی جګړه کـــی څرنګه چـــی مراد و دابدالیانو په منځ کی وه او پـــه شپه کی یی دابدا لیا نو تیر کشـــان په اوبو کی واچول نو ددغه دو کـــی په اثر ابدا لیا نو ماته وخوړه او مراد وخپل مراد ته ورسیده ه لکـــه څنګه چی دغه پیښه په پښتو ژ به ، منظوم شوی ده، خو اوس دد و ی ترمینځ کومه دښمنی نشته .

دمندو ځیلو قبیله :

دنسب له شجری څخه ښکاریږی مندو چې د هغه له نسل څخه دغه قبیله منځ ته را غلی دهٔ دغــرغښت دریم ځوی و، په عوا مو کــی تر اوسه هم دغه قبیله په منــدوخیلو مشهور ه ده .ددغی قبیلــی دوړو ښا نکو دنسب شجره تر لاسه نشوه .

مندو خیل دږوب دواد ی په دواړوغاړو کی ژوند کوی ږوب دهند وباغ له غره نه پیل شمال شرق خوا تــه غز ید لی دی ترڅو دسر ما غی تــر ځنګ ګومل سره یو ځای او جنوب خوا ته یی مخه کړی ده اوداګو مــل رود چی له ختیځ څخه راو ځــی اودږوب رود چی په دغه تنګه واد ی کی جاری دی نواوبه یی اکثر ا لــه ځان سره نور مواد هم لری چــی دکرنی او زرا عت له پاره ډیــر ی ګټور ی دی. کله چی دغه ویا لــه دږوب له سر څخه په لږه فا صلــه ښکته راځی نو یوی ښی میدا نــی سیمی ته رسیږی چی هلته غنــم ،جوار، وریجی، او نور ډول ډول غله کرل کیږی ددغی ویالی په دواړوغاړودمندو خیلو کلی پرا ته دی .

همدا راز دغه میدا نی سیمــــه ډیر ښه ښکاری نه لری او درموډ ښرولو له پا ره هم ورنه ګټه اخستل کیږی او په پور تنی برخه کی یــی دپوو نده وو ډیری کیږ دی لیــــدل کیږی. دږوب وادی شمالی حدد سیو ناداغ دجنو بی حد له غر نیو سیمو سره پوله لری اود ګومل دری جنوبی غرته هغه ځای چی دږوب بوری اوسلیمان غره په منځ کی پروت دیٔ د بابړو او هر پیال دښاخو نو ځمکــی دی او په ختیځه او سهیلی برخه کی یوه غیر آباده سیمه دهٔ چی داسیو ټاوموسی خیلو ښاخو نه خپلی ر مــی پکی پیا یی او ختیځی خوا تــــه مخامخ دحسن خیلو او ابا خیلـــو شیرا نیو غردی .

دږوب ځمکه حاصل خیزه او اکثره دنهر ونو په ذریعه خړو بیــږی ،د مند وخیلو دود دستور او کسنبو نــه دهغو کاکړ وپه شان دی چیدد و ی په مینځ کی او سیږی ، دهغو ی په شان سپین زړی ، ساده او بــی آزاره خلك دی ، دوی هم په کرنــه او هم دمالدار ی په چارو بو خــت دی .

د گدون د نسب شجره



دهغو ښاخو نو ذکر چې دکا کړواو نورو غر ګښتي قبیلو نه لورو ملکو ته لاړ دی:

له دغه قبیلی نه ځینی خلك له خپل پخوا نی ټاټو بې څخه دځمکی د تنګوالی او نورو علتو نوله کبله نورو ملکو نوته لیږدید لی او هلته میشته شوی دی چی دهغوی له جملی نه به دلته دهغو ښاخونو بیان و شی ګوم چی مؤ لف ته څرګند دی.

د تیمنی ښاغ :

داد تعجب خبره ده چی ځینی خلك تیمنی د چهار ایما قو څلور م ښاخ بولی، خو د کاکړ و د حا لراوی وایی چی تیمن دکاکړ زو ی و چی دهغه له نسل څخه دتیمنی ښاخ منځ ته راغلی دی خو هغه دومره معلو مات نه لری چی ولی اوکله دغه خلك په خپل او سنی ملك کی میشته شوی دی ، دغه خلك دسیاه بند غر اود غور ملك په شاو خوا کی دنورو ایما قو سره یو ځای او سیږی .

تیمنی په دوو شا نګو و یشل کیږی لومړ ی قبچاق دویم در زی ، که څه هم دتیمنی قبیلی له هیڅ یوه کس سره مؤلف ملاقات و نکړ چی له هغه څخه می ددغه روایت په باب پو ښتنه کړی وای مګر دکابل مرحوم پاچا امیر دو ست محمد خان دزو ی دشفا هی روا یت څخه څر ګند یږ ی چی تیمنی هم خپل ځا نو نه د کا کړ له نسل څخه بو لی ،که دغه روا یت صحیح وی نودکاکړو قبیلی یو لوی ښاخ باید دغور په شاو خوادسیاه بند غره کی میشته وی.
دتیمنی له دوو ښاخو نوڅخه قبچاق اصل ایماق اودر زی افغانان (پښتانه)ښکاری . تیمنیا ن اوایما ق ټول سنی مذ هبه دی او ددوی دود او دستور دنورو چارایما قو په شان دی .

دګډو ن قبیله

دا څرګنده خبره ده چی دغه خلك خپل نسب دکاکړو یو ښاخ بو لی، څرنګه چی دغر غښت داولادی کاکړ، ودنسب شجره او مفصل حال وړا ندی ولیکل شو ،سره له دیر کوښښ داخبره په پوره ډول څرګنده نه شوه چی دغه قبیله کله او له کوم ځایه را غلی او په او سنی ملك کی میشته شوی ده.

دڅه قبیلی یو سپین ږیری ی اوثقه سړی روایت کوی چی دساهنک، ابن پنی په نوم یوه سړی د علی خیل او موسی خیل نه پرته دوه نور زامن هم درلودل چی دوی دواړه د دښمنی او مرګ ژوبلی له امله له خپلی قبیلی څخه بیل شول، څه موده په سپین غر کی اوسیدل او بیا له هغه ځایه هزاره او چهچه ته راغلل او اولاده یی هلته اباده شوه، که دا روایت صحیح وی نو غالبا به ګدون دهغوی له نسل نه وی او څنګه چی بیتنی او کاکړ اکثراً خلك یو بولی له دی امله ګدون هم دکاکړو یو ښاخ بولی د ګدون قبیله دنسب شجری په لوړی سر کی دوه ښاخونه سالار او منصور مشهور دی، له هغوی نه څو نوری څانګی مینځ ته راغلی چی پخپل واړ سره دنسب په شجره کی لیدل کیږی.

اکثر ګدون خصوصاً سالار دهزاره غرونو د دوړ په نامه ویالی په دواړو غاړو کی د اورش ترسیمی پوری میشته دی. دهزاره سیمی دګدونو ښکتنی برخه ډیر ښه، شنه او حاصلخیزه سیمه ده چی د جهانګیرد سلطنت په دوران کی کله چی ددلازاك قبیله لوټ او تباه شوه نو دغه سیمه په تدریج سره ددوی لاس ته ورغله خو دلته هغه ګدون په زیاته اندازه دذکر وړ دی چی داباسین په لویدیځ او دمهابن غره په سهیلی برخو کی میشته دی. مهابن یوه لرغونی هندی کلمه ده په سنسکریت کی مها لوی ته او بن ځنګله ته وایی یعنی لوی ځنګل او ددی غره دتسمیی وجه بیخی صحیح ده. د ګدون دقبیلی دواړه ښاخونه یعنی سالار او منصور ددی غره له څوکی نه تر ښکتنیو سهیلی برخو پوری قبضه، لری. که څه هم ددوی د کوچنیو باندو شمیر تقریباً شلو ته رسیږی خو دری لوی کلی لری په ګندپ کی تقریباً له شپږوسوو څخه زیات کور ونه دی چی د دغه ځای د سالار ښاخ مشهور او لوی کلی دی او د اتوزیو تقریباً ټولی څانګی په کی میشته دی، دغه ښاخ په دوو کلیو یعنی ګندپ او دالوړی باندی قبضه لری. چی اوس میرباز عیسی خیل، جهانګیر علیشیرخیل، نواب قلندر خیل، خانی محمد خیل او طوطه علی خیل ددغه ځای ملکان او مشران دی.

د سالار د ښا غ دمت خـوا ز یٔ ځانګه په با بیتي نومي ځای کـې چې انګر یزی سر کار په سیمه کې موقعیت لری او سیړی ، اشر ف او افضل چې دار سله خان زیده پـه زمانه کی لوی غله و اوس ملکـان دی .

د سالار ښا غ د سلیما ن زیوځانګه په پاده ، شنی ، کولا کراو پولا ا چپ لی چی واړه کلـي اودمها بن په سیمه کی واقـع دی قبضه لری .

د منصور د ښا غ لوی کلـی بیسک دی او تقر یباً دری سـوه کورو نه لری . ددغه ښاغ څخـه دالدوز ی او دو لـه زی ځانګی په بیسک کی میشته دی د بیسـک مشهور ملك او سپین ږیر ی عیسی خان و لی خیل دی چـې پـه جر کو او نو ر و معـا ملو کـې خلك هغه ته لومړی وایی ها شـم علی قاسم خیل ، قابل خان شا هی خیل ، میر خان الله داد خیل ، غلام شاه او صحبت ددغه ځا نګی ملکا ن دی او فتح خان دو لـــــه ز ی هم یو معتبر ملك دی، خدر زی پـه ملکا ګر ی کی اوسیږی چی زنګی اوهو س دد ی ځانګی ملکان دی. دګندپ او بیسك اکثره دکرني وړ ځمکـی دانګر یزی سر کار دمیدان دسیمـی په دننه کی مو قعیت لری او لـه هـمـد ی کبله حکـو مت پـه معقو له تو ګه دهغوی دفسا دو نومخنیوی کوی . ګند پ ، بیسك او ملکا ګری دغره په لمن کی د میدان دعلا قی تر څنګ مو قعیت لری چی دغه ځا یونه ما په خپلو ستر ګـو لیدلی دی . ددغو کلیو ځمکه اکثراً للمه او نا قصه ده خو په هــره‌اندا زه باندی چی دغرو نو په دننـه کی مو قعیت لری هغه اکثراً شنی، آبی او حاصل خیزه دی .

په مها بن کی غنم، جوار او و ریجی ډیر ی پیدا کیږی ددغه قبیلـی زیاتره خلك دکر نی او ما لـدار ی په چارو بو خت دی دمها بن میښـی مشهوری او ښې دی. ژیړ غوری اودو دانیو لر ګی له غرو نونه راوړل کیږی او دانګر یز ی سر کارداتمان له سیمی څخه پښه ، توکراومالګه اخلی او دغو سیمو ته وړ ل کیږی هغه مجرما نچی له سر کار ی سیمو لکه دراو لپنډی ضلع او نورو ځایو نو څخه و تښتی اکثره ګنـد پ او بسک ته پناه وړی چی دد و ی په لاربنو ونه ددغه ځای خلك هم دغلاو نورو جرمونو په نیت دسـر کار ملك ته راځی .

که څه هم دمها بن گډو نو دخپلي قبیلي دو سله والو کسانو شمیر دولس زره تنه ښیي خود خپل نسوخته. داسي څرگند یږي چي دنوموړي قبیلي دوسله والو کسانو شمیــرپنځو زرو تنو ته اود او پکو شمیر یي ددغه اندازي نیمایي ته رسیږي خو توره دهر یوه سړي سره وي که څه هم په عمومي ډول دد غه قبیلي خلك جنگیا لی نه دي خو پــه دوي کي ځیني ښه سپاهیان هم مـــــونــــد ل کیـــږ ي . دد و ی د توپکو گولي درفل توپکونه پرتــه ویرلیري نه لگیږي .

غور غښتـــي :

دوي درا و لپندي د ضلعي پــه چهچه او هم دهزاره په سیمو کي میشته دي ، لکه چي په چهچه کي یوه لو یه سیمه دغور غښت پــه نامه یاد یږي .

دغور غښتي دسیمي او سیـــــدونکي هم ځا نو نه کاکړ بو لي. په دي کي شك نشته چي هغوي دغورغښت (غر غښت) لــه اولا دي اود کاکړ ود پني له ښاخ څخه دي .دهزاره په ضلع کي یوه سیمه د پني په نا مه او ددکن په سیمه کي هم په دغه نامه یوه سیمه شته خــو دا څرگنده نه ده چي دوي کــله اوپرڅه علت دغه ځاي ته راغــلي او هلته میشته شوي دي . په دکن کي ددغي قبیلي تقر یبا زرتنه ژو نـــد کـــو ي .

هندو ستا ني کاکړ:

څر نگه چي وراندي و لیکل شول چي په افغا نانو (ا پښتنو) کي بــه داسي یوه لویه قبیله یا ښا څ نه وي چي دهغي اولاده په هندو ستان کي ونه لیدل شي خو په هغوي کي ځیني داسي خلك هم شته چي لــه خپلي ورا ند یني قبیلي داو میدلوله ځاي څخه خبر نه دي اود ور ــ ورگلوي اړیکي خو په کي پــــه مطلق ډول نشته په همد ی ډول د کاکړ و اکثر ډلي دهندو ستا ن په ځینو ضلعو کي میشته اود ځمکــو خاو ندان دي لکه چي در هتــــك دضلعي په کو ها نه نومي ځــاي کي د تغرق ابن کاکړاولادي د علي خیلو له ښاخ څخه دابو سعید زي څانگه او نور کاکړ ابـــاد دي اوشمیر یي تقریبا دریو زرو تنو تــه رسیږي .

د قیس عبدالرشید د دریم زوی شیخ بیټ د نسب شجره



* د بیټ اولاده بیټنی هم بولي

د کچین ابن شیخ بیټ د نسب شجره

داسی روایت دی چی دسلطان ابراهیم لودی دوا کمنی پـه دوران کی عبد المالی ابو سعید زی ناکړدخپلو دریوورو نو او ځو تنو نورو سره له خپل ملك څخه ولاړ او په کو هانه کی میشته شو.د سلطان ابراهیم تر مړینی وروسته عبدالمالی بیر ته خپل اصلی استو ګنځی یعنی بوری ته را ستون شو خـودهغه ورو ر دنورو کاکړو سره هلته پاتی شو چی تر اوسه هم هلتـه اوسیږی . دبلندشهر په ضلع کی د پښتنو شپږ بوی سیمی شته چـی دهغوی له جملی څخه دولسځایونه مشهو ردی او په هغو ځایو نو کـی هم پښتا نه کاکړ او میږی ، په تیره بیا ددو ی زیات شمیر د خورجـه په سیمه کی ژو ند کوی ، په غالب گو مان سره به دبلند شهر په ضلع کی ددو ی شمیر له څلـورو زرو کسانو نه لږ نه وی . دد وی نـه پر ته نور افغا نان (پښتانه) هـم دلته ډیر دی او داسی اور یـدل کیږی چی په بنګال او دکن کی هـم دکاکړ و د قبیلی څو کور نی شته اوپه نورو ضلعو کی هم کاکړ لید ل کیږی . دهند و ستا نی کا کړودوجودفزیکی جوړ ښت ، دود او دستور په حیث د ول دافغا نستا ن له کاکـړو سره ور ته والی نه لری او په پښتو ژبـه نه پو هیږی .

دریم فصل

دقیس عبدالرشید دریمه زوی

شیخ بیټ یا بیټن د نسب شجره

دبیټني قبیلې حالات:

دا څرګند خبره ده چې شیخ بیټ (بیټن) له خپلو دوو ورو نو ته په عمر کوچنی و ، خو د خپل نیک خوی زهد او تقوی له کبله یې ډیر شهرت وموند . ده په وړو کتو پ کې تر عراق او عربو پورې سفرونه و کړل او د ډیرو لویو خلکو سره یې لید نې کتنې وکړې او د هغو ی له صحبت نه یې فیض وموند . دی د سلیمان په غرونو کې میشته وځو تر مړ ینې ورو سته د غزنی په شاو خوا کې ښخ شو .

د شیخ بیټ (بیټ نیکه) نسل یا اولادې ته په مجموعي ډول بیټني وایي چې د تسمیې وجه یې دوی د لوی نیکه بیټن څخه منځ ته راغلې ده. څرنګه چې د نسب په شجره کې لیکل شوي شیخ بیټني دری تاریخه اولادو نه در لود ل، چې اسمعیل ، وړ سپون او کجین نومیدل او دوړ سپو ن نوم د مخزن افغانی کاتب او نورو په غلطۍ اشپو ن لیکلی دئ ، د دغو د ریو زامنو نه پر ته نو موړی یوه لور هم در لوده . چې بی بی متو نومیده او شاه حسین غور ی ته یې په نکاح ورکړې وه چې ذکر به یې په راتلونکی باب کې راشي .

د بیټ نیکه له ډېرو زامنو نه مشر يې چې اسمعیل نو میده د بیټ نیکه مشر ورور سړ بن تبرکا له ځا نسره واخیست او پاتې دوه اولاد ه یې د بیټني په نامه سره مشهور دي.

په تیرو زما نو کې دغه قبیلې خلك دسلیما ن غره په لوید یځه خواکې اوسید ل او د بهلو لد زوی سکندر لودي دوا کمنی په دوره کې دغلجي قبیلې د غلبې له امله لـه خپل پخوانې تاتو بې شخه وکوچیدل اود سلیمان غره ختیځې بر خې ته د گومل درې ته راغلل او هلته میشته شول . دد غه قبیلې اکثره خلـك دسو داگر ی او نورو دو لتي چارود موندلو له پاره هند ته راغلل له دې کبله چې هغه وخت په هند کـې افغا نانو (پښتنو) پا چهی کو له نوځکه هلته افغا نان (پښتا نـه) ډېر قدرت څښتنان و وله همد ی کبله د بیټني قبیلې ځینو کسا نـو هم د لويو رتبو خاو ندان شول. چې تر هغه وروسته فتح خان بیټني د بنګال دعلاقې د کور سیمی خـودمختاره او مشهورصوبد ار یاگورنرو چې ورو سته دهغه تخت و تاج پـه چل سره دکر لا نی قبیلې لاس ته ورغی او په همدې ډول ددې قبیلـې شوتنه نور هم د پښتنو پاچایا نـو په دوره کې امیرانو و، هغه ډله چې دگو مل په دره کې اوسیده هغه چې په شمیر کې یې زیاتوالی را غـی نو دخپل ملك په لو یو لو یواودنورو سیمو په نیو لو یې پیل وکړ تـرهغې، چې دوه توی ته څـې کا نې گوزم ته نږدې موقعیت لـرل ،ورسید ل او دلته دوزیرو او مسعودو سره مخامخ شول ا وپه هغه جگړه کې چې دد وی ترمینځ پیښه شوه ماتې یې وخوړه او بیز ته تگ ته مجبـورشول او دکر نکی له کلا شخه هـم ښکته راغلل او س نو مو ړی کلادمسعود و قبیلې د بهلو ل زیو ښباغ دشنکی خانکی په لاس کی ده.

کله چی وزیر واو مسعـــــودودمقبو ضه ملك له نیولو پر لــــه
دمغوی په ملك باندی هم تیـــر ی‌پیل کړ نو په دغه وخت کی ځینــی
بیتني خلك له خپلو کورو نو شخه وو تل او دربدر د خپلو خپلوا نـو
په سیمه او امید دهندو ستا نخواته ولاړ ل او چیر ته چی دو ی ته
پناه ور کړل شوه هلته میشته شول مګر د کجین داو لادی زیاته برخه
او دمغی نه دوړ سپو ن او لاده دسلیمان غره په ختیځه بر خه کـی
میشته دی . ویل کیږی چی په هغه وخت کی چی د کبر غر چی دبنــو
جنوب اود ټانك شما ل‌ته پروت دی‌او دور ګا ړابناخ دوړ سپون بیتنــو
په قبضه کی و په نو موړی ښناخ باندی دګر بز قبیلی یرغل وکړاو
بی شمیره ور کاړ ی یی وو ژل اوددو ی ملك یی ونیوه او داســـی
روا یت هم شته چی دمغی‌مظلو می‌فــــر قی په منځ کی‌یوه امید واره
(حامله)ښځه هم وه چی ژو نـدی‌پاتی شوه او د لګی په نوم یوه ځای
ته راغله او په دغه ځای کی دی‌ته ځای دوه غبر کو نی زا من‌ور کړل
چی په یوه باندی یی دادم او بـــل‌باندی یی معرو ف نوم کیښـود او
کله چی دغه یتیما ن دبلو غ‌مرحلی‌ته ورسیدل نو دخپلي مور نه یـی
بتهنی قبیلی ذپا تی‌خلکو حال ترلاسه کړ او په ګومل دری کی دکجین او
وړسپو ن او لادی ته ور غلل اوله هغوی نه یی مرسته وغو ښتله
او هغوی یی له خپلی مظلو مـــــی‌نه‌خبر کړل او ور ته وویل که
چیری تاسی زمونږ پخوا نی ملـــــك‌ونیوه نو دوی حصی یی ستاســو او
دریمه برخه یی مونږ ته را کـړ ی‌دکجین او لادی دغه شرط ومنـه او
هغه خواته یی لښکر ی و لیږلـــی‌اوپه هغه جګړه کی چی ددو ی تر
مینځ پیښه شوه کیجنو ته بر ی‌ورپه برخه شو او ګربزو ښنیتیدل اود
هغوی داو سنی ملك لو یدیځ خواته ولاړل . تر بر یالیتو بیورو سته یی
مفتو حه سیمه د پخوا نی شرط لـه مخی په دریو برخو وو یشله چـی
دوی برخی دکجین او لادی ته اوپاتی‌دریمه برخه یی اصلی خاو ندانو ته
ور کړل شوه او دد غه ویش پـــه مطابق ددغی سیمی دڅلرو وا کـــی
تر سره کیدی . خو اوس دکبرسیمی‌اکثره ځمکی د کجین او لاد یدنانی
ښیاغ دبیعی او کرو ی په ذریعـــه نیو لی دی .

کسبونه او عادتونه

ددغه قبیلې اکثره خلک ذکر نیاو مالداري په چارو بوخت دي او ځینې يې غلا وي هم کوي، او پـــه خپلو چارو کې ډیر کوښښ او زیار باسي ، متحمل او بردبار ده باري ددغو خلکو لوی صفت دی .

دوجود جوړښت :

ددې قبیلې خلک د منځنۍ ونې او تـــوږخاو ندان دي او هم غنم رنګه ګـــرد مخونه ، غټې سترګې او متو ســـطاندامو نه لري .

خـــواړه :

دغه خلک په لوړۍ کې غنم او په ژمي کې باجره په وچ ډول او یا ئې له شرو میو سره خوري او خپلو میلمنو ته عمو ماً دپسه غوښې ور کوي .

پوښاک :

دوی اکثراً دسپینو ډبلو ټوکرانو او وړیو څخه کمیسونه جوړ وي او دوزیرو قبیلې سره دګا ونډ یتو ب په سبب دد وی د ښځو او نروجامې سره ورته والی لري د سپین ږیرو سر یو نه پرته نور خلک يې دوزیرو دقبیلې دخلکو په شان دسردو پښتو اوږ دوالی دو جود ښایست بولي .

دواده دو دلو دستور :

ددغه توپیرونو پرتـــــه د دوی دود او دستور کټ مټ په هماغه ډول دی لکه چې دوزیرو دقبیلې په برخه کې ولیکل شوه . په دوی کـــــــې دښځو ولور (مهر) د شلو نـــــــه نیولو لې تر سلو روپیو پورې تـــجاوز نه کوي . ددوی ښځې مخونه نه پټوي .

د ښځو د تښتولو بدل :

که دوی و غواړ ي د ښځـــــو دتښتولو شخړه دروغې جوړې له لارې حل کړي نو د منګو حه یاواده شوې ښځې په بدل کې څلور ســـوه روپۍ او دمنسو په یا کوژده شوې نجلۍ په مقابل کې دوه سوه روپۍ دنغد یا جنس په ډول ور کول کیږي خو دد غه جنس سره دیوې ښځـــې ورکول ښځې ضرور کڼل کیږي .

PROPERTY OF ACKU 19239

د زراعتي ځمکو قيمت :

په هغه ملك کې چې دوی په کې او سيږی ځمو صاً دکبر په سيمه کې دا يې ځمکو دلږ والی او داوسيدو نکو دزياتوا لی له امله دځمکو بيه ډيره لوړه ده تر هغه ځايه چې يوه بخره ځمکه چې تقريباً دری کناله او څلور مر له کيږی* په متوسط ډول په سل روپی حرخيږی ، دد وی ترمينځ د ځمکې حساب دبخری په ذريعه کيږی ، يوه بخره څلور کنده که اويو کنده څلور پاوی . دوی په خپلی طريقی يوه رسی چې څو لاسه اوږده وی دهغی له مخی دبخری او کند ونو شمير تعينوی او ددوی مقصد يا س، يوه يا څلور مرلی کيږی . نهری ځمکه ډيره کمه ده او دللمی يا بارانی ځمکی حر څلا واو اخستنه ارزانه او لږ ده .

اوسني استوګنځی :

بيتني پر ته له هغه چې په هندو ستان او نورو خورو ورو سيمو کې ميشته دي د دوی زيات شمير په سر حدکی او سيږی هغوی آبادی دکبر غره شمال او دکويی دری له سهيل څخه پيل کيږی دسور غره له لمنی څخه د ټا کتردری پوری دملا زيو له سيمی سره پور ته علاقو پوری امتداد لری . دکبر غره نه پرته سور غره په زياته اندازه کرم دی چې هلته شينوا لی لږ ليدل کيږی .

داخلك په ډيرو ورو ځپرو کې چې له يو بل څخه په لږه فاصله کې جوړ وی ژوند کوی . ددوی لو يديځ ته دوزيرو او مسعود و غر او ختيځ ته په اوارو سيمو کې دمروت قبيله او سيږی . دوی له مسعودو سره پخوانی د ښمنی لری ، دمرو تو قبيلی سره او س دوی په سو له کې ژو ند کوی او همرو تو قبيلی دموسی خيلو او نو تا خيلو منياخولو

اکثره ځمکی دغه خلك کری او د غروپه لمنو او اوارو سيمو کې ددوی يوه اندازه ځمکه دسر کار دسرحد په دننی برخه کې پر ته ده له دی

---

* شل مرله يو کنال کيږی دمځکی دکچ کولو له پاره د غه مقياسو نه په پنجاب کې باب دی . څلور کنا له يوه بيګه مځکه کيږی ، بيګهه دمځکی دکچ کولو له پاره هندی مقياس دی .

(پوشلد)

کبله دانګر یزی سر کار سره یوه‌اندازه اړیکی لری ،څوتر او سه‌هم دمرو تو د سیمی فراری مجر مانددو ی غر نیو سیمو ته پناه وروړی دغه قبیله دویری جګړه مار یعادت‌نه لری خود خپل سخت‌دښمن یعنی دمسعود و ،او وزیرو د موجود یت‌په سبب ددو ی هر یو بالغ غړی وسله ساتی . دوی اوړده چقمقی‌توپك ساتی .دو ی اوږده حقیقی توپك ساتی او کله چی خوك‌وغواړی پر دوی یرغل و کړ ی نو ډیر ژر دجګړی له پاره تیاریږی .

ددغه قبیلی شمیر :

دبیټنی د نسل زیا توا لی دده‌نورو دوو ور نو داولادی په نسبت څورا لږ دی . ددغه قبیلی دوسله والو کسانو شمیر په سرحد کی تر دریو زرو نه زیا ت نه دی‌او دوی‌هم په متفرق ډول د ټا ك‌له دری نه نیولی دګبر غره تر قطبی برخوپوری خواره شوی دی .

ددغه قبیلی د شمیر دلږ وا لی‌په سبب دوی دوخت د حاکمانو سره دمقا بلی نه ځانو نه بچ او کو ښه کړی دی . په‌عمو می ډول تر اوسه ددوی چلن دانګر یز ی سر کار په‌مقابل کی بدنه دی خو ډیر ښه هم نه دی .

د ملکانو حالت :

هره یوه ښانګه ځانته بیل ملکان‌لری او دهغودله نو م نه‌پر ته کوم امتیاز و نه نه لری دملك‌وظیفه په عمومی ډول داده چی کله کومه شخړه را مینځ ته، اویا کو میمشور ی ته ضرورت پیښی شی نود خپلی مربوطی ښانګی خلك راټولوی‌او ټاکل شوی امر، ور باندی تحمیلوی. همدا راز دو ی دقبیلی‌ترمینځ شخړی ، دجرګی او سو لی له لاری حل کوی بیا الفشاه تاج‌بیګ خیل ،دراز باکل خیل او چندن پای خیل دبو باد ښاخ ملکان دی.همدا راز میسرا ،میر ا عظم ، شادمانی او یا تور دبو بك دښاخ ملکان‌دی . لا جمیر او فتح خان دور ګارد ښاخ او ایندز اسپ (اصف) اوشاه‌مدو دتتا په نسل کی او حیدر،خاترم او غیبی د شخی فر قی معتبر ملکان‌دی .

دهغو ښاخونو بیان چې د بیتني قبیلې د نسب
په شجره کې راغلي خو د هغو د اصلیت په باب
نور روایتونه هم موجود دي

۱) دا خو کنده خبره ده چې دکو تي خا نګه په اصل کې سیمن دي او د بیټ لمسي ابراهیم بن ورسپون یو سید زاده ماشوم په زوی نوپ ونیوه او هغه یې لوی کړ چې دغه ماشوم کو تي نو میده چې دکو تي ښاخ هم دده په ، نوم نو مول شوی دی او هغه دابراهیم داصلي زوی دوتاني څخه نیمه ، برخه واخیسته نو ځکه دبیتني په قبیلې کې وشمیرل شو . اوس هم دده او لادې نه سیدان وا یې اودښو په ضلع کې یوه سیمه دکو تي سا دات په نامه بلل کېږي چې هلته دده نسل اوسیږي اود دوی خیرې اود وجود نور فز یکي جوړ ښت دبیتني له نورو ښاخو نو سره توپیر لري .

۲) دتتا ، دناو کتنا او لاده :

دوی چې دکبین دنسل څخه شمیرل کېږي دهغو په باب یو بل داسې روا یت هم موجود دی چې در ی وار ه دکبین له کورنی څخه وو خو اوس دبیتني په قبیله کې داسې ګډ شو ی دي چې ددوی تر مینځ هیڅ تو پیر نشته ددوی بر خې خیرې او دوجود فزیکي جوړ ښتو نه سره یو دی بلکې دتتا اودنا نسل دشمیر دزیا توا لي په سبب دتو لې بیتني قبیلې مخکښ دي.

۳) درتن زی څانګه :

دوی په اصل کې بیتني نه بلل کېږي نور بیتني عقیده لري چې دبو بك، زوی علي یو کو چنی ماشوم چې نسب یې ښکاره نه وو موند او رتن نوم یې ور باندې کیښود اوهغه نسل چې دده له پښته منځ ته راغلي درتن زی پنا مه بلل کېږي.

دریم باب

دمتی قبیلی بیان چی

غلجی، لودی او سروانی یې برخې (بیږکی)

داځی دوی مجموعاً دمتی په نامه بلل کیږی

وړاندی تر تولو باید وویل شی چی د مستی زی دنسب دسلسلی په باب هیڅ ډول اختلاف نه موجود دی. په دغو روایتو کی چی کوم روایت صحیح ښکاری دهغه لیکل ضرور دی. ویل کیږی چی د خلیفه ولید ابن عبدالملک بن مروان دخلافت په وخت کی حجاج بن یوسف ثقفی دیوه زړه ور لښکر په مشری دغور سیمی دنیولو له پاره وټاکل شو او کله چی دغه پوځ دغور سیمی ته ورسیده او بریالیتوب یی تر لاسه کړ نو په هغه سیمه کی لوی اختلاف نه منځ ته راغلل په هغه وخت کی دغورد امیرزاده گانو څخه یو ځوان چی شاه حسین نومیده دزمانی دوقایعو په وجه دخپل وطن نه جلا او شیخ بتن ابن قیس عبدالرشید ته ورغی په مجمع الانساب کی د شاه حسین دنسب شجره په دی ډول لیکل شوی ده:

شاه حسین بن شاه معز الدین بن جمال الدین حسینی بن بهرام بن شنسب چی دغور دواکمنانو څخه و اود امیر المؤمنین حضرت علی المرتضی (رض) دخلافت په دوره کی یی ایمان راوړ اودغورستان دحکومت فرمان یی له نوموړی خلیفه څخه تر لاسه کړ. بهرام ابن شنسب دوه زامن لرل چی مشر زوی یی شاه جلال الدین نومیده چی دهغه له نسل څخه سلطان معزالدین چی د سلطان شهاب الدین غوری په لقب سره هم بلل کیږی اود کلکی ارادی خاوند وتیر شوی دی. ددوی دکورنی حالات په لومړی برخه کی، راغلی دی. دبهرام دویم زوی جمال الدین نومیده چی د شاه حسین نیکه و. مورخ دغوری کورنی دنسب پاچا ضحاک تازی او لاده گڼی چی هغه دایران بل پاچا جمشید وژلی او سلطنت یی ور څخه تر لاسه کړی و.

دبهرام ته ورا ندي چې دد غسې کور نی دنسب شجره دضحاك تازي او حضرت نوح پیغمبر ترو ختـــه پورې په مخزن افغا نی کې راغلې. هغه دتاریخ فرشته له روا یـتخخه ډېر تو پیر لرې. او لـــه دې کبله چې مؤلف ته دنســـــبدشجرې صحیح ثبوت ،او اطمینـــان نه و حاصل شوی نو ځکه دا غـــوره وګڼل شوه چې ونه لیکل شی.

دمخزن افغا نی لیکوال دبهرام نه ترضحا که پورې (۳۹) پښته شمیرـلی اود ضحاك نه پورته په خلـورم پښت کی حضرت نوح ته یې دنســب شجره ور رسوې لی، لنډ مدا کله چې شاه حسین دغر بت په حال کی شیخ بتن ته ور غی نو غا لب ګمان دا دی چې په هغه وخت کی به شیخ بتن ډیر سپین ږیری او ضعیف شوی و، نـــو په دغه وخت کی شیخ بتن دیـــوه مهربا نه پلار په شان شاه حسیـــن ته په خپل کور کی ځای ورکړ اود بیت زامنو ور سپون او کجین هـــم شاه حسین ته دخپل ورور په شان کتل ان تر دې چې دکور ټولی چـــاری به یې دشاه حسین په سلاا ومشو ره ترسره کو لی او ددغه اعتبار پـــه سبب اود ځوا نی دوران دغو ښتنې له امله دشاه حسین سره د شیـخ بتن لور متو مینه پیدا شوه تر څو چې ددوی تر مینځ دمور او پـــلارتر رضاء پر ته دوصلت مزی تینګ شول تر څه مودې وروسته، پـــه متو کې د حمل (امیند واری) اتـــارا ښکاره شول ، او کله چې دمتـــو مور په دغه حال خبره شوه خپلـــه لور یې ملامته کړه مګر هغه څـــه چې باید نه وای تر سره شوی ،هغه شوی وو او پرته له دی بله لا ره نه وه چې دمتو مور لشیخ بتـــن خبر کړی او هغه سره یې دا ســـی سلاو کړه وراندې تردې چـــې په دې راز باندې څوك پوه اودغـــه خبره دخپلو او پردیو غوږو نو تـــه ورسیږی منا سبه داده چې متـــودغه ځوان ته نکاح کړو ،شیخ بتن وویل چې د دغه سړی نسب ما تـــه څر ګند نه دی نو څنګه به دغـــه وصلت ومنم . دمتو مورد شاه حسین نه دهغه داصل او نسب په بـــا ب معلو مات تر لاسه کړل، هغه وویل چې دده پلر ونه او نیکو نه دغورد سیمې حکمرا نان او اشراف وو که زما په خبره ستا سی باور نه راځـــی نو خپل یو اعتبا ری سړی هغه ځای ته واستوی تر څو په دغه بـــا ب

څیړنه وکړی اودغه خبره دمتو مورخوښنه او شیخ بیټنی ته یی هـــم
دغه خبره وکړه او نو موړی شیـــخ بیټنی یو سړی چی کاغ دوړ نو میده
دشیاه حسین له لیك اود معز الدین له هغی کو تی سره‌چی شاه حسیـن
له ځان سره سا تلی وه غور تـــه ولیږه تر څو داصل او نسب په باب
معلو مات را وړی .کله چی کاغ غورته ور سیده اود شاه حسین خبـره
تائید او تصد یق شوه ، کله چـی کاغ دلیك دځواب سره بیر تـــه
راغی نو لو مړی یی ځان شاه حسین‌ته ورسا وه او هغه ته یی وو یـل
چی ستادصالت په باب مو‌چی څیړنه‌وکړه هغه دلمر په شان روښا نـه
ده او هغه به په دغه شرط ښکاره کړم چی زما هیله هم ومنی شاه حسین
دهغه شرط ومانه او کاغ ور تـــه وویل چی زما لور هم باید نکاح کړی
اوهغه قبوله کړه. ترهغه و روسته ،کاغ شیخ بیټنی دشاه حسیـــن
په‌اصالت او نجابت باندی خبـــر کړ او هغه هم بی‌بی متو شاه حسین
ته په نکاح کړه .څه موده وروسته شاه حسین د دوړ کاغ لور چـــی
مهی نومیده‌ځان ته واده کړه‌اوکله چی دمتو دحمل وخت پوره شو نـــو
څـــدای نار ینه اولاد ورپـــه برخه کړ او څر نګه چی دغه ماشوم
تر نکاح وړا ندی دغلا محصـــو ل‌ونو ځکه یی غلزی نوم ور بانـــدی
کیښبود.*له دی کبله چی پـــــه پښتوژبه کی‌له غلزی څخه مقصد
هغه اولاد دی چی په پټه او لـــه نکاح څخه وړ اندی مینځ ته راغلـی
دی نو ځکه دغه پیښه دغلز یـــودقبیلو دتسمیی وجه اشوی ده . تـر
هغه ورو سته دکاغ‌له لور مهـــی‌څخه دشاه حسین بل زوی دنیا تـــه
راغی او سړ وانی نوم یی ور با ندی‌کیښبود او تر څه مودی ورو سته د
بی‌بی متو بل زوی پیدا او ابرا هیم‌نوم ور باند ی کیښبودل شو.او ابراـ
هیم په لودی باندی شهرت ومو ند.

دلودي دتسمي وجه

داسي و يل کيږي چي يو وارکله چي شيخ بيټن له کلي څخه دخپل داستو کنی غره ته بیرته ستون‌شو نو خپلی میر منی ته یی وو یل چی بسم الله کړه او د پخوا نـــی‌نغری څخه اوروابا سه اوډوډی پخه او ماته یی راوړه تر څو زه‌یـــی‌پخپله وو یشم او وګو روچی‌زماله لمسیو څخه کوم یو بختوره دی کله چی هغی لو مړی ډوډی پخه کړه نو دبی‌بی متو کو چنی زوی ابرا هیم‌هغه په چالا کی سره واخیستــه او شیخ بیټن ته یی راوړه او شیـخ بیټن خو شحاله او په پښتو ژبـه کی وویل چی (ابرا هیم لوی دی)چی‌دهغی ورځی نه ابرا هیم دلودی پـه نامه داسی شهرت ومو ند .چـــی‌دده تو له اولاده په‌هغه نوم یاد یـــږ دی.

لنډه دا هغه وخت چی نورو زامنودشیخ بیټن نه ډوډی وغو ښتـــه نوده ځواب ور کړ چی له ابرا هیم‌نه یی وغواړی تاسو ته به یـــی در کړی

---

* داوجه تسمیه له مضحکو وجه‌تسمیو څخه ده دمضحکو وجـــه تسمیو په باب دتعلیقاتو بر خـــه‌وګوری (رشاد)

لو بیهتی ابراهیم ته دعا وکړه .

له دغی کیسی نه داسی څرګندیږی چی شاه حسین دقیس عبدالرشید له نسل نه نه دی اود هغه اولاده غلزی (غلجی) اولودی یوازی دموږ لخوا دقیس عبدالرشید سره اړیکی لری او همدا وجه ده چی دشاه حسین او لاده په پښتو کی دخپلی موږ په نامه یعنی متی سره شهرت لری . او له دی کبله چی سروانی هم دبی بی متو په قبیله کی ګډ شوی ونو ځکه دهغه اولادی ته هم متی ویل کیږی. اومیږ دشاه حسین له دریو وارو زامنو یعنی غلجی ،لودی لوسر وانی داولادی ذکر په جلاجلا دول سره راځی .

لومړی فصل

دغلجي ابن شاه حسين غوري دنسب بيان

د غلجي دقبيلي حال:

دکابل سپېند وادی تر هغه ځا يه چې لانګر هار ته نه وی رسيده لسی دغلجيو په قبضه کي ده.

دمبحث د اوږدوا لی په سبب ددی ضرورت نشته چې هغه کوچنی وادی چې دمندو کش لری لـه جنوب نه او بله لويه وادی دسپين غره لري له، شمال څخه را وو ځی‌اود کابل په سپېند ورګډ يږی دلته ذکر کړل شی .

دغلجيو په سيمه کیْ د سوړ والی‌او تود والی ترمينځ ډير تو پيـر موجود دی ، ددو ی غرو نه سخت‌او صعب العبور دی .دغلجيو ملـك له شمال نه جنوب او لږ غرب خواته تمايل لری او اوږد والی يـی تقريباء يو سلو اتيا ميلو تـه رسيږی ، پلن والی يی چې لـه لو يديځ نه ختيځ خواته دی، تقريباء پنځه اتيا ميلو ته رسيږی . که څه هم دغه ملك مستطيل شكل لری خود ځينو کږ ليچو نو موجوديت په سبب د منحني خط په شكل شمال ختيځ خوا ته کوږشوی او جنوبي څنډه يی لويديځ خوا تـه ما يل دی.

د غلجي بن شاه حسين غوري د نسب شجره



* د دوی دوارو د نسب شجره وروسته راځي



* په تواریخ خورشید جهان کې شاه اشرف د عبدالقادر زوی ګڼلی خو په نورو کتابونو کې شاه اشرف د عبدالعزیز زوی بلل شوی دی (وګ: تاریخ سلطاني ۱۱۲ – تاریخ مختصر افغانستان ۲/۸۰ – افغانستان در مسیر تاریخ ۳۲۳ ج ۱ او نور ...)

د میر عبدالعزیز چې تر میرویس وروسته د کندهار پاچا و، سید جمال الدین په تتمة البیان کې [illegible] سرجان مالکم په تاریخ ایران او ملیسن په تاریخ افغانستان کې عبدالله لیکلی دی. (کوشان)


د توخی ابن بارو د نسب شجره
معدود خیل پوپل خیل یونس خیل رستم رحمند ایوب زی حسن زی نور خیل بابا خیل
بسو خیل محمد زی نتوزی پیروزی موسی خیل شمو زی جلال زی میران زی حسن خیل کشیا خی
بایسو خیل اکازی سید خیل عاشوزی عراقی سوری زی بابکزی علی شیرزی آتی زی متمه خانخیل
بران خیل خویداد خیل نظر خیل فیروز خیل بهرام خیل دعوت خیل بهلول خیل سیازی ناجو خیل نانو خیل
شاکی خیل مامی خیل نورالدین آکی زی هوازی سین خیل ختی زی منغل زی
کالو خیل فقیر زی بربی موسی زی شاه حسن خیل سیکاک آدم زی هوتک زی اقربی زی
پیرک خیل عیسی زی برهان خیل پاتوزی کرموند خیل پیرولی خیل حسن خیل خانخیل بازک زی عمر خیل

د ابراهیم ابن غلجي د نسب شجره



د ابراهیم بن خلیل دوهم زوی موسی نسب نامه



د کاکړ قوم موسی خیل چې د غلجي اندړو سره ګډ دي -

موسی خیل

رستم خیل خریوال باتوری شصت وال اتل خیل نور بیک خیل شمشیر خیل دراز خیل کمال خیل

د ترکی ابن موسی ابن ابراهیم غلجي نسب نامه

ترکی

بادین خیل ناخیل ساک خیل فیروز خیل تسیول خیل گرز خیل

مهری خیل حسن خیل حاتم خیل لالو خیل جمال خیل گور خیل حریف خیل گلان خیل بارک خیل

نورور خیل تاجو خیل اماری خیل صابر خیل

نازک خیل دلدار خیل شیکی المری

قدرت خیل دوران خیل نجل خیل ظالم خیل شایب خیل تراب خیل سلیم خیل

کنجو خیل میری خیل کلو خیل

خیرو خیل کبیر خیل سالی خیل قتال خیل اکبر خیل زرین خیل

شاکل خیل شیخ نور خیل زرین خیل نورخا خیل سلو خیل

ترمی خیل بستام خیل لاجبر خیل

شهباز خیل قباد خیل حسینی زی

زلو خیل خان خیل صاحبداد خیل فراق خیل بیگو خیل شاعبدل خیل

نورزی ملک دین خیل موسی خیل گران خیل براهیم خو خیل

ددغه سیمی تو لی برخی سمری دی خودتر نک وادی ښکتنی بر خی، صور والی تر نورو تولو سیمو لږدی .دلغمان سیمه هم گر مه ده، په ژمی کی دتولو سیمو هوا سړه وی او هم په دوبی کی ددغو سیمو هواد درانیا نو دملک او ختیځ افغانستان په پر تله سړه ده.

ددی باب په پیل کی ددغه قبیلی اصل او نسب اود تسمیی وجه په تفصیل سره راغلی ده. همدا راز دهری قبیلی دنسب شجره هم تر هغه ځایه چی لاس ته راغلی لیکل شوی ده. په پخوا نیو زما نو کی دغلزی (غلجی) نوم په افغا نا نو (پښتنو) کی تر تولو لوی او مشهورو .په اولسمه عیسوی پیړی کی دغه قبیلی په یوازی ډول تول اصفهان ونیوه اود روم دسلطان پر پوځ نو یی هم بریا لیتو بو نه ترلاسه کړل. په اوس وخت کی هم دشمیر له پلوه تر تولو پښتنی قبیلو زیات اود نوم او شهرت په سبب ددرا نیو تر قبیلی ورو سته دوهم مقام لری.

ددغه قبیلی اصلی تاتو بی د قیس (کیسی) غرو چیء غز نوی سلطان محمود دوی له نو موړی غره نه ښکته اود لوید یځ افغا نستان په میدا نی او ارو سیمو کی یی میشته او دکار ی کیند لو چاری ور دوی ته وسپار لی ،مگر په ورو ستیو وختو کی سلطان محمود ددوی نه ځینی کسان دلو تماری له کبله ووژل او ځکه چی په هغه وخت کی ددوی شمیر لږ ونو زور قوت او شهرت یی هم لږ وتر څو دگوړ گا لی تیمور دوا کمنی په دوره کی دشمیردزیا توا لی او جنگیا لی توب په سبب دزور خا وندان شول. ددغه قبیلی دریا ست او واکمنی حال دسلطان ملخی توخی نه وړاندی په خپله غلجیو ته هم څرگند نه دی.

له څیړ نو نه داسی ښکاری چی دمیرویس تر رامنځ ته کید و وړاندی دتوخی ښاخ دمحمد زی کور نی او هو تکو ښاخ عیسک زی او جبار خیل په ابرا هیم غلزیو کی دخپلو قبیلو مشران وو. او هغه فرمان چی داورنگ زیب عا لمگیر لخوا د(۱۰۲۲) هجری کال دجمادی الاول دمیا شتی په

تهمة دملك ملخی توخی په نا مســـه لیکل شوی* په هغه کی له ده څخه

غو ښتل شوی چی دکلات او قرقولاره‌چی په ارغنداب کی ده دهزاره قـــوم او نورو غلو نه وسا تی .له دغـــه فرمان نه څرګند یږی چی ملك ملخی توخی په هغه وخت کی یوزور وراومعتبر سر دارو ، اوغالباٴ به هغـــه ته د سلطان لقب داور نګ زیب لـــه خوا ورکړل شوی وی ویل کیږی چی ملخی په څلور ورځو کی هزاره ګـــان له ارغنداب نه وایستل ٫او پـــــه

دغه جګړه کی دخان خیلو دقبیلو نه ملك مانی ډیره مرسته وکړه او خپل زړه ورتوب یی ښکاره کړ. په هغـــه وخت کی چی سلطان ملخی دتول توران

یعنی دتو خی او هو تکو سردارو نـــو په دغه وخت کی دجبار په نوم یـــو سړی چی د سلیمان خیلو دقبیلی دجبارخیل ښاخ نیکه دی دتولو براهیمـــو غلجیو ملك و.

نو موړی دیایاس په نوم سیمـــه کی دصفوی پاچا سره په جګړه کـــی ووژل شو اودکا بل او جلال آباد تـــرمینځ ښخ دی په خاك جبار مشهور دی او په هغه سیمه کی چی ذجبار قبـــرمو قعیت لری ډیر ساړه او واور ی په

کي وریږی په دغه سیمه کی لیوان اوغله ډیر دی او ددغه ځای نه خلـــك ډیره کړ که کوی او شوم یـــــــی کنی اود کا بل خلك دخاك جبار پـــه

باب ډیری هجوی او هز لیات وایی .جبار په خپله ډیر زړور او با تدبیره شخص واود غلجیو اکثره رواجو نـــه ده منځ ته راوړی دی .

دسلطان ملخي تو خي تر مړ ینـــی وروستـه حاجی میرخان چی‌په میرو-یس هو تك باندی مشهور ودسلطـــان ملخی توخی دلورزوی یعنی لسمی و، په

دغه باب غلجی داسی کیسی کوی چی سلطان ملخی دنازو په نوم یـــوه لور درلوده، یوه ورځ نازو دترنـــك دسین په غاړه دخپلو همزو لو سره

---

* په اصل (اردو حیات افغا نـــی٢٦١ مخ) کی دانیته دغسی لیکلی‌ده، خو عجیبه داده چی او رنګزیب‌عالمګیر(١٠٦٨ ـ ١١١٨ ه ق) تر دغی‌نیتی شپږ نیم کاله ورو سته (د١٠٢٨هق کال دمیا نی ١٤) زیږ ید لـــی دی او ١٠٢٢ ه ق داور نګز یب عالمګیـــر دنیکه جهانګیر مغل(١٠١٤ـ١٠٣٧ ه ق) دپا چهی اتم کال دیـــ دتار یخ‌سلطا نی مولف سلطـــان محمد خـــان بار کزی‌دغه فرمان‌داور نګزیب‌عالمګیردزما نی بللی دی خو دهغه نیته یی نه ده لیکلی . (رشاد)

په لو بو بوخته وه چې ناڅاپه يو ملنګ (تارك الدنيا فقير) له هندوستان نه راورسيده او هغوی نو ته يې وويل چې په تاسې کې به کومه نجلۍ ما ته مچۍ راکړي. ټولې نجونې له دغه ملنګ او د هغه له بې ځايه سوال څخه وويريدلې او وتښتيدلې او يوازې نازو د اعتقاد په سبب د مچۍ ورکولو اراده وکړه او په دغه وخت کې فقير د مچۍ له اخستلو نه دده وکړه ويې ويل چې ته زما لور يې او ما دا زمينه له کبله له تا نه داسوال وکړ څه خدای به تا ته څلور زامن درکړي او د هغوی نه به يو پاچايي ته ورسيږي ويل کيږي چې د ميرويس پلار شاه عالم د ملخي سره نوکرو او د ملخي لور چې نازو نوميده په هغه با ندې مينه شوه او دوی دواړه سره وتښتيدل او تغر ته ولاړل خو دد ځه ځای اوسيدو نکو دوی ته پناه ور نه کړه او دوی په بيلو بيلو ځايونو کې شپې او ورځې تيرو لې خو په پای کې د ننوا تسې په ډول بير ته دسلطان ملخي کور ته ورغلل. هغه دوی دواړه وبخښل او يوه تو ته ځمکه يې خپلې لور ته دکلات د تبغ سر نو مي غو ندی په لمنه کې ور کړه. اودجور فسك ولی نه يې ددغه ځمکې دخړو بو لو له پاره اوبه ور کړې او هغه سړی ته چې د ناز ودا يس جليب يې نيولی و هغه ځمکې ور کړل شوې چې دجختران دغره د چينو په ذريعه خړو بيږلي دغه جلو دار (جلب نيو نکی) د توخي قبيلې دکشانی له ښاغ نه و. خلك وايي چې نازو ته له دغه نهر نه د لسو شپا نه روزو په اندازه او جلو دار ته ددوو ځو او به ور کړل شوې.

ملك ملخي په هغه جګړه کې وژل شو چې دانګر کې او سرغ سنګ دسيمو تر مينځ پيښه شوه. دنازو له بطن نه د شهعا لم (شاه عالم) د هوتك څلور زامن د نيا ته راغلل چې دهغو تفصيل دنسب په شجره کې راغلی دی، له هغوی نه حاجي مير خان چې د ميرو يس په نامه بلل کيږي او دهغه دوړا ندی تګ په باب لږ څه معلو مات په لومړۍ برخه کې ذکر شول، دافغانستان پاچا شو ويل کيږي کله چې ميرويس خان له ايران نه بيت الله شريف ته لاړ نو د حج دفر يضې تر اداء کولو ورو سته يې له خدای نه وغو ښتل چې لويديځ افغانستان

دا یرانیا نو له حکومت له بیل او آزاد ی ور په برخه کړی ، کله چی
یی دغه دعا وکړه نوویده شو او مغه وخت چی راویښ شو، ویی
لیدل چی توره یی له تیکی څخه راوتلی اویی پر ښه پرته، ده نو
دغه پیښه یی دملکو نو دفتح کو لوپه فال ونیوله او بیر ته را ستون
شو . کله چی کندهار ته راورسیدنو په هماغه دول چی په لومړی
برخه کی وویل شول شهنواز خان ګرجی یی چی دایران پاچا له خوا
دکندهار بګلر بیګی وو واژه ، اوپه خپله د کندهار وا کمن شو.کله
چی حاجی میرو پس په کندهار قبضه تینګه کړه نو د توخی له
قبیلی ته یی هم دما لیی اخستلو،حکم و کړ ، خو تو خیو دغه خبره
ونه منله .په دغه وخت کی د توخیو مشر د علی زوی شاه عالم چی
دسلطان ملخی وراره و، لوی ملک واود ده زوی خو شحال خان هم دیر
پوه ځوان و او د حاجی میرو پس په دغه خبره باندی د توخیو او
هو تکو تر مینځ جګړه پیښه شوه تر څو د تو خی ملک د تر نک ته ارغنداب
ته ولیږد یده او پاتی تو خی په دوو برخو وو یشل شول یوه بر خه
یی شاه حسین خیل اونور ی قبیلی چی او س دا ب ایستاده یا آب تازی
په هناو خوا کی او سیږی په یوه ځای سره راتول شول ، پیر ک خیل
اونور ی قبیلی چی هغو ی ته نږدی پرتی وی هغه په ا مو کا ی کی
سره را تولی شوی. په خاص کلات دسلطان ملخی د زوی حاجی
عادل سلطه تینګه شوی وه او دهغه زوی چی پای نومیده دیر زړه ور
او جنګیا لی ځوان ؤ نو موړی یو ه کلا ددغه رود په بله غاړه دخجتران
په سیمه کی پرته وه، نو موړی دهو تکو قبیله دیره په تنګ کړه .
په پای کی مخا لفینو دده لاره ونیوه او هغه یی وواژه اونوموړی
کلا یی دتو خیو نه ونیو له اوهلته یی د یحیی زوی محمد خان چی په
حاجی اینګو باندی مشهور اودمیرو یس وراره ؤ قلعه دار و تا کل شو.
په هغه وخت کی خبر را ورسیده چی ایرانی نا در شاه د کندهار
دنیو لو تکل کړی او دغی خوا ته راروا ن شوی دی شاه حسین هوتک
په دی وپو هیده چی هغه دنادر په شیر له پوه قوی د ښمن سره مخامخ
دی او له بلی خوا تو خی هم دده دستر کو اغزی دی نو منا سبه داده
چی دوی لوموړی و تکو ل شی. ددی مشور ی له مخی دکندهار او نورو
ځایو نه شلور زره کسان را غلل اودپل سنګی په نامه سیمی کی سره

واتو لشول او پر پیرك خیلــواوتترا کوباندی یی چی‌په آموکای‌کی اوسیدل یرغل و کړ ، څرنګه چی هغوی‌په دغه وخت کی کمزوری وو اود تو خیو لوی ملکا ندخوشحالخانزا من اشرف خان ا والهیار خــان دارغند اب خواته تللی‌وو نوتو ل تراك له‌ښځواو اولادو نوسره‌ووژل شول او کله چی دغه حوا شینــوونکی خبر اشرف خان ا و الهیار خان واوریده نو هغو ی د ښځو په طلاق‌قسم وکړ تر څو چی یی بدل‌اخستی نه وی نو یوه شپه به هم په کورکی نه تیروی . دواړو ورو نــــو ځانو نه میزا ن او تیر ین ته‌ورسول‌او دچینا ران په نامه سیمه کی چی دهرا ت لو یدیځ ته پر تــــه ده.دنادر شاه سره یــوځای‌شول ، نادرـ شاه الهیار خان په اصفها ن کی‌مقرراو اشرف خان هغه نه د کند هار لار ورو ښود له او هرا ت یی تــرڅو ار لسو میا شتو محا صری وروـ ستهٔ تر لأسه کړ او په دی ډول‌لکه څر نګه چی وویل شول کند هار هم فتح شو ، څو دزاړه ښار په یــوه‌برج کی ملا علی غلجی تر څو ورځو پوری په میړا نه مقاو مت وکړخــوپه پای کی مغلو ب شو . هغه وخت چی پر کند هار باندی حملی روانی‌وی‌ دحا جی انګو زوی عبدا لغفور خان د غلجا یی کلات حاکم واو دهغه بل ورور عبدالر سو ل د خرو تــو ملك سر رو ځی ته‌د غلجیو دلښکــروورا تو لو او تنظیمو لو له پــــاره تللی و تر څو دنا در شاه ســــره‌مقابله و کړی ، کله چی نادر دغه خبرواوریده نو په شیبار نو مــــی‌ځای کی یی په هغه باندی یر غـــل وکړ اوله هغو شخه یی ډیر کســـان‌وو ژل . د شیبار ډیر غل په وخـــت کی دمدد خان پلار مو سی خان اسحق‌زی درانی چی په موسی ډو نګــــی باندی مشهور و د نادر شاه دلښکرولار ښود و ، په دغه یرغل کی‌دجان په نوم یو تره کی غلجی هم دنــادرسره ملګری و ، کله چی نا دربیرته کند هار ته ستون شو دتره کـــــی‌دقبیلی نو موړی جان یی‌د شلور زره پوځ سره دکلات دیو لو له پـــاره‌وټاکه او تر فتحی ورو سته‌جـــان تره‌کی دهغه ځای کلادارو تا کـــل‌شو . دغه سړی پخپله قبیله کـــی ډیر واك او اختیار خا وند و .

دکندهار او کلات تر تیو لــو وروسته تا دزل شاه ، تو خې اشرف خان دغر عبنتو بکلربیگی وتا ئـــه او دتوخی بدل یې په دې دول لــه هو تکو څـخه وا خیســـــــت پنځلس سوه کوره هو تك یې ایران تر کستان او ځینې یې هندو ستان ته تبعید کړل . تر نادر وروستــه کله چې ابدا لی احمد شاه پــا چاشو نو اشرف خان په کلات اوغزنې کې حاکم او په هندو ستان باندې دلو مړی یرغل په وخت کې دی لـــه احمد شاه سره ملګرې واو کله چې له هغه ځا یه بیر ته را و ګرځیدل نود رانې سر دار انو احمد شـــاه په هغه باندې بد ګما نه کـــړ او ورته ویې ویل چې د اشرف خــان قدرت ورځ په ورځ زیا تیږي ، احمد شاه اشرف خان او د هغـــه زوی حلیم خان کندهار ته راو غبنـــل او بند یان یې کړل او دهغه مړیې په یوه جعلي خط با ندي ولګا وه او دهغه په ذریعه یې الهیار خا ن لـــه اصفهان څخه راو غو ښت او لله چې الهیار خا ن را ورسیده هغه هم ونیول شو او بیا چا ته پته نشتـــه چې په هغوی باندي څه را غـــلل خو ځینې خلك وا یې چې دزند ا ن دیوال ور باندي چپه ا و هلتـــه ښخ کړه شول ، له دغی خوا خـــو داحال و ، او په بیرا هم غلجي کـــې ددغه غلجیو د سلطنـــت تر زوال وروسته ازادخان سلیمان خیل چې تر ټو لو مشهور او د لوی عـــزم خا وند و د ایران پر سلطنت دعـــواو کـــړه او مشهوره ده چې ازادخان د کریم خان تر ټولو قوی او لوی دښمن و ، دکریم خان ایرانې او افغا ـ نې مخا لفین دوا ړه دلی وا یې چـــې تر سختی جګړی و روسته ددوی دوا ـ ړو تر منځ دو ستی منځته را غله ، کله تر څو چې کریم خان دفارس پاچا ونوازادخان ډیر کلو نه لـــه هغه سره په عزت او قدر ژو ندکاوه.

لنډه دا چې ابدا لی احمد شاه داشرف خان او الهیار خان تو خی تر ټکولو وروسته د غلجا یې کلات واکې سور کې خان با بکر زی تـــه وسپارلی شوی خو هغه تر شـــو ورځو وروسته د محمد زیـــــو توخیو لخوا ووژل شو ، سور کـــې دوه زامن لرل ، سید رحمت خـــان او لشکري خان وو .

سید رحمت خان داحمد شاه ابدالی‌هم کا به شو او لشکری خان پسه کلات کی حاکم و دتیمور شاه تـرپاچا کیدو وروسته داشرف خـان توخی زوی محمد امیر خان چی پـه آمو خان سره مشهور و له سلیما ن خپلو راوغو بنستل شو اود کلات، توخی او دهزاره وو مربوطو سیمـو حاکم و ټاکل شو او د حا جی انـکوزوی نور الله خان دهو تکو سردار وټاکل شو او تیمور شاه هغه تـه داخلاص قلی خان خطاب ورکـړ اود دیر ه اسمعیل خان، ،دامان، ،بنواواور کون دسیمو څخه لاس ته راغلی عایدا ت یی ده ته ور کړل او دی یی داعتبار خاو ندو کر زاوه .

لمو خان دکشمیر په جګړه کـی دآزاد خان دفساد ونو په وخت کـی ووژل شو او دهغه نه دری زا من پاتی شول چی ولی نعمت خان، فتح خان او میر علم خان نو میدل، کله چی سدو زی شاه زمان دافغا نستا ن پر تخت کښېښنا ست نو ولی نعمـت خان دخپل پلار په ځای وټا کـل شو خو څر نګه چی دلږ عمر خاو نـدونو له دی کبله مولیداد خان (مولا داد خان)مو سی خیل یی د هغـه مشا ور او لاربنود و ټاکه ، کله چی درحمت الله خا ن زوی شها ب الدین خان او الهیار خان لمسی مشهور شو نو د توخیو تر مینځ یوه کور نـی جګړه رامنځ ته شوه ، د شهـا ب الدین د عرو ج ا و شهر ت کیسـه داسی ده چی شاهی امین الملك چی دبابړ وله قبیلی نه وو لی نعمـت خان ته په در بار کی سختی خبـر ی وکړی ، ولی نعمت خان په ځوا ب کی دامین الملك په هجوه کی یو پخوانی پښتو متل استعمال کړ . چی په دی باندی امین الملك سخت نا را ضـه شواو شهاب الد ین دولی نعمـت خان درقیب پالنه وکړه اود خپـل کورنی مال نـه یی دهغه سره مـرسته وکړه ددی شخړی په سبـب قبیله په دوو کو ندو نو وو یشـل شوه چی نیمایی دو لي نعمت خان په خوا او نیما یی نوره یی دشهـا بـ الدین په خوا ودر یدل اوپه کلات باندی به کله دیوی خوا سلطـه ټینګه شوه او کله به دبلی خواپه دغو جګړو کی دولی نعمت خـان نایب مولیداد خان (مـولاداد خا ن)

موسی خیل ووژل شو یو ځل دشاه یو شمیر اسو نه چی دکابل څخـه راو ستل کیدل په لاره کی دتو خـی قبیلی دغلو لخوا لوټ کړی شـو ل کله چـی دغه خبر ولی نعمـت واور یده نو خپل یو شمیر سړی یی دهغوی پسی ولیږل .

غله غرو تو ته و تښتید ل. په خپله ولی نعمت خان هم مقـسو ئ
تعقیبول تر څو ووژل شو کله چـې دهغه ور ور فتح خان دده پر عـسا ی
مشر وټاکل شو د شها ب الد ین اوفتح خان تر مینځ جګړی پیښی شـوی
تر څو دغلجی قبیلی او درا نیو ترمنځ جګړه رامنځ ته شوه اوددغه جګړی علت داو
چی دشا ه زما ن او شـــــا ه محمود سد وزی تر مینځ شخړ ی پیل
شوی ، نود شاه زمان دپو ځ پیـش قراو ل احمد خان نورزی دشاه محمود
سره اړ یکی ټینګی کړی او شاه زمان دهغه د بی وفا یی په سبب ما تـــه
وخوړه . کله چی غلجیو داپا چاګردشی ولیده نو داسی پر یکړه یی وکړه
چی دوی یو بیل حکو مت جوړ کړ ی او په دغه تر تیب یی دنور الله خان
زوی عبدا لرحیم خان هو تک چـــــی دحاجی انګو لمسی و پاچا و ټاکه او
شهاب الدین تو خی دهغه وزیر وټاکل شو . عبدا لر حیم خان د شها ب
الدین خان مرسته او اتفا ق پــه دی دول تر لاسه کړ چی خپله لور یـی
چی صاحب جان نو میده او شها ب الدین په هغی باندی مین او دغـه
ښځه دشاه زمان میرمن او دشهـزاده ناصر او شهزاده قیصر مور وه دټولو
ګانو فرش او نورو اسبابو نو سره یی شها ب الدین ته ور کړه ، کلـه
چی دشها ب الدین دزړه دغه ار مان پوره شو نو د لارو د بند و لو پـه
منظور وټا کل شو او په خپله عبدالر حیم خان دسلیما ن خیلو غلجیو د
تحریک له پاره کابل ته راغی او نوران او ابرا هیم د غلجیو دواړه ښا-
خو نه دجګړی له پاره تیار شـــو ل د کا بل نه ددرا نیو یو پو ځ دد وی
سره دمقا بلی له پاره و لیږ ل شـــو او دغه لښکر غلجیو ته ما ته ور کړه
اوله ابرا هیم غلجیو نه پنځه شپږ زره کسان وو ژل شول او عبدالر -
حیم خان بیر ته غلجا یی کلات تـــه ستو ن شو ځل ځل چی دد رانیو پو ځ
ورو لیږل شو نو غلجیو هــــــــم دخپلو سپا یانو قرار ګاه و ی پــــه
مضبو طو غر نیو سیمو کی میشته کړی او یوازی سپا یان دجګړی لـــه
پا ره میدان ته راغلل او فتـــح خان توخی تر جګړی وړا ندی له درا نیو
سره یو ځای شوی و.

دغه خو نړی جګړه دجلدك او آموکای تر مینځ په یوه غره کی چــــــی سور غر یی بو لی پیښه شوه غلز یو بیاهم ماته و خوړه او د توخولــــه قبیلی نه تقریباً اته سوه تنه ووژل شول او څرنګه چی اکثره هوتـــك سپاره وو نو ژر و ندی پاتی شول، په دغه وخت کی دږمی درار سیدو لـــه امله جګړه په مؤقتیډول پای تــــــه ورسیده .

د(۱۸۰۲) عیسوی کال پسر لی پــه غلجیو کی ددو ی دقتل په کال مشهور دی په هغه جګړه کی چی په دغـــه وخت کی پیښه شوه په هغی کـــی عبدالرحیم خان هوتك او شهـــا بالدین خان توخی دغلجیو مشرا ن وو او ددرا نیو دلښکر و مشران عبد المجید خان بار کزی ، سیدال خـــان الکو زی، اعظم خان پو پلزی ،ښادیخان اڅکزی عر ض بیګی او سمندرـ خان بامی زی وو .

په دغه جګړه کی ډیر غلجی وو ژل شول او لښکر ی هری خواته خوری شوی .

ددو یم کال په پسر لی کـــی ،کله چی احمد خان نور زی دیـــوه لښکر سره غو ښتل کابل ته ولاړشی کله چی هلان رباط ته راور سیده و دتو خیو د ښاخ دجلال زیو څانګـــی دملخی لمسی ملا زعفرا ن په مشری په هغه یر غل وکړ خو په خپله یـــی ماته وخوړه او شپږ سوه کسان یـــی ووژل شول او احمد خان نورزی بیر ته کند هار ته راغی او یو قـــو ی پوځ یی چی توپو نه او شاهینـــــی* ورسره وو ، دغلز یو تر خود ټکولو له پاره روان شو خو کو مه ګټه یی ترلا سه نکړه دا ځکه چی تو خـــی دشهاب الدین او فتح خان تر مشر ی لاندی دکلات غرونو ته تللیوو.دـ درانیو په هغه څو یر غلونه وکړل خود هغو په خو ښه کومه نتیجه حاـ صله نشوه په پای کی یی په ارغنداب کی د غلجیو په کور نیو با نـــــدی یرغل وکړ او ډیر بیګناه کسان یـــی ووژل چی دتو خو هو تکو او درانیو ترمینځ داور و ستي جګړه وه. تـــر هغه وروسته عبدا لرحیم خـــان او شهاب الدین خان ، دممی غره خواته وتښتیدل ، تر هغه لږه موده ورو

---

* شا هین دیوه سپك او واړه تـــو پ نوم و ، ددغه تو پ ویشتونکی شاهین چی بلل کیده او د شاهین چیانو مشرشاهین چی باشی لقب درلو د.شا هین کلمه په دغه معناسره په ځینو کتابو کی شهنګ لیکلی ده. (رشاد)

سته شاه شجاع الملك د کاکړ وپه سیمه کی پناه واخیسته اودهغه سره شهاب الدین خان ، فتح خان تو خی دعبدالرحیم خان زوی شکر الله خان
هو تك وکتل او ور سره یو ځای شواو کله چی شاه شجاع دځو ور ځو له یاره پاچا شو نو فتح خان اوشکرالله خان دهغه سلام وکړ او ور ته
تسلیم شول . مګرشهاب الدین خان دغه کار ونکړ او په دغه خبره باندی شاه شجاع په غصه شواو کله چی یی داخبره و اوریده چی نوموړی
شهاب الدین خان په ناوه کی یوه کلا جوړه کړی ده نو دهغه خپګان او غصه لاپسی زیاته شوه او ګلستان خان اخکزی ته یی ددغی کلا دورانولو
حکم وکړ او فتح خان بابکر خیل یی هم ور سره ولیږه او کله چی ناو ك ته ور سیدل نو کلایی محاصره کړه یوه ور ځ هغه وخت چی درا ني
لښکری کاملاً غافلی شوی وی شهاب الدین خان په هغوی باندی ناڅا پی یرغل وکړ او دهغو ی سپور فوځ یی تښتی ته مجبور او توپچیان یی
ووژل او دتو پخانی باروت وسوزول شول او دتو پونو په میلو نو کی یی موږی ور تك وهل اوتول زمی هلته تش توپو نه پراته وو.
په پسرلی کی صحبت خان پوپلز ی دکابل نه دیوه نوی پوځ سره هغی خوا ته ولاړ او تو پونه یی بیر ته فعال کړل ځو ورځی یی په کلا باندی
دزی وکړی او بی له دی چی کو مه ګټه یی ترلاسه کړی وی بیر ته، را و ګر ځید . اودغه کلا تر (۱۸۳۹) عیسوی
کال پوری په خپل حال پاتی وه او نله چی په دغه کال انګریزی سر کار کابل ته لښکر ی و لیږ لی دغه کلا یی هم ورانه کړه.
لنډه دا چی د صحبت خان تر ستنیدلو ورو سته د شها ب الدین او فتح خان ترمینځ ترډیری مودی پوری جګړی روا نی وی اوددوی
ترمینځ دښمنی په دغه خبره شروع شوه چی دشها ب الدین خان وروړ چی امیر محمد خان نومیده او دیږه ورانسان وآن تردی چی اوس هم دهٔه
زړه ور تیا ستا ینه کیږی د فتح خان له خوا دخاکه په سیمه ني وو ژل شو دغه دښمنی تر هغی چی فتح خان ژوندی و روانه وه اوپه هر فصل کی
په ددو ی ترمینځ دوی در ی جګړی کید ی خو کله چی فتح خان مړ شو نو شها ب الدین دفا تحی له پاره دفتح خان زو ی سمند خان ته ورغی او له دغه وخته ددوی تر مینځ دښمنی په دو ستی بدله شوه

سمند خان دشهاب الدین خان له لور سره واده و کړ او خپله لور یې دشهاب الدین خان لمسی منصور خان ته ورکړه او تر هغه وروسته دغه کورنی د ښمنی له مینځه ولاړه، تر دغه وخت وروسته دکابل والی امیر دوست محمد خان دخپل جرئت له مخې څو ځله دتوخیو په ښناخ باندی یرغلونه وکړل او ددغو یرغلونو په نتیجه کی هغوی تردی الدازی ضعیف شول چی د یا غیتوب قدرت هیڅ په کی پاتی نشو. او د شهاب الدین دکورنی مقام اوحیثیت هم راتیټ شو په سلیمان خیلو غلزیو باندی وزیر محمد اکبر خان او پخپله امیر دوست محمد خان یرغلونه او حملی وکړی اودهغوی سیمو ته یی لښکری وروستو لیږلی او دیر ځایونه یی ونیول اودهغوی غوږونه یی ورتاو کړل اوس سره له دی چی ددوی شمیر زیات دی خو ظاهراً دبغاوت کومه ارادهنه لری او نه هم دپخوا په شان یو رئیس اومشر لری او دهر ښناخ دخپل ملک تابع دی او له ټولو خلکو نه مالیه اخیستل کیږی .

دغلجیو د قبیلی ویش او شمیر :

دد غه قبیلی خلک کله په غلط دغلجیو (۱) په نوم هم بلل کیږی. خرنګه چی دنسب په شجره کی راغلی دی .

دغه قبیله په لوړی سرکی په دوه ښناخو نو ویشل شوی ده لوړی تورا ن دو یم ابرا هیم او دغه دواړه نومونه د غلجی له دوو زامنو نه دهغوی نسل ته ور رسید لی دی او په دغه نومونو سره مشهور شوی دی خرنګه. چی توران د غلجی مشر زوی و نو ځکه دغه ښناخ لوړی درجه ګڼل کیږی . دتوران ښناخ په دوو څانګو ویشل شوی دی لوړی هوتك دو یم توخی او دغه دواړه څانګی ورو سته بیا په نورو وړو شعبو او څانګو ویشل شوی دی چی تفصیل یی دنسب په شجره کی راغلی دی .

---

(۱) په دغه کتاب کی په هرځای کی دغلجیو په ځای دغلزیو کلمه استعمال شوی ده او یواز ی دلته دغلجی کلمه استعمال شوی اومؤلف هغی ته هم غلطه ویلی ده.

ابراهیم د وه زامن لر ل مګـــرد مغه له تښتې و لمسیا نو نه شپـــږ لوی ښاخو نه مینځ ته را غلی دی‌چی دابراهیم غلجیو په نامه یادیږی په دی ډول سلیما نخیل ، علی‌خیل،اکا خیل ، دا دری واړه ښاخو نـــــه مجموعاً دخیل نیکه یعنی ایزب په نوم بلل کیږی ، څلورم سهاک، پنځـــم اندړ ، شپږم تره کی‌له دوی نــــه ورو سته ډیر ی څانګی‌نور ی هـــم مینځ ته راغلی دی . او تفصیل یــی‌په هغه اندازه چی تر لاسه شوی‌د دنسب په شجره کی دهر ښا خ ترلاندی ذکر شوی دی خو د هغـــو ی دسلسلی په اړیکو بانـدی ډیر داډ‌نشته خو په غالب احتما ل بــــه صحیح و ی.

دغلجیو دنسب د شجر ی دتر لاسه کولو له پاره ډیر کو ښښ شوی دی او زما استاز ی‌مو لوی محمد نسیم‌چی ددغی شجری دلاس ته راوړ نو له پاره ددو ی غر نیوسیمو تـــــه راغلی ونود سراو مال تا وان یی په ځان منلی و ، دمجبور ی په دغـــه حالت کی احتیاطاً باید وویل شی‌که چیری لو ستو نکی د غلجیو دښاخونودالحا ق‌په باب څه تفاو ت وینی‌نو دغه ستو نزی باید په یادو لری.

اوس په دهر یوه لوی ښاخ چی‌وړاندی ذکر شول دشمیر ، ویش او داستو ګنی د ځای په باب مفصـــــل بیان وشی .

هو تـــک :

دغلجیو په ښاخ کی‌د هو تکـــــوښاخ له دی کبله په لوړ ی سر کی شمیر ل کیږی چی د غلزیو پاچا لــه دغه ښا خه راو تلی و دغه ښــــاخ وړاندی ډیر شمیر خلک لر ل خـــودغلجیو د سلطنت دانتقال او زوال په وخت کی ددو ی شمیر لږ شو.ایرانی‌نادر شاه د کند هار تر فتحی ورو- سته دد غه ښاخ پنځلس‌سوه کورنی ترکستان ،ایران او هنـــدو - ستان ته تبعید کړل چی له هغو نه یو شمیر یی په بخارا ، مازندرا ن،ه او دایرا ن په ارد بیل کی میشتـــه دی . او س په افغا نستا ن کـــی دهو تکو د ښا خ اته یانه زره‌کورنی‌او سیږی او عموماً دوی په مرغه ،د باری غر په دواړه څواوو او پـــه سور غر کی میشته دی. عیسک زی په مرغه او اتغر کی ، ملی زی‌په ګردی ځنګل او ښه بو لان* کـی،د برت زی څانګه په اور غنای، اکازی‌په خزنای او دمند یاکی ، تون زی‌په سوری کی ، عمر زی په منـداو اورامی زی په اتغر کی او سیږی .
دهو تک ملک له کند هار نـــه څلور منز له شما ل ختیځ تــــه اود

* په اصل کی : غا بو لا ن

غلجا یی کلات نه یو منزل جنو بختیځ ته پیل کیږی . او س په دغه ښاخ کی دعبدا لرحیم خان هوتک کړو سی میر علم خان او همدا راز سدو خان لوی خانان دی . او په هر ښاخ او څانګه کی ډیر واړه ملکان ددوی ترلاس لاندی دی .*

دتوخو ښاخ :

دتو خیو ښاخ دهو تکو دکور نی دعروج نه وړاندی د غلجیو په قبیله کی لومړ ی مقا م در لـود اوسلطا ن ملخی چی د تو خی ښاخ شخه و دتورا ن دتو لی قبیلی سردارتیر شوی دی ،خود هو تکو دترقی او وړاندی تګ په دوره کی دغه ښاخ دوهم ،مقام لری .

ښاغلی الفسنتن دتو خی دښا خ شمیر دو لس زره کور نی لیکلی دی خود مؤ لف له خیړ نی نه داسی ښکار ی چی او س به د دوی شمیر په افغانستا ن کی له پنځلس ز ره کورنیو شخه لږ نه وی .

دتو خیو په سیمه کی مشهـورځای غلجا یی کلا ت دی تو خی اکثره په تر نک کی د پل سنګی نه نیولی دشیبا ر او د هغه ترشاو حواسیمو پوری او سیږی .دارغـنـدا ب وا دی شمالی برخه چی د هزاره وود ملک تر شنګ پر ته ده او هم میزا نه دتوخیو په قبضه کی ده. همدا راز یوشمیر توخی دناوی وادی په جنو بـی اوښکتنی برخه او یو شمیر یی په خاکاك * کی او سیږی . با بکر زی په جنګیو سرا سپ شا مر دان اوناوه کی او سیږی او پاتی شمل زی په شیبار ، هلتاغ مندان او نور ونا ـ یونو کی میشته دی . دتو خیو یـوه محله دکابل ښار ته نږدی په دهـ افغانانو کی شته دی اوس منصورخان دتوخو معتبر خان دی .

---

*دغه نوم په اصل (۲٦٩مخ) کی هم دغسی لیکلی دی ، دتوار یـخ خور شید جهان په ۲۱۹ مخ کی هم خا کاك کښلی دی، خو زما په خیا ل دغه نو م به «خاکه» وی .(رشاد)

سليمان خيل :

له تو لو غلجيو نه دسليما نخيلودبنا غ شمير زيات دئ . د ډيــرو روايا تو نه څر گند يږي چې ددو ی شمیر د ټلو پښتو او پنځو سو زرو کورنيو تر مينځ دی. او ځيني نــا خبره خلك چي دوئ په لويو غر نيو سيمو کی په خواره ډول وو يني نوداسی اټکل کوی .

چي ددو ی شمير به تقريباً يو لــك کور نی وی خو دا صحيح نــه ده. ښا غلــی الفنستــن ددو ی شمیرد(۳۰۰۰۰) او (۳۵۰۰۰) زرو کور نــو ترمينځ ليکلی دی ، سليمان خيل په غلز يو کی ډير زړه ور او جنگيا لی ښاغ دی ، دوی په يوه پراخه سيمه سلطه لری ، ددغه ښاغ د څانگــو تفصيل دنسب له شجر ی نه په ډ ډول څر گند يږئ چي په دوی کــی څلور څانگی مشهور ی دی خود اوسیدو لو د ځای له مخی په دوو بر- خو ويشل کيږئ يعنی جنو بــی اوشمالی ددئ دواړو برخو نه سهيل ته قيصر خيل، شمل زی يا اسمعيل زی، لومړی مقام لری . دغه خلك دنورو مربو طو څانگو سره په سهيلي برخو کی په دی ډول ميشته دی. دکتواز په سيمه کی ادين خيل ، نسوخيل ،قلند ر خيل ، شکی خيل، شاه توری، جلال زئ ، کلا خيل ، محمود خــيل ،مشی خيل اونور اوسيږی .

دزر مت تقر يباً نيمه برخه پــه تيره بيا سهيلی برخه يی دسليما ن خيلوپه قبضه کی ده اود نانی غنــدسيمه چي په کتواز پوری مربوطه ده له سليمان خيلونه ډکه ده،همداراز په وازه خوا او نورو سيمو کی هم په متفر ق ډول او سيږئ پــــه شمالی برخه کی ستانيزی يا سلطان زی احمد زی په لومړی درجه ښاخونو کی راځي چي ددو ئ په مينځ دمتا نی زيو شمير زيات دئ چــی څانگی يی جبار خيل او با بکر خيل دی چی دجلال آباد او کابل تر مينځ لاره کی په لارو هلو کی شهر ت لری.

د للندر دری لويديځ ته تيتموراو هم دميدان په تړ له سيمه کی چی دکابل نه دوه منز له لو يديځ خواته پرو ت دی پيارو خيل او سيږی. په تيز ين، جگد لك، سر خرود اوگند مك کی بابکر خيل او جبار خيل او دلغمان دا ليشنگ په دره کی يوشمير جبار خيل شته دی. چی ددوی مشهور مشر سردار محمد شاه خان وچی څو کاله دمخه يی له جها نــه

ستر کي پټی کړی دی او په همدې ډول ددغه ځای په شاو خوا درو او نورو سیمو کی ددغه ښاغ ځانګی په خواره واره ډول ژوند کوی. احمدزی دلو کړ یه ختیځه بر خه التمــور، سپکه او سرخ آو کی دکبیر غره په لویدیځه لمنه کیږا ته دی، مکــرخپل ما لونه د غرو لو له پاره ختیځ خواته تر جلال آباده پور ی بیایی.

علی خیل :

لکه څر نګه چی د نسب په شجره کي لیکل شوی . د سلیمان دو یــم ورور علی نو میده چی دهغه نســل دعلی خیل په نامه یاد یږی .د علی خیلو ټول شمیر اته زره کوره ښودل شوی دزر مت سیمه چی په پښتــو کی ور ته زر مله وایی ، نیما یـی او سیدو نکی یی علیخیل دی . پاته برخه یی په مقر او نورو سیمو کی اوسیږی . دعلي خیلو د منــدو زی ښاغ یوه ځانګه اسمعیل زی دی چی دوی ورې ځانګی یی بیندا خیــل او چنلښ خیل نومیږی اوددری کوتی په نامه هم بلل کیږی دخو ست پــه سیمه کی ددوی تقر یبا څلور ســوه کوره میشته دی دمقر په علی خیلو کي ښه سپاره مو ندل کیږی چـــی دوی له سپر لی سره ډیره مینـــه لری . ددوی نه پر ته په نوروسیمو کی هم ددوی لږ شمیر په همسا یه ډول او سیږی .

اکا خیــــل :

اکا خیل د شمیر له مخی ډیر لــږ دی ، دوی ځانته کومه بیله سیمــه نه لری ځینی یی په مقر کـــی اوسیږی او اکثر په پوونده ډول ژوند کوی تغرا ن هم جوړ وی او هغه ډله یی چی پوو نده دی دبار وړ لو لــه پاره عمو ما له غوایانو نه استفا ده کوی اواکثرادوړ یا تغراو بدو نکی اکا خیل دی او ښا یي دغه کسب دوی ته له نیکو نونه پاتــه وی، دوی دپوونده وبه پاره کیږدی، جوالو نه کندوا ن او داسي ډیر شیان جوړوی، دوی له خپل دغه کسب نه چی دپوو نده ودا حتیاج وړ شیان جــوړه و ی ډیره ګټه تر لا سه کوی مګر نــورافغا نان (پښتا نه)دغه کسب تــه په سپکه ستر که ګوری ، کاکـــــر دوړا ن کسب ګر یا پیشه وربو لي او کله چی څوك کوم کاکړ ته دغــه خطاب وکړی ، نو دغه خبره هغو ی ته دکنځلو مفهوم لری ، ویل کیږی چی په ټول افغا نستا ن کی داکا خیلو شمیر له زرو کور ونو نه لږڅــه کــم دي.

اندړ :

دغه ښاغ دغزنی په سهیلـــی برخو د شلگر په سیمه کی او سیږی. او پراخه سیمه اولوی میدان تقریباً تو له داندړ و په واک کښی ده او په جامرادکی هم یو شمیر اندړ شته دی دجلال زیو دښاغ یو شمیر وگړی هم په زرمت کی او سیږی داندړ ویوکلی دتو خیو د شیبار په سیمه کی موجود دی ددغه ښاغ تو ل شمیــــر اتلس زره کورو ته رسیږی.

په اندړ و پوری مربوط یو ښاغ چی موسی خیل نو میږی دکاکړو له قبیلی سره په وصلی ډول تـــړ ل شوی دی ، ویل کیږی چی د موسی خیلو له ښاغ نه یو تن داندړ و په ښاغ کی یوه ښځه وکړه چی دهغــه له اولا دی نه موسی خیل مینځ ته راغلل چی دنسب او ځانگو شجره یی ورانډی ذکر شوی ده. اکثره موسی خیل په واغز کي د شلگر لو ید یځ خوا ته دهزاره وو له غره ســــره متصلو سیمو کی او ځینی یی د گیرو دسیمی په پناه کی چی د شلگــــر دسیمی سهیل ته موقعیت لري پراته دی . اندړ له تولوافغانانو د(پښتنو) سره یو یا دوه کوره دهمسا یه په ډول او سیږی .

تـــره کی :

په افغا نستان کی ددغه ښـاغ شمیر پنځلس زره کورو و نو تــــه رسیږی او له دوه ثلثو نه زیـات خلک یی دایمی استوگنځی لـــــری او یوه دریمه یی په پوو نـــده اوکوچی ډول ژو ند کوی. دد وی اصلی تاټو بی د مقر او ناوی سیمه ده چی ددو ی د شمیر په تنا سب دهغو ی ملک او مقبو ضه سیمه وړه ده ځرنگه چی د مقر سیمی زیاته انـدازه دعلی خیلو او خدو زیو په وا ک کی ده نو ځکه یی دځمکی د لږ والـــی په سبب یی یو پردری برخه په ښپنتوب او دحیواناتو په روز لو ژو ند کوی ددغه ښاغ پوو نده خلک د منـــــی موسم په پیل کی دژمی د تیرو لـــو له پاره قند هار ته ځی او په پسرلی کی بیرته دمقرخواته په را تـــگ پیل کوی او دد غه تکرا تگ پـــه سبب په پښتو ژ به یو مشهور متل مینځ ته راغلی چی ویل کیږی :

چې چونګښې وايي قر، تره کې وايي مقر
چې چونګښې وايي غا ر وايي کندهار

ددغه متل مقصد داذی کله چې دګرمی موسم په پیل کې چونګښې د قر غږ پور ته کوی نو په دغه وخت کې تره کې کوچیانو ته خپل وطن مقر ور په یاد شی نود دوبی دتیرولو له پاره بیر ته مقر ته راځی . نو کله چې چونګښې د یخنی درارسیدو له کبله دغار نارۍ و هی نو تره کې دژمی دتیرو لو له پاره بیرته کندهار ته ځی او دغه متل او س ډیر مشهور شوی دی . اوس دخان زو ی محمودخان تره کی، زمان خان، هارون خان ، مر تضی خان ، او میراحمد خان ددغه ښاغ ملکان او خا نان دی.

سهاک :

د سها ک د نسل شجره ورا ند ی لیکل شوی ده ددوی تو ل شمیر تقریبا او ومزره کوره دی. دسها ک دښاغو نو نه یو سف خیل دشمیر له مخې ډیر دی د سها ک قبیلی دریمه برخه دخر وار په سیمه کې میشته ده او ځینې یې په زر مت کې هم ژوند کوی . او پاتې یې په پغما ن بیک ټو ت او تګاو کې اوسیږی اوهمدا راز یو شمیر یې په لغمان اود هند و کش لړی په نورو سهیلی درو کی مو ندل کیږی . ځینې خلک اندړ اوتره کی دسهاک له او لا د ی نه بولی خو داخبره بیخې غلطه ده. سها ک داندړ او تره کې ورورو .

هغه غلزي چي په نورو ملکو کي خواره دي

له هغه مقبوضه سيمو نه پرته چي پکي دميشته ښاخو لو تفصيل يې پور ته راغلى دى په ټول افغانستان کى دوه دوه ، درى ، درى يا کم و زيات غلجى په هره سيمه کى موندل کيږى چي د همسا يه په دول خواره واره پراته دى او هم له افغانستان نه دباندى په تر کستان او ايران کى هم ډير غلجى شته چي دوى اکثره دغو ملکو نو ته د ايرانى نادر شاه په وخت کى راغلى دى، خو په ايران کى دخپل عروج له وخت نه لږ پاتى شوى دى او د بلخ په هـژده نهرى کى اکثر غلجى اوسيږى ، د بخا ر اداز بکو په پوځ کى هم نو کرى کوى د تر کستانى غلجيو دو داود ستور ، خورا ک او پو ښا ک کټ مټ داز بکو په شان دى .

او ر يدل کيږى چي په کر مان ، نرمان شمير جنس او اصفها ن کى هم دغلجيو ښو سوه کورو نه شته او هندو ستان کى هم ددوى يو شمير استو گنه لرى او بهرنى غلجى پـه هر ملک کى چي او سيږى دهغه ځاى داو سيدو نکو په شان ژ وند کوى د روم دارا لسلطنت ته هم ښو تنه غلجى له داغستا ن نه تللى او هلته ميشته شوى دى . لنډه دا چي له افغانى (پښتنى) ټو لو قبيلو نه دغه قبيله په ليرى ، ليرى ملکو نو کى ليدل کيږى .

دغلجيو دود او دستور :

دغلجيو په شان په یوه لو یــه قبیله کی چی په یوه پراخه اوارته سیمه کی‌استوګنه لری دیــو ډول‌دودونو او دستورو نو لرل ډیر کــم امکان لری . ممکن دی په داسی حال‌کی د قبیلــو د بیــلا بیلــو ښاخو او رواجو نو او دستورونولیکل ضرورو نه ګڼل شی .د غلجی دقبیلی رواجو نه او دستور و نــه ددر انیا نو له روا جو نو سره ډیــر توپیر لری . دد ی قبیلی دخا نانــو اوملکانو واك او اختیار د درا نیود قبیلی دخا نا نو او ملکانو په څیــر نه‌دی .

په تیرو وختو نو کی چی دغلجی‌قبیلی خانان د ډیر ا ختیار خاو ندان تیر شوی دی په دی ډول دی لکــه شهاب الدین تو خی عبدا لر حیم خا ن هوتك ، مهتر موسی خان سلیما ن‌خیل ، محمد شاه خان‌جبار خیل، عزیز خان بابکر خیل ، خانا احمــد زی،دسلیمان خیلو له خانګو نه مو ســی خان تره کی ادرو ماما مو سی خیل،مو لیداد خان (مولاداد خان) خدا ی نظر خان، ماماسهاك بهاول خان اندړاو نور چی تر اوسه هم ددغو ملکانو کور نیو ته دعزت او اعتبار په سترګه کتل کیږی . خو او س امیر دوــ ست محمد خان دوی‌ته پخوا نی عزت‌پری ایښی نه دی .

دخان‌او ملك په انتخاب‌کی‌مور وثیت‌ته ډیر اهمیت ور کو ل کیږی خــود کابل امیراومحلی حا کمان هغه شو ك‌غوره ګڼی چی هو ی‌ته ډیر ی پیسی ور کــړ ی .

ددغه قبیلی په تربیه او اخلا ق‌کی هم‌تو پیر مو جو د دی هغه خلك چی په دښتی او غر نی سیمو کــی‌ژو ند کوی دد وی‌کره وره ښــه ندی.

په تیره بیا اکثره سلیمان خیــل‌غله ، لاروهو نکی او وعده خلاف‌دی. خود لو ګر او سیدو نکی ښــه د ی‌هغه غلجی چی په څهار دهی اودکابل په نور وشا و خوا کی اوسیږی هغه زیار کښی اودخپلو امیرانو اوخانانو تابع دی . ددوی پو ښاك او څینی‌نوردودونه او دستور ونه دکابل‌د او ــ سیدونکو په شان دی . په خورا ك‌کی دغنمو فطیره ډود ی ، کور ت، ژیړ غو ړی او دپسه غو ښه ډیری‌استعما لوی ، پو ښاك یی له یــو

کمیس ته چی پراخ لستو نی لری اودهغه د پاســـه د قبا په شانه کو چنی چپنه په ځان اچوی .

دژمی او سړ وپه مو سم کـــــی دپسه له پو ستکی نه جوړ شوی یو اوږ دپوستین اغوندی اویوه خراسانی خیرنه خولی بی ئی په سروی خوشتمن خلك په تیره بیا دلو یو ښارو نــو یا هغو ته دنږدی سیمو او سیدو نکی ښه خو راك او پو ښاك لری . دد وی تر مینځ کور نی جنګو نه او شخړی ډیری دی چی دهغو ګو ند یو او شخړولیکل ډیر اوږد کار دی . خودلو یـو قبیلو ددښمنی بیا نول ضرور کنګل کیـږی .

دهو تکو او تو خیو تر مینـــــځ ددښمنی څر نګوا لی په تیرو پا تو کی راغلی په اوس وخت کی که څه هـم ددوی تر مینځ کومه جګړه نشتــه خو په زړو نو کی چندان یوه بـــل ته پاك هم نه دی. دسلیمان خیلـو او انډړو تر مینځ هم دښمنی موجوده ده او لشما لی سلیمان خیل دسهـا ك له ښاغ سره دښمنی لـری، مموز ی دعلی خیلو سره او یو سف خیـــل دسها کو سره پخوا نی دښمنی لری .چی آثار یی تر اوسه پوری هــــم شته . په هم دی تر تیب دغـــــوښا خو نو دوړو څا نګو تر مینـــــځ هم کور نی دښمنی موجودی وی. کـه څه هم دوی عموماً دبهر نی غلیــم سره دمقا بلی په وخت کی سره کـداو متفق کیږی ،خو په داسی وخـــت کی هم غواړی خپل دښمن تــــــه زیان ورسوی .

دغلجیو دقبیلی بهر نی قوی غلیم درانیان دی، چی ددوی د عداوت دښمنی او جنګو نو په باب معلو ما ت په تیرو بحثو نو کی ولیکل شـــو . خو اوس ددرا نیو او غلجیو تر مینځ کومه شخړه او جګړه نشته ددرا نیو پرته غلجی له خپلو نورو همسا یـه (ګاو ند یو) قبیلو سره هم کله کله شخړی کوی .

دغلجیو ناړ ینه عموماً ډیر تکړه او توا نا سپا یان دی ، ددوی دوسلو په باب خلك وایی چی د خلکو پــــه تناسب یی دتوپکو شمیر یو پر شلو لږ دی دوی زیا تره پلیته یی تو پك استعمالوی خو چقما قی تو پك هم لــــرى.

دهر سړی سره یوه توره وی خــــوځینی خلك یی تما نچی او چړی هــم سا تی ، سپاره یی عمو ماً نیـــزی کر ځوی .

د نامر د نسب شجره



دغلجیو دغم او بنسادئ دود اودستور دنورو افغا نا نو (پښتنــو) سره ډیر تو پیر نه لری .درو پیو یاجنس په مقا بل کی نجلی ودوی ا و شیربها ته ولور وایی ، کله چی کوژده وشی نو زوم دخپل خسر کور تـه تگ راتگ کو لی شی اود خپلــــی په نامه تشوی نجلی سره اوسید لــی شی دغه عجب رواج ته چغل بـا زی وایی اوکله کله ددغی چغل بـازئ نتیجه داشئ چی نجلی دخپل پلار پــه کورکی حامله یاداولاد څښتنه شی خو اکثره دغه حمل ته دحرامی پــه ستر که گوری او کو ښښ کوی چــی دغه ډول جنین سقطکړئ اویا هغه وخت چی داسی ما شوم دنیا تــــه راشئ هغه په یوه ټوټه کی تاووی‌او پر لاره باندی یی پردی ترڅو یــو لاروئ یی له ځان سره وا خلی، خــو که چیری دکوژ دی په وخت کــی شر عی ایجاب او قبول وشی نــــو داسی ماشوم نه ضایع کوئ .

په مذ هبی لحاظ غلجی دخپلـــوملا یا نو او آخو ندا نو تا بع دی‌هغوئ ټول سنی مسلما نان‌اوډیر متعصب‌دی،خو شر عی احکام په صحیح ډول تــه ترسره کوی.ددبنتواو صحرااوسیدو نکی غلجي لمو نځ او روژه پـــه ښه ډول تر سره کوی او ډیر یـــی نه قضاء کوی. په هر کلی کی یــو جو مات شته او ددغه جومات تـــرڅنگ یو بل ځای دعوامود کښینا ــ ستلو له پاره موجود وی چی پـــــه دغه ځای کی دچلم څکول اود نـورو اعما لو تر سره کول شرم نه گڼـــل کیږی په دغه ځای کی چی دیـــوال یی له جومات سره شریـــک وی دیخنی په مو سم کی تل اور بلـــوی او خلك پکی را ټو لیږی او دغــــه ځای ته آتش خا نه وایی چی پــــه حقیقت کی دغه ځای هم دجو مـــا تجز وی، خو یوازی دیوه فټ پــــه چکوا لی یو دیوال یی تر مینـــــځ جوړ شوی وی .په آتش خا نه کــی دمحراب په ډول یو ځای دچـــــلم‌دایښود لو له پاره جوړ شوی دی.

دغلجیو په باب خلك وایی چـــی‌ددوی جو ما تو نه دوه محرا بـــه لری یو یی لوید یځ خوا ته دامـــا م‌له پاره او بل یی ختیځ خوا تـــــه دچلم لپاره .

دناصر قبیلی بیان

دنا صر دقبیلی دنسب شجره ددوی نیکه پوری چی ناصر نو میده تر مغه ځایه چی لاس ته راغلی و لیکل شوه . ناصر خپل نسب دغلجیو قبیلی دهو تکو ښاخ باندی ورګډ وی خو هو تک دوی خپل رعیت ګڼی نه دخپلی قبیلی ، خودا ادعاګانی دواړه غلطی ښکاری ځینی ناصرغوری شاه حسین چی دغلجی او لودی پلار وخپل نیکه بولی او ځینی یی خپل نسب په سید انو ور ګډ وی نو ددغه اختلاف دمو جودیت په سبب مؤ لف یوازی او سنی حالات دلیکلو وړ بولی اوځکه نه غواړی دپخوا نیو حالا تو په باب څه ولیکی .

ځینی خلك وا یی چی ناصر دبلو څو له قوم نه رابیل شوی دی که څه هم دهغوی ژبه پښتو او له افغانانو (پښتنو) سره ګډ شوی دی . خو ددوی خیری او شکلو نه افغا نانو (پښتنو) او په تیره بیا غلجیو ته ورته نه دی غالباء داسی ښکا ری چی دغه قبیله یاد دوی لوی نیکه یه اصلی ډول له غلجیو سره یو ځای شوی دی .

دناصر ټوله قبیله پنځلس زره کوره شمیرل شوی ده چی له هغوی څخه لږ شمیر یی د کابل په شاوخوا کوهدا منسیمي په ګل دره * شکردره اوحاجی ګك او نورو ځایونو کی استو ګنه لری * په دوی کی خوا جه میر خان لوی خان او قلندر پاچا یو مشهور عالم او فقیر دی ، ا و پاتی تقر یباء ټول ناصر ځمکه نه لری او په پوو نده ډول ژو ند کوی . له دی کبله ددوی دپوو نده توب لاری او مسیر تر هغه ځایه چی معلوم دی لیکل کیږی . دپسرلی په موسم کی له ختیځ دامان نه لږ دی او خبر یږی او هر یوه خا نګه دهو تکو اوتوخیو په ملك کی په ګوښی ډول اوسیږی او ددغه ځایه دتجارت ما لونه کندهار ، کابل او نورو ځایونو ته دخرڅلاو له پاره وړی اوله خپلورمونه وړی اوپسو نه هم خر شوی اوګله چی دو ښوکم والی احساس شی نو اکثراء داوړی په نیما یی کی له یوی یادو کیږ دیونه یوه دیره جوړوی اودرمود پوولو له پاره

---

* په اصل کی دګلدری پر ځای «ګاه دره» لیکلی ده . (رشاد)

* دکند هار داحمد شا هی ښار ختیځی خوا ته دناصرو یو لوی کلی سته ـ دکندهار دار غندا وپه جو ی لاهور کی هم دنا صرو څو کوره اوسی ـ دکو ټی په لور لا یی کی هم څه دپشین ناصر سته . (رشاد)

دوبنود پیدا کو لو تلاش کوی او په ورو ورو منزلو کی خپل مالو نه
څر وی. دمنی موسم په پیل کی دجرګی په ډول سره را ټولیږی
او خپلی کیږدی تولوی اوګرم میدان یعنی دامان ته چی ددیره اسماعیل
خان په ضلع کی پورت دی روا نیږی. دوی دلیږدونی په پیل کی په دووبرخو
ویشل کیږی خان یامشرد قبیلی لاربنو نه کوی چی لومړی کوم
برخه باید حرکت وکړی دڅومز لو تروهلو وروسته دا دواړه برخی
یوځل ته نږدی په کنزو رکی سره راټولیږی اوهلته ټول پوونده چی
دامان ته د تللو نیت لری سره راټولیږی، کله چی دغه خلک له
خپل لو ید یځ تم ځای نه روا نیږی. دښارو او غیر آبادو سمیو نه تیریږی
چی هلته ددوی دملګرو نه پر ته هیڅوک نه لیدل کیږی خو کله چی
کنزور ته ورنږدی شی نو اکثرالاری د نورو قبیلو د حیوانا تو او رمو په ذریعه بندیږی او ځینی وختو نه د دواړو قبیلو
رمی او کلی په تنګو لارو کی سره ګډیږی او کله کله دوړا ندی
وړو سته کیدو د تکرار په سبب دقطار په ډول وړا ندی تګ کوی،
تر څو په پای کی دغه ټول چی دکلو، حیواناتو، رمو، انسانانو
او کیږد یو نه جوړ شوی دی کنزور ته رسیږی په لومړی سر کی به
دغه جمعیت شمیر دیرشو زور ته رسیده، خو اوس هریوه پوونده
قبیله دخپلو بیلا بیلو ډلو سره راځی نو له دی کبله په هغه اندازه خلک
په یوه ځای سره نه را ټولیږی لنډه داچی دغه خلك د ورځی له
خوا دمالونو څرولو په منظور هری خواته خپریږی اود شپی له خوا د
معا فظت په منظور سره یو ځای کیږی.

هره قبیله دخپل انتظام له پاره څلو یښتان ټاکی اود دامان خوا ته
روا نیږی. په دغه وخت کی دوزیر وخلك ددوی دلو تو له
تیاری نیسی او په خپلو غرو نو کی دو ی دتګ راتګ ځای ته نږدی سره
ټولیږی او یو یا څو تنه جاسوسان لوړو غرو نو ته دکاروانو نو
دلید لو له پاره استوی، کله چی قافله وکوری نود وزیر ودغلو
دلی دمال دلوټولو په نیت په نا صرو باندی یرغل کوی او په
هره اندازه زیان چی ورسولی شی ورسوی یی په دغو خطر نا کو
ورځوکی چی تقریباً یوه او نیم یا لس ورځی دوام کوی نا صر تل
دهری ناڅاپی پیښی له پاره تیار وی او څلو یښتان داخلی شخړی بند وی.
تر څو چی د بهر نی غلیم دحملو مخنیوی له پاره تیار وی. ټوله
قبیله په یو ځای سره څلو یښتا ن انتخا بوی دوی دکار وان دښی کیڼی
او وړاندی وروسته بر خو سا تنه کوی.

دغه محافظه ډله اکثراً پلی اوځینی یی سپاره وی او وار په وار
دحملی دفع کولو له پاره چمتو وی‌پاتی ناصر نر او ښځی د حیوا نا تو
دګلو او رمو سره روان وی او ټول‌مسلح سړی دد ښمن دحملی له پاره
تیار وی ، خو وزیر غله هــر کا ل‌دوی بی له دی چی کوم ستر یا کو –
چنی زیان یی ور رسو لی وی‌هغوی‌نه پر یږ دی . وزیر نه یــوازی
دنا صرو ، بلکی د ټو لوپو نــدوو کلك دښمنان دی،دوی‌عموماً د دغه
ډول دښمن له ملك نه ځا نو نــه دزړ کنی دری له لاری ددا مان‌میدان
ته رسو ی او هلته خپر یږی پــه دا مان کی هره قبیله ځان ته بیــل
ځای لری چی هلته دوی په ژ مــی کی استو ګنه غوره کوی دمالو نود
څرو لو په وخت کی چی‌په هر ځای‌کی ښه څړ ځایو نه ومو می هلته د
خپلو حیوا ناتو ګلی او رمی پیا یی‌په دغه وخت کی دوی پــه‌داده زړه
خپل ژو ند کوی . او دانګر یــزی‌سر کار د ښه انتظام له‌مخی دوی‌په
امن اوآرامی سره‌شپی‌ور ځی تیروی.هغوی دبیکار ی په وخت کی ښکیـار
کوی ښځی نور کارو نه لکه‌د ډوډی پخول یاداوبو راوړل ، او نــوری
کور نی چاری سر ته رسو ی .اوددی‌تر څنګ دلر ګیو راو ړل اودکیږدیو
درول هم د ښځو له کارو نو نــه‌شمیر ل کیږی . دنار ینه و کاردادی
چی میږی، اوښان او دنورو حیوا ناتو‌رمی و څرو ی دد غه کار له پاره لږ
شمیر سړی کفا یت کوی .

دنا صرو دتجار ت دڅر نګوا لــی‌په باب معلو مات په لومړی بر خه
کی دنورو ټو لو پو نده‌وو سره یــوځای و لیکل شو . دنا صرو قبیلــی
ښځی اکثراً مخو نه پټوی او ښکلــی‌هم دی . او کله چی ژمــی تیر اود
سلیمان غره واور ی ویلی شی نــوددغه قبیلی دبیلو بیلو ښا خو نــو
ملکان یوه ور ځ ټا کی او په دغــه ټاکلی ور ځ لوی ملك یا خان تــه
دجر ګی په ډول ور ځی او هلته راټو لیږی او په دغه جر ګه کی‌دبیر ته
تګ لاری او ور ځ ټاکل کیــږی .اوپه دغه ور ځ خپلی کیږدی ټو لوی
او په هغه ډول څر نګه چی راغلی‌وو دپسر لی په مو سم کی بیر ته
ځی چی دغه کار ددو ی همیشنــــی‌دستور او هر کال ور با ندی عمــل
کوی ، پوو نده‌نا صر په تجار ت اومالدار ی‌باندی ګو زاره کوی هغو ی
دخپلو میږو له وړیو نه کــیږ دی،تغر او نور ضرور ی شیان او بی او
دپسو نو له پو ستکو نه پوستینونه هم جو ړوی اوله شیدو نه یی کوچ،

د خروطي د نسب شجره



ښيو او کرت ترلاسه کوي. د پسه غوښه په میلمستیا وو کی استعما-
لوي . په دوی کی داو ښځانو، غوایانو او په تیره بیا د پسو نو رمی ډیر ی
دی . دوی تل ددې هیله لري چې خپلو رموته په خپل وخت خواړه ور-
ورسوي او ددغه کار د ترسره کیدلو له پاره ډیر تلاش کوي . دنا صرو
کیږدۍ وړې او سپکې وی دد وی دکورو نو اسباب ډلیږ د په وخت کی
عموماً له دی شیانو نه عبارت دی. یوه یادو ی جوړ ی کالـــی ، داوړو
یوالونه، یو یا دوه مسی یا خاورین لوښی .

دنا صرو پو ښتا ک دلو ید یځواوختیځو افغا نانو تر منځ وی، خلک یی
اکثراً غنم رنګه ، منځنی و نې او بدرنګ دی *ځینی ناصر بی آزاره او
ربنستینی خلک دی . په دوی کی دخان او لوی ملک اختیار ډیر زیات دی .
ناصر د عبدا لرحیم خان هو تـــک له وخته یوه اندازه محصو ل دهوتکو
خان ته ورکوی . دپوو نده نا صرو لوی ملک شهزاده خان ډیر ښه سړی
وچی سږ کال یی له نړی نه سترګی پټی کړی .
مدت خان (مددخان) ، الــــه دادخان ، میر عالم خان، دو ست محمد-
خان او نور ددوی ملکان دی.

دخرو تو ښا غ :

دغه خلک خپل نسب د غلجیو له دښا غ نه بو لی او دهغو ی نه یـــی
ځینی وایی چې مونږ د تو خیو له ښناغ نه بیل یو ، خو غلجی دخرو تـــو
ښناغ په خپل نسب نه ور کډو ی او داسی وایی چی سها کاو ایزب دواړه
یوه ورځ په یوه لاره تیر یـــدل، وراندی یی یو بار کړی خرو لید ه،

---

*ما چی دکند هار او شکر دره ی ناصر لیدلی دی ، بدرنـــګ نه دی
بلکه ځینی یی خورا ښا یسته دی. (رشاد)

ایز ب وو یلچی خر زما دی اوسهاکوویل چی باریی زما دی کله چی خر
او باریی ولیدل نو دبار یوی خواته داور بشودود ی او بلی حوا تـــه
یو کو چنی ماشو م و او سها کدغـه کوچنی ماشو م خپل کور ته راوست
اود خره دبار او دود ی په سبب چی په پښتو ژبه کی اور بشینه دودی
درو تی په نامه بلل کیږی په هغه ماشو م باندی یی دخر رو تـــه
(خرو تی) نوم کیښود *. کله چی خرو تی د بلو غ سن ته ور سیده
نو دخپلی کور نی له یوی نجلـــی سره یی واده و کړ چی دهغی لـــه
بطن نه دخروتی دری زامن وز یـږیدل چی دهغو ی داو لادی شجـره
اوښا خونه وړا ندی دنسب پـــه شجره کی راغـــلی دی . او له دی
کبله چی د هغو ی دلو ی نیکه نـوم خرو تی و نو ځکه دغه ښاغ دخروتی
په نامه و بلل شو . دد ی ښاغ شمیر تقریبا شپږه زره کوره ښود ل شوی
دی .

خرو تی په هغو غرو نو کـــــی اوسیږی چی د کتواز په ختیـــځ
دسلیما ن د غره د مربو طوسیمو په تر بر ملي پور ی پرا ته دی.دخرو-
تو دملك یوه برخه دار گو ن سیمه ده ، چی په هغه کی پر مولی یـــا
پر ملی دتا جکو د قوم یو ښاغ هـــم اوسیږی . خروتی په ځینو هغو تنکو
میدا نونو باندی هم قبضه لری چـی په منځ کی یی جك او سخت غرو نه
مو قعیت لری . دوی څلور لوی کلی لری چی په دغو کلیو کی سر روضه
لومړی مقام لری اوپنځه سوه کوره پکی میشته دی . دپو ونده خروتونه
پر ته نور پاتی اکثرا خرو تی دځمکو په کر نه یو خت دی . دد وی دکرنی
ور ځمکی که څه هم دکتواز نه ښی دی خو دکال یو فصل کوی او پـــه
ژمی کی د دریو میا شتو له پاره تـرواورو لاندی پتی وی . دو ی پـــه
غوا یانو او غواوو باندی یو ی کوی، له دی کبله چی د هغو ی سیمــه
غر نی ده د پسو نو په تنا سب وزی ډیری ساتی ، هغوی ډیر او ښا نهم
ساتی چی په اوارو او میدانی بر خو کی یی څروی . ددوی اکثرا دو دونه
سهیلی سلیما نخیلو ته ور ته دی ،خوپو ونده خرو تی د نورو پو ونده
وپه ښان دی . او په ژبه کی یـی تو پیر مـــــو جـــود د ی. دو ی

---

*دا مضحکه وجه تسمیه ده او له حقیقته ډیره لیر ی خـبره ده م
(ارشاد)

دوزیرو ، ځدرانو او پر ملـــی قبیلو سره ډیره کلکه د ښمنی لری. دوزیرو او خرو تو د قبیلو ترمنځ دد ښمنی اصلی علت د بر مل سر ی چی په دغه غره با ندی تل د خرو تو او و زیرو تر منځ وینی تو یږ ی . ددی شخړی اساس دا بدا لي احمدشاه په زما نه کی را منځ ته شوی ویل کیږی چی په هغه وخت کی دوزیرود قبیلی ملك قمبر نومیده چی دتو جیا خیلو د ښا ځښخه و اود خرو تو ملك شمس الدین و، څرو تو ویل چـــی برمل زموږ دی او وزیرو دد و ی ادعاردو له اوهغه یی خپل گا نه کلـه چی دغه د ښمنی دسو لی له لاری فیصله نه شوه نو په پښتو ژبـه یوه بیت جوړ شو چی ددغـه حـــال درو ښا نو لو له پاره دلته راو ړل کیږی :

پرمل پیغله تجل ځینه پریښي ـ شمس الدین وایی ځما ده قمبر وایی زما په غیږ کی ایښی . له دغه بیت نه مقصد داد ی چی پر مل هغه پیغله ده چی خپلی زلفی یی جوړی کـــړی دی ،شمس الدین یعنی دخرو تو ملك وایی چی زما ده او د وزیــــــرو ملك قمبر وایی چی په غیږ کی مـــی پرته ده یعنی زما په وا ك کی ده. په پای کی ددغی دعوی په سبب دخروتو او وزیر تر منځ جگړه پیښه شوه په دغه جگړه کی خرو تو د مار زك ښاغ پری نښود چی له دوی سره یو ځای شی په پای کی یی دوزیرو له لاسه ماته و خوړه او هغه وخت چی یی د مارز ك له ښا غ نه مرسته وغو ـ ښتله چی ددغی پیښی په با ب هم دپښتو ژبه کی یو بیت شته ، لـه دغه وخت نه مار زك ښا غ ته یـــو بیل نوم ور کړل شو .دوی له پرملیو او ځدرانو سره هم دگاوند یتـــو ب په سبب سخته د ښمنی لـــر ی هغه خرو تی چی په دایمی ډول ژو ند کوی دخپل ملك دمو سم په سبب هغو ی هیڅ کار نه کوی دمنی دپای تـــه رسیدو نه وړا ندی دغه خلك دسون لرگیو ذخیره برابر وی او په ژمـــی کی یواز ی ددوی کاردادی چی دخپلو کورو نو له بامو نه واور ی وتو ړی او یا له یوه کور نه بل ته دتـــك راتك لار ی پاکی کړی په دو ی کی هغه خرو تی چی غریب دی او دژمی دځلورو میا شتو سختی نه شـــی زغملای نو هغو ی تو د وملکو نو ته ځی او دخپل ځان سره اکثرا غوا یـی او ښان بیا یی . داخلك دگو مـل دواد ی تر سهیلی بر خو پوری ځـی او د پرمل او وانی خوا ته هم راځـی او دپسر لی په مو سم کی بیا خپـل تاتو بی ته ځی پوو نده خلك دو ی غوا یوال خروتی یاد غوا یانو ځښتن خروتی بو لی ، په لوړی سر کـی

دری سوه کور نیو خپله برخه ځمکی‌خو شی کړی او دنا صر و په شتان یی دلو چیتوب ژو ند غوره کړ دغه عمل تقریباً اویا کاله وړا ندی تر سره شو او خرو تی دخپل لومړی‌پوو نده ژو ند داختیار و لو سبب دا بو لی چی دملک دتنګ والی او دګرد چاپیر ه غرو نو د شتوا لی له امله ددوی ابا دی زیا تید لی‌نشوی‌او دهغو ونو د سیور ی په سبب چی په دغو غرونو کی‌په ګڼ ډول موجودی دی ، دهغو ی دحیوا ناتو له پاره په پوره اندازه خواړه نه شی‌برابر ولی ، کله چی ددوی شمیر زیات شو د ځمکی دکم والی له امله هغوی په تنګ شول ، ددی له پاره چی دهر سړی میرا ث دهغه نارینه اولاد ته دشر عی ویش په اسا س ور تقسیموه او دد غو برخو لږ والی‌ددی سبب شو چی دهر سړی‌ګوزاره ور باندی ونه شی .

نو ځکه ډیرو خلکو خپله ځمکه ورو نو ته پر یښود له او په شپنتو ب او پوونده ژو ند یی لاس‌پوری کړ . ورو سته چی پوو نده خرو تو د خپل همت او کلک عزم‌په واسطه دتجار ت په سبب یوڅه شته تر لاسه کړل نو په هما غه‌ډول دپوو نده وو په شمیر کښی زیا توا لی راغی خو تر او سه هم‌دمقیمو خرو تو شمیر دپوو نده و خرو تو دشمیرپه پر تله زیا ت‌دی.اوس پوو نده خرو تی هغو ی ته یوازی دیوه ښا خ په ستر ګه ګوری‌او نور د خرو تو په ملک کی څه غرض نه کوی او کله چی دغه‌خلک‌ددوا ن او نورو لو یدیځو ځلنو نه بیر ته راستنیږی نو د خرو تو ملک‌ته نه ځی، بلکی د لویدیځ افغا نستا ن‌د شلګر سیمی ته چی‌دغز نی‌په شاو خوا کی مو قعیت لری او نورو سیمو ته ځی . او یوا زی‌سړی‌یی تجارتی مالو نه‌د خرڅلاو له پاره وړی او لیری لیر ی ملکونو ته روانیږی او کیږد ی، کورنی د ما لونو او حیواناتو سره په یوه منا سب ځا ی‌کی چیر ته چی ښه څر ځایو نه موجودو ی پریږ دی چی‌دوی ته اوښ وال وایی. ددو ی‌د تجار ت په باب معلو مات په لومړی‌باب کی و لیکل شول ، دلته یوا زی ددی خبر ی‌لیکل ضرور ی دی چی‌پوو نده خرو تی او س دتجار ت په چارو کی ښه مشهور اود ښو شتوخاوندا ن دی. اوس دخرو تو مشهور ملکان دشا دی خان زو ی، روشن‌خان‌شامو خیل ، زکو خیل اود حکو مت خان زوی سرور خان الو خیل دی.ددوی نه پر ته په پوو نده خرو تو کی احمد خان محا مد نظر شاه، عمرخان او کریم‌خان ملکان دی. دپووندو خروتو دود او دستور په عمو می‌ډول دپو ونده وو نا صر و په شان دی .

د ابراهیم یا د لودی ابن شاه حسین د نسب شجره



د اسمعیل بن سیانی د نسب شجره



د لوحانی بن اسمعیل د نسب شجره
لومړی د ده نوم نوح وا او نسل یې د نوحانی په ځای لوهانی بولی



د نیازی بن لودی د نسب شجره



د عیسی خیل د حالات او شجره د دغه کتاب په دریمه برخه کي راغلي دي

د محمد وزي ښاغ :

دغه ښاغ اکثراً دمقر په سیمه اوعلي خیلو غلجیو سره یو ځای پراته دي او په مقر کي یوه اندازه ملکیت هم لري .

کند هار ته نږدي په ده خوا جه کي هم ددغه ښاغ تقریباً دوه سوه کوره میشته دي . دوی خپل نسب کله سیدانو ، کله درانی یو پلز یو او کله غلجیو ته منسو بو ی اوداسی ښکاری چی دوی به غالباً دغلجیو د قبیلي یو ښاغ وی خو . دنسب سلسله یی پوره ترلا سه نه شوه په ټول افغانستا ن کي ددغه ښاغ دوه زره کوره شته دی او عموماً دکرنی په چارو بوخت دی .

د ژمر یا نیو یا جمر یا نیو ښاغ:

دغه ښاغ د تو خیو د قبیلي پیرا ن دی او خپل نسب په سیدانو ورکوی جمر یانی اکثره دتو خیو په ملك کي استو گنه لري ، خود کابل نه تر کند هار ه پوري په متفر ق ډول په ډیرو ځایو نو کي یو یا دوه کوره او سیږی . دو ی دکر نی په چارو او ځینی یی په سودا گر ی او نوکری بوخت دی. په ټول افغانستان کی ددغه قبیلي تقریباً زر کوره شته دی . دو ی دنو کر ی او تجارت په دواړو کارو نو کی وړاندی تګ کړی او د ښو شتو خاوندا ن دی .

دلودی قبیله :

دنسب له شجری نه ښرگندیږی ابرا هیم چی په لودی سره شهرت لري او دهغه له نسل نه دغه قبیله منځ ته راغلي ده د شاه حسین زو ی و . دشاه حسین داصل او نسب او همدا راز دلودی دتسمیی دو جهی په برخه کی دد غه باب په پیل کی رڼاچول شوی ده. لکه څر نګه چی په شجره کی لیکل شوی دی دغه مشهوره قبیله په لومړی سر کی په دریو ښاخونو ویشل شوی ده یعني سیا نی، نیاز ی او دو تانی .اوس زمونږ په دوره کی دغه قبیله د افغا نستا ن دلو یو قبیلو څخه نه شمیر ل کیږی دخدای(ج) شان دی چی په یوه زمانه کی ددغی قبیلی څو تنو پاچا یانو په ټول هندو ستا ن باندی حکم چلاوه خو اوس دغه خلك ډیر مشهور نه دی. دهغو افغا نی (پښتنی) قبیلو دتاریخ له څیر نو نه چی په پخوا زما نو کی هندو ستا ن ته را غلی داسی ښرگندیږی چی ددغو قبیلو زور اوقوت دهغو ښا خو نو په نسبت چی اوس په افغا نستا ن کی او سیږی لږ و .

اوس په افغانستان کې د سیانی ابن لودی له او لادی ته دلوماتی
ځانګه د نورو ځانګو په نسبت هم د شمیر او هم د استعداد او شتمنی له
مخی بر تری لری . دد غه ښاخ نه ورو سته د نیازیو ځانګه دو یم مقام
لری خو ددغه ځانګی خلك دعیسی خیلو او سر هنګ کو چنیو ځانګو
نه پرته نور اکثراً په متفرق ډ ولونو نډ کوی .

ددو تا نیو شمیر خورا لږ دی . اوس دلو دی قبیلی دهر ی ځانګی
په باب په تفصیل سره تر هغه ځایه چې لاس ته راغلی دی بحث کیږی .

دپړ نګی ښاخ :

د لودی د زوی سیا نی لـه دووزامنو نه پړ نګی یی مشرو چې لـه
هغه څخه دغه ښاخ منځ ته راغلی دی. په پیل کې دد غه ښاخ خلك
په لویدیځ افغانستان کی اوسیدل خو ورو سته له هغه ځایه دسلیمان
غره ختیځی خواته د دامان سیمی په تاك او روړی نو می ځایو نو کی
میشته شول چې د ډیری مودی راپه دی خوا دوی په دغه سیمه با ندی
قبضه لر له تر خو دبابر دواکمنی په دوره کی د دولت خیلو، میا خیلو
او مروتو قبیلی او همدا راز دلوحانی دنورو ځانګو نه دغه سیمه
جبراً او په زور سره ونیول شوه اودیر شمیر پړ نګی وو ژل شول او
پاتی یی متفرق شاو خواره واره اودخپلی ځانګی له نورو پړ نګیو سره
دهندو ستان په مختلفو سیمو کی ځای په ځای ښول اوس حتی په
افغانستان کی دپړ نګی له نوم سره هم څو ك آشنا نه دی .

خو د هندو ستان په مختلفو ځا یونو کی دوی د لودی افغا نانو (پښتنو)
په نامه استو ګنه لری . په روپړاولود یانه نومی ځایو نو کی هم دد غه
ځانګی خلك میشته دی په د کن کی هم ددغه ښاخ څو کوره شته . هغه
سړی چې دهغه په سبب دلود یا نوتولی قبیلی شهرت ومو نـد دپړ
نګی د ځانګی و چې دهغه کیسه. په لنډ ډول داسی ده .

د هند واکمن بهلول لودی

د سلطان بهلو ل د نسب شجره په مفصل ډول ورا ندې ذکر شوې ده. داسې روایت شته چې څو تنه لودی افغا نان (پښتا نه) په خپلو منځو کې سره ملګر ی وو او تل به یې دسو دا ګری په منظور هندوستان ته تګ راتګ کاوه دد غی ډلی‌نه یو تن د سلطان فیروز شاه باربك دوا کمنی په دوره کې چې ملك بهرم نو میده او دملك بهلو ل لودی نیکه و دخپل مشر ورور نه خپه اوملتان ته را غی او هلته دملتـــان دحاکم مر وا ندو لت سره نو کــرشو او کله چې خضر خان دفیـــروز شاه له خوا دملتان حاکم و ټاکل شونو ملك سلطا نشاه دبهلو ل تــره دهغه سره نو کراو د ټو لوافغا نانو(پښتنو) افسر شو .له نیکه مرغه په هغه جګړه کې چې دخضر خان اوملواقبال خان تر منځ پیښه شوه نو سلطان شاه دجګړی په وخت کـــی‌ملو اقبال خان وواژه او خضر خا ن ددغه خدمت په بدل کې هغه د ډیـرعزت خاو ند او داسلام خان لقب یی ورکړ او دسرهند حکومت یې‌ده ته و رو سپاره چې نور ورو نه یی هم له ده سره اوسیدل ، څو ملك کالاد بهلو ل‌پلار دملتا ن صو بدار نصیر خان سره ملازم واو دکما نګرانو په محله کې او سیده . یوه ورځ ملك کالا د ور سپارل شوو کارو نو لـــه پاره بهر تللی و چې د ډیر بارا ن داور یدو په سبب دهغه دکور چت‌دده پر ښځې چې حامله وه راولویده که څه هم دهغه میرمن په دغـــه پیښه کې مړه شوه خو په ګیډه کې یې ماشوم ژو ندی پاتې شو او پـــه دغه ماشوم باندی یې دبهلو ل نـــوم کیښود .دا هغه بهلول دی چې پاك‌خدای هغه و ساته او د ټول هندوستان واکمن شو، لنډه دا چې کلـــه دبهلو ل پلار ملك کالا دنیاز یو سره په جګړه کې وو ژل شو نو بهلول‌دخپل تره سلطا نشاه سره چې‌داسلا م خان لقب ورکړل‌شوی و او د ســـرهند حاکم و او سیده .ده هلته‌خپله پو هه لیاقت او کلك عزم څر ګند کړ او سلطا نشاه خپله لور بهلو ل ته په نکاح ور کړ ه او وصیت یې‌وکړ چې له ده نه ورو سته به دی مشر وی . دسلطا ن مبار ك شاه ترشهاد ت ورو سته سلطا ن محمدشاه بهلو ل دده دخد متو نو او زړه‌ورتیا په سبب دی خپل زو ی و باله اود سر هند نه نیو لی‌تر ملتان پورې یې ټول پنجا ب هغه ته دجا ګیر په

ډول ور کړ او د جسرت گهکــړ د ټکولو دنده یی ده ته ورو سپار له
خو جسرت بهلو ل د ډیلی دتخــت نیو لو ته راغب او شو قمن ولیده په
خپله په دغه لارکی دده ملا تــړشو . هغه وخت چی بهلول ته د تخت
نیولو فکر پیدا شو نو ور ځ پــه ور ځ یی خپل قدر تزیاتاوه تر هغی
چی سلطا ن محمد شاه له جهان نه ستر گی پتی کړی او دهغه زو ی چی
علاوالد ین نو میده پاچا شو. خو دی تر خپل پلاره هم کم زور ی اودسستی
اراد ی خاو ند ونو په دغه وخت کی بهلو ل له چالا کی نه کارواخیست
او څر نگه چی علا والدین بداو ن ته لاړ او هلته دعیش او عشر ت پــه
دریاب کی ډوب شو نو نو مــوړی دحسام خان او حمید خان فسادو نــه
(اغتشا شو نه) له منځه یــو وړل اود (۸۵۵) هجری کال د ربیع ا لاول
دمیا شتــی په او لسمه نیټه چی د (۱٤۵۰) ع کال سره سمو ن خوري
دډیلی په تخت کښینا ست او سست مزاجه علاو الدین یوازی په بد اون
باندی قناعت وکړ .او بهلو ل تــه یی ولیکل چی زما پلار سلطا ن محمد
شاه ته خپل زو ی بللی وی زه هم تا خپل مشر ورور گنم او پاچا هـــی
تاته سپارم .لنډه دا کله چی بهلول دسلطنت واکی ترلاسه کړی دسلطان
لقب یی غوره کړ او دخپل لوړ همت په وجه یی دهندو ستان اکثــره
سیمی تر لاسه او یاغی او خپل سری خلك یی تابع کړل او دخپل قــدرت
دټینګولو او د ځان دپیاوړ تیا لــه پاره یی تر هغه ځایه چی امکان یی
لاره له افغانستان نه یی افغــانان (پښتانه) وغو ښتل اوپه خپل پو ځ
کی یی تنظیم کړل او دا سی فر مان یی جاری کړ چی هغــه افغــا نان
(پښتانه)چی په هندو ستان کــی دی که دپوځ دخد مت نه پر تــه
کوم بل کارو کړی نو دهغه شتمنی او جا یداد به لو ټ شی. بهلو ل د
ډیر لوړ همت اوپوه پاچا و نو موړی دسلطان حسین جونپوری سره څو
ځله جنگیدلی او هغه ته یی ما تــه ورکړ ی وه . په پای کی ترا تــه
دیر ش کاله پا چا ئی ورو سته په (۸۹٤ ه یا ۱٤۸۸ ع) کال کی لــه
نړی نه ستر گی پتی کړی اوورپسی هغه زوی نظام خان په تخــت
کښینا ست.

سلطان سکندر

دبهلول لودی ترمړینی وروسته دهغه زوی نظام خان دسلطان سکندر په لقب دهند واکمن شواو دخپل پلار ځای یی ونیوه . نوموړی باتدبیره ، لوړ همته اوحلیم سړی و، او تر (۲۸) کاله او پنځو میاشتو سلطنت وروسته یی له فانی جهانه ستر کی پټی کړی .

سلطان ابراهیم

دسکندر ترمړینی وروسته دده زوی ابراهیم خان دسلطان ابراهیم په لقب پاچا شو ، خو دهغه ورور جلال خان په ځان دجلال الدین نوم کیښود او دپاچاهی دعوه یی وکړه او یو لړ فسادونه او اغتشاشونه یی را منځ ته کړل له بلی خواد سلطان بهلول زوی شهزاده عالم خان دسلطان علاوالدین لقب غوره او دسلطنت مدعی شو خو کله چی په ځان کی یی دسلطان ابراهیم سره دمقابلی توان ونه لیده نو په کابل کی چغتای محمد بابر شاه ته ورغی . همدا راز په هندوستان کی هم اکثره امراو افسران دسلطان ابراهیم دتیری او ظلم نه په تنګ شول او ددغه کورنی دلاس منځه وړلو ملا ئی وتړله ، ددوی له منځه دلاهور حاکم دولت خان لودی دمخالفت جنده اوچته او بابر یی دهند نیولو ته تحریک اوروهڅاوه، هغه ته یی دهند ته دراتلو بلنه ورکړه . او په پانی پت کی دسلطان ابراهیم شاه او محمد بابر ترمنځ ډیره خونړی جګړه وپیښه شوه چی بریالیتوب بابر ته ور په برخه او په خپله سلطان ابراهیم په دغه جګړه کی وو ژل شواو د ډیلی او اګری پاچاهی دامیر تیمور کورنی ته ور انتقال شوه . دسلطان ابراهیم پاچاهی شل کاله دوام وکړ . دابراهیم ترمړینی وروسته دپړنګی له کورنی نه هیڅ څوك پاچا نه شول .

دسوري قبیله

څرنګه چې دنسب په شجره کې را غلي دي دسیاڼي دزوی پړنګي دوهم ورور اسمعیل نومید او د اسمعیل له دریو زامنو نه مشر یې سور نومیده چې دده نسل دسور یا سوری په نامه یادوی او ددغه کلمې نه مقصد په پښتو ژبه کې سور رنګ دی او دسور کورنی دپړنګي له کورني سره یو ځای په دامان کې میشته وه او کله چې له دغه ځایه ولیږدیدل نو په هندوستان او افغانستان کې خواره شول . لکه څنګه چې اوس هم په دامان کې دسوری او پړنګي څو کوره میشته دي دراولپنډي ضلعې په چهچه کې هم دیرش کوره لودیان اوسیږي، خو په افغانستان کې دغه کورنی دوره کیدو په حال کې ده.

سوري شیرشاه

دسوري کورنی دنامه داوچتوالی او شهرت سبب سوري شیرشاه ګڼل کیږي . نوموړی په ډیر ښه تدبیر او انتظام سره په هند کې واکمني کړې ده. ددغه کورني د نسب شجره د شیرشاه دلمسي نه پیل او تر لودي پوري دښاخو او ښاخونو سره په مشرح ډول ولیکل شوه .د شیرشاه پاچاکیدلو او هند ته ددغه کورني دمهاجرت څرنګوالی په دې ډول دی دسلطان بهلول لودي په دوره کې اکثره افغانانو (پښتنو) دنوموړي سلطان دفرمان له مخې دنوکری له پاره هند ته ولاړل په هغه وخت کې دشیرشاه نیکه ابراهیم سور له خپل زوی حسن سره دنوکری په شوق او هیله دروه له ملك یا ختیځ افغانستان غرنیو سیمو نه هندوستان ته راغلل او دمغل دافسرانو له یوتن سره نوکر شول څه موده دفیروزې په کلاکې چې اوس زموږ په دوره کې یوازې د حصار په نامه بلل کیږي او هم څه موده یې د نارنول په پرګنه کې تیره کړه ، دابراهیم زوی حسن بن ابراهیم سور څه موده په بجواړه کې دمتهې خان سره ودسلطان بهلول په دوره کې کله چې دحسن زوی دنیاته راغلی نو دفرید په نوم یې ورباندې کیښود او دلودي سلطان سکندر په دوره کله چې جمال خان ته دجونپور حکومت ورکړی شو، نو هغه حسن سورته چې دده پخوانی ملازم وسهرام

پوړ خوا صبور او تا تنده دجاګیر په دول ور کړل او دپنځه سوه میږو سټر یې وټا که دحسن له او زامنو نه فرید او نظام له یوی موره وو چې مور یې په خته پښتنه وه او نور زامن یې له افغانانو (پښتنو) نه پرته د نورو قومو له میرمنو نه دنیا ته راغلی وو او حسن دخپلی وروستی میرمنی دسلطی په سبب له خپل زړه ور زوی فرید نه ناراضه شو او فرید په اګره کی دد ولت خان لودی په ذریعه دابراهیم شاه حضور ته ور غی، کله چې حسن مړ شو نو فرید ته ددمد پلار جا ګیر فرمان ور کړل شو او نو موړی بیر ته دغه جا ګیر ته ور غی او دهغه میړ نی ورو نه سلیمان او احمد ، محمد خان سور دجو نپور له حا کم نه مرسته وغو ښته او کله چې لودی ابراهیم شاه دبا برپا چا سره دجګړی په وخت په پانی پت کي ووژل شو اودد ریاخان زوی پهار خان لوهانی چې دابراهیم شاه له خوا، دبهار ملک ور کړل شوی و په خپل سری (یاغی) شو او خپل ځان ته یې دسلطان محمد لقب غوره کړ او دحسن زوی فرید نوموړی دسلطان محمد ته ور غی اود هغه سره نوکر شو او یوه ورځ له هغه سره ښکا رته تللی وه چې دښکار په ځای کی نا څا په یو زمری را ښکاره شو ، فرید له زمری سره مقا بله وکړه او په خپله تو ره یې هغه وو اژه .سلطان محمد دده له زړه ور توب نه خو شال او هغه ته یې دشیر خان لقب ور کړ او ور ځ په ور ځ به یې دده مو قف لو ړ او ترقی یې دخپل کو چینی زوی جلال خان استاد وټا که څه مو ده ورو سته شیر خان دودی نه اجا زه وا خسته لو بیر ته خپل جا ګیر ته را غی او کله چې درخصت مو ده یې پوره شوه شیر خان بیر ته سلطان محمد ته ور نه غی نو دجو نپور حاکم محمد خان ته ښه مو قع په لاس ور غله اودشیر خان دوه فراری ورو نه یعنی سلیمان او احمد یې سلطا ن محمد ته ور وپیژ ندل او اجا زه یې ومو ندله چې دشیر خان جا ګیر له دوی سره وو یشی او کله چې هغه ونه منله نود هغه جاګیر ته یې پو ځ ولیږه او په لو مړی یر غل کی یې هغه ته ما ته ورکړه خو شیر خان دبا بر دیوه لوړ رتبه سر دار جنید بر لاس نه مر سته وغو ښته او بیا یې خپل جا ګیر دتوری په زور ونیوه او ورځ په ورځ یې خپل قد رت زیا ت وه او دیر افغا نان (پښتا نه) یې په خپلو لښکرو کی راټو ل او دهندوستان دپاچاهی دنیو لو تکل یې وکړ او دبا بر پا چا زوی هما یو ن

یی مات کړ او د حضرت اعلی او شیر شاه لقب یی ځـــــو ره او د هندو ستان په تخت کښېنا ست چې د دغو پیښو مفصل حالات په تاریخ فرشته کی راغلی دي. په پای کی شیر شاه په داسی حال کی چې د کالنجر کلا په نیولو بوخت و چی بار وتو او رواخیستـــت او شیر شاه په دغه اور کی له خپل مرشد شیخ خلیل سره پداسـی حال کی چې ملا نظام دانشمند او دریا خان سر وانی هم ور سره وو و سوز یدل او کله چی شا هـــی لښکر و دغه حال ولیده په تـو ل جر ئـــت سره یی په کلا یر غــل وکړ په هما غه ورځ یی دغه کلا ونیو له کله چې سو ری شیر شاه د کلا د فتحی زیری واو رېده د(۹۵۲) هجر ی کال د ربیع الاول لسمه نیټه یی لـه دنیا څخه سترګی پټی کړی.

نو موړی څوار لس کا له امارت او شپږ کا له په ډیر تد بیر سره پاچا هی وکړه ، نو مو ړی په هروخت او په هر حال کی د عا مـو خلکو د کتواو سو کالی غوښتـــونکی و. دمسا پرا نو دهو سا ینی له پاره یی له بنګال نه نیو لـــی د سند تر رود پو ری دعا مو لا ر و تر څنګ په هرو پنځو کروه فـــا صله کی پاخه سرایو نه، جوماتو نه او څاګانی جوړی کړی چې دغـــه سرا یو نه تر او سه هم په اکثرو ځا یو نو کی مو جود دی.

سلیم شاه

کله چې شیر شاه له جها نــه سترګی پټی کړی نو دهغه مشـر زوی عادل خان له پخوا نه ولیعهد و مګر په دغه وخت کی د عیسی خان حا جب او نورو امرا و په سلا او مشوره د شیر شاه کو چنـی زوی جلال خان چی ده ته نږدی و د اسلام شاه په خطاب په تخت کښېنا ست چی نو موړی په عوا مو کی د سلیم شاه په نوم سره هم شهر ت لری. دی ډیر تیت مزا جه او بی رحمه سړی و ده خپل مشر ورور او اوږه او په پای کی تر نه کالو او څـــو میاشتو پاچا هی وروسته یی له دنیا نه سترګی پټی کړی.

محمد شاه عدلي يا محمد شاه سوري چي په عدلي سره مشهوردی

کله چي سليم شاه مړ شو نو دهغه دولس کلن زوی فير وزخان په ګوا ليار کي دامراء و پـه سلا په تخت کښينا سنت خو لادری ور ځي نه وی تيری شوی چـي دنظام خان زوی مبا رز خان چي د شير شاه ورا ره ود سلطنت دتر لاسه کو لو له پاره يې فيرو ز خان په ډيره بی رحمی سره وواژه‌او په خپله په تخت کښيناست او سره له دو مره ظلم يې ځا نتـه دسلطان محمد شاه عادل لقب‌غو ره کړ خو عوا مو خلکو به ور تـه عد لـی وا يه . لنـده داچه په حقيقت کي دسليم شاه مړينـه په هنـد کي دپښتنو دوا کمنی‌زوال و. دعد لی نه پرته دشير شاه نورو خپلو انو هم‌مختلف نو مو نه لکه سلطان سکنـدر اوسلطان ابراهيم په ځا نونو کيښو دل او په نتيجه کي کور نی شخړی‌او فسادو نه‌منځ ته را غلل ، دغه فساد ونو دری څلور کا له دوا م‌وکړ چي ناڅاپه په (۹۶۲) هجری کال بيا هما يون دوا کمنی پـه پيل سره دهندو ستان په ملك کي آرامی او نيك مر غی را منځ‌ته‌شوه‌او سلطان سکندر سور دهما يو ن پا چا دسپه سا لار بيرم خان‌ترکمان‌له لاسه ماتی وخوړه اودسوا لك‌غر ته ونښتيده او ابرا هيم شاه وروسته دسليمان‌کرړا نی دخيا نت‌او دوکی په ذريعه داو ډيسه په‌ملك‌کي وو ژل شو اوپـه دی ډو ل افغا نی (پښتنی) سلطنت جر ړی‌دهندوستا ن‌له ملك نه وا يستل شوی چي دهغه نه ورو سته پـه هندو ستان کي له پښتنو نه هيڅ څوك پا چا هی‌ته ونه رسيدل .

دلو حا نی ښاخ :

دنسب دشجری له ليد لو نـه داسی ښکا ري چي‌د اسمعيل زو ی نوخان له دوو مير منو نه شپـږزامن لرل ، ويل کيږی چـي د ده اصلی نوم نوح وچي ورو سته په نو خان سره مشهور شو اود هغـه اولادی ته نو حـا نی ويل کيږی.خو افغانان يا پښتا نه يی پـه خپلو ور ځنيو خبرو کي لو ها نـي‌يالوا نی بولی .

دنو حان دلو مړ ینی میر منی نه چی شیری نو میده د مروت په نوم یې خوی دنیا ته را غي چې اولاده یې دخپل نیکه مر وت په نامه سره مشهوره ده .دمرو تود ښا خځینو خلکو ته سپین لو حا نی هم وېل کیږی خودا کلمه دو مره عامه نه ده. نو حان له خپلی دویمی میر منی تو ری نه پنځه زا من لرل چی اولاده یی دتو رولـوحا نیو په نامه یا دیږی خودا لقب دیر لږ استعما لیږی اوس دلوحانی ښاخ دمري یوی څانگی ذکر په لانـدی ډول کیږی .

دمروت څانگه :

دمرو تو دڅانگی دنسب دشجری ذکر ددی کتاب په دریمه برخه کی راغلی دی .له دی کبله چی مروت دبنو په ضلع کی او سیږی دد عی ضلعی عام او د قومونو تاریخ پـه دریمه برخه کی راغلی دی .

ددولت خیلو څانگه :

دنسب دشجر ی د څېږ نو نـه داسی معلو میږی چی دنو حـا ن زوی مماله دریو زامنو نه دیاسین داولادی نه ددولت حیلو څا نگـه منځ ته راغله ډ مما دنور ی اولا دی په نسبت دد لت خیلو څا نگـه دشمیر او واك له مخی دو مـره برتری تر لا سه کړه چی دممـا داولادی نور ی وړی څانگی ددولت حیلو پور ی مربوطی گڼل کیږ ی.

له دولت نه و روسته په پنځم پښت کی کتی خان منځ ته را غی چی د هغه اولاده د کتی خیلو پـه نامه مشهوره ده ، ویل کیږی چـی دلو حانی ښا خو نه لـه کتیخیل ،دولتخیل ، میا نخیل، مروت ،تتور او نور وړا ندی تر دی چیپه ټاك کی میشته شی تولوپهپوو نـده ډول ژو ند کاوه او تر یوی انداز ی دسوداگری په چارو هم بوخت وو ، که څه هم دوی اکثراً په کتـوازکی اوسید ل چی ددغه سیمی پـه سهیلی برخه کی یوه اندازه (کړ نیوړځمکی هم لری خو د وانه پـه غرهاونورو سیموکی چیږ ته چـیډیر ښه څړ ځایونه وو هلتـه دما لدار و لو حانیو کیږدی وی ا وکله کله به دږ می د تیرو لو لـه پاره ددامان دټاك سیمی ته هم راتلل . کله چی د کتواز سیمه پـه هماغه ډولځرنگه چی دمروتو په برخه کی راغلی دغلجیو قبیلـی دسلیما نخیلو ښا خ له، لو حا نیـو نه ونیوه له هماغه وخته دوی په

وایه اوړی می ددامان ټاټ ته دهغو تګ راتګ پیل شو او دلو حا نیو
دښاخ هریوی ځانګی یو سـری درئیس په ډول لاره او نهاد خان
به ورته ویل کیدل . ددغه خا نترلاس لاندینه د هر خیل او زا ئی
ملکان او معتبرا ن وو . چی ددغـوخانانو او ملکانو به لار ښوو نـه
به د مربوطو ځانګو یا ښا خو نـوچاری تر سره کیدلی خود ټول لوحانی
ښاخ مشری یاخانی دکتی خیلو پـه کورنی پوری چی ددولت خیلو یوه
ځانګه شمیرل کیږی مربوطه وه .ویل کیږی چی ددولت خیلو اونور و
ځانګو نه وړاندی دټا ك په سیمـه کی دیړنګی ځانګه چی دلوی ښاخ نه
رابیله شوی ده اوسید ل او ددغه ځای ځمکی او نور ملکیت ددو ی په
لاس کی و ،خو څرنګه چی دلو حانی ښاخ پوو نده دژ می په موسم کـی
دټاك سیمی ته تلل او اکثرا بـه دهغوی ځارو یو دیړ ځکیو زو اعـت
ته زیا ن رساوه نو ځکـه ددو یتر منځ شخړی او کلکی دښمنـی
را منځ ته شو یخو په پای کـی دیړنګی کورنی اونور د بابر پاچـا
دغضب وړ و ګرځید لی نو په دغه وخت کی یی دکتی خیلو له کور نی
نه شهباز خا ن چی دخا ن زمـان لقب ور کړل شوی و دلو حانی ښاخ
تولی ځانګی یعنی دولت خیل ، تتور،میاخیل ، مروت او نور یی له ځا ن
سره متفق کړل او دیړ نګیو نـه یی دټا ك دسیمی دنیولو اراده وکړه.
ده دتول لو حانی ښاخ نه لښکر یراټولی او همدا رازیی له هغـو
پووندو ونه چی له یړ نګیو نه پـه تنګ شوی وو مرسته وغو ښتلـه
لو دټا ك په او سیدونکو یړ نګیو باند ی یی یر غل و کـړ
تر څو جګړو و روسته لو حا نیـو دشهباز خا ن یاخا ن زمان په مشری
په یړ نګیو باند ی بریالی شـواوله هغو نه یی ځینی زخمـی
لو ځیني وو ژل او ځینی یی دټا ك دسیمی نه وشړل او دغه ځای شهبا ز
خان ته په لاس ور غی او دخپـل ښاخ دولت خیلو ونورو ځا نګـو
سره هلته میشته شو او دټـاك دسیمی د کرنی تولی ځمـکی او د
آب سیاه په ګډو نپه څلـو ر وبر خوو ویشلی په دی ډول چـی
دولت خیلو ته یوه برخه ، تتور ته یوه بر خه ، مرو تو ته یوه بر خه
اومیاخیلو ته هم یوه برخه ورکړل شوه‌او هغه وخت به چی کال پا ی
ته‌ور سیده‌نو دمرو تو‌ا و میا خیلوخانان به ددولت خیلو کتی خیلـو

منشر خان زمان خټور ته را غلل اوهغه به په منا سبه اندا زه دځلور
مې بر خې له با بته هر یوه تــه خپله بر خه. ورکو له او رخصتول
به یې، خو دتتور ځانګې په هغــه سیمه کې استو ګنه غوره او پـه
خپله بر خه ځمکه با نـــــد ې یې قبضه ټینګه کړه او په خپلـه
په یې کر له او ګټه به یې ورنه اخیستله .
دمروتو نه دځلور مې بر خـــې‌په‌ویش با ندې له خانزما ن کټـې
خیل سره‌شخړې‌را منځ ته شـو ې اودخپلې برخې د نیولو په منظور
یې په ټاك باند ې‌بر غلوکړ او په‌هغه جګړه کې چې د دوی تر منځ
پیښه شوه دولت خیلو ته یې ماته‌ورکړه او هغه یې دخپل مشر سره
له ټاك نه خا رج او په خپله یــې‌په دغه ځا ې‌باندې قبضه ټینګـه
کړه ، خو دکټې خیلومشر له جبیل‌خان‌نه چې دګنداپور قبیلې مشـــر
او په هغه وخت کې یې په پوونده‌ول دامان ته تګ را تګ کا وه
مر سته و غو ښته اود مرو تـــو سره‌یې دمقا بلې تکل وکړ خو څـرـ
نګـه‌چې‌مرو تو له ده سره‌دمقابلې‌توان نه لاره نو ځکه یې دټاك‌سیمه
خوشې‌کړه که څه هم خا نزمـــان‌دمرو تو څلور مه بر خه ضبط‌کړ ه
خوسره له دې‌هم که د مرو تـــو کوم خان به ور غی نو هغه به یې
تش ...لاس‌بیرته نه لیږه .
تردغه لړه مو ده وروسته دمیاخیلو څلور مه بر خه هم ضبـــط
کړای شوه نو ځکه دتتو را نو له بر خې پر ته دټاك نو رې ټو لــې
سیمې دو لت خیلو ته پــــه لاس‌ور غلې ، چې اوس هم د دوی پـه
لاس کې دی اوله دې امله چــې‌دو لت خیل په دغه اندا زه زیا ته
ځمکه نه‌شي کر ـلی نو ځکه لـــه دوی سره‌همسا یه یار عیت هم‌دیر
میشته شوی دی، دو لت خیل لــه‌خپلو رعیتو ســره تقر یبأ اته زره
کور نی د ی. ددوی څو کوره پــه کار نده ، زیمه ، کا فر قلعه او د
ګا بل په شاو خوا کې اوسیږ ی‌خوا همیت یې ډیر نه دی.

دغه څانګی د مشری څرنګوالی

مو نږ دمخه وو یل چې دد غه څانګی مشری له پخوا نه د کتی خیلو نور نی پوری مر بوط وه خوهر یوه مشر د خپلی څا نګی یسی دو ست خیلو سره ښه اود ورو رولی چلند کاوه . خو کله چې مشری دسلیم خان زوی قتال خا ن ته ورسیده‌نو هغه په خپله قبیله با ندی سختی را وا خیسته او څرنګه چې‌په‌خپله هم یوتند مزا جه‌سړی ونوله دی کبله د دولت‌خیلو ، لتی‌خیلوخلکو داسی مشوره وکړه او قتال خان او دهغه زو ی‌اکبر خان یی ووژل او دقتال خان مشر زوی سر ور خان له دی‌پیښی‌نه بچ‌پاتی شو او دګل خان د ورور ظفر خان په ملګر تیا دمرو توسیمی ته راغی او څو زره رو پی یی دخپل پلار دیوه ملګری نه پورکړی نو په کا بل کی‌د افغانستا ن پاچا ته په عرض راغی ، دکا بل‌پا چا څلور زره پوځ او څو توپونه د غلجی هوتك عبدا لرحیم خان په مشری دسرور خان مر ستی‌اودپلار ځای دنیو لوله پاره هغی خوا تـه ولیږل . ګل خان ما مون او سر و ر خان دتاك حکو مت و نشو سا تلای،هغه وخت چې سر ور خان دشا هی پو ځ په مر سته تاك ته نږ دی‌شو نوګل خان دسر ور خان ددښمنی سره سره دو لت خیل و پو هو ل چې‌دسرور خان ملاتړ وکړی او سر ور خان قسم وکړ چې پخوا نی‌خبری به هیری او چا ته به زیا ن نه رسوی ، دو لت خیلو دسر و رخان خا نی ومنله مګر هغه لو ړی یوا زی تر هغه وخته پو ری دوام‌وکړ تر څوچې دد ولت خیلومعتبران او ملکان دسرور خان حضور تـه‌را ټول شول او په دغه وخت کی سر ور خان هغه اتلس تنه‌مشران‌او معتبران چې زیا ترو یی دهغه دپلار دوژ لو په سلا او مشوره‌کی‌ګډ ون کړ ی‌و ووژل . په دغه وخت کی ګل خان ونه وژل شو خوسر ور خان‌هغه څه مو ده وروسته وو اژه، او کله چې یی دښمنا ن‌له منځه ولا ړل دهغه مشری ا و خا نی ټینګه شوه او هیچـا دد ه‌سره دمقابلی توان نه لاره . هغه دخپل پلار قا تلان په تدز یجـی‌ډول او کله به چې لاس ته ورغلل وژل او خپل قـدر ت ئی زیا تو‌ه‌سر ور خان له ځان سره پسنځه سوه سپا یان وتا کل اود ټاك پـه سیمه کی یی یوه کلا او یو با غ جوړ کړ. هغه به دملك په چار و کی دعدل او انصاف‌نه کاراخیست که څه هم غر یب رعیت دهغـه حکو مت نه نارا ض نه وو خو

دولت خیلو دکبر او پنځپل سرۍ په وجه دهغه سیاست را تیټ کړۍ و ډیر په تنګ او ناراض وو. خوسره له دی هم هغه دا سی بندو بست وکړ چی هیڅوا هم سر جګ نه کړ. دتاك دسیمی هر ډول عایـد دهغه شخصی مال وخود دولت خیلو نه هغه هیڅ ډول محصول نــه اخیست. دی په سخاوت کی مشهورو. کله چی یی دګند اپور او میاحیلو په لښکر بریالی شونو قوت یــی لا پسی ډیر او په خپلو سیالانو کی ډیر مشهور شو.

سرور خان په (۱۸۹۲) بکر می کال کی مړ او کله چی الله دادخان دخپل پلار په ځای مشر و تا کل شو یو کال لا تیر شوی نه وچی په (۱۸۹۳) بکر می کال کی کنور نو نهال سنګ دسکانو دیو پوځ سره ددیر ی او دامان سیمی ته راغی او کله یی چی دتاك دریاست دمصاحبانو او ملاز ـ مینو د بی اراده کی نه خبر شو نو دالله داد خان اود هغه دریاست په خلاف یی دتاك په لوری خپل پوځونه ولیږل، کله چی الـلـه داد خان دنو نهان سنګه درا تلو اودخپلو سر دارا نو او ملا زما نو په بــی وفا یی باندی وپو هیده نود خپلــو زامنو او منقو له شتو سره یــی دمسعود و او وزیر و ملك ته پناه وروړه او تاك دسکا نو لاس تــه ورغی. د مخا لفینو د پلټنی له مخی الله داد خان دغره په هغه کلا کی چی سر ور خان جو ړه کړی وه سامانونه، وسلی، په لکو نو روپی او نور شیان ایښی وه او الله داد خان دغه ځای ډیر محفوظ ګا ڼه ور غلل اودهغه ټول شته او مالو نه یی لوټ کړل دالله دا د خان بی وفــا ملا زمین اکثرا دده له دښمنا نــو سره یو ځای شول او هغه نا چاره شو چی دخپلی کور نی سره لوم ړی دکا بل والی امیر دو ست محمد خان ته ور شی او له هغه نه مر سته وغو اړی خو کله چــــــی پوه شو چی له هغه نه کو مــه مرسته لاس ته نه راځی نو بیر ـ ته دمسعود واو وزیر و غرو تــه را ستون شو او ځر نګه چی کنـور نو نهال سنګه دتاك سیمه د ملتان افغا نانو (پښتنو) یعنی پا ینده خان خوا جك زي، حیات الله خان سد وزی او عا شق محمد خان علي زی ته دجا ګیر په ډول ور کړ ی وه. نو الله داد خان تر ډیــر ی مودی پو ری دسکا نو او ملتا نیانو سره وجنګیده او تل به دتا ك په سیمه جګړی کید لی او وینی بــه تو یدلی او نو موړی الله داد خان

خېل تولۍ عمر په جګړو کې تېر کړ تر څو مړشود الله دادخان له د وو
زامنو نه یې محمد شاه نواز خا ن یې دپلر نی مشری دتر لاسه نو و
له پاره ډیرې هڅې وکړې چې لـه نیکه مر غه تر ډیرو جګړو ورو ـ
سته په (۱۸۴٦) ع کال کې پـــه لاهور کې دانګر یزی سر کار لـــه
خوا په لاهور کې د(رزید نـــتـــی)دنده تر لاسه کړه. په دغه وخت کې
محمد شاه نولن خان دحق د ترلاسه کو لو له پاره لاهور ته ولاړ او د
کرنیل سرهربرت اډ وار دتس حضورته ور غی چې په هغه وخت کـــی
په لاهور کې ا ستشنټ رز ید نـــټ او دکشمیر دنیو لو په وخت کـــی
دشیـــخ امام الدین همر کا یې او دنومو ړی سره کشمیر تـه لاړ او د
هغه ځای نه بیر ته لاهور ته راغی په لاهور کې داډ واردس په همر ـ
کابی د (۱۸۴۷ ع) کال په و ر وستیو و ختو نو کې بنو ته را غـی
او د بنو نه ټاك او ډیره اسمعیـــل خان ته اوبیا دنومو ړی په ملګـــر ـ
تیا بیر ته لاهور ته ستون شو ا وهلته دپخوانی استحقا ق او اډوار ـ
س دمهر بانی له مخی دټانك مــورثي حکومت شاه نواز خان ته ور ـ
کړل شو چې تر او سه پورې دټاك دسیمې واکمن او مشـــرې دی،د
(۱۸۵۷ع) کال دبغاو تو نو نــه وروسته دهند دګو ر نمنټ له حوا
دده دښو خد متو په بدل کې ده ته دنوابی لقب اوفا خره خلعـت و ر
کړل شو اوس دټاك نواب محمدشاه نوازخان ډیرمشهور دی، چې هغه ته
انګر یزی ځا کیر او هم دپـــو ځ حکمرا نی ور بخښل شوی ده.

دمیا خیلو یامی خیلو ښاخ :

. ددغه ښاخ دنسب شجره وړاندې ذکر شوی ده . میا خیلو ته میان
خیل هم وایی خود ښا خود نســب لاندی شجره دعطا الله خان تحصیل
دارنه تر لاسه شوه خودا احتما لموجود دی چې دشجرې په سلسله
کې به څه تو پیر مو جودوی . ویـل کیږی میا خیل په پخوا زما نو کې
تول پوو نلو ووا و په تجا رت ا وما لداری بو حت وو لکه څنګه چې
ددولت خیلو دبیان په بر خه کـی دامان ته د تولو لوحانی ښاحو ــه د
راتک ځرنګوالی لیکل شو و پــه هما غه ډول دغه ښاخ هم داما ن
ته تګ راتګ کاوه اودمیا خیلـــوددایمی استو ګنی نه دمخه پـــه
خاص در ابن او ددرابن او چو دی کی سوا نیو استو ګنه لر له ،کله
چې دکتی خیلو مشر خان زمان دپرنګی ښاخ دټاك او دستور ی ښا خ

پسی له رو ړی نه وشړل او په ټاك باندې د ولت خپله قبضه
ټینګه اوروړی وران شو له هغه په خو کاله وروسته دبختیار د
قبیلی چی بیان به یې وروسته راشي اود سرو انیو دښاخ تر منځ
چی پښوا یې په درا بن با تــد ی قبضه در لوده دزراعت دمنځه تلو
په سبب جګړی وشوی دبختیار وقبیلی هغه ما لدا ران چی دمیاخیلو
دښاخ سره په ښو او بدو کی شریك وو سروانیو ته ما ته ور کړ ۱۰ و
هغه چی له مرګ نه بچ پا تــی شول هغه یې وشړل او بیا یــی د
میاخیلو په سلاو مرسته ددرا یـن په سیمه کــه قبضه ټینګه کـړ ه
او للمی ځمکی یی په څلور و برخو وویشلی دری بر خی میا خیلو ته
ور کړل شوی او څلورمه بر خه بختیار و تر لاسه کړه او هغــه
ځمکی چی داوبو په ذریعه خـړ وبید لی (ابی ځمکی) یی هم پــه
خپلو منځو کی وو یشلی او لــه دواړو فا تحو ښا خو نو نه ځینــی
خلکو ددایمی استو ګنی ژو ندغوره اودکر نی په چارو بو خت شـو ل
خو ځینو نورو یې پور نده ژو نــدغوره او تر اوسه پو ری هم پــه
دواړو ښا خو نو کی ددوا ړو لــی شته دی یعنی ځینی یی ځمکــه
وال او ځینی یی پور نده سودا ګردی. دمیا خیلو هیڅ یوه څا نګــه
په داسی نه وی چی خلك یی لــړیا ډیر په دغه دوو کارو نوویشل
شوی نه وی . مګر سیدخیل او شادی حیل تقر یبا ټول مقیم ژو ــد
لی ی او دکر نی په چارو بو خــت دی. دیووند ه میا خیلو نه ځینــی
سودا ګر ډیر شتمن دی اوله ټولو پووندو نه وړا ندی میا خیلو تــر
لیری لیری ملکونو پوری په تجارت لاس پور ی کړ چی له بخا را نــه
تر کلکتی پوری په دغه برخه کی ددوی نومونه مشهوردی . د میا ــ
خیلو دخان واك لړدی اوله دی کبله چی نیما یی میا خیل پوو نده دی نو
په هغوی کی هم یو خان یا یــو معتبر ملك دتل له پاره نه جودوی.
دلیږدپه وخت کی څلو ښتان دچاروانتظام کوی مګر دجګړی دوخت نه
پرته دوی هیڅ واك نه لری ، کله چی پوو نده میاخیل دژ می پــه
موسم کی دامان ته راځی نو دهغوی فالتو یا هغه او ښا ن چی په کاریې
نه دی دمکلوات میدا ن ته دخیـریدو له پاره ځی . ددی ښاخ خلك

بی‌آزاره اودښه چال چلند خاوندان‌د ی.او دښه مودی را په دی‌خوا د دغه ښاخ خانی دسیدخیلو د ځانګی‌دخدو خیلوکورنی ته په لاس‌ورغلی ده ،لکه چی اوس‌هم دد را بــڼ‌دسیمی معتبر خان عظیم خا ن، خدو خیل دی چی په کال کی زر روپــی‌تنخواه له سر کار نه تر لا ســه کوی او په موسی زیو کی میرعالم‌خان لوی ملك دی . دمیا خیلودښاخ ټول شمیر دری زره کوره دی چــی‌دهغوی نه یی شلور مه بر خــه بختیار تشکیلو ی همدا راز شــوکوره دو تانی او متهی هم له دوی سره یو ځای دی .

دبختیارقبیـله

ځینی خلك دوی سیدان بو لی.دا خلك په اصل کی له ایرا ن نه راغلی دی * چی ددو ی دقبیلــی بختیار او س هم‌دیردی.ددوی یو شمیر دایرا ن داصفهان په جنو ب‌لوید یځ او یو شمیر په بخارا کــی هم ژو ند کو ی . په درا بڼ‌کی هم‌ددغه قبیلی اوه یااته سوه کو ره شته او په مرغه کی هم تقر یبـا پنځه سوه کوره او سیږی. هغــه بختیار چی په درابڼ کی او سیږی .هغوی دمیاخیلو سره په ګټــه ، تاوان اوجر ګه کی شریك‌دی اولکه څرنګه چی د مخه وویل شو ل تــر مخنی‌ورو سته دد غه ځای شلورمه برخه دوی ترلاسه کړه چی تــر اوسه هم وربانددی قبضه لــری .دمرغه اوسدو نکی بختیار که څه هم له دوی سره یو ځای نه‌اوسیږی‌خو په اصل کی یودی او دضرور ت په وخت‌کی له یو بل سره مرسته‌کوی . د بختیارو نه ځینی‌پوو ند ه سودا ګر ددیر ګلك عزم خاو ندا ن‌دی دمیاخیلواو یا نورو پښتنی‌قبیلو سره ددو ی دنسب یووا لــــی‌شجره تر لا سه نه‌شوه .

دتتور ښاخ :

دغه ښاخ د شمیر له مخی‌ددریوسوو کو رونه نه اوړی. ددی‌دټاکل په لوید یځه برخه کی‌میشته دی.دو د اودستوریی دمیا خیلو ســر ـ یوالی لری او اکثرا دکر نی پــه چارو بوخت دی .

---

*ـله ایرانه شخه دپښتنــــو بختیار و راتګ دمولف‌عندیات دی.
رشاد

دهودا و تبج ښاخو نه :

ددې ښاخو نو په باب له نسو منه پر ته چې په شجره کې ليکل شوی نور څه معلوما ت لاس تــه نه دي راغلي ، همدا راز ددوی نوم هم چندا ن شهرت نه لری که ددغه ښاخو نوځوکوی هغه هم په لوحانيو کې داسې ورکډ شوی چې په آساني سره يې تو پير نشي کيدای. گومان کيږی چې ددغه ښاخ شمير به خورا لږ وی .

دنيازی ښاخ :

دنسب دشجر ی له ليدو نـــه څر گند يږی چې دلودې زوی نيازی له خپلو در يو مير منو نـــه در ی زامن لرل چې په دوی کې باهې چې دسروانی له لور نه وديږ پر هيزگاره او دنيوی چارو ته يې پاملر نه لږه وه .

نيازی په پيل کې دغزني پـــه شاو خوا کې اوسيد ل چې اوس هـم دنو موړی ښاخ څو کوره هلته ميشته دي . دسلطا ن بهلول لودی لــه زمانې نه راوروسته دغه خلــك هندوستا ن ته تللي او دسـور ی شير شاه د واکمنې په دوره کـــې دوی ته لوړ منصبو نه ورکړل شوی وو . هيبت خان نيازی چې داعظــم همايو ن لقب ورکړل شو ی ودلاهور صوبدار تير شوی و ، په هنـــــدوستان کې دنيازيو قدر ت په ډير ه چټکتيا سره زيا ت شو تر دی چې دوی دسليم شاه سوری سره سخته مقابله و کړه دغه بغاو ت ددو ی دتباهی باعث و گر ځيده چې دغه کيسه په مفصل ډول په دريمــه برخه کې ليکل شوی ده .

اوس په افغانستا ن کې د عيسی خيلو ، مو شانيو او سر هنگــو ښاخو نه چې ددوی دنسب شجر ه او تاريخ په دريمه برخه کې راغلی دنيازيو بله کومه څانگه مشهوره او قو ی نه ده او په اکثر ځا يو نو کې څوڅو کور ه په متفر ق ډو ل ميشته دی دبنگښو د سيمی پــه توغ اونورو ځا يو نوکی هم نياز ی او سيږی په کندهار ، غز نی، لوگر دکابل شاو خوا شيو کيو کی هــم ددو ی څو کوره شته دی . پــه هندو ستان کی هم لږ شمير نيا زی اوسيږی خو ددو ی دشتو استعداد او شمير دکم والی له کبله، چندان شهرت نه لر ی . مرحل نيازی، کندی

لږ متمهی په پوو نده توب او سو دګرۍ په چارو بوخت دی. په هماغه اندازه چی دغه ښاخ په هندوستان کی نوم اوروړ ترلاسه کړی و په هماغه اندازه په افغانستان کی کم زوری او شمیر یی لږ دی.

څرنګه چی دوی په مختلفو او بیلو بیلو ځایو نو کی او سیږی نو ځکه یی رواجونه او دودونه هم سره بیل دی.

ددو تانی ښاخ:

دلو دی دزوی دو تانی دنسب شجره و ړاندی و لیکل شوه ددغه ښاخ شمیر لږ اوله دو و سووکورو نو نه زیات نه دی. ددوی نه ځینی پوو نده او هم دسوداګری په چارو بوخت دی او په دغه لار کی زیات کوښښ کوی نو ځکه دوی د نورو پوو نده وو په منځ کی ډیر شهرت لری.

ددوی داستو ګنی او لیږ دخر نګوالی د نورو پوو ندی و په شان دی خو ځینی دوتانی دوانه په سیمه کی میشته دی، دغه سیمه دشیرانو دقبیلی دهری پالشمال خوا ته دیوه میدان دپاسه

په هغه غرو نوکی موقعیت لری چی نشیب یی دګو ملی خواته دی دوانی ا باو هواکه څه هم سړه ده خو د صحت دپاره ښه ده. په دغه ځای کی غو ماشی ډیر ی دی او دګر می په موسم کی دو زیر و خلك هم هلته راځی او یوه اندازه دکرنی ور ځمکی یی هم نیولی دی.

خو سره له دی هم ددوتا نیو یو کلا او یو کلی د وانه وادی په منځ کی موقعیت لری او د وانه او سیدونکی دو تانی اکثرا دکرنی په چارو بوخت دی او ددوی شمیر له اتیاوو کورونو نه کم دی او سره له دغه کموالی وزیر دو تانی له دغه ځای نه ایستلو ته نه شی

مجبور ولی. کله کله کاکړ شپانه هم ددوی سهیلی اولو ید یځو سیمو ته حیل مالو نه دڅرو لو له پاره بیایی خو ددوی سره کوم کار او غرض نه لری هغه دو تانی چی په پوو نده ژوند کوی ددوی دود او دستور د نورو پوو نده و په شان دی او هغه

دو تانی چی په وانه کی میشته دی تقریبا دوز یرو په شان خوراك او پوشاك کوی. دغلجی د قبیلی دسلیما نخیلو ښاخ دوانه سیمی ته نږدی کی نیولی دی.

دخیسور ښاخ :

دغه ښاخ خپل ځانونه دلو دی اولاده بولی خو دلو دی د قبیلی نور ښاخونه له دوی سره دیووالی (گډوالی) نه انکار کوی او دوی دبل نسب څخه بولی. دلودی داولادی دنسب شجره چی د ډیرو ژورو څیړنو په نتیجه کی ترلاسه شوه دهغی په هیڅ ځای کی د خیسور شمولیت (گډوالی) ښکاره نه شو. که څه هم ددغه ښاخ دوگړو شمیرلږ دی خو خپل ملکیت ته یی دیوه ملک بڼه ورکړی ده. ددوی ملک د سندرود په لویدیځه غاړه موقعیت لری. دخیسور ودملک شمال ته دعیسی خیلو سیمه لویدیځ ته یی یو کوچنی غر پنیاله یا پلیا نه نومیږی او مروت پراته دی. د دغه ښاخ اکثره وگړی په ونه ټیټ، غنم رنگه او ډنگر دی، د دوی شمیر له دری سوه کورو نو نه زیات نه دی خو خیسورو سره نور متفرق خلک اورعیت هم او سیږی د دوی په سیمه کی دخرماونی ډیری دی. خیسو ردعمر خیلو په نامه هم مشهور دی.

دبلېغ ښاخ :

دغه ښاخ کله خپل نسب دنیازی له کورنی او کله ددولت خیلو له کورنی سره گډوی او خپل ځان دلودی اولاده بولی، خود دوی د خپل بیان نه پر ته بلکوم ثبوت ددغی خبری دتائیدو لوله پاره نشته، دوی په شمیر کی ډیرکم دی. دوی عموماً په پنیاله کی او سیږی چی دغند شیخ بدین غره سهیلی خوا ته موقعیت لری او ددیره اسمعیل خان په ضلع پوری مربوط دی، ددغه ښاخ یوه کورنی دمیانوالی دسیمی په بیلان کی استوگنه لری او دوا ړه سیمی په خپل ملکیت کی ساتی د پنیالی خرماوی مشهوری دی.

د سروانی ابن شاه حسین د نسب شجره



دمالیرکوټله کورنۍ دنسب شجره



۸۰

---

* په تواریخ خورشید جهان (۲۳۳ مخ) کې دغه نوم اعظم خان لیکلی دی. (رشاد)

* په تواریخ خورشید جهان (۲۳۳ مخ) کې نواب سکندر علیخان د نواب محبوب علی خان ورور ښودل شوی دی
خو په شوکت افغان (۲۹/۳ مخ) کې د حیات افغانی د لیکنې ملاتړ شوی دی. (رشاد)

دسروانی قبیله

ویل کیږی چی دشهاب الدین غوری دسلطنت یا تر هغه لږ وروسته دسروانی قبیلی دد رابڼ او چوډی او شاو خوا سیمی ونیولی او ددغه ځمکی یی په خپل تصرف کی راوستلی او ددغه قوم مشری دسر پال کورنی په تیره بیا دشیخ ملیح قتال کورنی ته ورکړل شوه. درابڼ له ډیری مودی نه رنګ پروت او هغه درابڼ چی اوس آباددی شیخ قتال سروانی جوړکړی دی لکه چی څنګه په شمالی دروازه یی تر اوسه دنو موړی شیخ نښان موجود دی. خو په هغه وخت کی د درابڼ ښار آباد او ډیری ښایسته او ښکلی ودانی یی لرلی او اوس دروانو او بواوشنو و نونه پرته څه ښکلا نه ده ور پاتی.

سروانیو ډیره موده په دغه ځای سلطه لرله خو دهمایون دوا کمنی په دوره کی له دغه ځایه ووتل او ددوی دو تلو له پاره دوه علته موجود دی، لو مړی دشمیر لږ والی او کمزوری دویمه ددوی ما تی. لو مړی علت یعنی ددوی کمزوری له دی نه منځ ته راغله چی دستوری ښاخ یوه سړی چی دروړی ښار او سیدو نکی و دنو موړی ښاخ یوه ښځه وتښتلو له او دسروانی قبیلی ته یی پناه وروړه اودرا بڼ ته ور غی او دستوری ښاخ دغه مجرم او ښځه له سروانیو نه وغو ښته سروانیو دهغه بیر ته ورکول دپښتنی ننګ خلاف و ګڼل او د تښتید لی ښځی په بدل کی یی دپنځو ښځو ور کول و منل خو سروانیو دتعصب او غرور په سبب دیوی ښځی په ځای د پنځو پیغلو تر لا سه کول و نه منل او د جګړی له پاره یی تیاری و نیو له او همدا راز سروانی هم د پښتنی غیرت په وجه له دوی سره جګړی ته تیار شول. په پای کی په زاړه درابڼ کی ددواړ و خوا وو ترمنځ لو یه جګړه پیښه شوه او له دواړو خوا وو نه ډیر تکړه کسان وو ژل شو ل او کله چی ددواړ وخوا وو پاتی کسا نوو دغه حالت او مړی و لیدل نو ډیر پښیمان او بوره یی جګړه مناسبه و نه بلله او دیوبل له وژلو نه یی لاس واخیست او هری قبیلی خپل مړی چی په زرها وو کسه و په ور و وړو قبرو نوکی ښخ کړل او بیر ته خپل استو ګنځیو ته ستانه شو ل، ددغی جاهلا نه جګړی نتیجه دا شوه چی له هغه ورځی نه د سور یو او

سروانیو شمیر ډیر لږ اوتر هغې اندازې کمزو رې شول چې دخپل مخالف دهیڅ مخالف قوم سره یې مقابله نشوه کولای تر هغه،

وروسته دهمایون پاچا د وا کمنۍ په پیل کې کله چې دمیاخیلو لوحانی ښاخ او بختیارو په پاتی سروانیو یرغل و کړ تر لږې مقابلې وروسته.

یو شمیر سروا نې وو ژل شو ل ا وپاتی یې مغلوب او د رابڼ لـه سیمې نه یې لاس لنډ شو او دغه سیمه دمیا خیلو او بختیارو لا س

ته ورغله او سروانی چې ډیر لږ پاتی وو ځینی یې خواره او ځینی یې دمالیر کوټله مشرته چې ددو ې قبیلې نه وور غلل . دمولف پـه خپلو مقبو ضه کلیو کې دواه سیمې نه تقر یباً یو میل شمال ختیـځ ته دیو ې للمی ځمکې په منـځ کې چې دو چکارا میرا په نا مـه

یادیږې دزړو کنډ والو نښې چې سروا نی یې پنډ بولې لیدل کیږ ې. داسې گمان کیږې چې دا به هغـو سروانیو جوړ کړې وې چه دغـه ځایه خار ج شوې او لږ دید لی دی ،اوس په افغانستا ن کې دغه ښاخ

باید دور کید و په حال کې وکنډل شی ، خوا وریږ ل کیږې چـې درواپنډۍ دضلعې دچهچه پـه سیمې کې به څو کوره موجود وی .

اوس دمولف په دوره کې دد غـه ښاخ دمالیر کوټله کورنې دیادو لو وړ ده .

دمالیر کوټله کورنې :

ددغې کورنې دنسب شجره تـر اوسنی مشره پور ې وړاند ې راغلې ده اوله هغې نه جو تیږې چې شیخ احمد زنده پیر چې دسروانیو لو ې

نیکه و له ده نه دسرپپال دښا خ په دیار لسم پښته واو دهغه لـه پنځو زامنو نه مشر زو ې یـې شیخ صدر الدین چې په صدرجهان

مشهور و یو عابد او پرهیز گاره انسان و . دی دخپلې اصلې ټاټو بی درابن نه دهند و ستان دلیدو لپاره لپاره روا ن شو او دمالیر سیمـی

ته ور سیده اود ستلج دسیـن دیوې ویالې په غاړه یې چې آثاریې اوس هم لیدل کیږې یوه څپـر ه ودانه او هلته دخدای (ج) په عبادت

بوخت شو ، په هغه وخت کـې دمالیر دودانې نښې نښانې هیـځ موجود ې نه وې . خو د جهوم په نوم یو کوچنی ځای دشیخ صدر جهـان

عبادت ځای ته نږدې جود و او پـه هغه کې یوه ضعیفه ښځه چې دمالی قوم نه او مسلما نه وه له . پخوا نه اوسیده هغه صالحه ښځه لو مړی

دشیخ معتقد او مرید شو ، کله چي صدر جهان دسلطان بهلول لودي دلور سره نکاح وکړ نو دولته یې دپوه ګلي دچړو لو بیت وکړاو د مالي له نامه سره یې د (ر) توري‌چي د رب دنو م لومړی توری دی پوځای او په دی سبب په دغه آبادی د مالیر نوم کیښنو د *سلطان بهلول لودي دلور سره صدر جهان په دی دول واده وکړ چي کله سلطان بهلول دو یلی دسلطنت دنیو لو په نیت روان شو نو هغه پوه ورځ دصدر جهان چونګړی ته نږدی اوپره شو او دهغه سره یې ملاقات وکړ ، هغه په خپل زړه کی نیت وکړ که چیری دیلی ته ورسیږم او سو به می په برخه شي نو خپله لور به دغه عابد او زاهد ته ورکړم نو دبهلول دغه مقصد تر سره او دخپل نیت د پوره کو لو له پاره یی خپله لور وموری شیخ ته واده کړه او دولس ګلي او شپږ نخوس کوچني سیمی او دواده لول اسباب یې ده ته ورکړ . تر هغه وروسته شیخ صدر جهان د راجپو تانو د کورلي دیوی ښځی سره هم واده وکړ . ده په (۱۵۱۵ع) کال کی له جهانه رحلت وکړ او دخاص مالیر ددرګاه په الګر کي خاورو ته وسپارل شوچی دده مزار د خاصو او عامو زیارت ګاه دی. دخدای غو ښتنه دده هغه اولاده چي د شهزاده ګی له بطن نه منځ ته راغلی وه دشیخ صاحب د خانقاه مجاوران شول چي تر اوسه یې هم اولاده هلته مجاور ین دی او هغه ته پیسي او نذرو نه ورکول کیږي.د وی تسبه خپلی خلک خلیفه او خوله ور ته مجاور وایي خو دواړه دلو ته دخان صاحب لقب ور کړ شو یدی او هغه اولاده چې دراجپوتي ښځي له بطن نه پیدا شوي دي دمشری او دجاګیر خاوندان دی د صدرجهان او بازید خان تر منځ پنځه یا شپږ پښته د نسب شجره په مسلسل دو ل تر لا سه نشوه ، خو دبا زید خا ن دوخت نه چي او سني رئیس او مشر دی تر نه پښتوپوری دهغه کورني دنسب شجره لیکل شوی ده .

---

* دغه و جه تسمیه په ګو شه پنجاب نومی کتاب کی هم لیکلی ده خو په شو کت افغان (۳ر۳۲ مخ) کسي داپوه مضحکه و جه تسمیه بله موندله . (رشاد)

بایزید خان د مالیر تر شنګ بیل بتار چې کوتله نو میږی * ډیوی پخې چار دیوالی او یوه خندق سره جوړ کړی دی او په ډیرو کلیو باندې چې میراثي جاګیرو نه یې وو خپله قبضه ټینګه او له مالیرنه یې خپل استو ګنځي کوتلې ته ولیږد اوه . او په خاص کوتله کې یې د ریاست له پاره یوه ودانۍ جوړه کړه ، دده نور ورونه په هماغه ډول په مالیر کې او سیږی .

د بایزید خان تر مړینې وروسته د هغه د زامنو له جملې نه فیروز خان رئیس او مشر و تاکل شو چې د ښه بخت خاوند او د حکومت په چارو کې ډیر پوه و ، تر هغه وروسته دده زوی شیر محمد خان دده ځای و نیوه نو موړی په (۱۷۰۲ ع) کې د سرهند د ناظم د پوځ سره یو ځای د سکهانو د دلار بنود ګوروګور بند سنګ سره وجنګیده او د ډیلي پاچا د امر سره سم درو هیله سردار د نیولو له پاره بداون ته لاړ او هغه یې و نیوه او دربار ته یې حاضر کړ ، دی د عالمګیر اورنګ زیب په دوره کې وفات شو . هغه د خپل ریاست په وخت کې یو ځای د شیرپور په نامه جوړ کړ چې اوس هغه ځای د پټیالې دوالي په لاس کې دی تر هغه وروسته د غلام حسین خان د ریاست په وخت کې یعنې په (۱۸۳۰ ع) کال کې عثمان یار خان رو هیله چې د هغه پلار د شیر محمد خان له خوانیول شوی و دزیاتو لښکرو سره د مالیر کوتله د نیولو له پاره راغی غلام حسین خان له جګړې نه سولې ته ترجیح ورکړه او د بلا ئن په نوم لجلی یې عثمان یار خان ته نکاح کړه او هغه هم د خپلې لاوړې د ډولی سره خپل ملک ته ولاړ .

---

* کوتله د کوټ مصغر دی لکه په ډهلي کې د فیروز شاه کوتله – په پیښور کې د محسن خان کو تله مشهوره ده – معز الله خان مومند چې د پښتو ژبې ښه شاعر دی د دغې کوتلې او سیدونکی و . (رشاد)

دغلام حسین تر مړ ینی‌و روسته که څه هم دده اولاد و نه موجو د
وو، خو د شیرمحمدخا ن زوی جمال‌خان دمالیر کوټلی رئیس‌و ټاکل
شو ،خو جمال خان په (۱۷۵۵ع)کال دسر هند په جګړه کی ووژ ل
شو او دهغه مشرزوی پهیکن خا ن‌رئیس شو . دهغه په وخت کی
ابدالی احمد شاه ډیلی ته را غی‌او نو موړ ی‌په دغه کورنی ډیر
مهربانی و کړه ، ددوی دمقبو ضه سیمو حدود ، یی پراخه او سکه یی
جار ی کړه ، په (۱۷٦٤) عیسو ی‌کال د پټیالی دمهارا جا الا سنګ
دمور ثاو پهیکن خان تر منیـــــځ‌جګړه ، و شوه. چی په دغه جګړ ه
کی پهیکن خا ن وو ژل شو او دسرهند پخوانی ښار چی دویل ی‌د پاچا
له خوانیاز خا ن په‌کی حاکـــم ودسکهانو له لاسه داسی‌تباه اولوټ
شوچی تر اوسه هم ورا ن دی .

تر پهیکن خان ورسته دده کـــوچنی و رور بهادر خان درئیس پـــه
توګه و ټاکل شو ، خو هغه هم په (۱۷٦۷) عیسو ی کال کی دسکهانو
سره په جګړه کی ووژل شو او دما لیر کوټله دریاست ډیری سیمی
دپټیالی دوالی لاس ته ور غلـی.دبهادر خا ن تر مړ ینی و روسته د
ده کو چنیو ورونو عمر خـــا ن ،اسدالله او عطا الله خان هر یوه
په خپل وار سره حکمرانی و کړ ی‌او مړه شول ، تر څو په (۱۸۱۰)
عیسو ی کال بیا دغه ریاســــت‌دپهیکن خا ن‌له‌اولا دی ته دا کبر
اولاد ی ته په لاس ورغی خو لـه‌دغی مود ی نه دوه کاله دمخـــه
یعنی د (۱۸۰۸) عیسو ی کال پـــه ورستیو ورځو کی دلاهور وا لـی
رنجیت سنګ خپل‌پو ځونه را تو ل‌او دکوټله دریاست په خوا روا ن
شو اودما لیر کوټلی درئیـــــس‌عطاالله خان نه یی تقر یباً یو نیم
لك روپی نذرانه تر لا سه کړه ،عطا الله یو څه رو پی نغدی‌ورکړی
او دپاتو له پاره یی د (پټیا لـی)(جیند) او(نابه) دسیمو والیا نـو
یی ضمانت و کړ او دغو ضا منا نودمالیر کوټله په سیمه کی تانـــی
جوړی کړی .

دمحفوظه ملکو نو د رئیسا نوخصنو صا دمالیر کو تله دکوز نی د نیك مرغی‌په سبب‌د (١٨٠٩)عیسوی‌کال په پیل کی ددو ی دغو ښتنی له امله جنرال اکترلونی دانگر یز ی سرکارله خوا دملك دانتظـــام او حفاظت له پاره انبالی،لودیا نـــی‌اونورو سیمو ته راغی او دملـــك دچارو . دسمون له پاره به خپلـــه نوموړی جنرا ل کوټله ته‌لاړ او د تانو دحالا تو دترلا سه کولو پــــه تر څ کی د پټیا لی او نا بهـــــی دضامنو والیانو تانی یی په زو رورانی کړی‌او دما لیر کوټله سیمه یی پخوانیو حکمرانا نو ته ورکړ ه‌اودرنجیت سنگ سره یی د ستلـــج سیند سر حد و تاکه او دا دانگریزی‌سر کار له خوا یوتړ ون و او پـــه.

دغه وخت‌کی دپنجا ب د ښاو خـــواسیمو مشرانو د آرامی احساس‌وکړ، که څه هم په هغه کی رئیـــــس‌عطا الله، خان ژو ند ی و خــــو دپهیکن خان مشر زو ی و زیرخا ن‌دپلرنی ریاست دلاس ته راوړ لو له پاره دجر نیل په حضور کـــــی‌دعوا و کړه او د مالیر کوټلــــــه، ریاست د وراثت په باب د تحقیقا توپه تر څ‌کی عطا الله خا ن مړ شو، او په (١٨١٠) عیسو ی کال دغـــه‌ریاست دانگر یزی سر کار له خوا

وزیر خا ن ته وسپار ل‌شـــــو او دعطاالله‌خان داولادی قبضه یواز ی په خپل جاگیر باند ی محدوده شوه،وزیر خا ن په (١٨٢١) عیسوی‌کال له جها نه سترگی پټی کړی او ده‌په ځای دده زوی امیر خان‌دریا ست مقام تر لا سه کړ ، او امیر خـــــا ن‌نه، وړاند ی دمالیر کوټله رئیـــس دخا ن‌صاحب لقب لاره . خودانگریزی‌سر کار د لطف له مخی دامیر خا ن له وخت نه راپه، دی خوا دوی تـــه دنواب صاحب بها در لقب ورکـــړل شو.

نوا ب امیر خان په (١٨٤٦) ع‌کال وفا ت شو، او دهغه ځای دده زوی نواب محبوب علی خان و نیو ه‌په پای کی‌هغ ه هم پـــه، (١٨٥٧) عیسوی کال‌کی‌مړشو، دده نه‌ورسته سکندر علی‌خان صاحب خلف‌الصدق ددغه ریاست خاوند شو چی تــــراوسه هم ژو ندی دی .

دیوه یوه سری په قول ددو ی‌عایدات یوازی دکال دوه نیم لکه ووپی‌دی‌چی‌یولك‌یی په خپله‌دنواب‌صاحب له پاره اویاتی یی په تولو ورونو او حقدار انو باندی و یشل کیږی .

شلورم باب

د کرړان د اولادې بیان

څرګنده ده چې د ګوړا نیو د پلرونو او نیکونو په باب ډېر مختلف روایتونه شته او څرنګه چې دغه روایات د دوی د اولادې د نویو ښاخونو بیان په شفاهي ډول په خلکو کې موجود دي له دې امله د ځان ستاینې اشتمال هم په کې شته .

د لاړو ګو ښاخ چې د کسمړانو نسل یې قوي ښاخ دی دوی وایي چې د کرړان پلار سید قاف و چې د هغه نه وروسته اتم پښت یې د نسب په شجره کې حضرت امام حسین (رض) ته ور کډېږي او د ختټګو ښاخ د کوړانو پلار هم نسبي ډولي او خپله شجره د سړبني افغانانو (پښتنو) سره کډوي .

د شیتک د ښاخ ځینې سپین ږیري خلک وایي چې کرړان د کوم شهزاده زوی او د خوګیانیو ښاخ عقیده لري چې دی د عبدالله اوړ مړ زوی وکه څه هم د دوی د نسب او اصلیت په باب ډېر اختلافونه موجود دي ، خو دده له اولادونه ځینې ښاخونه په دې اتفاق لري چې کرړان نومی ماشوم چې نوی دنیا ته راغلی و ، په هغه ځای کې ورمونده شو چې په هغه ځای کې لښکر یوه شپه تم شوی او سهار له هغه ځایه تللی و . څرنګه چې دغه پاک ماشوم د یوی او سپنې تر کړایي لاندې او یاد هغې په بدل کې عبدالله ته داور مړ وقبیلې څخه وروړ سپېده او څنګه چې د پښتو په ژبه کې کړایي ته ګوړی وایي نو ځکه ده ته د کرړاني نوم ورکړ شو* او د داسې پیښې را مینځ ته کېدل له امکان نه لیرې خبره نه ده ، د پښتو په یوه پخوانی کتاب کې دا خبره لیکل شوې ده چې دغه هلک د ژمي په مینه (قشلاق) کې په

---

* دا هم له مضحکو تسمیو څخه ده . (رشاد)

لوید یځ افغانستان کې پیداشوي و. ددې روایت له دا خبره جوړیږي چې کرلان د قیس عبدالرشید لمسی اولاد ی نه ؤ ، خوخدای (ج) د هغه اولاده دومره ډیره کړه چې اوس تر نورو افغاني (پښتنو) قبیلو نه په توره او جنګیالیتوب کې کم نه دي . لنډه داچې عبدالله دنارینه اولاد دلښتو الی له ګبله کرلان په زوی توب ومانه او د هغه روزنه او پالنه یې وکړه او کله چې هغه د بلوغ سن ته ورسید د نوحیله لور یې ور ته نکاح کړه چې د دوی نه دده زامن دنیا ته راغلل یوه باندې یې کودي او بل باندې یې ککی نوم کېښود چې ددوی دواړو دا ولادې نسب نامه دپښتنو تر سره یو ځای دنسب په شجره کې راغلې ده، دکرلان پښانه په مجموعي ډول کرلاني یا کرلاني هم وايي. او دلازاك ،اورکزي ، منګل ،حو ګیاني، اپریدي ، ختك ، وزیري ، شیتك یعني بنوڅي ، دوړ ، ځدران، او اتمانخیل، ټول هغه پښانه دي چې دکرلان له نسل نه میشته راغلي دي چې دخانګو ذکر یې دنسب په شجره کې لیدل کیږي .

مخکې له دې نه چې دکرلان ددوهم زوی ککي دنسب دشجرې په باب څه و لیکل شي نو په لنډه ډول به دکودي داولادې دلویو ښاخونو ذکر وشي .

د دلازاك قبیله

دکرلان د زوی کودي د مشر زوی دلازاك وچې دهغه اولاده ډېر زیا ډېر شول دوی ډېر زړه ور خلك وو. چې د ټولو پښتنو نه وړاندې د لاهور دراجا د کمزور تیا په وجه چې دمخه یې ذکر راغی دخیبر له لارې پیښور باندې چې په هغه وخت کې بګرام ورته ویل کیدل ، یرغل وکړ او دلوړې په زور یې په دغه ځای یې قبضه ټینګه کړه تر څو پوړې چې د سند ختیځې برخې یې هم تر لیرې ځایو نو پوړې په خپله قبضه کې راوستې ، پر سومنات باندې د سلطان محمود غزنوي د حملې په وخت کې ددوی زیات شمیر دملك یحیی په مشرۍ د سلطان محمود په لښکر کې شامل وو . ددغې قبیلې ځینې سپین ږیري دخپلو پلرو نو په باب داسې روایت کوي ، کله چې په پیل کې ددلازاك قبیله د افغانستان ختیځو برخو ته داخله شوه نو دغوی نه وړاندې دپیښور په ضلع او دسند رود په لوید یځو او ختیځو غاړو کې مېړه

دکرهان یا کرلان د نسب شجره



کافر او سیدل ویل کیږي چې هغو خلکو ته چې سره کافر ویل کیدل دکریک او بکترین له نسل څخه وو او په لومړي سر کې ددیګان او داصلي سواتیو نیکو نه هم دپیښور د ضلعې او راولپنډۍ په حدود کې ترجلال آباده پورې اوسیدل چې بیا دلازاک په تدریجي ډول دسوات اوبونیر دغرونو لمنو ته په شاه وتمبول او خپله قبضه یې پرې ټینګه کړه . لنډه دا چې ددغې قبیلې دحکومت دوره دمرزا الغ بیک تر وخته پورې ډېره مشهوره وه ، خو کله چې دوی خپل زور او قوت ته مغرور شول نو لومړی دخلیلو او مومندو له خوا چې دکابل نه پیښور ته راتلل ماتاو د پیښور پرېښودلو ته مجبور شول او بیا دویم ځل لکه څرنګه چې په صراحت سره په دویم باب کې لیکل شوي دي . د یوسفزیو اونورو هغو قبیلو نه چې له یوسفزیو سره یو ځای شوي وې ، سخته ماته وخوړه او دسند رود له لارې دچهچه او د هزارې ضلعې ته ننوتل او هلته یې په خپلو پخوانیو عاداتو ، لوټمارې او نورو پیل وکړ . ددغو فتنو په سبب چې دجهانګیر پاچا په وخت کې رامینځ ته شوې دوی له داسې تباهۍ سره مخامخ شول چې د مخکنیو حادثو نه ډېرې سختې وې او هغه کسان چې له دغې پیښې نه ژوندي پاتې شول ددوی اکثرا دخپلو کورنیو سره دکن ته ولېږل شول چې اوس هم هلته زیات شمېر دلازاک موجود دي .

ددغو دلازاکو نه یو شمېر یې دهزاره په ضلع کې اوسیږي .

دوی ته دخپل تکبر او بغاوتونو په سبب دا نتیجه ور په برخه شوه چې ددغه لوی ښاخ نه یوازې یو څو کوره دهزاره په ضلع کې او یو څو کوره په متفرق ډول دچهچه په سیمه کې یو شمېر یې په پیښور کې استوګنه لري . ښا یې په افغانستان کې دغه ښاخ له مینځه تللی وي .

داورکزی قبیله

ددغی قبیلی دلو یو ښا خو نـوښتمیر پنځو ته رسیږی ، لکـه
څرنګه چی دنسب په شجره کـی راغلی دی دهغو ی نه ځینی وړ ی
څانګی مینځ ته راغلی دی ، دغـه قبیله اکثراً دکو هاټ دضلع پـه
غرنیو سیموکی او ځینی یی له دغی ضلعی نه دباند ی دسپین غـر ه
ختیځ او دتیراه په جنوبی وادیوکی میشته دی . دو ی دګر می پـه
موسم کی او هم هغه وخت چی کومه خطر ناکه پیښه رامینځ ته شـی
دتیرا غرو نوته ځانو نه رسو ی. دبنګښو د ښا خ نه وړاند ی پـه
کوهاټ باند ی اور کز یو سلطه لرله او تقریباً (۴۰۰) کاله وړاندی
بنګښو کو هاټ دسختو جګړ و نـه وروسته دهغوی نه ونیوه ، خـو
بیاهم ددغه ملك دنیولو له پار ه ددوی تر مینځ خونړی جګړی وشوی
او داسی ویل کیږی چی یو ځـل ددواړ و دښمنو ډلو دملکا نوتر مینځ
دسولی درامینځ ته کولو په منظوردر سمند ته نږد ی جر ګه شوی وه
هری یوی څا نګی به غو ښتل چی په دغه سو له کی زر خیزی ځمکی او
علاقی تر لاسه کړی له دی امله ددو ی تر مینځ سو له ونه شو ه
اونږد ی وچی بیا ددو ی تر مینـځ جګړه منځ ته را شی چی په دغـه
وخت کی یو سپور سړی له لیری نه راښکاره شو او دجرګی دملکا نوپام
یی ځانته را واړ اوه .څر نګه چی دا دواړه قبیلی له ډیر و جګـړ و
نه په تنګی شو ی وی نو په دغـه خبره یی اتفا ق و کړ چی که چیری
دغه سپور راشی نو دو ی به ورته دبنګښو او اورکز یو دښا خو نو د
سیمو دو یشلو سو ال وکړی ا وهغه څه چی دی وو ایی نو هغوی دواړه
خوا و ی یی منی . دوی په دغـه خبره اتفا ق و کړ او دخیر دعاوشوه
او قسمو نه یی هم یاد کړل پـه دغه وخت کی نو موړی سپور چـی
دای نومیده او دقبیلی مطـرب راورسیده نو دواړ و خـوا وو د
دغه معا ملی په با ب له ده سر ه سوال او ځوا ب وکړ . هغه دا س
پر سر په پښتو ژ به دغه شعـر جوړ او ځواب یی ورکړ :

دای خو داسی وایی

چی سمه دبنګښ څرداور ګز ی

. کله چې دای داخبره وکړه نـــوو نه ښتیده . اور کز یو دده دمرګ تګل و کړ خو څه دبنګښنو پــــه مرسته وژغورل شو . ویل کیږ ی چې له هغه څخه وروسته نه دهمدی عجیب ویش مطابق عمل کیږی خو سره له دې هم څوک ی تر مینځ دښمنی بیخی له مینځه نه ده تللی .داور کزیو دجنګیالیو شمیر شپاړس زره تنه دی ، خو د ټولو ښاخو نو نه ددولت زیو او مسو زیو شمیر زیا ت دی . له دولت زیو نه دمحمد خیلـــو اولاده ډیره زیاته شوې ده. محمدخیل شیعه او پاتی لور ی څانګـــی یې سنی مذهبه مسلمانا ن دی،دتیراو سیدونګی سید محمود دشیعـــه مذهبو د ستا ینی او اعتبا روړسړی‌دی . دغه ښاخو نه پخپلو منځو کی چندا ن یووالی نه لر ی اوپه دو وډلو ویشل شو ی دی یوه یې‌دسمـــل ګوند ی دو یم یې دګاړه ګو نــد ی‌ده . دنسب شجره کی دهر یوه‌ښاخ دنو م په سر باند یږد (س) دتوری‌نه مقصد دسمل ګو ند ی اود ګ ، توری د ګاړه ګو ندی ښیی. ددغــه ښاخ سره چی کوم نور ښاخو نه په ګته‌او تاوا ن کی شر یك دی‌دهغوی‌شمیر څلورو یا پنځو ته رسیږی . دوی په اصل کی اورك زی نه د ی‌خود دو ی سره یو ځای ګڼل کیږ ی لکه دعلی خیلو دښا خ پنځـــــه څانګی یی په‌لانـــد ی ډو ل دی :

برهیم خیل ، سړ ګړی ، اختا ن ،مسو را ، کنده ه تلی ،اود میشیتی ښا خو له چی دهغو ی له مامازی ،حیدر خیل او داد ی خیل‌را و تلـــی دی ، اوشیخا ن چی په دوو څانګـــو ویشل شو ی دی ، میرزا خیل رنګین خیل او میرزا خیل ډټو خیل ، چلوله پور ته خوانه ملاخیل دی او د هری یوی لو یی څانګی په سر کی‌څوڅو ملکان دی . په اوس و خت کی دتیرا اوسیدو نکی سید محمو دپه دو ی‌کی دډیر اعتبار خاو ند دی اوخصو صاً دمحمد خیلو څـــــــانګه دته ډیر اعتقادلری‌نوځکه دشیعه مذهب دوړاند ی ټګ په حال کــــی‌دی . ددغه ښا خ څلور و خوا ووته مخالفی قبیلی او سیږی . نو ځګـــه هریو سړی یی تقر یبا یو تو پـــك لری، توره اولویه چاړه چی پـــسه تیرا کی جوړیږی تقر یبا له هـــر بالغ سړی سره شته ، همدا رازدوی‌تمانچې او پیښ قبضی‌هم ساتی .

اورگزی جنگیالی خلک او ښته سپایان دي . ددوی ددې یستنې (وطنی) تو پکو دجملی به دجزایلونه پر ته دنو روداندا حت سا حه لنده ده اولیری نه لګیږی خو دوی ښه لښه ویشتو نکی دی دخلکو ونی یی جګی او متوسط اندامو نه لری. دوی ډیر فعا ل او زیبا ر ایستونکی دی . دوی دګرنی په چارو اولې شمیر یی په مالدار ی بوخت دی دځمکو ډیر ه برخه یې للمی خو د یره حاصلي خېږه ده تر دې چې په ځینو ځایو نو کی دوه فصله حاصل ګوی . په غلو کی وریجې ، غنم او اور بشې ډیری کرل کیږی ،شلغم او کدو په زیاته اندازه کرل کیږی او حاصل یې دومره ډیر د ی چې خلک یی د چوی او تیل فصله پوری یی خوری په عمد ی دوی هم له غلي داني هم دلته پیدا کیږ ی چی عمده ډو ل یی ګرځي * (لو بیا)دی چي زیات حاصل ور ګوی .

ددوی دملک دخورا کی موادوپیداوار دد وی له پا ره کفا یت کو ی خود پر ښاک له پاره یموه‌اندازه تو کر له نورو ځا یو نو نه را وړل کیږی ، دګو هاټ، پیښو راو خو ست له ښین او رنګه لسو ګران اخیستل کیږی.

دوی دقحطی او غلی د کموا لــی په وخت کی نه ښکښیږ ، کبور مي او خوست نه غله اخلی.

دعلما رو اختیار او واک په دوی کې ډیر دی او ګله چې ګومه شخړه یادښمنی ده زی تر مینځ پیښیږه شنی دعا لما نو دګلیملګانو له خوا فیصله کیږی . په‌دو ی‌کې‌کو رنی دښمنی ډیری دی،لواکثر ا دوو کو ندو نو تر مینځ جګړی‌روا نی وی.

دوی معتبر او قدر مندمیلمه ته په ډیره مینه اواخلاص عز ت ور ګوی او پالنه یی کوی خوخوراک یی چټل دی. ځوی دجوارو دودی استعما لوی او دپسه غو ښه پـه نا قص ډول په اور کبا بسوی او خوری یی.

---

* اصل : کوزخی

دکرلان د دویم زوی ککی د نسب شجره

- ککی
  - برهان
    - عثمان یا آفریدی
    - لقمان یا ختک
  - خوګیانی
  - سلیمان
  - شیتک
    - جدران
    - اتمانخیل

د پاتی ډیرو نسبنامه دومره مسته راځي

ددغو ډیرو ځامنو نسبنامه هم دومره مسته راځي

دعثمان شجره به راتلونکي مخ کي دګورئ

۹۲

داپریدو د نسب شجره



دمنګلو قبیله

دغه قبیله تقریباً له شپږ سوو کالو نه را په دې خوا دهغې دقبیلې په ګڼون دبنو په سیمه کې اوسیده . لکه څنګه چې دشیتک (بنوڅي) بناخ په حالاتو کې وویل شول. دوی دشیتکو دغلبې په وخت کې دبنو سیمه پرېښوده او د خوست او کورمې لویدیځو غرنیو سیمو ته را غلل او هلته میشته شول چې تر اوسه هم هلته اوسیږي،

دغه درانو قبیله دهغوی سهیلي ګاونډیان او دهغوی پخوانې دښمنان دي دوی خپل پو ښاک له وړینو توکر انو نه جوړوي. په خوراک کې د غنمو او اوربشو نه ډیره استفاده کوي. دوی په زیاته اندازه په مالداري بوخت او همداراز کرنه په کې لږه ده. دغه خلک ډیر جنګ جو یه نه دي او شمیر یې تقریباً یوولس زره تنو ته رسیږي . منګل په خپلو منځو کې لږې جګړې کوي او تول په یوه کې و ندکي دي. هغوی زیاتره دوړ یو او حیوانا تو په پلور لو سره خپله ګوزاره کوي او د زرمت او خوست په سیمه کې غلې اخلي . دوی ناپوه او بې آزاره خلک دي. منګل له خپلو غرنیو سیمو نه لرکي دخرڅلا و له پاره خوست ته راوړي . یوه باوري سرې دد وی دیوعجیب رسم په باب داسې ویلي دي ،چې کله دچا په کور کې نارینه اولاد دنیا ته راشي او که په هغه ورځ کوم میلمه دغه ځای ته را شي نو دهما غه میلمه نوم په ما شوم باندې ږدي .یاد کو مې لو یې پیښې نوم ور باندې ایښو دل کیږي چې په هما غه ورځ مینځ ته راغلې وي.

دمقبلو قبیله :

دمنګلو دقبیلې قطب اود ځاځیو ښاخ په لوید یځه غرنۍ برخه کې دمقبلو کوچنۍ قبیله استو ګنه لري . خو ددوی په باب ډیر معلوما ت تر لاسه نه شو ل. ددغې قبیلې یو شو کوره دخو ست دلګن په سیمه کې هم دهمسا یه په ډولژوند کوي . داسې ویل کیږي چې هغوی به ساده او بې آزاره خلک وي .

داپریدیوقبیله

دد غه قبیلی لوی نیکه عثما ن‌نو میده . دد وی دتسمیی وجــه داسی ده‌چی یوه ورځ څو مفلس او بی‌وزله میلمانه دعثمان کورته راـ غلل . دژمی موسم و. دسوړوا لی‌په وجه میلما نه یودبل تر څنـګ کښیناستل . کله چی عثمان راغی‌نو دوی پو ښتنه وکړه چی داڅوک دی هغه په پښتو ژ به ځواب ورکړ چی دا هم آفر یده دخدا ی ،(ج) دی چی له دغی ور ځی نه دآفریده‌په نوم یا دیده‌اوډیر استعمال پـه سبب په اپر یدی سره مشهورشول‌چی په مجموع کی دده اولاده داپرـ یدی‌په نوم‌یادوی* . په دغه قبیلی‌پو ری چی څو مره مشهور ښاخونه مربوط دی دهغوی نو مو نه دنسب‌په شجره کی راغلی دی. په‌دو ی کی دشمیر له مخی د اولا نسل«اولاخیل» تر ټو لو ډیر دی چی پـه دوی پسی فیر وز خیل او بیادمیراحمد خیلو شمیر زیا تـدی.داقبیله ډیره جنګیالی او لوړ ماره ده اوله‌دی‌کبله چی په سختو او صعبـ العبور و غرو نوکی او سیږی نـو په‌خپله خپلواکی‌باندی‌ویاړی ددغه قبیلی ستره پناه‌ګاه دتیراء سیمه ده. که څه هم تیراء ډیری غر نـی سیمی لری خو په دغه ملک‌کـــی‌دغره په سر یوه اواره او میدا نی سیمه ده چی ښه او سړه هوالری. پـر تیر اء با ندی وړا نـــد ی نو ر و قبیلو سلطـــــــــه لرله‌خونو موړی ځا ی اپرید یـو د دتوری په زور له هغونه ترلا سه کړی دی .او هغه لږ شمیر اصلـی تیرا یان چی پاتی شوی وو هغـه‌لو ید یځ یعنی دننګر هار خوا تـه ولا ړل . دجها نګیر دوا کمنی پـه‌دوره‌کی د پیر روښا ن‌لمسی احداد چی‌دنوموړی‌کیسه دا ور مـــړ و دقبیلی‌په بر خه کی لیکل شو ی‌ده. داپر ید یو پیرو . دهغه دچا لا کی‌او مرستی په ذر یعه اپر ید یوله تیرا اتمان‌خیل خارج او دا ورکزیوسره هم وجنګید ل اود تیرا شمالی بر خه‌یی ونیو له، دغه زره و ره‌قبیله دختیځ لو ری ته دختیکـو د حدود واو کاکا صاحب زیا رت ته نږدی نه‌را نیو لی لو ید یځ خواته دراجګل او خیبر سیمی نه ترننګـرهار پو ری په هغو غر نیو بر خو چی دپیښو رد ضلعی دحدود نـــه دجنوب لویدیځ خوا ته نښتـــی‌دی

---

* دد غی عا میا نه اومضحکی تسیمی په باب دتعلیقا تو بـسرخه و ګوری ـ (ورشاد)

قبضه لري. ددوی په سهیل کې داورکز یو قبیله او بنګښ او په سپین غره کې څمکني لویدیځ ته سنګو خیل شینو اري او په شمالي خوا کې مومند دد وی ګاونډیان دي. له دغو ښاخونو او قبیلو سره اوس دوی دو مره سخته دښمني نه لري. خو داورکز یو سره، دپخوانۍ دښمنۍ نه پرته دسمل او ګاړي ګوند ونو په ارتباط او همدا راز دشیعه او سني مذهبونو په پناددوی تر مینځ په وار وار جګړې مینځ ته راغلي دي او د سنګو خیلو، شینوارو سره هم دکوکي خیلو اپریدیو مرګ اوژوبله شوی ده. اپریدي ټول سني مسلمانان دي. دد ی قبیلي دټولو وسله والو کسانو شمیر داحمد شاه ابدالي د سر شمیرنې له مخه (۱۹) زره ګڼه ښودل شوی دی په دې ډول چې ملک دین خیل چې دتیرا په میدانګي او سپږي له خپلو ټولو څانګو سره دري زره، قمبر خیل هم دخپلو ټولو څانګو سره دري زره چې دغه ښاخ هم دتیرا په میدانګي استوګنه لري، کوکي خیل چې دراجګل او خیبر په شاو خوا کې چې دتیرا په میدانګي میشته دي دري زره ګڼه، زخه خیل چې دتیرا په میدانګي استوګنه لري دري زره، اکا خیل په وران، سه پای په باړه او قصري په متفرق ډول په نورو نوګي دري زره او آدم خیل چې دکوهات په شمالي دره او هغه غره ګې چې په ختیځ کې د ختکو له حد سره یو ځای کیږي د هغه غره په شمالي اوجنوبي دواړو خواو کې او سپږي څلور زره تنو ته رسیږي. خو اوس دغه شمیر صحیح نه دی او په هر یوه لوی ښاخ کې هغه تفاوت چې اوس مینځ ته راغلي دهغه نه داسې ښکاري چې په عمومي ډول د دغه شمیر په نسبت یې شمیر ډیر زیات دي.

که څه هم ددغه قبیلي اصلي کسب کرنه او زراعت دي خو دکرنې ځمکه کموالی په سبب دغه کسب لږدی. دا ځکه چې دتیرا دمیدان دسیمې له پرته ددغه علاقې غرونه لوړ او ږور دي اود کرنې له ... مساعد نه دي. دکرنې نه پرته دوی په غلا، د سون په ... ګیږي، مالچې اوبو سوداګر څو لو له لاری خپله کوزاره کوي، دوی دغرونو دلمنو لسه وچ لرګي اوبو تې دغوایا نو او خرو په ذریعه راوړي او اکثرا د غه شیان دپیښور د په بازار کې پلورل کیږي لو ځکه دپیښور دلر کیو په منډيي کې هر ی خواته چیرو کثـل شي داپریدو غوایان او او ښا نلیدل کیږي.

په هیڅ ډول دکوهات دضلعې شته مالګه هم دد رنګ (دما لکې

کان) نه دغر ځلاو له پاره راوړي . په تیره بیا د آدم خیلو ښاغ پــه
زیات اندازه دمالګي سودا ګري کوي . ددغه قبیلي آواره خلك دغلا
او لوټ سره ډیره مینه لــــري. خصوصاً دزخه خیلو او کوکي خیلو
ځانګي په دغه عادت کي ډیــر مشهوري دي او دکابل او پیښور تر
مینځ لاره چي له خیبر له تیریږي او مسافران ور باندي تګ راتګ
کوي . ددوی له لاسه خطرناکــه شوې ده او هغه روپۍ چي دکابل د
امیر له خوا دلاري دخلاصي ساتلو په منظور ور کول کیږي
له هغو نه هم چندان ګټه نــــه ترلاسه کیږي . ځکه چي دغــه
روپۍ اکثراً خانانو، ملکانو او مخورو خلکو ته ور کول کیږي خو ددوی
عادي خلك دمسافرانو دلوټولو انتظار باسي او که دویش پــه
اساس چاته یوه برخه ور په برخه هم شي په خپله برخه قناعت نه کوي.
له کوهاټ نه هغه لاره چــي دآدم خیلو له مقبوضه دري نــه
پیښور ته تللي ده په هغې کي هم ددوی لوټ کوي او سره له دي هم
چي ځیني وختو نه دوي ته دلاري د خلاصون په منظور انعامونــه
ور کول کیږي. سره له دي هــــم ددغه دري لاري بلدې وي او د
دغه عمل دبندولو په منظور بــه ښه داوي چي یو مستقیم ســـړك
دکوهاټ نه دسر کاري سیمـــي په مینځ کي اټك ته وایستل شي .
اپریدي عموماً په خوراك کــي له غنمو ، وریجو ، جــوارو او
اوربشو نه ګټه اخلي او د ینــدې څخه او دسپینو وړیو نه جوړ اوږد
کمیس اغوندي دوی دخوراك او پوښاك ضروریاتو د رفع کولو په
منظور تل پیښور ته تګ راتــګ کوي چي ددوی د پیدو اعما لــــو
دمخنیوي او پدل اخستلو له پــاره یو ګټو رعل شمیر کیږي. ددغــه
قبیلي خلك دنګر خو ګلك ، تګـړه زیار ګالو نکي او اکثراً جګړه ځوا نې
لري . هر ځوا ن سړی په خپــل کورکي توره ، سپلاوه چاړه او له
تسمونه جوړشوی دال ساتي . ا وهمداراز چقمقي رخدا دټوپك چــې
لیري لګیږي اوهم یوه یادوه تمانچي ساتي ، دتیرا توری او چړې پــه
ښوخو لوکي مشهوري دي . ځینــي اپریدي په نښه و یشتلو کــــی
ډیر مهارت لري . ویل کیــږي چي ددوی دټوپکو شمیر او وسلــه
والو کسانو شمیر یې سره برابــر دی . دغه قبیله په دوو ګو ندو لو
ویشل شوی ده چي یوه یې سمل او بل یې دګاړه په نامه یا دیــږي.
ملك دین خیل ، زخه خیل، اکاخیل،سپه پای او قمری دسمل په ګو ندکي
او قنبر اوکوکی خیل د ګاړه پــــه ګو ند کی شامل دی .آدم خیل ددوی
تر مینځ منځګړ توب کي ژو ندکوي یا کله دسمل سره ملګري او کله
دګاړي سره یو ځای کیږي ، خــــودګو ند ی له کبله ځیني وختو نه.

دوا ړ و ښا خو نو اوښانګو تر مينځ هم کورني شخړي او فساد و نه مينځ ته راځي که څه هم ددو ی تر مينځ مرګ ژوبله او دښمني زيا ته ده خو سره له دی هم دبهرني غليم دخطر په وخت کی سره يو ځـــا ی کيږی . خو دآدم خيلو ، اولا خيلـــواو اکا خيلو تر مينځ دښمني ډير ه پخواني ده . کله چی تو له قبيلـــه له کو مي ستونزی سره مخا مـــخ شي نو دټو لو ښا خو نو ملکـــانسره راټو ليږی اوپه خپلومينځو کی سره سلا او مشوره کوی .او پـــه دغه مشوروکی چی کومه پر يکړ ه وشی نو هر يو ښاخ يی دخپل ملك په مشری تر سره کوی . او س په ملك دين خيلو کی دخان بهـــا درزوی مدت خان چی دده زوی اعظم خان نو ميږی ، په قمبر خيلـــوکی د شير محمد خان زوی محمـــد غوث په کوکی خيلوکی عبدالله نور په زخه خيلو کی بوستان او دالله داد زو ی فيروز ، په اکا خيلو کیسلطان محمد ، اوپه سه پا ی او کمری کی سراج الدين او دآدم خيلو پـــه ښاخ کی عادل ، جنګو شاولی ، ببری او پاينده خا ن ملکاند ی .

داپر يد يو قبيله ډير غوا يا نساتي همدا راز دوی آسان همروزی ددو ی دسيمی کچری دجنسيت له مخی ډيری ښی دی اوډيری روز ل کيږی. که څه هم دپسو نـــو اووزو ر مي دلته شته دی خو شميريی زيا ت نه دی آدم خيل اوښا ن هـــمساتی چی په هغو باند ی د مالګی او نورو شيانو سودا ګری کـــوی .

داپر يديو په قبيله کـــــــیډير ښه سپايا ن موند ل کيږی .او نوی ځوانا ن يی دانګر يزا نو پـــه پلی پوځ کی شا مليدو سره ډيـــره مينه لری لکه چی اوس هم پـــه مختلفو ځايو نوکی ددغه قبيلـــــی تقريباً (۲۰۰۰) تنه دسر کار پـــه پوځ کی په نوکر ی بوخت دی .

ددغی قبيلی زيات خلك چی ويل کيږی شمير به يی تر زرو کورونو زيا ت وی دهند په دکن کی ميشته د ی ، ا و ر يـــد ل کيـــږ ی .چی ددو ی يو شمير په پا تی پـــــتکی او خو کوره تو ر يی دلوديا نه په ضلع کی استوګنه لری . هغوی دجهانګير پاچا د واکمنی په دوره کی داغتشا شو نو د رامنځ ته کو لـــواو دپير تاريك (پير رو ښان) له اولادی سره دګډو ن په سبب هلته وليږل شو ل او په دکن اوپانی پت کی په خواره واره ډو ل آباد دی.په هغه وخت کی رستم خان اپريدی يو مشهور سړی وچی دده کورنی هم پانی پت ته ليږ دول شوی وه .

ددو ی یو شو کوره په کشمیر ،تونك او همدا راز شل کوره یوسفی
دمسعود و او و زیر و په سیمه کی چی له هغو نه یی خلور کوره پسه
خاص کانی گرم کی استو گنه لری.

دختکو دشجر ی په باب یادونه :

دا څر گنده خبره ده چی مغلکی،سینی ، او ریاخیل او شلوزی او په
اصل کی ختك نه دی خو ډیر ،موده‌وشوه چی ددو ی نیکو نه د ختکوله
قبیلی سره یو ځا ی شو ی اوځرنګه چی دوی دختکو په قبیله کی‌ډیرو -
دونه او خپلوی کړی دی نوځکه له دوی سره داسی گډ شوی‌دی چی
اوس دوی هم دختکو په نامه بلـلکیږی . دمغلکی ښا خ دمغو ل په
نوم دیوه سړی اولاده ده . چی په ختکو کی یی واده کړی و او دهغـه
اولاده دمغلکی په نامه سره‌مشهوره‌شوه . او د سینی ښاخ هم ختك نه
دی او ددلا زاکو دښاخ یوه ســړی‌چی سین نومیده په ختکو کی یـی
واده و کړ او دخپل خسر په کورکی‌اوسیده چی دده اولاده دسینی پـه
نامه یادیږی چی دادولړه ښا خو نه په وصلی توگه دختکو قبیـلی د
بولاق له ښاخ سره گډ د ی .داوړ یاښاخ حالات په دی ډول دی چی د
مهمند ی په نوم یوی کونډ ی ښځی له یوه سړی سره ولده وکړ او د
پخوانی میره زو ی یی چی‌اوړ یـا نومیده له ځان سره راو ســت
مهمند ی ددغه ښځی احترا م پـه سبب نو موړی هلك له ځا ن سره
واخیست او په برخه کی یی له‌ځان‌سره گډ کړ او هغه ته یی دکـو م
ختك لور نکا ح کړه چی دده اولاده ظاوزیا خیلو په نامه یادیږی او د
شلوزی ښا خ دیعقو ب دزو ی‌رشیداولاده ده .

نو موړی دخلیلو له قبیلی نه وه‌رشید په پخوا و ختونو کی د علی
خان په نو م دیوه ختك له لـو رسره‌و اده کړی و او دختکو پـه
سیمه کی اوسیده دده نسل دده دمیر منی په نوم چی شلوزی‌نو میده
ونو مول شو . همدا رنګ دنګر زی‌هم یو وصلی ښاخ دی. دغـه دری
واړه وصلی ښا خونه د تر یــو سره گډ دی له دوی سره‌برابـره
برخه لری او ختك ور ته و یـسلکیږی .

دکرران د لمسی لقمان یا ختک بن برهان نسب نامه



دانوخیل بن برکویط بن تری د نسب شجره



د ختک د لمسی ترکی بن تورمان د نسب شجره



د ختک د دویم زوی بولاق نسب نامه



دختکو د قبیلې حالاتو بیان

ددغه قبیلې لوی نیکه لقمان نومیده چې دکړان لمسی و او د لقمان نه ختك ته دده نوم او ښتلو علت په با ب داسې ویل کیږی چې یوه ورځ لقمان له خپلو وروڼو عثمان اتمان او ځدران سره دښکار یا کوم بل کار له پاره صحرا ته تللی و په دغه وخت کې دوی ناڅاپه څلور ځوانې ښځې چې ددوی له کالیو نه دپیغلتوب نښې ښکاریدې ولیدې چې ددوی په خوا راروانې وې ، په دغه وخت کې دوی په خپلو مینځو کې سلا وکړه چې دالوی ښکار به تر لاسه کوی او پچه به ور باندې اچوی او دپچې له مخې به دوی ته یوه یوه ښځه ورسیږی.

څرنګه چې لقمان تر نورو مشر وو یې ویل چې زه به لومړی له دوی نه یوه خوښه کړم په پاتې دریو باندې تاسې پچه واچوی ، په دغه وخت کې لقمان له هغو څلورو ښځو نه یوه پرته له دې چې مخ یې لیدلی وی یوازې دکالیو له مخې انتخاب کړه او نورو ورو ڼو یې د پچو په اساس یوه یوه ښځه انتخا ب کړه . کله چې دوی ولیدل نو دلقمان په برخه یوه توره او بدرنګه ښځه رسیدلی وه . خو څرنګه چې هغه دنوموړی په نا مه شوی وه له غیر ته یې ومنله کله چې نورو وروڼو یې دلقمان دغه حالت ولیده نو په خندا شول او په پښتو ژ به یې وویل چې لقمان په ختڼه لاړ اوپه پښتو کې دامتل مشهور دی . کله چې څوك په کوم کار کې بیر ته پاتې شی او یا وغولیږی نو نور ور ته وایی چې په ختڼه لاړ .

ددغه عجیبې پیښې له مخې لقمان دختك په نوم داسې شهرت و مو ند چې اوس دده ټول نسل دختك په نامه بلل کیږی دمحمد ی میر منې نه چې سبا که نومیده دختك دو ه نارینه اولاد و نه دنیاته را غلل چې یوه باندې دتورمان او بل باندې بولاق نوم کیښود چې د ختکو ټو له قبیله ددغو دو وروڼو اولا د ده چې دهر یوه حالات دښاخو نو او د څانګو سره دنسب په شجره کې راغلی دی .

دتور مان اولاده له بولاق اولا دی نه دشمیر له مخې ډیره زیاته ده . دتورما ن له دوو زامنو نه چې دنسب په شجره کې هم راغلی دی

ترې ډېر پوه او لايق و ، چې د هغـه په اساس د تورما ن توله اولا د ه
د ترې په نامه سره مشهوره ده .

د پخوانيو پښتنو بيان او وسنی ملك ته د دوی د راتلو څرنګوالی

جوته ده چې په پيل کې د ختکو قبيله د شوا ل په غره کې ميشتـه
وه نو موړی غر د سليما ن د غره يوه لويد يځه لړی ده ، چې او س پـه
دغه غره باند ی دو زيرو قبيلــه تسلط لري.. له دغه ځا يه تقر يباً
شپږ سوه کاله وړاند ی د منګلـو او هنی ښاخو نه د بنو سيمـــــی
ته ننوتل . د دغه ځای ځمکـه ا وويااله چې سد راون ، نو ميړی ا و
اوس هلته دو زيرو احمد زيـــو بيز نخيل سپيرکی او سيړی پـــه
هغه وخت کی د ختکو په لاس کی وو او څرنګه چې وړاند ی وو يـــل
شول کله چې دهنی او منګلو ښـاخونه د شيتکو د ښاخ له خوا پـــه
هماغه ډول چې د بنو څيو د تا ريخ په برخه کی وويل شول له بنو نه
وايستل شو ل . نو په دغه وخت کی د ختکو سره د بنو څيو دښمنــی
پيل شو ه او له دی املـه يی د سدراون ځمکه خو شی او قطبی او لو يد ــ
يځو غرو نو ته چې او س د ختکـو د غرو په نامه بلل کيږی لاړل او په
ګربو غه تيری ، چوتره ، لا چې ا وشکر درې باندی يی ترنيــــلا ب
يعنی د سند تر روده پوری يـــــی قبضه ټينګه کړه او څرنګه چـــی
دغه غرپه هغه وخت کـــــــــــی ښـــــه آبا د شـــــــو ی نه و
نو ځکه يی هغه بی له کو مـــــی شخړی او جګړی ترلاسه کړ، پد غه
وخت کی له ريسی نه نيو لی تـــر کوهاټه پور ی داوړکزيو قبيلـــه
ميشته وه ، لويد يځ ته د کر مــــی په لاره د بنګښو قبيله په خانه کوچ
ډول راغلی وه او د هغو ی او ور ـ کزيو تر منځ جګړه پيښه شـــو ه
او څر نګه چې له پخوا نـــــــــه داورکزيو او ختکو تر مينځ يو لـــړ
شخړی موجود ی وی نو په دغه وخت کی ختکو له بنګښو سره مر ستــه
وکړه او کو هاټ له اوړ کز يو نــه د بنګښو لاس ته ورغی او ريسی ،
پټياله ، زيړه ، توړه او تر څيری پوری سيمی د ختکو لاس ته ورغلی
او د ختکو او بنګښو تر مينځ يـــو غر چې د کدا خيلو اولا چې تر مينځ
موقعيت لری سر حد و ټاکل شـــو ، چې تر اوسه پوری هم دغه سر حد
پخپل حال پاتی دی . تر هغـــــــــه وروسته کله چې د ختکو قبيلی په
شمير کی زياتوالی را غی په هماغه تناسب يی خپلو مقبو ضه سيمو ته
هم پراختيا ور کړه او اوس يی هغه ټول پراخ ملك نيولی چې پـــــــه
پيښور کی د يو سفز يو د سيمی او د

کابل یالنډی سیند له شما لې څنډونه نیولی تر کالاباغ، عیسی خیلو، مروتو، دبنو د ضلعې و زیر و او دسند رود تر لو ید یځو څنډو پورې غزیدلی دی.

دختکو ملك د کوږ والی سر «سره شمالا او جنو با اوږد پروت، دی او دغه اوږد والی د کابل سیند نه دمالگینو غرونو تر سهیل پورې تقریبا سل میله دی.

منځنی پلن والی یی له ختیځ نه لو ید یځ خواته تقریبا شلو ـ پښتو، میلو ته رسیږي. ختیځې خواته یی اکثرا دسند رود موقعیت لري، خو دنوي یو ښاخ چې ساغرې نو میږي در او لپنډی، ضلعی دمکهډ په ښار اوله هغه نه سهیل ته ترمارې پورې دسند

دریا ب په لو ید یځه غاړه تسلط لري، خودمکهډ ښاراودغه دشاخوانه پر ته پاتی دختیځې غاړې ختـك کمزورې دی. دختکو د ملـك لوید یځ خوا ته داپرید یو، بنگښواونورو قبیلو پولی سره یو ځای کیږي او سهیل ته یی دبنو پـه ضلعه کی میشته قبیلی او سیږي. دختکو دملك سهیلی بر خو تـه سخت او صعب العبور غرو نه پراته دی، دختکو تو له سیمه دانگریزی سر کار رعیت دی.

څرنگه چې پور ته وویل شو لـ د دوی ملك د کابل یا لنډی سیند نه سهیل خوا ته پروت دی.

ددی نه پر ته د یوسفزیو پـه سیمه کی تقریبا شـو ا رلس زره تنه ختك او سیږي.

دختکو د مشرانو و ړاندې تـگ اودترقی څر نگوالی:

څرنگه چې په تولو قبیلو کـې مروجه ده چې هر یو ښا خ یـو یا څو تنه ملکا ن لري او دملـك خطاب ور ته کیږي، په همدغـه ډول دختکو قبیلی هم یو شمیـر ملکان درلود لاو دخپل ښاخ مشری به یې دلوټ اولار و هنی په وخت کی په غاړه لر له چې ددو ی لـه ډلی نه درویش محمد چې چنجو هم بلل کیده او دحسن خیلو دښـا خ مشرو داکبر پاچا دواکمنی په وخت کی ډیر شهرت مو ندلی اوزړور انسان و. همدا راز دده زو ی ملك اکوړ «هم له خپل پلار نه کم نه و او د

پیښور او لا هور لو یی لار ی دسندرود له لو ید یځو غاړ و نه تر بو شهره پور ی سیمی دده قبیلی دخلکو له خوالوټید لی.

پخپله ملك دکوړ له اټك نه شپږ میله لو ید یځ خوا ته په یـو ه غره کی او سیده او دکیډ کلی دری نه تر نو شهره پوری مسا فرا ن د ده ښکار کنډل کیدل. کله چې اکبر پاچا له هند نه کابل ته را غـی او دااټك کلا بنسټ یی کیښو د نو په دغه کال کی نو موړی دعمو مـی

لارو د منظمو لواولا رو هنو د لـه مینځه وړ لو اعلانوکړ او شا وخوا لوی ځمکه وال یی زا و غو ښتل ا وملك اکوړ ته یی دعا مولارودسا تني وظیفه وسپار له او ددغه کار په بدل کی له خیر آباد نه تر نو شهره پوری اوله تبی نه تر موسو در ی‌پوری دشاهی دربار نه هغه تـه جاگیر ور کړلشو همدا راز زلوزی‌اوسپین خاك هم ده ته ور کړ لشو او هم د کښتیو دتگ راتگ حـــق‌اکوړ نه و تاکل شو له دغه‌و خته ملك اکوړ په لو یو معا ملـو لا س‌پوری کړ .

دبولاق دښا خ له‌خلکو نه یی دزراعتی پیدا وار شلورمه بر خه‌او له یو ی‌قلبی نه یی دوه‌روپی محصول‌اخیسته او په‌هره ښاه‌باند ی‌دکابل پنځلس رو پی او که چا بـــــــه په خپله کیند لی.وه نو (۲۵)روپی په یی محصو ل اخیسته .

دخیر آباد نه تر نو شهر ی پوری‌دتر ی ښا خ میشته و ددو ی نـه دپیدا وارو لسمه برخه اوله یـوی‌برخی ځمکی نه (۳) رو پی محصول اخیسته او دنیل غا ښی نه ترخور م‌او سینی پور ی له هر یوه کورنه دلوگی په نامه دوه روپی کلنـــی‌محصول تر لا سه کیده .

دختکو سیمی دښنني مالگی دکان‌له پاره یی داسی ډر یکړه و کړ ه چی دجڼ له کان نه دختکو قبیلــی‌لپاره دغوایانو په هربار یـــو ه روپی‌او د اپرید یو اونورو نــــه داوو غوا یانو په باریو ه روپــی محصول واخلی او د اوښ پـه یوه‌بار باند ی یوه روپی محصول یـــا قیمت تاکل‌شو ی و او د مالگینـــی‌په کان باند ی دغوایانو له‌دولسو بارو نه یوه روپی اود او ښ لــه دریو بارو نه یوه روپی اخیستــل کیده په هغه وخت د مالگی کوم بل‌کان موجود نه و. له چوترو نــه په هر کور یوازی پنځه روپـــی‌دلوگی محصو ل‌اخیستل کیده اوپیدا واریی له محصول نه معاف وو .

ملك اکوړ ی په‌لار کی یـــــوسرای په خپل نوم جوړ کړ چـــی دسرای اکوړه په نامه یادل کیږ ی. نوموړ ی ډیر مذ هبی تعصب لاره او له هندوانو په تیره بیاله جوگیانوسره یی سخته دښمنی‌لرله‌او دجو- گیـــا نو پـــه و ژ لو کـــی‌تردی اندا ز ی مشهور و کله چی په اتك کی داکبر پاچا حضور تـه‌ورغی نو پاچا دده نه‌پو ښتنه وکړه چی تابه ځو تنه‌خو گیا نی وژ لـــی‌وی ملك اکوړی په ځوا ب کی‌ورته وویل چی شمیر یی زما په یاد نه دی‌خو دهر یوه وژل شوی جوگی دغوږ

کړي مي پـه يوه ځاورېن منګو تي کې اچولي دي چي له هغوي ته ځو متو ته ډك دي . نو خداى پوهيږي چي دغه سخت زړي ساتونكي به لاري ځومره ساتلي وي .

لنډه داچي ملك اكوړ داكبـــر پاچا سره تر نو كړ كيدوو روستــه يو څلو يښت كاله حكمرا ني وكړ ه، تر څو په پاى كي د بولاق د ښـــاخ خلكو نو موړي په پير سباك كـــي چي داكوړي اونو ښهره تر مينـــځ موقعيت لري وو اژه . داكوړ تـــرمړيني و روسته دهغه مشر زوى يحيى خا ن دخپل ملك مشر شو چي دده په وخت كي ديو سفز يـــو ، مندړ و او ختكو تر مينځ كلكـــه دښمني پيښه شوه . يحيى خـــا ن تر يو شپيتو كالو حكمراني وروسته دخپل زوى علم خان سره يو ځاى ووژل شو او دده ځاى دنو موړ ي بل ځوى شهباز و نيوه . دى ډيـــر پوه سړي او ښايي چي د پوهى ســـر ه سره يي په عدالت چلند كړى واى خو داسي و نه شول اوهغه دډيـــروكوچنيو نفساني غو ښتنو په سبب د خداى ډير بيګناه بنده كـــــا ن په هغو جګړو كي چي ددوى ا و يوسفز يو تر مينځ پيښي شو ى ،دده له خوا ووژل شو ل . په پاى كي دى هم تريو د يرش كاله حكمرا نى وروسته دكمال زيو ، يوسفز يو په سيمه كي په داسي حال كي چـــي لوټما ران يي تعقيبو ل دهغه تيرى په ذريعه ووژل شو چي دده پـــه سر باندى و لګيده .*

---

*شهبا ز خان په ډبر ه نه د ى ويشتل سو ى بلكه غشي يي پـــر غوږ يچنه ښښتي و په تاريخ مرصع (٢٧٠مخ) كي ليكـــلي دي «دى (شهبازخان) په شقيقه په غشـــي ويشتل شوى و .» خو شال خـــا ن ويلي دي : « ليك زخمي ز تير بـــر روما ند» ــ په دغو ذدواړو)اقتبا ـ سو نو كي غشي اوتير راغلي د ي.(رشاد)

تر شهباز خان و روسته دده مزوی خوشحال خان دشاه جهان پاچا په امر دختهو دقبیلی مشرشو، نو موږی دپاچا په حکم دخپلی قبیلی نه یو پوځ راټول کړ او داجمیر په سیمه کی د تاراګډه په کلا ** باندی دیر غل په وخت کی یی پاچا ته ډیر خدمتونه وکړه هلته چی کوم راجا یاغی شوی وهغه ته یی ماته ورکړه او کله چی کلا فتح شوه او دی بیرته لاهور ته دپاچا حضور ته راغی نو شاه جهان هغه. ته څلور لکه نغدی روپی وبخښلی اودکال یونیم لك روپی جاګیر یی په دی شرط ورته و ټاکه چی پنځه سوه سپاره او زر تنه پلی پوځ دشاهی خدمت له پاره حاضر کړی ،خوشحال خان په ختکو ،باندی پنځوس کاله حکمرانی و کړه* چی په دغه موده کی یی د منډړ و اویوسفزو سره ډیری جګړی وکړی چی څو ځله یی ماته وخوړه او څو ځله یی بری په برخه شوی و خو د پوهی په سبب یی د شاه جهان دخوښی په خلاف په خطرناکو چارو کی لاس و هنه نه کوله څه هم دمنډړو او یوسفزیو سره د میراثی عداوت په سبب جنګیده خو دغه جګړی یی داسی ښودلی چی ګوا کی پاچا ته خدمت کوی . ددی له پاره چی منډړ او یوسف زی دپاچا دغضب ورګرځیدلیوو په دغه ډول دشاه جهان دواکمنی په دوره کی لوړ مو قفلاره او دریاست لاری چاری یی سمی کړی وی .

** تاراګړه کلا په اجمیر کی نه ده ـ بلکه دشرقی پنجاب د چنبی په ریاست کی واقع ده دتاراګړه شمال ته دلهوزی جنوب ته نور ـ پور او ختیځ ته چنبه پرته ده دنور پور په جنوب کی پتیان کوټ (پتهان کوټ) پروت دی . (رشاد)

* خوشال خان دپلار ترمرګ وروروسته په ۱۰۵۰ هـ ق کال د ختکو خان سو او په ۱۰۸۳ هـ ق کال یی دختکو خانی خپل مشر زوی اشرف خان ته وسپار له ،پخپله لا چی ته ولاړ په ۱۰۸٤ هـ ق کال یی له خپل زوی بهرام سره جنګ پیښ سو ځکه چی بهرام دختکو دخانی مدعی و په ۱۰۹۲ هـ ق کال چی اشرف خان مغلو بندی کړ ـ دختکو خانی دبهرام سو له او خوشال خان یی خورا ډیر آزار کړ . (رشاد)

خوشحال خان د موږ وتي طبيعي خاوند و ده په پښتو ژبه ډېرښه شعرونه ویلي او یو دیوان د یادګار په ډول ورنه پاتي دی . دی ددو مره ښو او صافو سره کله چي ده ژوند و خپل شي نو ځر ګنده په شي چي دی دلوړ عزم خاوند و خو ډیر حریص و. له دی کبله یې پای ښه نه و اورنګزیب دخپلي واکمني په دوره کي له ده ناراضه او هغه یې و نیوه تر شپږ کاله زندان نه وروسته ** کله چي دپیښور شاو خوا غر نیو سیموکي شور شو نه را مینځ ته شول نو په دغه وخت کي اورنګزیب د پاچا یې مصلحت له مخي خو شحال خو شي او خاص آس اوخلعت یې ورو با خښنه اوپه عزت سره یې رخصت کړ ، کله چي نوموړی خپل کور ته ورسیده نوخپل زوی اشرف خان یې مشرو تا که داشرف خان بل ورور بهرام خان چي دخپل پلار سره مخالف و دقبیلي په مشر توب یې له پلار او ورور سره دښمني پیل کړه او د کاکا صاحب زوی ضیاء الدین د بهرام سره مرسته و کړه ، له دی امله اشرف خان ، ضیاالدین و نیو ه، په دغه خبره اورنګ زیب ناراض او اشرف خان یې بندی کړ .

نو موړی په بندکي خپل ځان وواژه او دبې عزتی اوسختی له ژوند نه یې ځان وژغوره . او دده په ځای د ده ځوی محمد افضل خان دقبیلي مشر شو خو ځنګه چي دده تره بهرام دخپلي کورني دښمن ونو دی یې هم په کرار پری نه ښود .

** خوشال خان فقط دوه نیم کاله په زندان کي و او دوه کاله یې نور چي په آګره او دهلي کي تیر کړی دی ، بندی نه وخو دعام دربار په ورځ مجبور و چي دربارته د مغل پاچا دسلامي له پاره ورشي ـ دخوشال خان دبند او اجباری اقامت (په آګره او دهلي کي) موده ټوله شلور نیم کاله کیږي . دی د ۱۰۷٤ هـ ق کال د شلور مي خور په نیمایي په پیښور کي بندی شوی او د ۱۰۷٦ هـ ق کال دمیاني دمیا شتي په پنځمه درنتهبورله بنده خلاص سوی د ۱۰۷۹ هـ ق کال په اوایلو یاد ۱۰۷۸ هـ ق کال په اوا خرو کي وطن ته را ستون شوی دی . (رشاد)

کله چې په خوشحال خان باندې زیات غمونه راغلل په ډیر حسرت سره یې له جهان نه سترګې پټې کړې او کله چې بهرام هم مړ شو نو افضل خان تر (٦١) کالو پورې د ختکو قبیلې مشرې په غاړه لرله**، دې پوه او دښه چلند خاوند و، نوموړې اته زامن لرل چې له هغو نه یې دوه تنه محمدعلي خان او سعدالله خان چې په شهید خان باندې مشهور و *** دیا دونې ورډی . چې محمد علي خان په اکوړه کې او سعدالله خان په تیرۍ کې او سیدل د محمد افضل خان **** تر مړینې و روسته ددوی تر مینځ نفاق او جګړې منځ ته راغلې. او محمدعلي خان دجګړې له پاره تیرۍ ته ورغی خو ماته یې وکړه او بیر ته راستون شو خو سعدالله خان دې تعقیب او د اکوړې نه یې هم د هغه لاس لنډ کړ.

سعدالله خان اته زامن لرل ،سعادتمند خان ، خوشحال خان جعفر خان ، افضل خان او شهباز خان چې دغه پنځه تنه له یوې موره ، شرافت له بلې موره ، اولطف الله خان اورنګ مست خان دبیلې مور نه وو . او جعفر خان چې تر ټولو مشرو بې اولاده مړ شو او دهغوي پلار خپل بل زوی خوشحال خان له نورو ځامنو نه هو ښیار وګاڼه او دټیرې حکمرانی یې ورکړه ، په دې وخت کې محمد ـ

---

* له بهرام خان څخه د سرای اکوړه خانی د ۱۱۰٤ هـ ق کال د صفرې په لومړۍ ورځ افضل خان نیولې ده ـ دی (بهرام خان) شل کاله نور هم ژوندی و، په ۱۱۲٤ هـ ق کال و مړ . (رشاد)

** دافضل خان دخانی په با ب دتعلیقا تو برخه و ګورئ .(رشاد)

*** د شهید خان نوم په تاریخ مرصع کې چې دده دخپل پلار افضل خان تالیف دی اسدالله خان کښلی دی ، نه سعدالله خان ـ په حیات افغانی (اصل ٤۲۳ مخ) او تواریخ خورشید جهان (۳٤٤ مخ) کې دغه نوم سعدالله خان سوی دی ، دغه تحریف نورو کتابو نو ته هم لار کړیده .(رشاد)

**** دمحمد افضل خان نوم دلته په حیات افغانی (۳۲۳مخ) او خورشید جهان (۲٤٤ مخ)دواړو کې محمد خان لیکلی دی . (رشاد)

شاه د ډیلی پاچا او نادر په ایران‌کی حکمرانی کوله ، کله چی‌ابدالی احمد شاه هندوستا ن ته تلی و نودسعد الله خان زوی سعاد تمندخان او خو تنه نور ختك سپا یان یــی له ځان سره نوکر کړل دمحمد علی خان زوی لشکر خا ن چی په نــوشهره کی او سیده له درانی پاچـا سره د سعاد تمند خان د همر کا به کیدو او ټللو و روسته په اکوړ ه یرغل و کړ اوسعدالله خا ن یــی دخپل یوه زو ی ســره وو اژه او اکوړه یی لوټ کره کله چــــی‌خو شحالخا ن په تیری کی دغه زړه بو گنوونکی خبر و او ریــــد ه‌نو سمد لا سه یی له ځان ســر ه پوځو نه ملگری او داکوړی پــــه‌خواروان شو لښکر خا ن د بو نیر سیمی ته و تښتیده او خپلـــــه کورنـــــی یی هلته پر یښو د ه او دکن ته ولاړ اود نواب منو خا ن‌سره نو کر شو دو هم خو شحال‌خان احمد شاه له دغی پیښی نه خبـر کړ، درا نی پا چا لښکر خان ونیوه او سعاد تمند خان ته یی وسپا ره چی هغه نو مو ړی دخپل پلار ا و ورو رپه بدل کی ووا ژه.

ابدا لی احمد شاه دخپل فر مان‌له مخی خو شحال خان په تیـری او سعاد تمند خان په اکوړه کی‌حاکمان‌وټا کل . کله چی دمر هته و پو ځ داحمد شاه سره دجگړی له پــا ره‌اټك ته را ور سیده نو دتیری‌حاکم خو شحال خان ته دپاچا له خـــوادهغوی سره مقا بلی دنده ورکړل شوه او په حسن ابدا ل‌نو مـــی‌ځای کی دمر هتو وسره و جنگیـده او شهید شو ، احمد شاه دپیښو رنه وخو ځیده اودمر هته وپوځ یی مات کړ ، دی دسعا دتمند خان لـه‌میرا نی او زړه ور تیا نه ډیـــــر خو شحال‌او هغه ته یی دسر داری‌لقب ور کړ او ترَ جیلم پوری یی‌دی حا کم وټا که او شهبا ز خان یی دشهید خو شحا لخا ن‌په‌ځای د تیری حکمران شو.

دابدا لی احمد شاه زوی تیمو ر شاه سدو زیٔ دخپلی وا کمنی
په دو ره کی سعاد تمند خان تـه دسر فراز خان لقب ور کړ *
داد ختکو ورو ستی مشر و چیٔ دختکو په توله علا قه باند ی
په مستقل ډول حکمرا نی وکـړه. داهغه سر فراز خان وچی تر ده وروـ
سته دختکو ریاست او خانی پـه دوو بر خو وو یشل شوه یو دلو یدـ
یځی سیمی خان چی په تیری کی او سیده اودویم دختیځی ختکوخان
چی داکوړی او جها نګیری وا کـدارو. چی دهر یوه ښاخ ذکر به پـه
بیل او لنډ ډول وشی .

لوړی لویدیځ ښاخ:

دسر دار سر فراز خان ترمړینی وروستـه دده کو چنی ورور شهباز
خان چی دتیری حا کم و په اکو ړی حکمرانی کوله ده دنیک چلند له مخی چی
خپلو ور یر ونو یعنی آصف خا ن او نور الله خان ، اشرف خا ن او
دسردار سر فراز خان له نـو رو ، زامنو سره یی وکړ دهغو ی لـه
جملی نه یی آصف خان ته د ختیځو یعنې اکوړی حکمرا نی ور کړه او
په خپله یی دتیری یعنی لو ید یځو ختکو حکمرا نی او مشری و منله.
سر دار شهباز خان شل زا من لرل چی ددوی نه یی منصور خان خپـل
جا نشین وټا که او په خپله ګوښه نشین شو.

څه مو ده ورو سته منصور خان خپل ورو نا صر خان یا نا صر علی
ته دحکمرانی چاری وسپا رلـی اوناصر خان لس کا له دختکو حا کم
وناصرعلی خان دخپلی لو میر منـی نه دوه زا من لرل ار سلا خـــان
او خو شحال خان . دنا صر خان ترمړینی و روسته دسدوز ی شا ه
محمود دواکمنی په دو ره کی ارسلاخان دلو ید یځو ختکو مشر شـو ه

* دتیمورشاه سدوزی (۱۱۸۶–۱۲۰۷ه.ق) له خوا سعا دت خان
ته دسرفراز خان لقب ور کول پـه حیات افغا نی (۳۲٤ مخ) توا ریخ
خور شید جهـــان (۲٤٥ مخ) او دافغا نستا ن اوبلو جستان پـه
باب یاد ښتو نه نو می کتاب چی په چی په ا نګـــــــر یز ی ژ به
خپور شوی په (٤۳۷) مـــــــخ کی را غلی دی سر فرا زخـــان
تیمور شاه په پاچهی کی دوه کا له ژوندی و. (رشاد)

چې شاه محمود نو موړی له ریاست او مشری نه معزول او

دده په ځای یې دهغه زوی فیروزخان مشرکړ *ارسلا خان دمنصو ر

خان دزوی نادر علی خان په ذریعه وو ژل شو او فیروز خان خوشحال

خان په تیری کی مقرر کړ، خلور کاله وروسته فیروز خان مړ شو

او په دغه وخت کی یې زوی عباس خان دده ځای ونیوه او په دغه خبره

باندی دعباس خان او خوشحال خان تر مینځ جګړه پیښه شوه چی

په نتیجه کی خوشحالخان دعباس خان په ذریعه وو ژل شو او دنو-

موړی توله شتمنی دده کورنۍ میرمنی ته چی فرخنده نومیده .

او په مومانی باندی مشهوره وه ډیره پوهه ښځه وه په میراث

ورسیده .

دخوشحالخان دمړینی سره سره دتیری خلکو دعباس خان حکمرانی

و نه منله او دمنصور خان زوی نادر خان یې ددرسمند نه دحکمرانی

له پاره راوغو ښت .دا هغه نادرخان دی ، چی ارسلا خان یی وژلی

و، او شپږمیاشتی وروسته دسیدخان په نوم یوه سړی چی دارسلا

خان ملازم وناد رعلی دخپل بادار په بدل کی وو اژه .اودده وروړ

بلمل خان یا بخمل خان ددغه ځای مالك شو اود حسن خان زوی رسول

خان چی دسردار شهباز خان لمسی و، دتیری حاکم دنایب په توګه

مقرر کړ په دغه وخت کی دفیروزخان زوی عباس خان دلاهور نه

درنجیت سنګ دخالصه پوځ په ملګر تیا تیری ته راغی اودغه

ځای یی ونیوه . رسول خان اپریدیو ته پناه یو وړ ه او دخوشحال

خان کورنۍ فرخندی دخوا جبه محمد خان سره چی ده ته یی زوی

---

*په حیات افغانی (۳۲۵ مخ)اوخورشید جهان (۲٤٥مخ) دواړ و

کی فیروز خان دارسلا خان زوی ښودل شوی دی- خودا صحی نه دە،

فیروز خان دنور الله خان زوی ونور الله خان دارسلا خان د نیکه

شهباز خان ورار ه و ، دنور الله خان پلار سر فراز خان و . دا کورنۍ

خانی دسر فراز خان داولاد ی وه .(رشاد)

ویلی وو چو تری * ته پناه یــو وړه، عباس‌خان رسول‌خان له اپریا-
یو نه وغوښت او ورو سته تــردي‌چې دوه کا له بند یی ور با نـدې
تیر کړ ، بیا یی په تیری کی‌خپل‌نایب وټا که تر هغه لــږه مو د ه
ورو سته دسردار دوست محمد خان‌ورو نو سر دار یار محمد خان ا و
سردارسلطان‌محمد خان‌بارکزي‌عباس‌خان ته دوکه ور کړه او هغه یــی
پیښور ته ورو غو ښت اود زهرودور کو لو په ذریعه هغه ووا ژ ه،
په دغه وخت کی رسول خان پــــه مستقل ډول دتیری حاکم شو، خواته
اسان اولس اوښان یی دنډ را نــی‌په ډول‌دکو هاټ کور نر نواب‌صمد
خان بارکزی ** ور لیږل او د مــالګین دما لګی دکان عا یدات هم ده
ته ور کول کیدل . انه
دعباس خان ور ور خواص خا نهم د سکانو په مرسته تر شپــږی
میاشتو پور ی په تیری حکو مــت‌وکړ.خوکله چی کنور ګهړ ک سنګ
دی بندی کړ نور سول خان‌یو ځــل بیا دتیری حکمران شو. سر دار -
سلطان محمد خان بار کزی رسو لخان له کاره ګو ښه او بلند خا ن
یی ددغه ځای حا کم وټا که او هغه‌هم په دی‌شرطچی پنځه زره روپی
نغدی او ما لګین کان عایدات هــم‌درانی سر کار ته ور کړی . یوکال
ورو سته هغه وخت چی دسکا نــو لښکری بنو ته راغلی وی دهغـــو
په مر سته رسول خان بیا پـــــه تیری سلطه ټینګه کړه او خپل‌زوی
شیر دل یی دسکا نو پوځ ته دیــرغمل په ډول وروليږه خو هغـــه
له لاهور نه بیر ته راو تښتید ،له دغه‌وخته دوه کاله ورو ستــه
سر دار پیر محمد خان بار کــزی‌په تیری با ندی یر غل وکړ،
او رسول خان داطا عت تر قبلولــو‌او دو لس‌زره رو پو تر منلوپرته
دجته او ما لګین دکا نو نو عا یــدهم ده ته‌وټاکل . او میا سیدن‌شاه
دخورم او سنی سیمی په شپږه زره‌او رسول خان دبارك او تیری‌نوری
سیمی په شپږ زره اجا ره کړی اودرانیو خپل ملازم د ما لګی‌دما لګین

* تواریخ خوریشید جها ن
په ۲۴۵ مخ کی دچو تری پر ځای‌تیرا لیکی ده . (رشاد)

** سر دارعبدا لصمد خان بارکزی‌هم دامیر دو ست محمد خان ورو ر
و- دخو ګیانو او سرخر ودسرداران‌ددغه عبدا لصمد خان (۱۲۰۰ -
۱۲٤٤ ه.ق) له‌ نسله دی.(رشاد)

او جته کا نو نو ته داجا ړئ پیسودتر لاسه کو لو له پاره ولیږه او دا معا مله تر ټلو رو کلونو پوری په خپل شکل پاتی وه. تر هغه ورو سته نو مو ړی اجا ره پنځلس زره رو پی وټا کل شوه او تر هغه ورو سته کله چی سکا نو پیښبور فتح او هری سنگ پیښبو رته ننوت، پیر محمد خان بار کزی دهنکو ا وکور می لـه لاری، کابـل ته ولاړ او په دویم میاشت سگ حکمران کوهاټ ته ور سیده او هغه وخت چی عطر سنگ سند ها نوا لیـه دکوهاټ حکمر ان شو نو ده درسول خان دبسمن سیدن شاه په مرستـه دسکها نو یو پوځ دتیری نیو لو له پاره هغی خوا ته ولیږه او هغـه وخت یی چی دغه ځای ونیوه دار سلا خان زوی شهباز خان اوسید نشاه په لاچی او تیری کی مقررشول. سکانو په تیری کی یوه تانه جوړه کړه ، رسول خان وتښتیده ، ا و ددغه ځای به ټیکه (۲۲۰۰۰)روپی وټا کل شوه اود ما لگی عایدات هم ټیکه دار ته وسپا رل شـو ل خوهغه وخت چی عطر سنگ لـه سیدن شاه نه یر غل وغو ښت نـوهغه دځان په پټو لو سره له دغه، کار نه ډډه وکړه او شهباز خان هم دغه خبره ونه منله نو په دغـه وخت کی دتیری ریا ست بلمل خان بلمـل خا ن یا بلند خـان * ته ور کړل شو او هغه وخت چی دکو هاټ ضلع دسکا نو له خـوا سر دار سلطان محمد خان بار کزی ته ور کړل شوه نو په دغه وخت کی ختکو درسول خان په تشو یـق په داسی حال کی چی دسکانو په تانه کی تقر یباً دوه نیم سوه سپا یا نمیشته وو، په هغوی یر غل و کړ او وو ژل چی په دغه یر غـل کی ددوی افسر رام سنگ هم ووژ شو او تیری رسول خان ته په لاس ور غله اوسلطا ن محمد خان بار ل کزی درسول خان نه دسکا نـوله خوا دټاکل شو و رو پیو پـه نسبت زیا تی رو پی وغو ښتلی نوموړی دری زره رو پی کو هاټ ته راوړی او دپاتی رو پیو دراوړلوله پا ره تیری ته روان شو او کلـه چی دغه ځای ته ور سیده نو پـه بغا وت یی لاس پوری کړ او هغه وخت چی سر دار سلطان محمدخان ته دغه خبر ورو رسیده نو تیری ته یی لښکری ولیږ لی او رسو ل خان له تیری نه بیر ته تک تـه

---

* په تیرو مخو نو کی بلمل خـان یا بخمل راغلی اود لته بلمـغ

*په تیرو مخو نو کی بلمل خان یامعلومه نه ده چی کوم به یی صحیح وی بلمل یا بخمل که بلمل یا بلنـد (ژبا ړو نکی) .

مبحبور شو او بلند خان او سیدن‌شاه (۲۷) زرّ ور وپیو په منلوسره تیری نر لاسه کړه ، تر دو یمی جګړی ورو سته رسول خان مجبور شو چی په پیښورکی سر دارسلطان‌محمد خان ته‌راشی او دلسو اسانو

شلو او ښا نو اود کال څلویښت‌زر ورو پیو په منلو سره یـــی دتیری‌حکو مت تر لاسه کړ اورسول‌خان دده دمرګ تر،ور ځی‌پو ر ی چی اووه کا له ورو سته پیش شوپه تیری حکمرانی کوله او سلطان

محمد خان خپل لمسی ته درسو ل‌خان لور وکړه او همدا راز خپلــه لور یی درسول‌خان زوی فتح جنګ‌خان ته نکاح کړه همدا وجه‌وه چی رسول خان تر ډیری مودی په خپل‌حال پاتی و .له بله پلوه رسو ل خان بی‌بی فر خنده چی له خوشحال‌خان نه کو نده پاتی شوی وه خپل ځانته نکاح کړی وه چی دهغی لــه بطن نه دده زوی فتح جنګ خــان زیږ یدلی و. خلك وایی چی رسول‌خان دوباد ناروغی په اثر مړشوی‌و. دده تر مرګ وروسته بی‌بی‌فرخندی‌دخپل اصلی زوی فتح جنګ خا ن دکو چینیو الی له امله خپل بـــل‌زوی چی اصلا دد ی له بطن نـــه

واو هغی‌ورته څوی‌ویلی وو درسول‌خان په ځا ی وټا که چی نو مو ړی تر او سه‌هم دتیری رئیس دی .اوخواجه محمد خا ن دخو شحا ل لــه دویمی میر منی نه زیږ ید لی و.

په (۱۸٤۷) عیسوی کال کـــــې کله‌چی میجر تیلر دکوها ټله لاری دیوه‌پو ځ سره بنو ته خوا جـــه محمد خان له نوموړی سره هرډول مرسته وکړه او کله چی تیلر بنو ته ورسیده نو سردار سلطان‌محمد خان بارکزی خواجه محمدخان ختك‌پیښور ته وروغو ښت اونو مو ړ ی یی هلته بندی او دتیری حکمرانی یی خپل زوی محمد سرور خان تــه ورکړه او سید خان یی د هغه مـــر ستیال مقرر کړ له نیکه مرغه په هر ډول چی و دخواجه محمد خــان دبندی کیدو حال دکرنیل لار نـــس غوږونو ته ورورسیده او د هغه له ویری سلطان محمد خان ، خواجـه محمد خان رخصت کړ. له بله پلوه فرخنده بی‌بی هم دختکو لښکـر ی راټولی او محمد سرور خان‌بارکزی یی له تیری نه وایست . نوموړی فکر کاوه چی په دغه بلوا کــــی خواجه محمد خان ختك هم لاس‌لری نو ځکه یی خپل ورور خواجه‌محمــد خان بارکزی ته چی په کوهاټ کـی وخبر ورکړ چی خواجه محمدخان‌ختك ګرفتار کړی د نیکه مرغه استـــاد

وی چــــــی دغه خبرو ترسره ، په لارکی یی دخواجه محمد خان ختك سره ولیدل او بیٔ له دی چی دی یی پیژندلی وی له پیغام نه یی خبر کی

اوهغه وخت چی خواجه محمدخا ن ختك دغه خبرو اوریده نو په ډیر سرعت یی ځان تیری ته ورساوه او هلته دپخوا په شان په حکمر انی بوخت شو، خو هغه وخت چی سلطان محمدخان کوهاټ ته راغی نو تیری ته یی دلښکر ودلیږلو نیت وکړ په همدی وخت د کرنیل لارنس لیك ده تــه وروورسیده چی دی یی له دغه کار نه منع کړی و.

په (۱۸٤۷) عیسوی کال کی دسکانو دبغاوت په وخت خوا جـــــه محمدخان ختك دانگر یزی سر کـــارپلوی او خپل یو خپلوا ن شهباز خان یی د مرو تو په لکی نو مــی ځای ک ی دمیجر ټیلر کمپ تـــــه ورولیږه اوکله چی سردار محمداعظم خان له بنو نه او خوا جه محمدخان بارکزی له کو هاټ نه په شاشو ل نو هغو ی متیری لوټ کړه او خواجه محمد خا ن ختك ځان گوښه کړ .

دسکا نو تر بغاو ت و روستـه انگر یزی سر کار په لو مړی کـا ل ددرانیو ددور ی تاکلی پیســــــی واخیستی او په دویم کال یی نــو ی اندازه وتاکله او ملکی عا یـدا ت سر کاری شول او دغه علاقی تــه د: مالیی په باب یوه اندازه رعایت په پام کی ونیول شو او دخوا جــه محمدخا ن ډیرو ند تر پا یه پـور ی نوموړی ته وسپارل شوه اودعدالت دچارو انتظام سر کار پخپله غا ړه واخیست .

درسول خا ن زو ی فتح جنــگ خان دځوانی په مرحله کی وو ژ ل شو او خلك داسی عقیده لری چی ښایی نو موړی ته په زهر ورکړ ل شوی ، وی . تر دغه وخته لـږ ه موده و روسته فرخنده هم مړه شوه نو په دغه وخت کی له خوا جه محمدخان نه پر ته بل شوك ددغه مقام لایق او وړ پاتی نشو ، د(۱۸۵۷ع) کال په بلواکی خوا جه محمد خا ن په ډیر ښه نیت د سر کار په خدمت بوخت و او دغه خیر خواهی په بدل کی دلو ید یځو ختکو مشری هم په هماغه مشخصه نسل په نسل خواجه محمدخا ن ته و رو بخښل شوه اوده ته په خپل جاگیر کی په (۱۸٦۱) عیسوی کال د انگر یز سر کـــارلخوا د لو مړی در جه نه ښکتـــه مجستر یت مقام ورکړل شو .او س هم خوا جه محمد خان په دایمی ډول ددغه ځان خاو ند او دانگر یز ی سرکار پلوی دی .

دویم ختیځ ښاخ :

ځرنګه چې وړاندې ووېل شول سعادتمند خان چې لقب یې سر فراز خان و، په ټولو خټکو حکم چلاوه او په هغه وخت کې د خټکو خانانو دارالریاست اکوړه و. سردار شهباز خان د خپل ورور سر فراز خان په امر د تیرې حکمرانان او کله چې سر فراز خان مړ شو نو د هغه له ډېرو زامنو نه آصف خان او نورالله خان تر نورو مشهور و آصف خان د مشرۍ خټکو خان شو. نورالله خان هم ډېر زامن لرل چې کوچنی یې فیروز خان نومیده او نوموړی هغه وخت چې له درانی پوځ سره کشمیر ته ولاړ نو د عزت او نامه خاوند شو او کله چې بیرته راستون شو د خپل تره آصف خان په ضد یې بغاوت وکړ. نوموړی یې د یوسفزیو خواته د شاړه او په خپله یې مشري تر لاسه کړه. تر فیروز خان وروسته او د ده زوی د عباس خان مشر شو او دا هغه وخت و چې سکانو په پېښور یرغل وکړه په هغه وخت مهاراجا رنجیت سنګ د سند له رود نه تیر خو عباس خان په یو ډول ځان له هغه نه وژغوره او خپله وفاداري یې ورنه وښودله، مهاراجا د دغه کار په بدل کې د هغه مشري او خاني په خپل حال پرېښوده او په خپل مینځ کې یې د دوستۍ تړون وکړ او خپلې پګړۍ یې د دوستۍ په ډول سره بدلې کړې کله چې د پېښور بارکزي حکمرانان د دغه خبرو او رېدونو په عباس خان باندې بدګمان او د هغه د وژلو نیت یې وکړ او داسې پلان یې جوړ کړ چې عالم خان اورکزی یې د څو تنو نورو سپین ږیرو سره د جرګې په ډول ورولېږه او په چل یې د میلمه په ډول پېښور ته وروغوښت او کله چې نوموړی د عالم خان په ملګرتیا پېښور ته ورورسیده نو یار محمد خان بارکزي هغه ونیوه او څو ورځې وروسته یې د زهرو په واسطه وواژه. عباس خان د خواص په نامه یو ورور لاره چې په لاهور کې د سکانو له خوا نیول شوی وا و هغه وخت چې رنجیت سنګ ډېر ناروغ شو نو ټول بندیان یې خوشې کړل چې په دغه ترڅ کې خواص خان خوشې او کور ته د راتللو په وخت د خټکو د سیمې په خوړه نومې ځای کې د نجف خان د زوی محمدافضل خان له خوا په بېګناهۍ ووژل شو، په دغه وخت کې د آصف خان زوی نجف خان چې د افضل خان

پلار وداکوړی ملک و. دنجف خان یوه خور د سردار زردادخان زوی میر احمد خان میرمن وه چې له نوموړی دری لورنی لرلی چې یوه یې د سردار سلطان محمد خان، دویمه یې د پیر محمد خان او دریمه یې د سید محمد خان، میرمنې وې او دوی دری واړه دامیر دوست محمد خان، بارکزی وروڼه وو. د دغی خپلوۍ په وجه نجف خان څو کاله حکمرانی وکړه. او نوموړی به دکال دولس زره روپۍ سردار سلطان محمد خان ته ورکولی. کله چې د پنجاب سپه سالار، هری سنګ پیښور ونیوه نو نجف خان د نیلاب خوا ته وتښتیده او سکانو په جهانګیره کې یوه کلا جوړه کړه او دختکو تولې میدانی سیمې د خالصه سرکار ملکیت وګرځیدلې؛

ختیځو ختکو خانانو ته یوازې غرنۍ سیمې په دې شرط په جاګیر ورکړې ای شوې چې د اټک او پیښور لاره تر خپل حده خلاصه وساتي.

نجف خان د خواص خان د زوی له خوا ووژل شو، دا ځکه چې پلار ئې خواص خان د نجف خان د زوی محمد افضل له خوا وژل شوی و، د نجف خان تر مړینې وروسته د ده زوی محمد افضل خان دامیر دوست محمد خان په امر د خپل پلار په ځای وټاکل شو. چې دهغه بل رقیب د خواص خان تره بوړ جعفر خان نومیده. دنجف خان د زوی محمد افضل خان او جعفر خان جاګیر دکال لپنځه زره روپۍ وچې په دغه شمیر کې دګنبتیو د تنګ راډګ محصول هم شامل و: ګله چې جنوال ابنوی قبیلی چې په ابو قبیله باندې مشهور او د سکانو له خوا د پیښور حاکم و دهغه په وخت کې څه نا څه په جاګیرونو کې تغییرات منځ ته راغلی وو. په (۱۸۴۷) عیسوی کال کې دسکهانو د بغاوت په وخت کې جعفر خان د هغه سند چترسنګ سره مرسته او کرنیل لارنس ته یې دوکه ورکړه د محمد افضل خان په اعمالو باندې د خواص خان بیګناه قتل هم یو داغ دی. نوموړی د (۱۸۵۷) عیسوی کال په بغاوت کې د انګریزی سرکار خیر خواه و نو ځکه د پخوا په شان د ختیځو ختکو مشر پاتی شو چې د سرکار له خوا جاګیر هم ورکړل شوی دی. نوموړی د انګریزی سرکار له خوا پنشن هم تر لاسه کوی او د یو شفریو د علاقې په جمال ګړهی نومی ځای کې استوګنه لري.

دختکو د قبیلې تر منځ دیوالي او بې اتفاقي

خشرنګوالی

څرنګه چې د اکثرو افغانــــــــي (پښتني) قبیلو تر منځ د تښتـــــي دښمني موجوده ده په هماغه ډول دختکو دقبیلې تر منځ هم دښمني لیدل کیږي. دوی په خپله قبیله کې د چاو زانده ی تګ او ترقي ته په ښه سترګه نه ګوري او تل دخپلو سیالانو د سپکاوي په فکر کې وي. ددوی تر منـــځ دپخواني دښمنۍ حال په دې ډول و چې په لومړي سر کې دمیري خیلو زوا یسوړي ښاخونو تر منځ په یوی کوچنۍ معاملي کلکه جګړه مرا منځ ته شوه او ډیر ی وینــي توی شوی دانو خیلو ښاخ لــه خپل و روږښاخ میر خیلو ســره مرسته وکړه چې ددوی ذیو ځای کیدو په سبب دا یسوړي ښاخ زبون شو او بیا د انو خیلو او ساغري ښاخونو تر منځ ډیری ښځي له کبله چې شکر ځاتو ته نو میده سخته دښمني منځ ته را غله چې په نتیجه کې له دواړو خوا وو نه ډیر کسان ووژل شول او کله چې دواړه خواوې کمزورې شوې نو مجبور ایی په خپلو منځو نو ګی سوله وکړه په همــــدې دول اوریا خیلو او پاتي مهمندیو تر منځ دشیشم دسیمی له کبله څو کالــه بدی زوانی وې او بیا د میري خیلو او اسمعیلو تر منځ جګـــــــړه را منځ ته شوې همدا رنګ دمیري خیلو او سیني ښاخونو تر منـــځ څو ځله جګړې پیښې شوې دي، چې په دغو جګړو کې دمیري خیلو له خوا ډیر کسان وژل شوي دي.

دبطي خیلو او بولاق ښاخ تر منځ هم ډیر سخته دښمني موجوده وه او ملک اکوړی او یوسف خان ددغه بې اتفاقي په سبب مړه شول دملک اکوړي د مړینې په سبب د ترې تولاً اولاده سره یو ځای او د بولاقو ښاخ یې دڅو مودې له پاره دملک نه و شاړه چې دغه خلک یوه موده دیو سفر یو په سیمه کـــي سر کړدان وو او یو شمیر په باجوړ کې میشته شول، خو دبولاقو دښاخ ملک نلرو ځان دشهباز خان سره سوله وکړه او بیا خپل پلرنی سیمې ته راغلل.

لنډه دا چې په هــمدې ډول د ختکو دقبیلې د اکثرو ښاخونو تر منځ پخوانی دښمني موجوده دی. که څه هم او س د انګریزي سر کار د انتظام په سبب دا ښکاره دښمنـــي او وینې تویول منع شوی دی خو یو بل ته په زړه نوکې صفا یې نه لري. ظاهرا یې چلند یو دبل سره ډیر ښه خو په پرده کې ددوی تر منځ دښمني روانه ده.

دنورو همسایه قومونو او قبیلو سره ددښمنو خرنګوالی

دختکو په چاپیریال کی داسی کوم قوم یا قبیله نشته چی دهغوی سره دوی جګړی یا دښمنی ونلری په پیل کی د ختکو دقبیلی دانو خیلو ښاخ دبنګښو دقبیلی ددرسمند له ښاخ سره لویه جګړه وکړه او له دواړو خوا وونه ډیر کسان ووژل شول ، خو په دغه جګړه کی ختکو ته کومه په زړه پوری نتیجه تر لاسه نه شوه او بیا د میری خیلو نصرتی ښاخو نو دعیسی خیلو او سرهنګ له ښاخو نو سره چی په اصل کی نیازی دی او د ختکو په سهیلی سیمه کی اوسیدل څو ځله جګړی وکړی . وروسته د مروتو دقبیلی دلوحانی ښاخ څو ځله دبنو د

ضلعی پوری داوان پر قبیلی باندی کی دختکو سره داسی کلکه جګړه وکړه چی په هغی کی په سلګو نو کسان ووژل شول . بیا دو زیرو له قبیلی او معیری خیلو ختکو تر مینځ شخړی را مینځ ته شوی سره له دی چی و زیر و په خپلو کی اتفاق وکړی و ، خو په دی بریالی نشول چی دختکو هغه سیمه چی دنیولو نیت یی درلود و نیسی .

یو ځل دختکو دتری او بولاق ښاخونو په خپلو مینځو کی اتفاق وکړ چی دسکیسر دغ ر ه نه سهیلی خوا ته د ګتهه په لمنو کی دشاه پور تر ضلعی پوری اوان پر قبیلی با ندی تیری وکړی او په لومړی یرغل کی یی دوه مره بریالیتوب ترلاسه کړ چی دبی شمیرلو ټ کړ ی مال نه یی پر ته په سلګو نو نارینه او ښځی یی هم دبندیانو په توګه دځان سره راوستل ، چی وروسته یی دډیرو پیسو په بدل کی خوشی کړل ، خو په دویم یرغل کی دوی ته ډیر زیان و اوښت او په شاتګ ته مجبور شول .

بیا د اپرید یو سره دری ځلی وجنګید ل ، خو دو ی دیوسفزیو او مندوړ و سره تر تولو زیا ته دښمنی لرله او ددو ی تر مینځ لومړی جګړه په مصری بانډه کی په دومره زور او قوت سره وشوه چی د یوسفزیو معتبر ملکان په دغه جګړه کی ووژل شول . له بلی خوا سیمی خان ختک هم له څو تنو ملګرو سره ووژل شول ، تر دغی جګړی وروسته ددو ی تر مینځ څو نوری جګړی هم پیښی شوی چی په هغو کی یوسفزیو ته بری ورپه برخه شو او دو ی یی تر

غرو نو پوری و ځغلول او په ځینوجګړو کی ختکو دوی تر مر غوزپوری په سا و تمبول .

لنډه دا چی دوی ډیوسفزیو سره دو مره جګړی کړی دی چی د هغو ذکر په دغه لنډ مبحث کی نه ځا ئیږی .او س دوی له هیڅیوی قبیلی سره نه دښمنی لری او نه جګړه او په آرا می سره په خپله مقبو ضه سیمه کی په چاروبوخت دی ، په هر حال په او سنی وخت کی د تیا هی او جنګو نو دو ختو نو په پر تله ددی قبیلی شتمنی او آرا می زیاته شوی ده . دد وی دآرا می او چو پتیا ددوی دجنګیا لی وطرت زیږ نده نه ده بلکی دانګر یری سر بار د ښه انتظام له کبله چی دهغه په سبب دهر قوم اوقبیبی حقوق خو ند ی دی دیو سپر شکل لری چی د هغه له کبله ددوی په حقو قو کی هیڅ زیان نه را مینځ ته کیږی او نه دوی پر چا باندی تیری کولای شی . ددغی قبیلی ځوانا ن په پلی پوځ کی د شا ملیدو سره ډیر ه مینه لری . په دوی کی ځینی ډیر ښه سپا یان شته .

ددوی کسبو نه او عادتو نه :

دختکو اکثره خلك دکر نی په چارو بوخت دی ، خو په دی لار کی ډیر زیار نه ګالی، همدا راز دوی سوداګری او دمالکی په خرڅلا وهم لاس پوری کوی. دوی لټ او هوسایی غو ښتو نکی خلك دی. په هر للی ی یوه یاځو حجر ی دعا موخلکو د کښینا ستلو له پاره موجودی وی چی خلك دلته سره راټولیږی ، چلم څکوی اویو دبل سره بی فایدی خبری کوی او دخپل طلب دتر لا سه کولو له پاره دروغ ویل عیب نه ګنی.

ددوی ظاهری بڼی، خوراك اوپو ښاك :

په دغی قبیله کی دلو یو کورنیو نه پر ته ښا یست لږ دی ، خوونی یی لوړی اوکلك خلك دی. دوی دپو ښاك له پاره سپین سپتسین توکر څخه استفاده کوی .دخو تنو شتمنو پر ته دژ می په موسم کی د باجری ډوډی او په ګر می کی د غنمو ډوډی ډیر ه استعما لوی . دغوښی سره غلمینه ډوډی اوله باجری سره شید ی ډیری خو ښو ی او دومره لو یی ډوډی پخو ی چی یوه دانه یی دخو تنو له پاره کفایت کوی .

د برهان بن ککي د دریم زوی ښدران د نسب شجره



دغو ښنې اوو یر دود او دستور :

په دوی کی داسی دود دی چی داخلیك دنکاح اوکوژدی په وخت کی او شتمن یې د ناریینه اولا د د پیدا کیدو او دهغه دختنه کولو په وخت کې هم خوشالی کوی اوخپل نږدی دوستان او ملګری په دغو خوشالیو کې دګډون له پاره راغواړی او په تماشا* او سیل کسی بی پیری هلکان چی لختي یا ګډیدونی یې بولي نڅا کوی همدا راز دد غي قبیلې ځوانان د دول او سورنی سره په داسی حال کې چی توري یې له تیکی را ایستلی اوشمیر یې د پنځو سو په شاو خوا کی وی دساز سره یو ځای په ډیر تاثیر لرونکی تماشه جوړوی چی ددغی تماشي لیدنه ، د تورو پر ښناو په چالاکی سره ددوی تاوید ل اوسره له دې چې په پوره کتار کی لیند لند دول ولاړ او په تما شبیه بوخت وی او دتورو نه یې یو بیل ته کوم زیان نه رسیږی انسان ته عجیب خوندا و لذت ور بخښی ،ددغی سیمی دخلکو په ژبه دغی تما شی او لوبی ته بها نګړه وایی.

ددوی په واده کی زیات خرڅ او مصرف یو دول افتخار ګڼی اوعموما په ودونو کی ډیر غوړی غوښه او غلمینه دوړی ددوی عمده خواړه دی . د تولو خوښیو سره سره ددوی په غر نیو خلکو کی دارواج هم شته چی دنکاح په وخت کی دنجلی مور او پلار دو لبس په اندازه دشلو نه نیولی تر سلو روپیو پو ري رسیږ ی.

درو پیو د شمیر په تاکلو کی دغه خبره هم دیادونی وړ ده چی کیسه نجلی ځوانه وی یاوړه ، ښکلې وي یا بدرنګه چې په لو مړیو دوو حالتو نوکی زیاتی روپی اخلی – په معززو کور نیو کی بر عکس دنجلی دو اده په وخت کی هغی ته د جهیز په دول دوسی په اندازه له غوجل ګور نه یو څه ورکو ی اودو را سره بنځی هم ځی . دنکاح تر لو په باب دوی داسی رواج لري چی هغه څوك چې نکاح تړی هغه ته پوره رو پی ورکول کیږي .

---

* دلته ښایي دمولف هدف د.تما شي نه پښتني ملی اتڼ وی چي تر اوسه هم په تولو پښتنی سیموکی په جلاجلا دول سره رواج لري.
(ژباړونکی)

دغم او ویر دو داود ستور :

کله چی په دوی کی خوک مړ شي نوتر ښخو لو و روسته په لو مړ ی شپه دکلی ټول خلك دمړی دوارثانو دوډی خوری او که چیری ددوی خپلوان له لیری ځایو نو نه دتعزیت له پاره راغلی وی هغه هم وربانندی زیا تیږی چی دمړی وارثان دماتم او ویر نه پر ته اقتصاد ی زیان هم ګالی .

دطلاق رواج:

ددغې قبیلی په تیتو خلکو کی طلاق ور ګول رواج لری او کله چی ښځه دمیړه سره جوړه نه وی یادمیړ ه زړه دخپلی ښځې نه دیی ځایه ناستي ولاړی په سبب تو رشي نو دیوی اندازی پیسو په بدل کی ښځې ته طلاق ور کوی اودا ښځه دهغه سړی میر من ګیږی چی پیسی یی ور کړی دی . او په دغه ډول طلاق کی ښځه د مهر دغوښتلو نه محرو میږی .

دمیراث دویشلو دود :

دوی دغیر منقو ل جایداد نه ښځو ته برخه نه ورکو ی او که دمړه دمنقوله جایداد نه د هغه لونو ،خو یند و ته که چیری بل کور ته واده شوی وی دبخشش په ډول د وارثا نو لخوا یو څه ورکړل شی ممکنه ده ، خو دغه مال کی دوی کوم حق نلری . په دغه برخه کی د شرعی احکامو په نسبت دوی خپل رواج ته ډیر اهمیت ورکو ی چی دارواج دهاړ و خلکو دخو ښی وړ دی: یار ینه وار ثانو ته ډیار ینه اولادو نه موجودیت په صورت کی دشرعي احکا مو له مخي میراث ویشل کیږی.

ددغې قبیلی تخمینی شمیر :

او س ددی قبیلی دحالا تو په باب کی یوازی همدو مره یاتی دی چی ددو ی دوسله والو کسا نـــو دشمیر په باب یوڅه و لیکل شی. په عامو کی داسي ویل کیږی چی دختکو شمیر شپیته زره دی ، خو مولف ته دغه شمیر لږ څه زیا ت ښکاری. غا لباً په دختکو دقبیلی ټول شمیر پنځوس زره میږه وي که څه هم دختکو دپښاخو نو او دهغوی دشمیر په باب زما سره معلو ما ت شته دي ،خو څرنګه چی دغه شمیر داورنګ زیب عالمګیر په وخت کي لیکل شوي نو ځکه له اوسني شمیر سره مطا بقت نه لری .

داتمانخیل ابن برهان ابن ککی د نسب شجره



دځدرانوقبيله

دوی په غر نيو خلکو کی ډيـــرزيار کښ خلك دی . ددغه قبيلی د استوګنی ځای دخو ست لويد يځ اودزرمت دسيمی ختيځ ته شنه غرنی سيمه ده ، داسی ويل کيږی چـــی د ضرورت په وخت کی ددغه قبيلی له پنځلسو زرو نه زيا ت وسلــه وال کسان حاضريد لای شی . په دغه قبيله کی داختون خيل ښناخ دشمير په لحاظ ډير زيا ت دی،دغه ښنا خ دشمل په علاقه کی چی دخوست دملك دمغربی حدود وسره يوځای کيږی په زيات شمير او سيـــږی ،ددو ی په غرنی ملك کی روانـــی اوبه ، شنه واښه ، ونی ،دمرغانو آواز و نه او سره هوا انسا ن تـــه خو ښی او خو شحالی و ربخشی خوسره له دی هم دکرنی وړ ځمکـــه په کی خورا لږه ده ، اودغه کموا لی تر هغه اندازی دی چی نيږی پـــه مخصوص ډو ل جوړه وی او خاور ی ورباند ی اچو ی او دکرنی له پار ه يی برابر وی . له دی کبله ددغه سيمی پيدا وار دنو موړی قبيلـــی دخلکو له پاره کفايت نه کوی او کال په کال ليد ل کيږی چی دربدر ا و دمزدور ی دپيدا کو لو له پاره هری خوا ته سر ګردانـــــه وی ، دوی خصو صاً دشاه ګانو په ږور ولو اودختو اوپخو ديوالونو په جوړو لـــو کی ډير مهار ت لری . دوی پـــه خورا ك کی جوار ، غنم او وريجـــی استعما لو ی. دخو ست په سيمه کی غنم اوجوار اخلی اوله ځانه سره يی وړی. داحتيا ج په سبب سر ه له دی چی دغه قبيله حقيقتاً دکا بل حاکم رعيت نه دی خو دجګړ و پـــه وخت کی له دغه حاکم سره دحشـــر په ډول مرسته کوی . ددوی پـــه غرنی سيمه کی اکثرا منی ، انار او بادام پيدا کيږی خو دغه قبيلـــه دسوداګر ی سره ډيره مينه نه لری له بهر نه دسوداګر ی وړ شيا ن اخلی خو خلك يی ډير غريـــب او مفلس دی خوسره له دی هم پـــه دوی کی حرا م خور ی او غلا لږه ده ددو ی په چار چا پيره کی د نور وقبيلو خلك په دی ډول ميشته د ی. ختيځ ته يی خو ست وال ،لويد يځ ته يی ګربز ، سهيل ته يی غلجی او شمال ختيځ ته يی منګل او يو شمير توری ددغو قبيلو د ښنا خو لـــه جملی نه دوی دغلجی او منګلـــو دقبيلو سره دښمنی لری خو او س ددو ی تر مينځ کومه جګړه نه شته .

دتړو لا خیلو او د بیټ خیلـــو ترمینځ دښمني موجوده ده ، اوددغه کورنی شخړی علت دادی چې تقریباً شل کاله و ړاندی دعمبر او ګو ر سوری خیل او دمزا یی د ښــاخ دری کسه له خپل ښاخ نه خپه او د سپر خیلو ښا خ سره د همسا یــه په ډول میشته او دخپل ښاخ سوری خیلو دلو تړ لو تکل یی وکړ او ددوی ځارو ی یی له ځانه ســـره بو تلل ، دغه لو ټما را ن د مزا یی دښاخ له خوا تعقیب شول ، دد غــه تعقیب په تر څ کی جګړه مینځ ته راغله او په دغه جګړه کی ددلو ـ خیلو ځانګی دود کی او د سپر خیلو دځانګی نه مت حی وو ژل شو ل او له بلی خوا نه آدم چې دمزا یــی دښا خ و ووژل شو . دد ی خبر ی په سر دو مره لو یه دښمنی مینځ ته راغله چی ددوا ړ و خوا و نــه په بیلو بیلو جګړو کی تقر یبــا شپږ سوه تنه ووژل شو ل او تــر اوسه هم ددغی دښمنی او رو نــه بل دی .

ددغه قبیلی هر یوه ځانګه یــویو لو ی ملك لری چی دخپل ښا خ تولواك دده په لاس کی وی .

او س بیدك ، عزت ، فقیر ، اوزوی نیاز خان دمزایی دځانګی ملکا ن او خړ او علیشیر د بیسبا خیلو دځانګی ، شهمند د زنی خیلو دځانګی او داستا ن زوی پیرك او د مستاخان زوی نیاز خان دمزای دځانګی ملکان دی .

دغه قبیله زیاتره د سپینو وړیو نه جوړ شو ی او ږده کمیسو نه او د بل تو کر لوی پر تکو نــــه اغوندی ددغه قبیلی هر سړی دمزرو څپلی په پښو کوی . څرنګه چــی دغه قبیله له جګړو سره مینه نه لری خو سره له دی هم دمخالفــو ګاوند یو قبیلو دخطر له املــه ددو ی دستور دی چی که چیــر ی هر بالغ ځوان په خپل کور کــی وسله و نه ساتی نو یو غوایی جرم یا ناغه ور باند ی تاکل کیږی ا و بیا دغه غوایی دمجلس له خــــواخوړل کیږی نو ځکه ددو ی وسلــه پوره ده ددغی قبیلی میړو نــــه پیاوړی اوقوی دی .

د کرلان لمسي خوګیاڼي بن ګکي د نسب شجره



د اتمان خیلو قبیله

د دغې قبیلې د لاندې نیو بنیاغونو د نسب شجره د بیهړې اولادې نیکه پورې تر لاسه شوه. د دغه نسب د شجرې نه ښکارېږي چې اتمان خیل هم د کړړانی له نسل څخه دی. د دغه قبیلې د څوارلسمې عیسوي پېړۍ په پیل کې د یوسفزیو د قبیلې په ګډون د تاک او کوهل د غرونو نه د کابل او ننګرهار له لارې پېښور ته راغلل او له هغه ځایه په دوآبه او اشنغر کې د یوسفزیو سره یو ځای او په ګډه اوبنادۍ کې ور سره شریک شول، کله چې د دلازاکو، یوسفزیو او نورو قبیلو تر منځ د لنګر کوټ په میره (ګهړی کپوره) کې جګړه پېښه شوه نو په دغه وخت کې دغه قبیله سره له دې چې د دلازاکو د دوی همقوم کړړانی و، د یوسفزیو په خوا و درېدل او په جګړه کې یې ډېرې هلې ځلې وکړې ویل کیږي چې په دغه جګړه کې اتمان خیلو د غیښو د ویشتلو د دفاع په سبب د مېښو او غوایانو غرمنی خپلې مخې ته نیولې وې او د هغوی په پناه غښي ویشتونکي ځوانان غلیم ته ډېر نږدې ورغلل او د دغو هلو ځلو په نتیجه کې متفقو قبیلو په دلازاکو باندې بریالیتوب تر لاسه کړ. خو یوسفزیو د اتمان خیلو سره کومه نیکي ونه کړه.

دوی تر یوې مودې له پاره تیرا ته راغلل او کله چې د هغه ځای نه یې لاس لنډ شو نو دا رنګ برنګ سیمې ته راغلل چې تراوسه هلته میشته دي.

اتمان خیلو غرنۍ سیمه د سوات او باجوړ تر منځ د غره په سهیلي لوري موقعیت لري د دوی د غره لویدیځ سر د باجوړ تر سهیل پورې او ختیځ سر یې د سوات د سیمې تر جنوب پورې رسیږي، د یوسفزیو په سیمه کې د دوی څو لوی کلي شته، د دوی د غرنیو سیمو شپاړسمه برخه یو څه آباده ده، د دې غرونو په نشیبونو کې له ډېرو نه نیولې تر لسو فټو پورې تیږې دي خاورې ور باندې اچوي او ورپسې یې آواروي او د کرنې له پاره یې برابروي د دوی د کرنې ځمکې اکثراً للمي دي، له دغو غرنیو سیمو نه پرته یو میدان هم د اتمان ـ

خیلو په واك كې دی. دباجوړ پرخوادوی اوږدی وادی ګانې چې دسوات
خوا ته غزېدلې دي او دبا نېزې دسیمې دیو سیمز یودمېدان په شمال
شرقي برخه کې بمیری دڅا تکي اولاده، اسمعیل خیل اوت خیل*
او سه صده میشته دی ، ددوی دګلیو تفصیل دیو سفز یود سیمې
دمبحث په برخه کې راغلی دی دبیمیری داولا دی دوسله وا لو
کسانو شمیر ددوه زر و تنو په شاو خوا کې دی، دوی ډیرلو -
تما راڼ او جنګیا لي دی خبود(۱۸٦٦) عیسوی ګال دجنو ر ی
په میاشت کې د انګریز د پوځ په ذریعه اود پېښو ر کمشنر ر-
نیل جان بیچر په تدبیر دهغوی ،فوت وځپل شو . اواوس دیوه بیه
رعیت په دول ګذاره کوی.دمېداني سیمو اتمان خیل زیاتره دکرني په
چارو لګیاوی ،دوی لومړی دغلا اولوټماری سره ډیره مینه لرله او
هندوان به یې نیول اوله هغوی نه به یې دخو شی کو لو په بدل کې
پیسی اخستلی .دمیا خان دسیمې او سیدو نکي ملك ازاد چې دد غو
غلو ددلې مشرو دګولي دلګېدوله کبله ګو د شوی دي . دکو یې
دسیمې ملك محمد علی یو معتبر سړی دی پا تی اتمان خیل له چپلي
سیمې نه خورا لرې دباندې ځي دو ی دا پر یدو دقبیلی په شان په
ډرونو کې په متفر ق دول اوسېږ ی او په اکثرو ځایونو کې ددوی یو یو
یا دوه کوره موجودوی.ددوی لوی کلی له لسو نه نیولی تر اوولسو
پو ر ی ګورو نه لری او هره یوه ځانګه یې ځانته بیل ملك لري دملکانو
او خا نانو واك او اختیار محدوددی، ددوی تر مینځ کور نی شخړ ی او
جنګو نه ډیردی او اکثرا بی سواده او بی عمله خلك دی دګسب په
بر خه کې دوی په کر نه او مالدا رې بو خت دی غلاوي هم کو ی
ځینې یې په باجوړ کې د اوسپنې سودا ګري کوي ، ددوي یو ښا ك
دباجوړ خلکو ته ور ته دي. تو ل اتمان خیل تقر یبا لس زره کور ه
دی .ددغه قبلیې ځینی کور نه دکابل په شمال یعني کو هدا من
کې میشته دی ، دکو هدا من اتمان خیل دمیوو په خر څو لو ګو زا ره
کوی .ددوی یو ښاخ کو چیا ن دی چې دسړو په مو سم کې لنګر هار
او په اوړی کې کا بل ته را ځي.

---

* اصل : عوت خیل - په تواریخ خورشید جهان کې هم « عوت خیل»
لیکل دی .

دخوږيانی قبیله :

ددغی قبیلی نه شیر زاد ، حضرخیل ، بارك ،او بوبودننگر ها ر په لویدیځ او دسپین غره په شمال لویدیځ کی آباد دی چی په در ی کی دشیرزاد داو لادی شمیرزیات دی.

دشاه جهان پا چا دتخت کیښناستلو په لو مړی کال دښا دی خیلو اودبارك داولادی لقمان تر مینځ په یوه وړه معا مله لو یی شخړی مینځ ته راغلی ، دلقمان ښاخ دخدرخیلو دمر ستی له کبله شا دی خیل وتړول ، تر هغه ورو سته دشادی خیلو ښاخ دغلجیو په قبیله کی پناه واخیسته. غلجیو ددو ی مرستی ته ملاو تړ له اود کا بل صو بدار سید خان په ملګر تیا یې ددوی دمخالفینو سره سختی جګړ ی وکړی ویل کیږی چی په دغو فسادونو او شخړوکی دبارك له اولاد ی په تر زروتنونه زیات کسان ووژل شول په پای کی شیر زاد او خد ر خیل مطیع او فساد ونه له مینځه ولاړل.

اوس خوږ یانی یوه مشهو ر ه قبیله ده . دوی سخت او صعب العبوره غرو نه لری ، ددوی په سیمه کی انګور ، توت، انار او انځر پیدا کیږی . ددو ی په سیمه کی دری میا شتی وا وره هم اوری. اکثره خلك یی د کر نی په چارو او ځینی یی په ما لدا ری بوخت دی. خود خپلی سیمی نه بهر لږ نک را تګ کوی . دوی جنګیا لی خلك دی . شمیر یی دتوریواو ځا ځیو نه پر ته پنځه زر ه کوره ښودل شوی دی .ددغی قبیلی دهغه ښا خو نو په باب چی دخوست په سیمه کی استو ګنه لری دهغوی په باب په ورو سته معلو مات ورا ندی شی .

دتور یو ښاخ :

دتور یو ښاخ دخو ست د سیمی په شمال اود سپین غره په جنوب کی دکور می دسین په دواړ و غاړودکور می په نامه سیمه کی اوسیږی. دغه سیمه دمخه دبنګښو دقبیلی په لاس کی وه خو پربنګښو با ندی دوی بریالی اودغه ځا ی یی له هغو نه ونیوه خو تر اوسه هم بنګښ یو شمیر د کورمی په سیمه کی دتور یو تر لاس لاند ی ژوند کوی .

بوا لیمین چی دکور می د سیمی په ښکتنی بر خه کی او سیږ ی هغه هم بنګښ له نسل څخه دی.دتور یو ښاخ په پنځو څانګو ویشل شوی دی .چی دهغوی تفصیل دو سله والو کسانو او ملکا نو دشمیر له مخی تشریح کیږی

۱) حمزه خیل دری زره تنــه او لوی ملك یی او مك نومیږی .
۲) مستو خیل دوه زره تنه چی فقیر علی او شنبك یی ملکان د ی.
۳) دپر زی دری زره تنه اودمرحوم مند علـــی خا ن (محمد علی خان) ورور غلام ددوی ملك دی .
٤) علـــــــی زی دو ه زره تنه دو ست محمد او زید علی یـی ملکان دی.
٥) غو ندی خیل دوه زره تنــه او دملکانو نومونه یی نورعـــلی او الله نوردی.

دتور یو دښا خ دوسله وا لـــوکسا نو شمیرمجمو عاً دو لس زره میره ښو دل شوی ، دوی تول دکرنی په چارو بوخت دی خو ځینی یی دمیوو خر څو لو او نورو شیا نـــو په سودا گری هم لاس پو ری کوی دنو موړیو تور یو په سیمه کـــی ور یجی ، جوار او اور بشی زیا تی پیدا کیږی خو غنم او منی هم په کی ډیری دی ، دد وی دسیمـــی پیدا وار دهغو ی له ضرور یا تـــو نه زیا تیږی او هغه نوردی شاوخوا سیمو ته استول کیږی . دکور مـــی دسیمی زیا تره اوسیدونکی وریجـــی خو ری او همدا راز دغنمو دو د ی،جوار او اور بشی هم استعما لوی او په کمه اندا زه دپسو نوغوښه هم خو ری . پوښا ك یی له یو راز دبلو تو کرا نونــــــــه جو ړوی ،کمسیو نه یی او ږده دی، تو پــــی (خولی) په سروی خو ځینی سپینی پگړی یا لو نگی هم په سر وی . د پر تو گونو پا یڅی یی تنگی او پـــاسنی بر خی یی پرا خه و ی. ځینی یی دکمیس دپا سه پشمی دبـــل شال چی سینه یی خلا صه وی اغو ندی .

توری له خوست او بنونه خمتـــــارا وړ ی، دد وی په سیمه کـــی پنبه لږه موندل کیږی .

دحمزه خیلو دوه سوه کور نـــی په کو چی دول ژوند کوی چی دژمی په موسم کی بلندخیلو تهل ته خپلمالو نه دخرڅولولپاره بیایی اودکر می په موسم کی سپین غره ته ځی اودمله خیلو شمیر تقر یباً دوه سوه کورو ته رسیږی دوی ډیر غله دی او دغلا مالو نه تر لاسه کوی.

دکو رمی په سیمه کی دکا بـــلحا کم یوه کلا جوړه کړی ده چـــی اوس هم هلته موجو ده او یـــوشمیرکابلی سپاهیا ن په کی اوسیږی

نو ځکه دوی رعیت او د کابل ریاست تر لاس لاندې کنل کیږي او په هر جریب د کابل یوه نیمه روپۍ محصول ورکوي همدا راز له هر کور نه د کابل یوه روپۍ د لوګي د محصول په نوم اخیستل کیږي : ددوی دکرنې ځمکې ټولې نهرې اود کوز مې له تنین نه خړو بیږي، دتوري قبیلې ټول خلک شیعه او اهل سنت او جماعت سره دښمنی لري . مګر دوی پښه میلمه پالنه اوافغانی پښتني ننګ کې ډیر ښه دي . ددوی په سیمه کې کومې بدرګی ته ضرورت نشته او کار وانو نه بې له کوم خطره ددوی له سیمې نه تیریږي. همدا راز دوی زړه ور او جنګیالي خلک او په پوره اندازه وسله سا تي ددغه ښاخ دخانکو تر مینځ یووالی نه شته . نیمایي قبیله یې دتیرا داوسیدو نکي سید محمود په ګوند کې او نیمایي نور یې د پاړه چنار یانو میا ګانو سید ګل او نوروزافضي سیدانو په ډلې کې چې په کرمه کې او سیږي شامل دي او خود غرضه پیران هغوی په خپل مینځ کې سره جنګوي .

دځاځیو ښاخ :

دغه ښاخ دتور یو شمال لویدیځ ته دپیوار غره سره متصل او له هغه نه پورې په اریوب کې اوسیږي : د دوی خوراک او پوښاک دتور یو ښاخ ته ورته والی لري، خودوی مذهبي عقیده د هغوی بر عکس او ټا ځي اهل سنت او جماعت دي له همدې کبله د دوی او تور یو تر مینځ تل شخړې وي ، دځاځیو توسله والو کسانو شمیر تقریباً پنځه زره . ته ښو دلشوی دوی په میلمه پالنه او پښتني ننګ کې دتور یو په پر تله کمزوري دي.

دتوریو او ځاځیو په باب څیړنه :

خوشحال ختک چې دشاه جهان ټپا چا په دوره کې یې ژوند کاوه پخپل بیاض کې دتوری او ځاځي ښاغونه دکرلان له نسل نه ليکلي او دوی دکرلاني او کرلانی سره ګډوي او ددغه ښاخو لنډو څیني کسانو دغه خبره منلې اوخپله دنسب شجره څوګیاني ابن ککی ابن کو ړان ته رسوي ؛ لکه څرنګه چې دنسب په شجره کې راغلي دي

خو ځیني بیا وایي تو راو جاج دواړه وروڼه وو او دا وائي دقبیلي مونږ دښاخ نه را بېل شوي دي . دوی دخپل ورور بندو ن نه ناراض او دسند رود لو یدیځې غاړې ته را غلل او د دوی اولاده زیاته شوه. او او سنی مقبوضه سیمې یې ونیولې د تور اولاده پته تو زي او د جاج اولاده په جاجي سره مشهوره شوه که څه هم په دې کې شك نشته چې د مو تنه قبیله دجیلم دضلعې د تله ګنګ په سیمه کې او سیږي خو دد ې روایت په باب چې دغه مو ته وي کوم ثبوت تر لاسه نه شو. خو مو لف ته دخو شحال خان قول معتبر ښکاري .

د وی اوس داسې سره ګډ دي چې له نورو افغانانو (پښتنو) سره کوم تو پیر نه لري . د پښتو نه پرته په بله کو مه ژبه نه پو هیږي او په جنګیا لیتوب کې ډیر مشهور دي.

دپړ به ښاخ :

پړبه په اصل کې د خوګیانیو ښاخ دی ، خو اوس بیل ګڼل کیږي او دخوږیانیو له نورو پا تې ښا خو نو ډ ېر لیری دی چې په څپله هم نه پو هیږي چې له خوږیانیو سره کوم اړ یکی لري یا نه ؟ دپړ به دښاخ څانګې په دې ډول دي :

مردی خیل ، میا خیل ، بسی خیل ، سردار خیل ، محمود خیل ، نوري زي ، ملي زي ، اشي زي ، دده خیل او پوچي خیل .

ددغه ښاخ دوسله وا لو کسانو شمیر زر تنه ښودل شوی دی او تول دخوست په سیمه کې اوسیږي او په سپین ګو ټنډ کې دا خل دي :

اوږ یدل کیږي چې لو مړی دخوست په ټوله سیمه باندې د ګرړانی دقبیلي خوږ یا نیو او نورو ښاخو نو قبضه ټینګه کړې وه . دجها نګیرد واکمنۍ په دوره کې دغلجي دقبیلي ځیني ښا خونه دزر مت له سیمې نه را ووتل او د خو ست د ملکز یا نه سیمه یې د ځمکو نه ونیو له او دشاه جهان دواکمنۍ په دوره کې کور نۍ شخړې لږې وې ، داسې ویل کیږي چې په تیرو وختو نو کې د پړ به د ښاخ دوسله والو کسا نو شمیر دریزره تنو ته رسیده خو او س یوا زې زر تنه دي ، ددغه ښا خ زیات شمیر خلك په کر نه بو خت دي او لږ شمیر خلك یې تجا رت او سوداګر ی هم کوي . دوی دخوست حاکم او د کابل دریا ستر عیت دي.

د عبدالرحمن بابا در مان ښاخ:

دغه ښاخ هم دکړ ړانی نه یو ښاخ دی . خلک ددغه ښاخ د ځا نګو شمیر شپږ بولی په دی ډول چی : حاجی خان خیل ، سودی خیل، اصلی احمد خیل ، مدی خیل، ګو ندی اووصلی منګسی دغه شپږو ځانګو ته موزی هم ویل کیږی او متون هم ورته وایی خنودوزی خیل هم په متو نو ور ګډ یږی . داسی روا یت کیږی چی متون په اصل کی دخو ست دیوی سیمی نوم دی. چی په دغه ځای کی داوسید و په سبب ددغه ځای او سید و نکو ته هم متون یا متو نی وایی . د دغه ښا خ دو ګرو شمیر زر تنه ښودل شوی چی دکرنی په چارو بو خت دی .

په خوست کی د کر ړانی قبیلی نور میشته ښا خونه :

په خو ست کی د سبر یو د ښاخ شمیر در ی زره ، ملی شپږ سوه ، لند ریو نیم سل ، اکیبی یو سل، قدم یو سل ، او ها رون خیل هم سلو ته رسیږی . دا ښا خو نه ا و ښاخ ، چی دځانګو شمیر یی څلو ر او په خو ست کی او سیږی. دلکن ښاخ ، چی دځانګو شمیر یی څلور ته رسیږی په دی ډول دی :

را کی خیل ، نکټ خیل ، شادیزیٔ او ایوب خیل چی ددیٔ څلو رو واړو ځا نګو شمیر زر تنه دی .

دصا دق خیلو دځا نګی شمیر دوه سوه ، علیشیر سل تنه ،بکر خیل سل تنه اولون خیل سل تنه دی چی دوی په تور ګوندی پوری مربو ط او د خوست په سیمه کی اوسیږی دوی ټول دکرړانی له قبیلی نه راوتلی دی نو ځکه د دوی حال دلته کښل شوی دی .

د خوست په سیمه کـــی دوه مختلفی قبیلی یعنی غلجی اوکرړانی او سیږی ، ژبه او روا جو نه یـی ګډ مټ سره یودی دکر ړانیو ،ښا خو نه په سپین ګو ندی پوری اړه لری او غلجی او نور په تورګو ندی پوری مر بوط ګڼل کیـږ ی دسپین ګو ندی او تور ګو ند یو تر مینځ سخته دښمنی مو جوده ده.

په تورګو ندی کی داسمعیل‌خیلو ښاخ او په‌سپین ګو ندی کی دښتیو ښاخو نه ډیر جنګیالی‌دی،چی په مفصل ډول به دد وی حال وروسته را شی. داسی ویــــل کیږی چی دخو ست دخلکو تر بیه او اخلاق خراب دی. دوی لهو لعب‌او چټی کارو نه خو ښوی. ځوانان یی تر څه مودی پوری خپله ږیره‌لو‌نیدو ته نه‌پر یږ دی‌اوخر یــی یی د خوست خلك پـــه خپلوخوړو کی زیاتره د غنمو، وریجـــو او جوارونه استفاده کوی،دوی اکثرادختنا جا می اغو ندی، دوی نیلــی پکړی او نیلی یا آبی رنګه کمیسونه او ځوا نان یی اکثراً په سرو اوزیړوو ریښمینو جوړ شو ی‌ګریوانونه استعما لوی. دوی اکثرا رنګه پر توګو نه اغو ندی خو هغه کسان‌چی عمرو نه‌یی پاخه وی پـــه د غه‌ بر خه کی‌دسپین ټو کر نه‌استفاده‌کوی، ښځی یی تکری په سر و ی، او دوز یر ود ښځو په شان اوږده‌چین داره‌کمیسو نه اغو ندی‌دهغوی ښځی مخو نه لږ پټوی او رانجــه‌ډیر استعما لوی. دسبر لی‌اونیز ه با زی سره ډیره مینه لری دنڅـاو سند رو ویلو رواج په کی‌ډیر اوپه و دونو او خوښیو‌کی یو ډول‌ګډا کوی چی د نارینه وولهٔ خواتر سره کیږی او هغوی ورته په خپله ژبه‌مندارواییپه ښځو باندی‌مینیدل‌هم په دوی کی ډیر رو اج لری خلــك‌میلی هم کوی خود علم او پو هــی سره دوی چندان علا قه نلری، ددغه ځای خلك دکا یل‌د حکو مــت نا را ض او حتی متنفر دی، هغوی‌ډیر متعصب خلك دی.

دوزیرو قبیله :

ددغی قبیلی دهر ښاخ دنســب‌شجره وړاندی راغلی ده. د غــه مشهو ره خبره چی وا یی چی دغــه قبیله دکوم وز یرله نسل نه د ه بیخی غلطه ده، په اصل کی‌وز یردهغه سړی نوم و چی د ده‌له نسل نه دغه قبیله مینځ ته راغلی‌ده، لکه څر نګه چی اوس هم په‌اکثرو ځا یو نوکی دوز یر او پا چا نــو م‌ایښودل کیږی، په همــدی ډو ل سره سلیمان چی دکر ړان لمســی‌و په خپل زوی با ندی یی وز یــر نوم کیښود چی دی دنو مــو ړی‌قبیلی لوی نیکه دی. وز یــر دوه زامن لرل چی یو یی خضری او بـل‌یی لالی نو میده چی په هغه وخت کی نو موړی دسیتك لــه اولا دی‌سره یو ځای د شوال غره تــــه نږدی‌اودبرمل‌په سیمه کی‌اوسیدل‌او تصا دفاً د وزیر دنوهم زوی لا لی دلاسه دشیتك له اولاد نه یو کس‌وو ژل شو، لالی دبدل اخستلو له

د وزیرو قوم د نیکه سلیمان د نسب شجره

داَلمان د زوی ابراهیم خیل د نسب شجره

دولی خیل بن اتمان نسب نامه



د احمدزیو وزیرو د نسب شجره



دکالوخیل بن احمدزی د نسب شجره



د مسعود وزیرو د نسب شجره

یادښت: څرګنده دې وي چې مسعود اصلاً دوه زامن لرل چې یو یې علي نومېده او د علي زي ښاخ د هغه نسل شمېرل کېږي او بهلول چې د بهلول زي ښاخ پلار ګڼل کېږي، د علي دوه زامن وو چې یو یې فتح نومېده چې اولاد یې فتح خیل بولي خو عوام یې د یوتیه خیلو په نوم بولي، دویم شمن چې اولاد یې په شمن خیلو مشهوره شوي دي، اصلاً دوی هم علي زي دي خو د حقیقي صفه ملک د نیولو په وخت کې د زیات توغ د ورکولو په سبب دا ته د دې یوه مرحله د ... ګڼل شوه نو ځکه شمن خیلو ښاخ شاته بل نوم پیدا کړ خو په حقیقت کې شمن د مسعود زوی نه بلکې د هغه نمسی و.

د مسعود وزیرو د ویم زوی بهلول زی د نسب شجره



ویړۍ د ننګر هار سیمې تــــه وتښتېده او هلته یې واده وکــړ
چې اوس دهغو له اولاده نـــه دلالي په نامه دسپین غره په شاو
خوا کې مېشته دي، نور یرلوموړي زوی خدري دري زامن لرل ،مــو-
سی، محمد اومبارک چې موسی یـــې په دروېشي سره هم مشهـور و ؛
دمبارك زوی ګربز نو میـــد ه ،موسی ته یې په دې سبب درویش
وایه چې دی یوپـــــر هېز ګاره اوزاهد سړی و چې اوس هم دده او
لاده هغه یولوی ولي ګڼي اودهغه په مزار با ندې چې په برمل کـــې
مو قعیت لري ، صد قې او نذرونه ور کو ی ، خو له بده مر غه دهغه
دنیکو عملو نو پیر وی نه کـــوي.موسی درویش دوه زامن لرل یو
یې اتمان نو میده چې دهغه او لاده.مجمو عاً داتمان زی په نامه بلــل
کېږي او بل زوی احمد چې دهغـــه اولاد احمد زی په نامه بولي ، او
په لومړي سرکـــــې د دوی دوا ړواو لادې یعنې دموسی نسل ته په
ګډه سره درو یش خیل یا درویش.وز یری هم وایي . وز یری پـــه
خپله ور ځنی محا وره کې اتمان‌زیو او احمد زیو ته په ګډه سره
د درویش پـــه کلمې سره امتیازور کو ي. دموسی دو هـــم وروو
دمحمود زوی مسعود نو مید ه‌چې‌اولادې ته یې مسعود وز یری‌وا یي.
هغه ښاخونه چې په سرحد کې‌اوسیږي‌دهغو نومونه پدې ډول‌دي:اتمانخې،
احمد زی اومسعود اوځرنګه چه دنسب‌له شجرې نه ځرګند یږي له دغودریو
ښاخونه بیاډېر واړه ښـــاخونه اوڅانګې منځ ته راغلي دي .
ددغه قبیلې‌دمنځ‌ته راتلوځای دبرمل غردی چې د سلیمان دغره یو
ښاخ ګڼل کیږي‌اوهغه وخت چې‌ددغې‌قبیلې په شمیر کې زیات توپراغی
نوپه دغه وخت کې‌ددغې قبیلې خلك‌دخپل اتفاق په زور په‌خپلو ګاونډیو
باندې غالب اوپه خپر.دوئې پیل‌وکړ او دټولونه وړا ندې‌دسلیمان‌د
غرنیو سیمو نه شوال‌اودهغه‌شاه وخوا سیمې د د غې قبیلــــــې
لا س ته ورغلـــــــې چې هلته‌دمځه د شیتك ښاغ او نور ابادوو.
په هغه وخت کې د کاختې لـــــه کبله داور مړ وقبیله چې په کانې
ګر و م او نور و نږد ی سیمو کـــــې‌مېشته وو اکثرا دلوګر سیمې تـــه
چې د کابل په ریاست کې و ا قع‌او نور و ملکو نوته لاړل اوددوی
خورا لږ شمېر په دغه ځا ی کـــــې پاتې شول او مسعود وزیر و ته
موقع‌په لاس ورغله او په هغو ی‌یې یرغل وکړ او په لومړي حملـــه
کې‌یې دبدر اوشهیر سیمې ونیو لـــې‌دکانی ګورم او مکین په شاوخوایي
دقبضې کولو په وخت کې هغه لږ شـــــــمیر او رمړو چـــې د دوی
سره دمقابلې ملا وتړله د وزیـــر وله لاسه مات شول . وروسته یې

د پښتنو قبيله هم د ټاک درې او دغه شاوخوا غرنيو سيمو له خارج او خپله يې په دغو ځايونو قبضه ټينګه کړه له بله پلوه دښمنا ن له خواهم د اتمان زيو او احمد زيو ښاخونه هم د ورانده تګ په حال کې وو او د مخالفو قبيلو سره چې دوی مخامخ شول د هغوی د بې اتفاقۍ او خپل يووالي په سبب يې هغوی ته ماتې ورکړه. او د خپلو متصرفه سيمو حدودې پراخ او په هغو ټولو سيمو باندې يې تسلط وموند چې اوس د کوهاټ له ضلعې نه نيولې د ديره اسمعيل خان ضلعې ته مخامخ درې پورې غزيدلې دي . د دغې سيمې اوږ د والې يو سلو څلويښت ميله دي. او د دغه سيمې لنډ جغرافيايي حالات د دغه کتاب په لومړ ی برخه کې راغلي دي خو مولف ته داغوره بريښي چې د ځينو مشهورو غرنيو سيمو ذ کر په مفصل ډول وکړي .

دشوال سيمه :

شوال د شنو غرونو تر منځ دوادی په ډول د ختيځ نه لويديځ ته دولس کوسه اوږد شمالاً او جنوباً شپږ کرونه ، پلن و ۴ لي لرې ،دغه ځای ښه ښين ا و د نښترو، صنوبر .جنغوز يو، لمنځې او نور وو نو له ډک او ددغه وادی غاړی او مربوط غرونه يې د دغو غرونو له ميوری نه ډک او تياره دي،دلته اکثراً بارانونه وريږي خو درې مياشتي واوره هم لری او د وزيرو د اکثرو غرنيو سيمونه پرته دشوال د پير غل غر سوړ ځای دی . د د ی وادی په منځ کی يو غونی ويا له د بر يا لی په نا مه موجوده ده او په دغه وياله کې يو څه او به هم بهيږی د دغې سيمې په پيل کی يو اندازه ځمکه چې ديره ميامي او ملکښي په نامه موجو د ده او د کابل خيلو وزيروسيمه ده . دکابل خيلو نه ښکته بکا خيل استو ګنه لری چې تر هغو نه کښته جانی خيل او سيپړی . دغه سيمه د اتمان زيو دلانديو ښاخونو سيمه ده، په د ی ډول چې پورتنی نيمايی يې د کابل خيلو او ملکښيو ده ا و دويم نيمايی بيا په دريو برخو ويشل شوی ده چې يوه برخه يې د بکاخيلو ، يوه برخه يې د جانی خيلو او يوه برخه يې د ملکښيو ده . او دغه ښاخونه د ګرمی په موسم کې د ايلاق په ډول هلته ځی او په ژمی کی اکثراً ښکته راځی او دلته د کرنی ځمکې هم لری .

دشکی سيمه :

دغه سيمه دغرنو په منځ کی دوادی په ډول پرته ده چې دشمال لويديځ نه تر جنوب ختيځ پوری تقريباً يوولس کوسه او ږد

او تقریباً د ر ی کو ستـــــــه پلن‌والی لری‌چی‌په ځارو کی‌یې‌ډیری تعمیرانی ونی اونوری لیدل کیږ ی‌د هغه په سرکی داتمان زیو وزیرو ښاخونو ملکښی اومیامی‌او دهغو نه‌ښکته یی، شادیکی، خونیا خیـــل او بدین خیل اوسیږی اوددوی نـــه ښکته ترلیری ځایو نو پوری هـــا ـ تی‌خیل میشته او په یوه غاره یــی سپیرکی سدن خیل ، او ترتولو نه ښکته د مسعودو ، وزیرو دقبیلـی‌دبهلول زی او علی زی ښاخو نــه اوسیږی .

دبیرمل سیمه :

بیرمل دوزیرو د سیمی پـــــه لویدیځ کی د غرونو تر مینځ‌دوادی په شکل موقعیت لری او د ختیـــځ نه لویدیځ ته تقریباً اتلس کوسه اوږدوالی لری اوپلن‌وا لی خلـور وکوسوته رسیږی په دغه و اد ی کی اکثرا ځمکی او ار ی او خـــــو کوچنی وادی هـــــم پـــــه د غه ځای پوری اړه لری، دلته دټولو نــه‌ښه ځمکه مرغه ده چی په هغی‌کی کابل خیلو سیپلی او پیپلی ښاخونه‌او سیدکی اوسیږ ی په دغه ځای کی دکرنی وړځمکی ډیری دی ،په برمل باندی دوزیرو قبیلی سلطلــه دایمی نه ده په ژمی کی اکثـــراً دسلیمان خیلو،خروټو ا و غلجیـــو قبایل دمالونو د څرولو له پاره د برمل غرنیو سیموته راځی په دغه وخت کی دکوچ نه پرتـــه وزیر دهغوی له ویری نه دلته نه شـــی او سیدلی او دگرمی په موسم کـــی‌وزیر خپل څاروی اورمی هلته څروی. د مرغه دسیمی نه پرته د پاتـــی برمل زراعتی چاری د وزیرو پـــه لاس کی نه دی . دوی دمنی د موسم په پیل کی دخپلو څارویوسره برمل ته راځی. ددوی دلوی نیکه موسی‌درویش مقبره دبرمل دسیمی پـــه زیندا ور کی ده چی وزیرو ور تـــه‌ډیر احترام لری .

درزمك سیمه :

رزمك یوه کوچنی وادی ده چی اوږد والی یی شپږ کـــــــو سه او پلن‌والی‌یی خلور کوسه دی ددغه‌ځای آب وهوا معتدله ده ا و پــــه دغه ځای کی ممیت خیل ا و تور ی خیل چی‌داتما ن زیو وزیرو ښا خـــو نه دی استوگنه لری .

دشم سیمه :

دا سیمه/ هم در زمك سره تړلی ده، دلته ونی او وابنه لږدی خو آب او هوایي ښه ده او په د غه ځای کی ممیت خیل ، بو هیم خیل او د اتمان زیو نور ښاخونه میشته دی .

دخیسور دره :

دغه دره شرقاًاو غرباًاوږ دوا لی‌لری او د دور د سیمی په سهیل کی پرته ده ددغه ځای او به‌دیري‌ښی دی ، دخیسور په سرکی ممیت خیل په منځنی برخه کی یی تو ر ی‌خیل اوپه ښکتنی برخه کی یی چی د سین تنکی دی وړوکی اوسیږی‌ددغه ځا ی‌اوبه سړ ی او خو ږی دی .

شهرنه :

دغه ځا ی ددوړد سیمی پـه لویدیځ کی موقعیت لری چی اوږ د والی شپږ کوسه اوپلن والی یـی‌یوه کوس ته رسیږی . شهر نـه یوه کوچني وادی ده په دغه ځا ی کی مدا خیل او په ښکتنی برخه کی خدر خیل او دوړو ته نـږ دی‌لویدیځه خوا کی منزر خیل داتما نز یو وزیر وښاخو نه استوګنه لری.

شرکی‌سیمه :

دشکتو د دری په سرکی تور ی‌خیل اود مسعود واو وزیر و تـږ منځ د شرکی سیمه موقعیت لر ی‌چی دعمر زیو وزیر واستو ګنځـی دی .

شیره تله او توری شمالی سیمې:

دوزیرو دملك شمالی برخـــه خرابه او ناقصه ده او دلـتـه واړه .کرم غرونه چې د سرو ملکو دغر ونو لویې ونې نه پکې لید ل کیږی موقعیت لری په دغه ځا ی کې واوری نه وریږ ی خو په ځینو ځایونو کې دپولا* اوپه ځینو ځایونوکې دزیتونواو پیلو** ونې موجودې دی ، په دغه جنوبی برخه کې دشیره قلـــه په نامه یوه ښکلې او پراخه سیمه د غرونو په منځ کې موقعیت لری،خو په دغه ځای کې کرنه کم اود توری خیلو او ممعیت خیلو پـــه لاس کې ده . دد ی نه پرته په دنـد ی کې چې هلته ممعیت خیل او سیپړی او د کیتو ویاله دحسن خیلو ،مدا ــ خیلو او توری خیلو په لاس کې ده او ذکریې ویاله دښنکښنو دسیمې نه ښکته د متفرقو قبیلو او ښا خونـولکه کابل خیل او ځرخنې دملك شې ښاخ ځانګې او ګینډای او زنګـر ه ګنګې خیل زله خیلو او نو رو پـه لاس کې ده او شهیدان د توجیـــاخیلو او سپیره لکړې ، سروغـــا ، پرغنتو ، کوړوسم او خړ سینـــــددهاتې خیلو وزیرو په لاس کـــې دی ، د تل او دښو د علاقې دنور ومقبو ضه ځمکو ذکر به وروستـــه راشي .

دوانه سیمه :

وانه د وزیرو د سیمې پـــــه سهیلی برخه او د ګومل در ی پـــه شمال کې په هغو لوړو غرونو کې موقعیت لری چې د هغـو ی سهیلی نشیب دګوملې تر درې پورې رسیږی وانه یوه داسې واد ی ده چې لـــه شمال نه تر جنوب پورې پنځلس ګوسه اوږد والی لری اوپه مینـځ کې یې یوه ویاله یاتوی دتحصیــــل خواته بهیږی او ګومل ته ننو ز ی او ددغې ویالې په دواړه غــارو کې دیری ښې ابې ځمکې پرتې دی ،دغه توله وادی د کرنې وړ ده خــــــوځلور مه برخه ځمکې یې آبې اوپاتې

* زما په خیال پولاه د «پلاس» کلمې پنجابې تلفظ دی ، د پښتـو « پلوخه » هندیان پلاس بو لـــې پلوخه یوه غر نی ونه ده په دپښتو نو کې هم کیږی . (رشاد)

** دپیلو ونې ته اراك هـــم وایی ـ ددغې ونې له لرګیو ځخـه مسواك جوړوی پښتانه یې پلمـــن بولې پلون هم ورته وایی (رشاد)

یی للمی دی له آبی ځمکو نه هر ډول حاصلات تر لاسه کیږی داد ښو د سیمی نه ځمکو سره ورته والـی لری . ددغه ځای دوبی ډیر گرم دی او ماشی په زیاته اندازه پیدا کیږی‌تردی چی د هغو اکثریت په سبب انسان په آرامی سره خوب نشـی کولای .

دوانه سیمی په مینځ کی دلودی‌قبیلی ددو تانی ښاخ اوسیږی او دلته یی‌یوه کلا جوړه لری ده خـــونوری برخی یی د وزیرو قبیلی په لاس کی‌دی. دوزیرو احمد زیـــو ښاخ زلی خیل چی دکومل دری ډیر مشهور لار وهونکی دی تل د لتـــه او سیږی همدا راز گنگی خیل، خجل خیل ، توجیا خیل ،هاتی خیل، سر کی‌خیل ، بیزن خیل ، پاینده خیـــل او خونیا خیل چی د وزیرو احمد زیو ښاخونه دی په اوړی کی دلتـــه راځی . د ډب او هند ی په نا مـه ځمکه دهاتی خیلو او ختیځ خوا ته شپشته دبیزن خیلواو خجل خیلو په لاس کی ده خوپه منځنی بـر خـه باندی دو تانی تسلط لر ی ،

دبدرسیمه :

دغه سیمه دیوه وادی پـــــه شکل پرته ده چی اوږد والی یــی د شمال نه جنوب ختیځ خواته تر کانی‌گروم پور ی غزید لی ده‌او اوږد والی یی پنځو کوسو او پلن وا لـــی‌یی تقریباً یو میل ته رسیږی . د دغه سیمی سرته د شنگی قبیله اود بهلول زیو ښاخونه ، مسعود ا و یو شمیر احمدزی پاینده خیـــل اوپـــا تـــی تو ل بیز ن خیل احمد زی او سیږی ، او تر هغـــو ښکته سیموکی سپیرکی ، پاسد ن خیل او وړپسی وزیر مســـعود اوسیږی .

دمسعودو اوو زیرو نـــو د ی‌سیمی :

دبدرله سیمی نه پرته چی پـه هغی کی یـــو لشمیر مسعود او سیږ ی د مسعود و په برخه کـــی‌دغه سیمی هم دیاد ونـی وړ د ی :

لومړ ی : د دری سیمه چـــــی مشهور ښار یی مکین دی.

دویم :حوزه ثانی،دریم :میدان ،ځلو ر م د و ه تـــــو ی چـــی د بدر اودری له یو ځــــای کیدو نه ښکته ځا ی د دوه توی په نامـــه

بلل کیږي او مقصد د دوو ویالونه دی. دغلک په دره، اندړکوه، او د
باپړو یا بوبړو ، زنګړ، شهیر،شکتو کړ شکتو بیلو بیلو کلیو کی چی
اکثراً واړه واړه د ی مسعوداووزیر میشته دی .

دوزیرو د قبیلی داستو ګنـــی ځایو نه :

دغه قبیله په خواره واره ا ومتفرق ډول اوسیږی او د مکین‌دښار او څو کلیونه پرته اکثراً پــه غرنیو کلو کی چی هلته تر شلــو کورونو لږ وی ژوند کوی ، هغوی په زیاته اندازه په کیږدیو کی چی څرنګوالی به یی و رو ستـــــه راشی په کوچی ډول ګوزاره کـوی ، همدا راز دوی‌دپوزیو نه‌په یــوډول جوړ شوو څپرو کی هم ژو نـد کوی چی هغه یی د سایبان په‌ډو ل‌جوړ کړی وی ، خود دو ی ګوزار ه دلته په ډیر تکلـــیف سره وی .دبنو دسیمی په میدا ن کی هم په څپړ واو یا هغو کوډلو کــی چـــی‌داغزیو او خا شو نه یـــی جـــوړ وی هم په زیات شمیر خلك ژونـد کوی او غرنی وزیر چی مستقـــل استو ګنځی لری که‌څه هم پـــه قشلاق او ایلاق کی اوسیږی خـــو قشلاق یادرمی مینـــی اکثراً و ړ ی‌وړی او له ډبرو نه جوړی شو ی وی. د کوټو چتونه یی په تیرا نـو باندی استوار شوی و ی . خو دغه کوټی تنګی اوډیری خرابی و ی ا واکثراً حیوانات او څاروی هم پـــه دغو کوټو کی د انسانانو سره یـــوځای ژوند کوی او دغه کوټـــــی اکثراً په متفرق ډول‌د غرونو پــه نشیبو نوکی جوړ یږی همدارازکوچی وزیر چی په ایلا قوکی په پوزیـــواو کیږدیوکی ژوند کوی هغوی هــم له خطر ناکو وختو نونه پرته پــه متفرق او خواره ډول یوه یوه یـــا دوی دوی کیږدیو یا د پوزیو پــه کوډلوکی ژوند کوی او دغه کوډلی یا کیږدی په خپلو ځمکو یا بنـــوڅړ ځایونو کی دروی .

دوزیرو ددودونو د منځ تـــــه راتلو څر نګوالی :

وراندی ترډی چی ددغه قبیلـــی‌دنورو حالاتو په باب څه ولیکـــل شی نو لومړی باید ددغه قبیلـــی په عجیبو دودونو دستورو نـــو او قوانینو باندی رڼا واچول شی‌چی‌ددوی قبیلوی رواج دی .

١

دا ځر گند ه ځبره ده چې دغه دوداودستور او قانون ته دوزیرو خلك په
خپله ژبه کې نرخ وایي چې د نرخ په ددوی مقصد رسم او رواج دی ه
او ددغه نرخ له مخې په خپلو منځو کې اتفاق او کار په مقصد پوره بندو
بست لری او ددوی خبری او د دوی رواج او نتیجې له پاره یو دلیل لري
او هغه دا چې که دود ، رواج اوقانون هرڅومره ناقص وی خو بیاهم د بې
قانونی او بې نظمي نه ښه وی . ویل کیږي چې په پیل کې ددغې قبیلې
تر منځ هم دنورو آزادو پښتنی قبایلو په شان کوم دود ، دستوراو قانون
موجودنه واو ځرنگه چې دغه قبیله په تیره بیا د احمد زیراو اتمانزیو ښا
خونو په کوچې دول ژوند کاوه اوچیرته به یې چې ښه ځرځایونه وسیدل
نو هلته به یې شو ورځې کېږ دی لکولی او خپله گوزاره به یې کونه او
وروسته به یې خپل ماسونه له دغه ځایه له ځان سره بل ځای ته بیول
دداسې آواره ژوند او دامنیت دنه موجودیت او دنورو قبیلو سره د
دښمنی په اثر دی ته ضرورت ولیدل شو چې په خپلو منځو کې داتفاق او
معاملو دفیصله کولو له پاره یو لړ رواجونه (قانون) منځ ته راشی .
په دغه وخت کې دشادی خیلو اوسپیر کیوزیرو ترمنځ یوه شخړه منځ
ته راغله چې ددغې شخړې په اثر دتولی قبیلې تر منځ نفاق دا ځرگند
شو او هغه شخړه داسې وه چې د شادی خیلو دښاخ یوه پیغله چې گرانی
(گرانه) نومیده دکوم محمد خیل سپیر کې کورته دخپلې کورنی داجازې او
رضا نه پرته ورغله اودهغې دبیرته راوستلو له پاره شادی خیلو دخپل
ښاخ یو لښکر راتول او پر محمد خیلو باندې یې دیر غل له پاره ملا تړله
اونږدې و چې ددوی دواړو تر منځ سخته جگړه رامنځ ته شی ، خو ددغې
شخړې د اوارولو له پاره دوزیرو له تولو ځانگونه ملکان را تول اودغه
شخړه یې په سولې سره حل کړه اودراتلونکی له پاره یې یودود یا قانون
رامنځ ته او په دغه جرگه کې ورباندې خبری وشوی او تولو داتفاق او یو

والـــی له پا ر ه د خیـــــــــــر دعاوی وکړی . په دغه جرگه کی لوی ملکان او ددغه قانون ر امنځ ته کوونکی اوسلا کاران دغه کسان وو: دمد ی زوی اسکندر دتور ی خیلو له ښاخ نه ، دممیت خیلونه جبر او دکابل خیلو له ښاخ نـــه ګاجی ، چی دوی دنورو ملکسا نو په مرسته یو دود (نرخ) رامنځ تـه کـــړ .

د وزیرو قبیلی ځینی خلـــك وایی . چی دغه دودلس یا دولس پیښنته وړاندی منځ ته را غلی اوتقریباً له دریو سوو نه زیـا ت کلونه وړباندی تیر شوی دی چی تر اوسه هم په خپل حال پاتی دی او یوه کسان په دی پوهیږ ی چـــی دغه قانون دیو لړ شرعی اصولـو اویو څه هم د پخوانی زمانی ددودونو داختلاط او ګډوالی محصـو ل د ی چی دهغو له یو ځای کیدونه یـــو داسی عجیب قانون رامنځ ته شوی چی ددغی قبیلی د اجتماعی جوړښت سره پوره توافق لری . چی پـــه لاندی ډول شرحه کیږی:

دوزیرونرخ

لومړی قتل:

که چیری کوم سړی څـــو ك ووژنی نو دمقتول وار ثانو ته اجازه ده چی په قصاص کی یی قا تـــل ووژنی اودهغه شتـه لوټ کـــړ ی که چیری قاتل سم د لا سه لاسته ورنشی نوهر وخت یی چی لا س پری برشی که په لاره کی وی یـــا په کورکی په زور وی او یا په پټـــه چی موقع په لاس ورشی هغـــــه وژنی . ترهغه وخت چی قا تـــــل ژوندی ی دی نو څوك داحق نه لــری چی د هغه په بدل کی د هغه زوی یاکوم بل خپلوان وو ژنی ، کـــه چیری دغه قاتل له نیکی (سو. لی) تر کولو پرته چی څرنګوالی بـــه یی وروسته راشی . په خپل مرګ مړ شی، په دغه حالت کی دمقتو ل وارثان د قاتل زوی ، ورور کـــه هغه هم نه وی د قاتل د یوه نږدی نارینه وارث د وژلو حق لـــری. لنډه داچی د قصاص حق د نیکـــی (سولی) نه پرته تر دیرو نسلـو پوری جاری وی ، خوښځی دنارینه په قصاص کی نه وژل کیږی .

دقتل دالي څرنګوالی:

په توپك ، چړی ، خنجر، دتیږی په ذریعه قتل یاد ستونی نه‌زندی کول اویاحلالول دا ټول ددوی ددود له مخی یو ډول قتل د ی او برابر شمیرل کیږی ، خود توری پـــه ذریعه قتل تر ټولو سخت ګنـــی‌او توپیر یی په دی کی دی که کـو م سړی د توپك یا بلی کومی الی په ذریعه ووژل شی او ددغه قتـــل په بدل کی قاتل د توری دزیاتـــو زخمونو په واسطه و وژنی، نو ددغه قتل په بدل کی‌د مقتول وارثا نو ته دتوری دزخمونو له کبلـــه باید سل روپی ورکړی . او کـــه چیری دواړه دتوری په ذریعـــــه ووژل شوی وی نو بیا ددو ی‌ترمنځ کوم توپیر او امتیازنه و ی . پـــه دوی کی عموماً د چړو په ذ ریعـــه قتل ډیر رواج لری .

دښځو دوژلو بدل ؛

که‌چیری څوك کومه ښځه بـــی ګناه هم ووژنی نوپه دغه حـــا ل کی په قاتل باندی قصاص نه راځی او ددغه قتل په بدل کي دقاتـــل ینبه ، لاس‌یا پوزه پری کـــوی اوعلت یی دادی چی دښځی مقـــام د نارینه په پرتله نیمائی دی .

دقتل په پیښوکی د سو لـــی د رامنځ ته کیدو څرنګوالی :

دقتل په بدل کی دسولی درامنځ ته کولو په منظور دولس سو ه روپی دمړه نیك یعنی خون بها په نوم ټاکل شوی دی ، دبدل اخیستلو له ویری چی دپای له پاره یی‌کوم تـــا کلی میعاد نشته ، نـو اکثراً قاتلان دسولی کولو پلویان د ی ، خود مقتو ل وارثان یوازي هغه وخت سولی ته راځی کیږی چی :

لومړی ! په دی پوهیږی زوریی‌دقاتل دکور نی سره برابر نـــــه دی او دهغه نه دبدل اخیستلوتوان نه لری ، که چیری قاتل ووژ نی او دهغه وارثین ډیر زور وروی‌اوله بد ی لاس نه اخلی یاداچی قا تل بلی کومی قبیلی ته پناه وړ وړ ی وی او هغه چا چی په دغه قبیله کی

قاتل ته پناه ورکړی زور و ر و ی . کله چی د مقتول وارثان سولی ته
غاړه کیږدی نو د سولی لاره داده چی دقاتل پلار ، ورور یا کوم بل
خپلوان د خپلی قبیلی له څو تنو ملکانو یاد هغه قبیلی نه چی
قاتل ته یی پناه ورکړی څو تنه د جرګی او ننواتی په ډول سره یو
ځای او دمقتول دوژنی کورته ورځی اویو زرو دوسوه خون بها چی‌دوی
ورته په‌خپله ژبه (دمړه نیک)وایی ورکوی .

پاتی دی نه وی چی دغه یوزرو دوه‌سوه روپی یوالحی تش په نامه دی
اوپه اصل‌کی دومره نقدی روپی نه ورکوی بلکی ددغه پیسو په بدل
کی کمه ارزښته جنس په لوړ قیمت سره بیه او دواړو خوا و د ملکانو
په‌سلاح سره یی‌ورکوی لکه څنګه‌چی‌که یوه ښځه وی اویا کوچنی انجلی
دسلو روپیو په بدل کی او یو میل توپك اویا یوه توره که څه هم‌اصلی
قیمت یی‌دوی روپی‌هم وی د شلوروپیو په بدل او څاروی‌که دوه‌کلن
څوسکی وی دشلو روپیو په بدل اوهر ه ا و ز ه ا و پسه
د(۵) روپیوپه بدل کی ورکول کیږی او په دغه ډول ددغو شیانو
ورکولو سره یوازی تش په نوم یوزر او دوه سوه روپی پوره کوی
او د مقتول وارثینو ته یی‌ورکوی. کله چی دغه ډول سوله یا نیکی
منځ ته راغله نو بیا د قصاص‌حق‌دمقتول وار ثینو ته نه ور کول
کیږی ، خو ځینی وختونه داسی هم‌کیږی چی (د مړه نیك) تر
اخیستلو وروسته د مقتول وارثین قصاص واخلی او اخستل شوی
مالونه بیرته ورکوی ، خود د غه چل‌حق هغه وخت ساقط او له
منځه ځی چی اصلی قاتل مړ شی . یا دنیکی او سو لی مال موجود نه
وی. دښځو دقتل خون بها د نار ینو د خون بها نیمه بیه یعنی شپږ
سوه روپی او پاتی شرایط یی د نارینه وو په شان دی .

دقتل دتحقیق څرنګوالی:

که کوم سړی د شپې په تیاره کې ووژل شي او کوم عیني شاهد موجود نه وي. او دبلې کومې سیمې نه کوم مفرور او یا په بل ډول څوك راغلي وي هغه قتل وکړي او یا ووژل شي او ظاهراً قتل په چا باندې ثابت نه وي او د مقتول وارثان دعداوت او د دښمنۍ او یا کومې بلې وجې له امله په چا باندې شك وکړي او مشتبه سړی انکار وکړي. نو په دغه صورت کې دملکانو په حضور باید دده دقبیلې سل تنه په جلاجلا ډول قرآن وکړي چې دغه مشتبه سړی دغه عمل نه دی تر سره کړی او مونږ د ده په بې ګناهي باندې پوره متیقین یو او ستاد اشتباه نه پاك دی که چیرې سل تنه پوره نه شول نو هر څو کسان چې موجود وي په مکرر ډول دې په قرآن قسم خوري تر څو په مجموعي ډول سل قرآنه پوره شي، مثلاً که چیرې شل تنه حاضر وي نو هر یو دی پنځه ځله قرآن باندې قسم وخوري چې په مجموع کې سل قسمه پوره شي، په هغه صورت کې چې کوم شاهد پر تورن سړي باندې شکمن شي نو پخپله تورن تر لږي. لږ ی شیبې وروسته پر قرآن شریف باندې سل واره لاس ږدي او قسم کوي او وایي چې ما دغه جرم نه دی تر سره کړی نو بیا په دغه صورت کې بې ګناه ګڼل کیږي او برائت ترلاسه کوي. که چیرې د مقتول وارثان له تحقیقاتو نه وړاندې مشتبه سړی ووژني نو هغه هم خپل برائت له پاره په هماغه ډول سل کسه یا څو تنه او په خپله سل ځله په قرآن مجید باندې قسم یا دوي او وایي چې هغه سړی چې ما وواژه قاتل وو او تر قصاص اخیستلو پر ته ماد هغه سره هیڅ ډول د ښمنی نه لرله.

دښځې دقتل په تحقیقاتو کې یوازې پنځو سو قسمونو ته ضرورت لیدل کیږي او که چیرې تر پنځو سو یا سلو قسمونو وروسته بیا هم قتل وکړي نو دغه قتل عمدي یا قصدي شمیرل کیږي او په هغه باندې دعمدي قتل قانون تطبیقیږي.

د جسماني زیان بدل:

که چیرې دچا د وجود کوم غړی لکه لاس، پښه او پزه غوږ یادچا ستر ګې ړندې کړې شي نو دوي ورته (نیم مړی) وایي او دده نه دومره بدل اخستل کیږي لکه چې لومړي سړي ته ضرر رسیدلی وي او که چیرې مقصد سوله کول وي نو دنیم مړي یاخون بها دحق نیمائي یعني

ښپږ سوه روپۍ بایدهغه چاته چې ضرر ور رسیدلی وي ورکړي . که چیرې د بدن غړی بیخي له کاره نه وي لو یدلی او لږ څه زیان ور سیدلی وي نو په هماغه اندازه چې زیان یې لیدلی وي بدل ورکول کیږي. مثلاً که د لاس نیمائي قوت له منځه تللی وي نو د اصلي بدل نه نیمایي ناغه کمیږي. د بیکاره غړي نه پرته د نورو زخمو نو جرم او ناغه په لاندي ډول تاکل شوي ده : په سر یا ندي د توري یا چړې زخم چې یوه کوته وي (۴۰) څلو ېښت روپۍ، په ډېره باندي د چا د سرد زخمي کولو په حالت کي یوه کوته شل روپۍ او که چیرې د توپك، توري یا چړې زخم په مخ، تندي یاغاړه یا ندي وي نو د هر خفیف زخم له پاره (۵۰) روپۍ جریمه او دملانه ښکته تر پښو پورې یوه کوته زخم یا ندي شل روپۍ ناغکي ټاکل شوي ده. د خفیفي وهني ټکو نې په سبب چې کومه صدمه و نلري د هغې په بدل کي مدعي ته ښايي چې د خپل وررور یا بل مر ستندوی په ملګو تیا مدعی علیه و نیسي په څمکه یې را کوزار او لږ څه وهل ورکړي او دغه کار ته شرمنده کول وايي. کله چې په کلي کي دا ډول مدعی علیه د خو تنو په وړا ندي شرمنده شي نو مدعي خپل حق ته رسیږي که چیرې مدعا علیه دا ډول شرمید نه و نه مني نو هغه دا اختیار لري چې مدعي ته د ناغي په ډول دري روپۍ ورکړي او سوله وکړي ځکه چې ده ته دا ډول شرمنده کي سپکاوی ښکاري نو ځکه د ی د دریو روپیو ناغي په ورکولو راضي کیږي .

د جبري زنا سزا :

که کوم سړی په جبر له کومې ښځې سره ز ناوکړي نو ښځه بې- ګناه او د زنا کار سړی پوزه یا پښه پرې کیږي د دغه جرم د ثبوت له پاره که چیرې عیني شا هد موجود وي نو ښه که نه نو مظلومه ښځه د پیښې نه د دریو ورځو په اوږ دو کي د خپلې کورني د خلکو په منځ کي وايي چې پلا نې سړي له ما سره دغه جرم کړی دی نو بیا دغه ثبوت کافي دی . خو که چیرې مدعی علیه ووایي چې دغه ښځې د د ښمني په سبب زما نوم اخیستی دی نو بیا د دغې ښځې وارثان لکه میړه ، پلار یا وررور او یا په خپله ښځه په قران شریف قسم کوي چې دغه تور د دښمني په سبب نه دی لګول شوی په دغه حال کې د مدعی علیه دلیل نه اور-

بدل کیږی ، خوپه هغه حال کی چی ښځه تر ډریو ورځو پوری خپله دعوه ښکاره نکړی نو ترهغی مودی و ر وسته دجبر ی زنا دعوه نه اور ید ل کیږی .

په مال پوری دمر بو طوجرمو نـو بدل:

لومړی : غلا :

که کوم سړی دخپلو وزیرو نه دچامال غلا کړی نوهغه ته داسی سزا ورکوی چی غلا شوی مال بیرتـه ورکړی اودغلا شوی مال د نشتوالی په صورت کی دوه چنده تاوانو ته ورکول کیږ ی او ترهغو پرته یـو پسه چی (٥) روپی بیه ولری د جرمانی یاناغی په ډول مدعی اوډ هغو ملګروته حلا لیږی او یا(٥)رو پـی نغدی ورکول کیږی اویوه تبه به هم مدعی ته ورکول کیږی ، دتبی مفهوم دادی چی مجرم خپله یوه لور چی تر هغه وخته پوری پیدا سوی نه وی او کله چی په راتلو نکی کی پیداشی مدعی ته ورکول کیږ ی او مدعی علیه وایی چی که په را تلو نکی کـی لومړی نجلی پیدا شی نو هغه بـه مدعیانو ته ورکړی او کله چی دغه نجلی ژو ندی دنیا ته را شـــی اووروسته مړه شی نو د مدعیانو حـق دهغی دمړ ینی په سبب ساقـــط کیږی او که نجلی پیدانه شی نـو دغه پور دمدعی زوی ته انتقال مومی او هغه یی باید ادا کړی او یا یی معادل بیه ورکړی دهری تبی بیـــه پنځه ویشت روپی ده. که چیـــری مدعی علیه ووایی چی دتبی ور کولو ته راضی نه یم او یا نه پیداکیږی نو دهغی په بدل کی د پنځه ویشتوروپیوپه ور کولو سره برائت مومی خو که چیر ی مدعی ووایی چی زه تبـــه نه اخلم نودتبی بیه نیمایی یعنـــی (٥٠ ر ١٢) روپی کیږی ویل کیږ ی چی د تبی بیه دمدعی او مدعی علیـه دغو ښځنی په اساس لږه او یا ډیریږی که چیری د غلو شمیر له یـوه نه زیات وی نوپه هریوه با نـدی یویو پسه او یوه یوه تبه نـا غـــه راځی خو غلا شوی مال دیوځل لـــه پاره یا پخپله اصلی مال یادو چنده اخیستل کیږی په دی شرط چی مدعی علیه ددی دود په ترسره کولو کی مسولی ته راضی نه شی نومدعیان اختیار لری چی دمدعی علیه یامدعی

علیهم ښاروي ژوبل کړي .د ژوبـــل داصطلا ح نه مقصد دوزيرو په ژبه دهغو کور نيو حيوا ناتو له وژ نی نه دی چی مدعيان د مدعا علیهم مال دغلا ، لوټ او لارو هنی په علت اوياد بدر کی اوهمسايه يا پنـــاه اخستو نکی ته د ضرر رسو لو پــه وخت کی پرته له دی چی مدعاعلیهم سوله منلي وي وو ژني او کلـــه چی په دغه ترتيب ژو بله منځ ته راغله نو بيا مدعی دناغی او نـورو دادعا ګانو حق نه لری که څه هـــم ددغی ژو بلی په تر خ کی د مدعی (علیه يوپسه مړشی اويا حتی که) دمدعی دژو بلی په نيت دمد عـــی علیه مال ته ورشی او خپله توره راوباسی .په دغه حال کی هم مدعی شرم او ناغه پوره کيږی.

دغلا د تحقيق څرنګوالی :

که چيری غلاشوی مالونه مو جودنه وی او هم کوم بل ښکاره ثبوت هم په لاس که نه وی اومدعی علیـــه انکار کړی وی په دغه حال کـــی دغلا شوو مالو نو په باب دوخت په نظر کی نيولو سره داسی تحقيقـــق کيږی: لومړی که چيری څوك دعـــوه وکړی چی زما مال دشپی له خوا د نقب په واسطه اوياکوم بل دول غـــلا شوی دی نو په دغه وخت کی بايد مدعی دوه عينی شاهدان او ياداسی قراين وړاندی کړی چی په غلادلالت وکړی د شاهدانو د نشتوالی پـــه صورت کی منکر ته مدعا علیه په قرآن قسم ورکوی ، که چيری د مسوګند وکړ برائت تر لاسنه کړ ی که نه نوغل ګڼل کيږی . کـــه چيری نيول شوی سړی مشهور غل او بد ماش وی نو دمدعی د غوښتنی له مخی د ګرمی اوسپنی او تو دو او بوپه ذريعه په هغه باندی ازمايښت کوی . دويم : که چيری مدعی ادعا وکړی چی زما غلا دورڅی لـــه خـــواشو ی او مشتبه مد عی علیه منکر وی په دغه وخت کی مدعی په قرآن قسم وکړی او وايی چی دی ز مـــا غل دی په دغه حال کی بی له .کوم بل ثبوت نه په مدعی علیه با نـــدی جرم ثابت او هغه مجبور دی د غـــلا شوی مال بيه ،ناغه او تبه ادا کړ ی خو دومره مراعات يی کيږی چی دغلاشوی مال دوه چنده نه ورنه اخستل کيږی .

دلاروهنی او لوټ ماری بدل :

که کوم وزیر دخپلی قبیلی دقافلی نه دګر می د موسوم په پیل کی چی دشوا ل اوبړ مل غره ته تـګ اوراتګ کوی لوټ اوزیان ورورسوی او یاله کرم کلی یا کیږدی نه دلو ټ په ډول څه مال ترلاسه کړی نو د هغی قافلی یاکلی خلك په ګډه یاپه جلاډول واك لری چی دهر یوه مرتکب له مال لکه غوا ، اوښ، آس، پسه او یا وزه چی لاس ته ورشی هغـــه ووژنی اود ژوبلی دود ترسره کړی. کله چی دغه ژوبله عملی شی نود مدعیانو شرم او بی عزتی او د مد عاعلیهم دجرم بدل ترسره کیږی ، خو د غلا شوی مال پور یعنی حق دمرتکبینو په ذمه پاتی کیږی، په هغه صورت کی که دژوبلی د ارتکاب نه وړاندی مرتکب سوله وغواړی نوپه دی ډول سره امکان لری چی دجرم د شرم په بدل کی اتلس ښځی چی په هغو کی نه تنی زوولی (دنیاته راغلی) اونه تنی یی تبی (چه تراوسه پیدا شو ی نه وی) مدعیانوته ورکوی که چیری ښځی ورنه کړی نوپه یوی پیداشوی نجلی (۳۳) روپی اوپه یوی تبی چی لا زیږیدلی نه وی (۲۵) روپی د ناغی په ډول دغلا شوی مال سره یو ځای یادغلا شوی مال بیه مدعی ته ورکوی او پری ایښنودل کیږی، مګر د ا سی رواج هم شته چی ددغی ناغی په بدل کی چی کوم جنس ورکول کیږی هغه په هماغه ډول دی چی دخونبها په وخت کی ورکول کیږی .

د څارویو د زیان بدل :

که د وزیرو په قبیله کی کـوم سړی دچا څا روی دزهرو او نور و وسایلو په ذریعه له منځه یوسی نو دغلاددود او دستورله مخی له هغه سره چلند کـوی ، کـه چیـــری دمیوه لر ونکي ونی دپری کولو په سبب چاته زیان ورسیږی نو په هری ونی سل روپی ناغه تاکل شوی ده، همدا راز دکوتی یا کیږدی دسو ځولو پـه بدل کی هم سل روپی ناغه ټاکـــل شویده . تردی پر ته د ســو ز ل شو ی مـــا ل بیه هم و ر کو ی او که چیری ددی اورله کبله څوك مړشی نو په مجرم باندی دقصدی قتل الزام راځی اوعمدی قتـــل دو د اوقانون ورباندی تطبیقیږی خو په دی شرط چی مرتکب ته د ارتکاب په وخت کی داخبره ځر ګنده وی چی هغه خونی یاکیږدی ته چی دی اور واچوی پـه کی ویده یا بیدار سړی ورکی موجود دی.

دبدرگی طر بقه :

بدر گه یوه مشهوره کلمه ده ، کله چی کوم لاروی چی په هر مذهب یاقبیلی پوری اړه ونه لری او کوم وزیر ته یو څه ورلږی یا دوستان دبدرگی په ډول له ځان سره ولیږی او ددوی له ملک نه تیر شی نو دهغه سرو مال ته دبدرگی دموجودیت په حال کښی کوم وزیر زیان وررور سوه نو بدرگه او دهغه قبیله له مرتکب نه د غلا ددود او دستور له مخی بدل اخلی .

د وزیر و په بدرگه باندی با یـــد زیات اعتبار ونه کړی شی .

گاو ندیتوب :

درعیت همسایه نه پر ته دغه خلك هغه چا ته هم همسایه وا یـی چی هغه دکوم بل ځای نه د کوم جرم له امله تښتیدلی او د وزیر و پـه قبیله کی یی پناه اخیستی وی . ددی همسایه داری لاری چاری په دی ډول دی چی تښتید لی سړی با یـــد یو پســـه حلال او دهغه کلـــی ملك او معتبر انو ته چی پنـــا ه وړی وی دوډی ورکړی او هغو ی ته ووایی چی ما دپلانی په حق کـــی دا گناه کړی د ه مثلاً قتل ، غـــلا ، زنا یا دښځی تښتول ، او اوس زه ستاسی همسایه یم ، هغه خـــوك چی دده دوډی وخوری هغه شخصاًاو نور ټول په مجموعـــی ډول د ی خپل همسایه اودشرم شر یـك گنی ، که دغه تښتیدلی سړی دهغوی د خپلی قبیلی نه وی نو د وزیـــرو د دود او دستور سره سم دسولی د رامنځ ته کولو له پـــاره کوښښ کوی ، که چیری سوله ونه شوه او دهمسایه توب په حالت کی دغـــه مفرورته ددوی د قبیلی کوم سړ ی زیان ورساوه نوهغه سړی تـــه دقبیلی خلك دناغه په ډو ل شر م ورکوی کوم چی دلوټ له پاره تاکل شوی دی ، د مفرور مجر مـا نو نـــه پرته بل ډول همسایه هغه چا ته ویل کیږی چی د کوم زور ور سړی سره یې د ځمکی یا پور یا بل ډول حق وی او هغه یی ورکولو تـــه تیار نه وی او یاد کوم بل دا سی فعل مرتکب شی چی د مدعی ددعوی له مخی دهغی فیصله د وز یـــرو ددود ، دستور او نرخ له مخی ونه

شي په دغه صورت کې مدعي يو ه زور ور سړی يا قبيلې ته په همائه دول چې وړاندې وويل شول ورځي او د مغوی په مرسته بدل يا انتقام اخلي ، په دې کې هيڅ شك نشته چې په دغه قبيله کې د همسايه توب تنګ ډير زيات دی. له دې امله ددوی د نورو ناروا کارونو په جمله کې دا هم يو بل ډيرلوی نار وا کار دی خو د دوی د قبيلې د مروجه دود اودستور د پياوړ تيا له پاره ډير ګتور دی ځکه کله چې که د کوم ښناخ نه يو څوك کومه ګناه وکړي نو د دوهم ښناخ خلك له دې سرهمرسته کوي او دې دملك له شرلو اوزيان رسولو نه په امن کې ساتي ، او ددوی دزورله امله سوله هم مينځ ته راتلای شي او دوی دا دود اودستور د مجبوريت له مخې هم مني.

په نکاح پوری تړلی جرمونه او د هغو سزاګانې

دزنا سزا:

په دغه قبيله کې د زنا جرم له قتل سره برابر شميرل کيږي ، له دې کبله ښځې ولړ قانو ته د اعباح ده چې کله ددغسې ښځې ميړه يا ورور داد کوم چا سره دزنا کولو يا په بړستن کې د يو ځای ځملاستو په حالت کې ووينی نو دواړه ووژنی او که چيری دوی په بالفعل دول په زنا ونه وينی خو په دې خبرمتيقين وي چې هغوی په بدکاری کړی وی يا داچې منکوحه ياغير منکوحه ښځه له خپل کوره دبدکاری له پاره وتښتول شي نو دا دود دی چې هغه ښځه وژل کيږي او هغه سړی باندې يې لاس برشي د هغه پښه يا پزه غو څوی . که چيری داسې پيښه شي چې ښځه دبدکاری په سبب دميړه له خوا و وژل شي او هغه سړی ته چې ددی سره يې زنا کړی ده هغه زيلن چې پور ته وويل شول ونه رسوی نو د هغه ښځې ورور يا پلار د هغې په ميړه باندې د متهم دپوزې پرې کو لو دعوا او ياله ميړه نه دنيم مړی پور غوښتنه کولای شي . او په دغه دعواکي هغوی دا والك لري که

چیری میره د نیم مړی پور ادا نه کړی نو دوی د هغه پوزه یا پښه غوڅه کړی له دی کبله اکثره زانی سړی د پوزی له قطع کیدو نه خلاصیدی نه شی البته دا سی کیدا ی شی چی د متهم سړی د آشنا ښځی تر وژلو وروسته د شپږ سوه روپیو جنس دنیم مړی د حق په ورکولو سره سوله کوی او ددغه جنس نیمایی برخه د ښځی میره او نیمائی برخه یی د هغی مور او پلار ته ورکول کیږی او په دغه سولی سره دزانی پښه یا پوزه له پری کولو نه خوندی پاتی کیدای شی .

دښځو د څوڅولو په باب نرخ :

که چیر ی کومه منکوحه یا غیرمنکوحه ښځه و تښتو ل شی اوهغه سړی چی‌دغه ښځه یی تښتولی ده‌دسولی‌غوښتنه وکړی‌نودمړه نیک‌یعنی خونبها برابر یاد (۱۲۰۰) روپیو جنس او هم دتښتولی ښځی په بدل کی دوی ځوانی ښځی ، وا ر ث یا میره ته ورکول کیږی او کاملاً برائت تر لاسه کوی ،کله چی‌دغه ډول سوله رامنځ ته شی نومیره خپلی ښځی ته طلاق او چاچی دغه ښځه تښتولی ده نو هغه یی ځان‌ته نکاح کوی، اوکه چیری ښځه بیر ته ورکړی نوباید د شرم په بدل کی شپږسوه روپو کم ار زښته جنس چی زیات قیمت بیه شو ی وی ورکړی ، که چیر ی دغه‌شیا نورنکړی نو باید پزه یی قطع شی او کله یی چی پزه پری کړ ی نو باید چی ښځه هم ووژل شی اوکه چیر ی ښځه ونه وژل شی نو په دغه حال کی دی مدعا علیه اوباید هغه چاته چی پوزه یی پری شوی ده شرم ورکړی .

دښځو د ساتلو څرنګوالی :

پیغله نجلی سره له دی چی بالغه وی او کونده د آزادی سر ه سره دمطلق والك خاونده نه ده ا و نه شی کولای له کوم بیګانه سړی سره د خپلو ورثه وو له رضاپرته واده وکړی او که کومی ښځی دغه کاروکړ نو دهغی سره د تښتولو د دود یا نرخ له مخی چلند کیږ ی دپیغلی ولی پلار ، ورور یاتره‌دی او د کو نډ ی د متو فتو فی‌میره و ر وز او نـ ا ر ینـه میر ا ث خو ا ړه‌د سر پـر سـت حیثیت

لري. که چیرې تر نامزدۍ وروسته میره مړشي سره له دې هم هغه ښځه د میراث په ډول د میړه‌شوي سړي میراث خوار هغه خپل حق گڼي. اکثره داسې هم کیږي چې د منکوحه یا منسوبه کونډې په بدل کې د ښځې د میړه وارثان د شلو یا څلویښتو پورې نغدي روپۍ اخلي او هغه کونډه هغه چاته ورکوي چې ددې سره دواده غوښتنه لري او دې ته د هغه سره د نکاح اجازه ورکوي خو که چیرې د متوفي ورور له هغه ښځې سره نکاح ته تیاروي نو دی لومړی مستحق شمیرل کیږي او په دې ډول هغه ورور د خپل ډیر نږدې دوست خپل ورور حق په دې ډول په ځای کوي.

د نرخ د تعمیلولو طریقه:

دا څرگنده ده چې هر څومره د دود او دستورونه چې د هر څه شي په باب دلته ولیکل شول د هغوی د تعمیل له پاره کوم حاکم په حاکمانه قدرت نه شته، د دوی دغه رواجونه او قواعد چې د دوی د اجتماعي حالاتو سره سمون خوري داسې دي چې دوی په خپله دې ته اړ باسي چې ویې مني او تعمیل یې کړي په تیره بیا مدعا علیهم چې د سخت بدل له ویرې نه چې تر ډیرو نسلونو پورې مدعیانو ته د هغه د اخستلو حق شته، ډیر زر سولې ته راځي کیږي او د هغوی د قدرت او ویرې نه چې کوم مدعي د همسایه په ډول ورځي او د هغه نه مدعي د دود د تعمیلولو غوښتنه کوي د نرخ د عملي کولو له پاره یوه عمده طریقه گڼل کیږي.

د بدل پیسې یا تاوان:

هغه نغدي روپۍ یا تاوان چې مدعا علیه یې د سولې د دود له مخې ومني خو وروسته یې بیا په ادا کولو کې سهل انکاري او غفلت وکړي نو دغه حق د دیواني پور شکل غوره کوي په هماغه ډول چې د قرض په معامله کې د پور دنه ادا کولو د ثبوت په صورت کې مدعي ته اختیار ورکول کیږي چې د تاکلو پیسو د تر لاسه کولو له پاره د خپل جرئت په اساس پور وړي حیوانات یا نور شته او منقوله جایداد د زور یا غلا په ذریعه تر لاسه کړي که چیرې یې په خپل

ځان کی دغه توا نو ته لیده شـــو ډېل زیار ورباندی سره دی همسا یه او دعوی په مرسته دی خپل پو روا خلی په دغـــه صـــورت کـــی پوری و ېږی مد عی علیه مال پــــه هر ډول چی کیدای شی ا خستــــل

کیږی چی دوی ورته په خپلـــــه ژبه شوڅه وایی . که چیری شــو

دپور په بدل کی دغلا په ډول تـــرلاسه هم شی دغه فعل کوم جـــرم نه گنل کیږی که د پور د مال زیات مال دشوڅه په ډول ونیول شی نو هغــه

ک و (سالهنگ) په ډول دمدعـــی سره پاتی کیږی او هغه وخت چـــی مدعی علیه تاکل شوی پیسی ورکړی نود هغه په بدل کی بیرته خپل مال ترلاسه کولای شی .

دسوگند طریقی :

په دغه قبیله کی عموماً دقرآن کریم سوگند په دغه تقریر ســره تر سره کیږی چی لومړی زما پــــه پاك خدای او بیا په قرآن شریــف او دهغه په معنا ورو باندی قســم دی چی زما مقصود ، خبره رښتیــا ده ، اودسو گند طریقه په دی ډول ده چی په جومات یا په بل کوم پـــاك او نمازځای کی څاد رغوړ و ی او بیا قرآن شریف ایښودل کیږی او قسم خوړونکی ترا و داسه وروسته پـــه قرآن باندی لاس ږدی او سو گند کـــوی .

په پخوا زمانو کی د ځینو ساده او ناپو هو قبایلو ترمنځ د اور او اوبو ازمایښت رواج لاره په دغـــه قبیله کی هم په تودی او سپنی او گرمو اوبو باندی چی په خپله ژبه ورته کهیاړ یا توده وایی هـــم د ازمایښت دود او دستور شته خو دغلا په خاصو معاملاتو او د هغـــه مدعی علیهم په سبب چی ا شتبـاه پری شوی او په بد چلنی اوبد ماشی باندی مشهوره وی اوپه د رواغـــو باندی له قرآن کولو نه ډډه نـــه کو ی او دکلی ملك هم دهغه دبـــد چلنی تصدیق وکړی نو مدعی پــه مد عی علیه با نــد ی د غـــــــه ازمایښت تر سره کوی .

کهیاړ هغه عمل ته ویل کیږی چی د کلدار ی د یوی رو پـــی پـــــه اندازه گرده او سپنه جوړوی او د پښی په دوگان کی په اور بانـــد ی ږدی او هغه وخت چی دغه اوسپنه د اور د سکروټی په شان تکه دسره شی وروسته په هغه سړی باندی اشتباه پری شوی ده تول کالی یی

پاسی او یواز ی دستر له پــارهیوه توته ور تــمــــة پر یږدی او د هغـــه بـــــد ن د دی سپاره‌لوی چی دسورید لو صد نـــو م تعویز ورسره موجود نه وی تـــرهغه وروسته دمدعی علیه پـــه بنی لاس باندی دکاغذاوه وړیوړی توټی یودبل په سریږدی او پـــه دغه وخت کی داهنگرددو ،گان هغه سره او سپنه راوړی اودهــغه د لاس په ورغوی یی دکاغذو نسـودپاسه یږدی په دغه حال کی هغـه سړی اوه قدمه ږدی او دغـــــه قدمونه باید نه دیر ورو او نـــه دیر تیزوی کله چی اووم قــد م پوره شی نو بیا اوسپنه له لاسه غوړځوی ، په دغه وخت کی د وه تنه ملکان چی ددوی ترمنځ د بـــی عدالتی منصفان دی د هغــــه سړی لاس گوری که چیری هغی سـړ ی اوسپنی هغه او وه توټی کاغذونه چی دسړی په لاس کی ایښودل‌شوی وو سوزولی وی او دهغه په لاس باندی هم د سوز یــــد لـــو نښه موجوده وی پرته له کوم‌بل ثبوت ه په هغه باندی غلا ثـــا بتیږی .

دتودی اصلی معنی گرم دی ،خو دلته دهغی نه مقصد یو دوډ دی چی دهغی له‌مخی په کتوه گـــــی دومره اوبه ایشوی چی ترهغه نــه یی زیات دایشو لوامکان موجـــود نه وی اوبیا هغه مشتبه ته وایـــی چی دښی لاس دری گوتی دری ځله په هغو ایشیدلو اوبوکی ننباسی ، که چیری ددغه کار په ترځ کـــی‌دهغه گوتی پولی شی نو پـــــه هغه، باندی‌جرم ثبوت که‌نه نو بیگنا ه‌شمیر ل کیږ ی.

دحیرانتیا خبره خو لادا ده چـــی ددوی ددی ازمایښت په رښتنی‌والی اوصدق باندی پوره اعتقاد لـــــری‌او وایی چی هغه ځوك چی بـــی گناه وی هغه ته کوم ضرر نــــــه رسیږی اوله چیری گنهگار وی هغه هیڅ کله له ضررنه بچ نه‌ پاتـــــی گیږی .

دملك دویشلو څرنگوالی :

په لومړی سرکی ددریو لویـوښاخو نو یعنی اتمان زیو ، احمد ــ زیو او معسود و پــه خپل منځ کـــی‌موروثی ځرلی سیمه په دریو مساوی برخو ویشلی وه ، خو کله چـــی دمسعودو ښاخ له دوونور ښاخو نو جلا او داور مړو او بتنیو پـــــه مقبوضه سیمه باندی یی سلطـــه ټینگ کړله هغه وخته د و یــشــی‌په ترځ کی دوی ته هیڅ ورنکړل شول او اتمان ل‌یواو احمد زیو پــه خپل منځ کی نیمائی نیمائی برخـــی واخیستی .

که دغه دوه ښاخونه په ګـډه سره دجګړو په اثر کومه نوی علاقه ونیسی نو هغه لومړی په دو دبرخو خوویشی او وروستی یی په نورو ښاخونو او څانګو پــــه دی ډول تقسیموی : د اتمان زیو د قبیلـی دولی خیلو ممیت خیلو اود ابراهیم خیلو څانګو ته یوه یوه بــرخــه ورکول کیږی د احمد زیو ښاخ ته نیمائی برخه په دی ورکول کیږی چی پاسنیو یعنی د غره اوسیدونکو ته نیمایی برخه یا ښکتنیو تــه چی د غرونو په لمنو کی ژوند کوی نیمایی برخه ورکول کیږی او هغوی بیا خپلی خپلی نیمایی برخی په نورو څانګو په دی ډول ویشی چی :

لومړی پاسنی : زلی خیلــو ، ګنګی خیلو ، تو جی خیلو ، خجیـل خیلو ، خانیا خیلو او سرکی خیلــو ته یوه یوه برخه .

دویم کښتینی ، یا ښکتنی :سپیر کی او هاتی خیلو ته دوی دوی برخی ، بیزن خیلو او عمر زیو تــه یوه یوه برخه ، پاینده خیلو او بد- ین خیلو ته (۳) پاوه یعنی پاسنی خپله نیمایی برخه په پنځــو ورو برخو او کښینی یا ښکتنی دو همه نیمایی په پاو کم نه برخو بــا ندی ویشی . دمسعود وښاخ خپله برخه په دریو حسو تقسیموی یعنی بهلول زیو ، علی زیو او شمن خیلو هــر یو ته یوه یوه حسه ورکوی ، دا څرګندهده چی ددوی برخــی د دوی د لـــوی نیکه د نسب د استحقاق لــه مخـــی نه دی ویشـل شوی بلکی دغه ویش دتوغ لــه مخی منځ ته راغلی دی. دتــو غ له کلمی نه مقصد دتوری اوخرڅ نه دی یعنی دلښکر کشی ، میلمه او نور هر ډول نقسان چی هر یـــوه ښاخ د لومړیو ځایونو د نیولو په وخت کی زغملی وی اود دغه زیان یانقصان له مخی دوی په خپلــــو منځو کی ویش سره کوی اواکثراً داسی هم کیږی چی په توغ کـــی د یو ښاخ برخه له بل سره هم کډیږی او بیا هر یو ښاخ په خپل منځ کی د کورنی ویش او د نسب دشجری له مخی کوچنی برخی چی دوی ورته په پښتو ژبه ډډی (ډ ډه) وایی جوړوی اوهر څوك خپله ډ ډه یعنی برخه خـور ی او دو ی دد ی برخی په ګټه ا وزیان کی ســــره شریك وی . د ډ ډی شمیر ټا کلی نه دی . په پخوا و ختونو کی هــر سپایی اوهر هغه چا به چی پــه جګړه کی خرڅ کاوه د هغوی دشمیر له مخی به هر یوه ته ډډی ورکول اوبیا به چی دکومی کــورنی اولاده ډیره شوه نوبیا به دهغــــه ډډه

یا برخــــه په ډیرو کو چنیـــو برخو وویشل شوه اوهغه کو چنیو برخو نه نوری ډډی یعنی نوی برخی ویل کیږی او په کومه کور نـــی کی چی د اولا دونو شمیر یی لږوو نود هغو ی ډډی په ځای پاتی شوی اویا په لږو برخو وویشل شی .

لنډه داچی د ډډو شمیر د ســرو نوپه شمیر پوری اړه لری د هـری ډ ډی د ځمکی اندازه په مـساو ی ډول سره نه و ی اودتوخر ځډډډ ی په برخی پوری اړه لری .

دمیراث د ویش دود :

که کوم سړی کوم نارینــه ا ولادونه لری او مړ شی نود هغـه میراث دهغه نارینه ورثه وو تــه د محمدی (ص) شریعت له مخــی ویشل کیږی ، ښځوته د شرعی پر عکس د میراث برخه نه ور کو ل کیږی . هغه برخه چی د شرعــی ویش له مخی د ښځو حق وی هغه هم نارینه وارثان له خپلو برخـو سره یوځای کوی .

دمیراث ویش عموماً د کلــی د ملکانو یا ملایانو له خوا تر سر ه کیږی . کونډه ښځه که څه هـــم دیوی خاصی برخی حقداره نه د ه خوتر هغه وخته پوری د خپـــل متوفی میره په حق باندی‌نا ستــه وی چی د ډوډی او نفقی مستحقــه وی . او د ښځی مال چی وزیر یــی په خپله ژبه بن سی بولی د هغی حق گڼل کیږی او میره وارثان په هغه باندی د دعوی کولو حق نــه لری . د ښځی تر مړینی وروستـه که چیری‌هغی‌کوم اولادونه لاره‌دهغی‌دمور او پلار دغه بن سی پـــه دی پسی د خیرات په ډول ورکو ی که چیری په خپله یی و سا تـــی ورته جایزدی .

په دوی کی د وصیت کولو رواج ډیر کم دی‌که چیری کوم ســړ ی وصیت وکړی او مړشی نو د هغــه وصیت خورا لږ عملی کیږ ی.

په ځمکو باندی شخړی:

په ځمکو باندی شخړی‌د حقیقت له مخی په دوی کی لږی دی داځکه چی له پیل نه‌هر چاپه خپلــــه برخه باندی قبضه لگولی ده ا و

هر چاته خپله د ده یا برخه ښه معلومه ده اوبوازې په فك الرهن *
ځمکه باندې شخړې منځ ته راځي خو دغه شخړې ډېر زر د دود او
دستور له مخې فیصله کیږي . که چیرې له مرتهن د مدراهن مدعی
له ملکیت انکار وکړي نو مدعی خپل ملکیت او هن د ثبوت لپاره
شاهدان وړاندې کوي او که چیرې مدعي ثبوت ونه لري نو
مدعی علیه دخپل ملکیت د ثبوت له پاره د شاهدانو وړاندې کولو ته
مجبور دی که شاهدان ونه لري نو منکر مدعا علیه ته په قرآن کریم
سوګند ورکول کیږي . که چیرې هغه سوګند وکړي چې دغه متنازعه
زما میراثي ځمکه ده او د مدعي ملکیت یا رهن دی نه زه خبریم او
نه زما پلار دمړینې په وخت کې په دغه باب ما ته څه
ویلي وو . نو په دغه وخت د مدعي د عوا ساقطیږي . په هغه صورت
کې چې د ګروي د پیسو په ډیر بښت یا لږ والي باندې شخړه وي
نو د هغې له پاره مرتهن اختیار لري چې هر څومره روپۍ چې خپل
حق ګڼي د راهن نه چې هغه یې په قرآن کریم باندې ږدي واخلي
په دغه حال کې راهن هیڅ د ول د عوانه شي کولای .

په پور باندې شخړې:

دپور په معامله کې هم مدعي علیه د انکار په وخت او د شاهد
انو د نه موجودیت په سبب مدعي یا په خپله سوګند کوي یا مدعي
علیه ته قسم ورکوي که چیرې مدعي علیه سوګند ونه کړي نو دي
باید ټاکلې پیسې ورکړي .څرګنده ده چې دا دول ټولې مالي شخړې
د دوارو خواو په سوګند خوړ لو باندې منحصرې دي او سره له
دې چې د تحقیق دود ډیر ضعیف دی بیا هم ډیره لږه حق تلفي منځ
ته راځي او علت یې دا دی چې دکلي د ملکانو او خلکو په وړاندې
په درواغو سره په قرآن قسم خوړل د متنا زعینو او شاهدانو
د بدنامي سبب کیږي ، نو ځکه په دوی کې قسم خوړ لو ته ځورا لږ
خلک حاضریږي .

---

* فك الرهن هغې ځمکې ته ویل کیږي چې له ګروې نه خلاصه
شوې وي (ژباړونکی)

په خپلو منځونو کې د شخړو د فیصله کولو څرنګوالی ؟

کله چې دوه تنه وزیر یا د دې قبیلې دوه ښاخه یا څانګې په خپلو منځو کې په څمکه، پیسو ښځو او یا نورو مقابلو په سبب شخړې وکړې نو خپلو دوستان، دکلي ملك یا د هغه ځای سپین ږیرو په موضوع پو هوی او کله چې د غه شخړه د دوی په خوښې سره فیصله نشوه نو جرګه د دریمګړو په توګه تاکل کیږي. جرګه د وی جګړې ته نه پریږدي. که چیر ې دواړه خواوې دا جرګه ومني نو بیا

وزیرو دوه څلور یا څو تنه وزیر د خپل ښاخ یا نورو ښاخونو نه ملکان یا مخور د دریما نو په توګه تاکي او هغه وخت چې دغه جرګه راټوله شي او ددواړو نه دوستان او ګوندي دلران دخپلو جنبو سره را ټولیږي او پسه حلالوي او دجرګې برخه وال او نورو حاضر ینو ته د دواړو خواوونه ډوډۍ ورکول کیږي. د وزیرو دجرګې خرڅ عموماً ډیر زیات وي او کله کله ددغه خرڅ اندازه د دوی سوه روپیو ته رسیږي. دددریمګړ واو ددواړو خواود ګوند یدارانو نه پر ته کله چې عام وزیر دجرګې خبر واوري د ډوډۍ دخوړلو له پاره ډلې ډلې راځي اودواړو خوانه دغه ډول فضولو خلکو ته هم ډوډۍ ورکوي او جرګې ته دچا راتګ او ډوډۍ خوړل نه منع کوي. که چیرې څوك منع کړي نو دغه کار بد نامي او سپکاوی ګڼل کیږي.

که دواړو خوا و ته یو خوایي د ډو ډې ور کولو لوڅېر کې له خرڅ نه انکار وکړي نو دهغوی په باب خلك فتوا ورکوي چې په دې شخړه کې دده دعوا غلطه ده او که د اسې نه وای نوله خرڅ نه به یې تښتېده نه کوله. دریما نو ته تل ښه خواره یعنې دپسه غوښې ژیرغوړي، وریجې او اکثراً دغنمو ډوډۍ ورکول کیږي، لنډه دا چې دا ډو ډې تر هغه وخته، دوام مومي ترڅوچې دریمان خپلې وروستۍ فیصله وکړي او هغوی یې قصداً ځنډوي.

کله چې شخړه د جرګې د برخه والو په رضا فیصله شي نو پسله دغه وخت کې ددواړ و خوا وشفاهي بیان جرګې ته او رول کیږي ددغه تقریر تر اوریدلو وروسته له دوی نه پوښتنې کوي چې تاسې

دواړه مونږ ته واك راكوي چي په څه ډول يي مناسبه و بولو په
هماغه ډول فيصله وكړو، كه دوي‌اختيار وركړي نو ددوي د دود او
دستور نه پرته دسولي په منظوريو تجويز د دواړو خواوو په
خوښه نيول كيږي او كه هغوي‌ته د سولي واك ورنه كړي نـود
شرعي احكامو له مخي ديوه ملا په مرسته د دوي شخړه فيصله او يا د
وزيرو ددود او دستور مطابق‌دفيصلي تجويز د معاملي برخه
والو ته وايي او بيا جرگه خلاصيږي. كه دغه فيصله د دواړو خواو
خوښيږي نو دغه فيصله د قطعي‌ده .

كه چيري يوه خوا د دريما نـود تجويز نه ناراض او ووا يي
چي د دوي په باب بي انصافي شوي‌ده نو بيا دغي خوا ته اختيار شته
چي دوي په بل ځاي كي جرگه جوړه اودويم نظروغواړي او ددوي‌دتجويز
په باب بل نظر ترلاسه كړي نـ چيري دويمي جرگي هم د لومړنيو
دريمانو نظر ومانه نو دا فيصلـه قطعي شميرل كيږي او كه چيري
د هغوي نظر له لومړني جرگي لـه نظر سره مغايرت ولري نودپخواني
فيصلي ناقص شفاهي دلايل را بـرسيره او په دغه باب د څو پخوانيو
غلطي فيصلي را بر سيره كوي اواو خپل نوي تجويز او فيصله وړاندي
كوي او بيا ناراضه خوا د دغه تجويز دنه منلو اختيار لري . په
هغه صورت كي چي ددعوي كومه‌خوا د لومړي يا دويمي جرگي دتجويز
نه انكار وكړي او يا د وزيرو ددوداو يا محمدي (ص) شريعت له مخي
دشخړي فيصله ونه مني نو دويمه‌خوا ددي‌واك لري چي په بدي يـا
دښمني له هغه سره چلند وكړي،او له مال او جايداد نه يي بد ل
واخلي اويا هغه ته څه زيان ور ورسوي او كه هغه سړي مظلو م
او دبدل اخستلو توان نه لري نـو بل زور ور ښاغ ته ور ځي او پسه
حلالوي او په خپله ، جايداد اوهغه شي چي‌ددعوا باعث گرځيد لي دي ،

لکه څاروي ، پیسی یا ښځه هـم هغـو ی ته ور وړی او کلـه

چی دهغوی همسایه شونو په شرم او ننګ کی د هماغه ښاغ سره ګډ

یږی او هغه خلك دویمی ډلی یـا ددغه سړی مد عیا نوته وایی چـی

زما ددغه همسایه مدعی باید د ده سره دوزیرو ددود یا محمدی (ص)

شریعت له مخی دعوی فیصله کړی او تر هغو چی دغه دعوا فیصله

شوی نه وی په هغه باندی غرض نشی کولای او اکثراً د هغه دقدرت

له مخی ښه فیصله را مینځ تـه کیږی . که نه نوددوی تر مینـځ

دښمنی پیل او دیو بل مال چـی لاس ته ورځی غنیمت یی ګڼی که

دهغه همسایه مال یا سرته دهمسایه توب په موده کی د دویمی ډلـی

لخوا زیات ورسیږی ، د هغه چا سره چی همسایه و دهغه شرم او

نقصان ته دلو تمار ی په ستر که ګوری او هغه ډول ناغه تر ینه

اخلی لکه چی د لوتماری په با ب ذکر شو .

لنډه دا چی د فیصلی وروستی طریقه دښمنی او زوردی ، هغه

سړی چی زور وروی بریا لـی کیږی ، خود دغی لاری اختیارو لو

نه وړاندی د دعوی د فیصلی کو لو له پاره ډیر تدابیر نیول کیږ ی .

دګرمی په موسم کی کله چی د غه خلك په غرونو کی تولیږی نـو

هلته د هوا سوړوالی او وخـت نه په استفادهی سره د شخړ و او

تنازعا تود حل او فصل کار و نـه تر سره او اکثراً د زیات د خر خ او

زیان له ویری په لوړی فیصله باندی قناعـت کوی .

ستر وزیر :

داتمان زیو وزیرو نه د ممیـت خیلو اومدی خیلو دښاخونو ځا نګی

یعنی توری خیل او پیپلی کا بـل خیلو ته دوی پخپله اصطلاح سترو

وزیر وایی اوهمدا رنګه دغو دریـو څانګو ته په خپله ژبه دری نغری

یا دری لغړی وایی او مقصد یـی دری کورنی دی. که چیری په وز یرو

کی کومه لویه شخړه را مینځ ته شی او فیصله نشی او یا په کـو مه

مسئله کی په مروجه دود اودستور باندی اتفاق و نلری اودریمان یعنی

منصفان مختلفی فیصلی وکړی د و د دسترو وزیرو له دغو دریو کور

ليو ته چي كوم سړى راشي يا دوا ړه څوا وى د فيصلى له پاره هڅو ى
ته ورشي ، هره هغه فيصله چي دوى ني وكړى هغه قطعي ګڼل كيږى او دا
ى دوز يرو اعلى مجتهدين دغه دري لغړى كورني ده . او له همدى كبله
دفيصلى كولو قطعي اختيارات او واك دغو دريو كورنيو ته ځكه وركړل
شوى دى چي دوزيرو د دوداو دستور ايجاد وونكي او راميڼځ ته كوونكى
ددغه دريو كورنيو لوى نيكه ګا ن ولكه څنګه چي وړاندى هم وويل
شول.

دملكانو حال :

د وزيرو په قبيله كي دملكانو په ټاكلو كي موروثيت ته هيڅ اهميت نه
وركول كيږى له څه هم دكورني مورثيت ته يوه اندازه پاملرنه كيږى
خو هغه سړى چي دملكي وړاو دغه استعداد يي ولري نوددهمخه څوك
نه شي نيولي .
دښي ميراني شرايط چي د هغو په ذريعه دملكي نوم حاصليدلاى شي
په دى ډول دي :
لومړى دمانبنام توره چي دهغه نه مقصد ميلمه پالنه او ميلمنو ته
د وډ ى وركول دي .
دويم هوښياري چي دغه سړى په جرګو كي
بايد په هو ښياري سره خبرى وكړى او په خبرو كي منطق او
استدلال ته ځاى وركړى او په هروخت د خپلى قبيلي د ښه والي ،
وړاندى تګ او ساتني په لټه كي وى . رشوت ، وانه خلي او خبرى
يى پخى وى نو په دغه سړى باندى د قبيلي خلك اعتماد كوى
اود ملك په بلل كيږى اود خپل ښاغ مغرورى او هغه مور
تي ملك چي په پوهه او لياقت كي له ده سره برابر نه
وى، هغه ته غاړه ږدى . دوى د ملكانو په تغير او تبديل
باندى په خپلو منځو كي دښمني لري كوى ، دا ځكه چي د دوى په
ملكي كي لومه كتبه نشته ، په دى ډول كله چي د لومړى مستعد
سړى له اولادى نه كوم يو دد غه مقام لياقت ونه لري نو د دغه
ښاغ د بلي كورني كوم يو پيدا كيږى .او ددوى دغه دستور
دى حبرى ثبوت دى چي دوى ټول پخپلو كي سره و رونه او برابر
شميرل كيږى . د ملك واك دجرګي د جوړ و لو پرته خو ر ا لږ
او په جرګه كي هم د جرګي د اكثر و برخه والو داتفاق نه پرته ملك
كوم واك نه لري او دخپلي قبيلي يا ښاغ دمخالفو ډلو نه دكومي ډلي
د نارضايي په سبب د دريمانو دګډون او يا دولړو خوا وو د خويني

او رضایت نه پرته کومه فیصله نه شي کولای . که د جرگي ځمري ئ د کوم عام انتظام له پاره کوم تجویز وړاندی کړی نو دا تجویز د ملك له خوا خپلي قبیلي یا ښاخ ته اوروَل کیږی . خود جگړی د تجویز عملي کول او د لښکرو برابرول د ستراميرو او ځلوېښتیانو په معرفت تر سره کیږی .

ملکانو ته د ډوډی نه پرته بل کوم عاید نشته او هغه څوك چي ملك ميلمه کړی دهغه له پاره اکثراً پسه حلالیږی .

اوس د احمد زیو په ښاخ کي د سوهان خان زوی نجیب خان او اتمان زیو په قبیله کي آدم لوی ملکان دی . دپاتي ملکانو نومونه د هغوی د ښاخونو د قبیلو دشمیرسره یو ځای وروسته د فهرست په ډول راځي .

د کوژدی رواج:

د نامزدی او کوژدی رواج په دی ډول دی چي د هلك د مور او پلار له خوا د قبیلي یا ښاخ یو معتبر یا سپین ږیری سړی د نجلي کورته د مرکي او نجلي دغوښتلو له پاره استول کیږی . که هغوی یعنی د نجلي کورني راضي شوه . نو هغه سړی ته چي د نجلي د غوښتلو له پاره راغلی دی وایي چي دی له شپیتو نه تر سلو روپیو پوری چي د دواړو خوا وو رضایت وی راوړی دغه روپیو ته دوی په خپله اصطلاح حیری وایي را وړی نو کله چي دغه پیغام واوری نو دغه روپي پیدا کوی اودپنځو یا څو تنو په ملگرتیا دنجلي کورته ځي او یو یا دوه پسونه د خپل خوراك له پاره له ځان سره بیایي او د شپي د ډوډی تر خوړلو وروسته دهغي نجلي د وارث لکه پلار یا ورور په لمن یا ټوکری کي یا دی شوی نغدی روپي یا زرچي دوی ، ورته حیری وایي اچوی چي له هغو پیسونه د هلك او مور او پلار د ملگرو په غوښتنه دوی یا څلور یا تر دغه زیاتي روپي بیرته اخیستل کیږی او پاتي نوری ټولي پیسي د نجلي مور او پلار ته پریږدی او پسه حلالوی. کله چي دغه دود ترسره شو نو د کوژدی عهد او ژمنه پخیږی او تر هغه وروسته دغه عهد څوك ماتولی نشي ددغه دود تر پای ته رسیدو وروسته سهار د هلك خپلوان او دوستان بیرته خپلو کورونو یا کلیو ته ستنیږی تر هغه وروسته یو عجیب دود ترسره کیږی یعنی کله چي زوم دخپل خسر کره راځي

نو دځان سره یو پسه راولي او بیاد خپلو څو تنو ملګرو سره هغه پسه د حپل خسرپه کور کي حلالوي او کلیوال هم راغواړي چي دغه رواج دخترړه په نامه یا دوی اود هغي ورځي په سبا په هغه لوښي کي چي هلك دوډۍ خوړلي وی په هغه کي دوه یا دری روپۍ اچوی او دهغه په بدل کي خسردسپینوزرو یوه ګوته یا یوه لونګی او یا یوه جوړه بوټان یاسپین ټوکر نه جوړ شوی دستمال چي دسرو وریښمو کارپه کي شوی وی هلك ته ورکړي او بیاد حوښي رسم اودود په دې ډول په ځای نوی چي دواړه کورني د یو بل کره ځي او ډوډۍ خوري او د کوژدی مراسم په دې ډول پای ته رسیږي . په دغه قبیله کي د کوژ دی دعهد په ماتولو باندي شخړې لږې وی.

دنکاح څرنګوالی :

دډغه قبیلی دا دوداو دستوردیرښه دی تر څو هلك بالغ شوی نه وی تر هغه پوري نکاح نشي کولی. کله چي دواړه یعنی هم نجلی او هم هلك دبلوغ سن ته رسید لنو دواده له پاره یوه ورځ ټاکل کیږي او د هلك د کلی هر کوریا هر سړی چي له وراسره یو ځای ځي یو ه ا و ړ ی یعنی یو ه پیمانه غله جوار یا غنم چي و زن یی عموماً دوه سیره وی را و ړ ی او دورا دتګ نه یوه ورځ وړاندی یوه اندازه د غنمو یاد جوارو اوړه یو یاڅو پسونه یوه اندازه کوړ ا و د ناوی جامی دری څلور ښځي ا و پنځه شیږ سړی له ځان سر ه د نجلي کورته وړی اوله هغو موادونه چي ورسره وی دوډۍ پخوی، ا و دغه دوډۍ لومړی د نجلي د کلي او سیدونکي خور ی . تر هغه وروسته د ماښام په وخت کي وراچي شمیر یی د دواړو خوا په موقف پوري اړه لري را رسیږي او پـه داسي حال کي چي د کلي ښځي ا و ماشو مان ئي په ډبرو اوسو ټیووهي اوکلي ته ننوزي اوهغه دوډۍ د مخه د دوی د خلکو له طرفه تیاره شوی وی خور ی او ټوله شپه په ډ و ل وهلو او نڅا ووتیرو ی. په دې وخت کي ددوی ترمینځ دکټ ، بړستني او یا میلمنو ته دبل ډول عزت ورکولو، دود نشته د ژمی او اوربښت پـه موسم کي په او رباند ی د تودیدلو په ذریعه د سړو تکلیف کم و ی که دنجلي مور اوپلار توان ولر ی نـود سهار له خواهم وراباني ته وچه دوډۍ او د جوارو دلده ورکوی اورخصتو ی یی او هغه نجلي ته دنکاح تړلو وړاندی دواده کالي و ر اغوندی او په آس یا غوایی باندی یی سپر وی او بیا یی .خود هغي میره دوه دری ورځي د دوی دتسلیت

له پاره د خسر په کورکی پاتـــی کیږی . په دریمه ورځ بیر تــه
خپل کور او کلی ته ستنیږی اوملارا غواړی او نکاح تړی . تر نکاح
وروسته په لسمه یا شلمه ورځ نجلی بیرته د خپل پلار کـــور ته
ستنیږی او تر دوو او نیو روسته دنجلی مور او پلار هغه د خپل میره
یا وروریا دکوم دبل خپلوان پـــه لاس هغه بیرته په د ا سی ډ و ل
رخصتو ی چی ډیره دوډی پخوی اویو سړی یی په خپل سر باندی ږدی
او د خپلی وسی په اندازه یو یاڅوپسو نه او غوایی ورکوی چی دغه
ورستنی دودته سروږر وایی ، نوموړی دوډۍ دمیره په کلیو ا لـــو
باندی ویشل کیږی د نکاح د تړلواجوره تاکلی نه وی خو اکثـــر ا
د یوی روپی نه لږۍ ورکول کیږی.

دماتم یا ویر مراسم :

په دوی کیداسی رواج‌دی که چیری‌کوم سړی مړشی نو دمړی تر ښخولو
وروسته په هغه کورنی با ندی‌چی‌ماتم وی دوی یاد دوی د خپلـــوان
،دنوری قبیلی په کورو نو باندی‌دوډی ویشی او دغه دو د ته دوی
په خپله ژبه شل کړی وایی، ا وکله چی د کوم لیری ځای نه کـــوم
میلمه د تعزیت او فاتحی له پار ه‌راڅی نو یو پسه او غوروړی لـــه
ځان سره را وړی او د مړی پـــه کورکی یی حلالوی او دغه میلمه یی
دنورو میلمنو سره خوری . هغـه ملاچی مړی ته غسل ورکوی د مرگ
د وخت جامی د مزد په دول ورکوی.او د جنازی سره یو ځای دوسی او
قدرت په اندازه د پسونو یاوزویانورو حیواناتو خیرات کوی .

دتوری او لښکر کښی ځرنگوالی :

کله چی وزیرو ته ددی ضرورت پیدا شی چی په کومه قبیله یرغل
وکړی، نود هر یوه ښاغ ملکان په یوه یا څو تاکلو ځایو نو کی سره
راتولیږی او دخیر دعا کوی او پـر دښمن باندی د توری یا یر غـــل
وخت تاکل کیږ ی او ددی قبیلی هر بالغ سړی باید په دغه لښکرکښی
گډون وکړی او دخیر تردعا وروسته کوم سید ، پیر، ملایا کوم بل‌متبرك
سړی یا ملك چی خلك ورته پـــه درنه سترگه گوری او په پرهیـز
گاری باندی شهرت ولـــری د ر ی‌ډبر ی چی په پښتو ژبه ورته‌دری
گانی وایی یوپه بل باندی ږد ی اویو کوچنی ځلی جوړی او د جرگـی
تولو برخه والوته خطاب کوی‌چی هر سړی ددی جرگی د مشوری‌دتعمیل
او ترسره کولو نه غاړه وغړ و ی‌نو دا ځلی دی په بدی ورپسی ا و

هغه باندې دې ښېرې ولګيږي او وکورد ئې يې خراب کړي او د هغه ښيرې د جرګې د ټولو کډ ونکوو نکو له خوا کيږي او ټول وايي چې دجرګې چې د پنځو يعنې د تــو لــــوله خوا دي دا ځلې دبدي د هغــه چاپسې شي چې ددغه مشورې پرخلاف عمل وکړي او بيا هغه چا چې ځلي جوړ کړي وي بيرته يې رنګوي، پنځه په ټولو پښتني قبيلــو کې عامه اصطلاح او مقصد يې تــول دي مثلا که څوك ووايي چې د پنځو وزيرو د اسلا ده يا پنځو بنو والويا پنځو توته دا ځرګنده د ه نــــو ددغو اصطلاح ګانو مقصد د ا د ی چې د اد ټولو وزيرو يا ټولو بنوالو او ټولو مرو توته ځرګنده د ه .اود قبيلي هر کوچني او لوی ته دټولو په عوض د پنځه لفظ استعمالوی .

لنده دا چې کله چې په دې دول دوی دګانو ځلی جوړ کړي نـــو بيا دغه مشوره هر څوك دوېړی نه هم عملی کوی .او د وی و ا يــی که چيرې ندرتاً کوم سړی نه د ی تړون سره مخالفت وکړی نو هغــه ته مالي او ځاني زيان رسيږي ا ودغه دری ګانې د هرې مشورې ا و مضبوط تړون له پاره ضرور جوړيږي. دغه ، خلك عموماً په خپلی دښمنی دلی باندې ياد پسرلي دموسم(مارچ او اپريل په مياشتو) يادمنی دموسم په پيل يعنې داکتوبر او نوا مبـــرپه مياشتو کې يرغل کوی . کله چې دغه ټاکلي موسم را ورسيږي نودهر ښاغ ملکه خپلو مربوطو ښاخونو له دلو سره چې هر څومره راتول شوي وي له ځان سره هغه ځای ته راولي کوم چې دلښکرو د راټولو له پاره ټاکل شوی دی. ددې لښکر و ليږد يادو لو وړدی دهر يوسړ ی د سره څو منی کودی چې په هغه کی څو سيره اوړه وی چې د يوه تن له پاره يوه او نی يالس ورځــــــی کفا يت کوی مـــــو جـــــو دوی. دال او توره يي په زړو توکرا نوکی تړلی و ی او توپك يي په اوږ باندې ايښي و ی اويه داسی حال کی چې دولونه غږوی دلی دلی ټاکل شوی وځای ته ځی .

دحربی يا جګړه ايزو فعاليتو نــــويش :

کله چې دوی ټاکلي ځای تــه رسيږي نوټول ملکان سره متفق او ټول اختيار دوو ملکانو ته ورکو ی چې دوی ورته ستريالوی ملکـا ن وايی چې د هغوی وظيفه داده چې هرښاغ ته يو مناسب ځای و ټاکـی او نظم يی برابر کړی همدا رلزسوله او بدی دده په خوښه يا غوښتنـه او دنورو ملکانو په تائيد تر سر ه کيږي . اوس داتمانزيو په قبيلـه

کی آدم خان مداخیل او د احمدزیو په قبیله کی د سوهان خان زوی نجیب خان سپیرکی ستر ملکان دی. ددغو سترو ملکانو نه پرته یو تن دستر امیر په نامه تاکل کیږی چی څو تنه ولړه یا کوچنی امیراندده تر لاس لاندی په فعالیت بوخت وی او دهر امیر تر لاس لاندی دضرورت په اندازه څو کسان چی شمیریی له شلوڅه تر سلو کسانو پوری وی او دوی ورته په خپله زبه شلویښتی یا محصل وایی ، وظیفه لری .

دستر امیر وظیفه داده چی دلښکرو په ځای کی حاضر اودجګړی په وخت کی دلویو ملکانو په غوښتنه پخپله لراده هر یو ښلغ په بیلو بیلو ډلو وویشی او دجګړه پاره یی تیلر کړی . هر یو ښاغ غری د جګړی په ډګرکی له یو بل سره سیالی کوی او غوړی چی ددی لپاره په بیلو بیلو ډلو ویشکیږی ی چی د هر ښاغ په هغه یل باندی خپله برتری ثابته کړی او د لښکرو ځای د ساتنی بند وبست هم کوی .

دستر امیر دریم لوی کار دا دی چی که چیری دکوم ښلغ کوم سری ، غفلت ، بی پروایی او یا تمردوکړی او په ټاکلی وخت حاضر نشی نود هغوی د حاضر ولوله پاره لویو کوچنیو امیرانو او دهغه تر لاس لاندی محصلانو ته وظیفه ورکول کیږی او دا شلو یښتیان یا محصلان ډیرواك لری او کولای شی له هغه چانه چی تمردیی کړی یا غیر حاضر شوی وی د وزیرو د دود او رواج له مخی ټاکلی جبرمانه واخلی، او د هغوی یو غوایی یا دوه پسو نه حلال کړی او ویی خوری او پاتی برخه یی ورنه راوړی . او که چیری دوی ناغه ادا نکړی او په لښکرکی د کډون کولو نه د د ډوکړی نو شلو یښتیان دا واك هم لری چی د هغوکورونه لوټ ،تالا یا وسوځوی ، که په دی تالان کی د کورخاوند مقاومت وکړی نو شلویښتان دی وژلی شی دوزیرو د دود له مخی په دوی باندی هیڅ دول الزلم نه لګول کیږی خوستر امیر د دوی دبی عدالتی څارنه کوی .

د(۱۸۶۳) عیسوی کال د منی په موسم کی د احمد زیو اواتمان زیو دښاغونو اکثرو ځانګو د دوړو د ښلغ پر پای خیلو باندی چی دبنو دلو یدیځ په دیرش میلی روددوړ د سیمی په لو د یځ کی دتو چی درو دپر غاړه میشته وو،ددی لپاره یرغل وکړ چی هغه لاره چی د وزیرو کاروانونه د ګر می په موسم کی اشتوال او د یخنی دموسم په پیل کیږی بیرته تګ ر اتګ کاوه د پلی خیلو دمزا حمت

وړو ګرځیده ، چی داکار دو ینو دتویولو حدته ورسیده او تـر دریو تالو پوری دهغوی تر مینـځ د ښمنی جاری وه . کله چـی توره را توله شوه نو په تنـدی نومی سیمه کی چی دغه ښاغ پـه کی استوګنه لری د وزیرو لخـو ا محاصره شوه او سره له دی چـی د وزیر و دلښکرو شمیر د پنځـه زرونه زیات و او محاصره شو و پای خیلو شمیر پنځه سوه تنـه رسیده سره له دی هم دغه محاصره څلور میاشتی اوږده شوه خوزیرووکولای شول چی له ځان دفـاع وکړی اوو جنګیږی چی په دو مر ه موده کی له دواړو خوا وونه زـه تنه ووژل شول . په پای کی وزیرو سور نکونه وروو هل او یویـی والو زاوه له بله پلوه د پای خیلوښاغ دخپلی قبیلی له مرستی نـه مایوس او تلولی شول او د وزیر وسره یی سولی ته غاړه کیښو د ه خپل کلی یی وزیر وته ورکړاو پـرته له دی ددوی نه دری زره روپی نغدی هم واخیستل شوی او هغـه کلی یی رنګ او یو نوی کلی یـی په کی جوړ کړ او دهر ښاغ نه یـی څلور سوه وزیر هلته میشتـه کړل . تردی بریالیتوب وروسته د راتلونکی له پاره یی د لاری پـه نـه بند یدو با نـدی اعتمـادوموندنو د وزیرو لښکری متفر قی شوی .

کله چی د وزیرو لښکری په غر ه کی سره راټولی شوی وی نوپه دغه وخت کی د وزیر و دوه دری ملکان د انګریزی سر کارنه د مرستی دتر لاسه کولو له پاره ماته را غلل . همداراز دوی ددی غوښتونکی و و چی هغو ی ته دخپل دود مطا بـق ددی اجازه ورکړل شی چی دهغـو وزیر وله ښاخونو ته چی په د ی موسم کی دسرکار د سرحد په دننه کی میشتـه دی خپـل څلو یښتیا ن ورولیږی خوځرنګه چی سر کار پـه داسی بهرنیو شخړوکی د مداخلـی خیال نه لری نو ځکه یی د دو ی دغه دواړه غوښتنی ونه منلـی .

وزیری اسونه اوسپرلی :

څرګنده ده چی د وزیر واسونه کلك او په منډه کی تیز او چټـك رفتار لری ونی یی متوسطی خولنډته ما یلی دی سرونه یی وا ړ ه ، غوږ ونه یی ښایسته او نو کدا ره، سمونه یی کلك اوخیتی یی دصندوق شکل لری . د ډیرو څیړنواوتحقیقاتو سره سره بیا هم ددی اسونو دنسل په باب کوم معلومات تر لاسه نه شو خود دوو دریو لاندینو څا نګـو آسان په دوی کی مشهور دی لکـه دغلو کلـه ،دخذر کـلـه اودا و ر مړو کله ، داسی اتکل کیږی چی په ورا ندی وختونو کی به وزیرو کوم

ښه آس په غلا زا وستلی‌وی او د هغه له نسل به د وزیرو آسو ته
مینځ ته راغلی وی. د وزیرواسونه لږ خوراك او زیات كار كوی. له
دی كبله كله چی په كوم شتمن سړی باندی‌خرڅ‌شی نو د خوراك
اوخدمت په وجه ډیر زر چاغ،ښایسته او غښتلی كیږی، او دوی‌تر
هغی اندازی فعال دی چی تر له ورځ سړی وربا‌ندی سپرلی كولای
شی، په اوسنی وخت كی په د ی آسانو كی دآسانومو‌ندل گران‌كاردی.
دوزیرو سپر لی دلیدلو وړ ده، دوی‌اكثراً دركاب له پاره مزرینی‌څپلی
په پښو كوی اوپه زړو او خیر نو كالیو پوری یی توری تړی وی. د
ځینو سره بد شكله نیزه او دځینوسره واړه توپك، تفنگچی
دوه خنجرو نه هم‌وی.
اوس په دكابل خیلو اتمان زیو،ممیت خیلو اتمان زیواوزلی خیلو
احمد زیو كی ډیر اسونه او سپاره‌موجود دی، خو د مسعود و په
قبیله كی له دو وسوونه زیات سپاره نشته دمنځ ی او لاروهنو نه
پرته داوارو سیمو په جگړ و كی د دوی سپاره د كارنه دی.

دغلا اولوټ لپاره ددوی دیو ځای كیدو څرنگوا لی:

غلا اولوټ ددغه قبیلی فطری‌عادت‌په تیره بیاد مسعو دو ښاخ
په دغه كاركی‌اول‌لمبردی‌په دغه ترځ كی‌دوی‌په‌څپله زړورتیا فخر كوی.دوی
دكومل په دره لی دغلا اولارو هنی‌په‌وخت كی دځپلی قبیلی نه پربه د
نورو خلكو او گاونډ یو مال تـه دښكار په سترگه گوری او د دوی
ډیره نا پوهی دا ده چی دمسیحیی كور نمنت در عیت د غلامال حلا ل
او ترډی حده یی متبرك گنی چی خپل كفن هم له هغه نه جوړ وی
په هریوه ښاخ كی خو تنه مشهورتكړه غله چی دوی په خپله
اصطلاح ور ته پیاوړی یعنی زړه‌ورو‌ایی موجود دی اواكثرا دوی
په خپل مینځ كی همرازه وی، كله چی د كوم جاسوس په، لارښو نه
یاپه خپله دكومی قافلی یا مال یا د او ښانودراتگ خبر واوری او
وپو هیږی چی په كوم ځای كی‌موقعیت لری نو خپل همر ا زملگری
راټول او هر څو مره كسان چی دغه حرام ښكار ته ضروروی هغه
تیارا وكله چی دلسو تنو نه لږ یوه ډله دشپی له‌خوا دغلا په نیت
چیرته ولاړه شی نو هغه ته غلـه وایی چی د غل دكلمی جمع ده او د
هغو نه زیات چی شمیری یی سلـو تنو ته ورسیږی هغوی ته غدی وایی
او د هغوی نه زیات ته تاړاك‌وایی‌او په هغه غدی یا تاړاك كی چی

سپاره شامل وی نو دجرم ترارتکاب وروسته هغوی ته تاخت وایی کله
چی تردو ولسوو تنو نه زیات کسان دتاخت له پاره سره را تـــــول
شي نو هغه ته لښکر وایی . ددی، دلی مشری د پیاوړی یا زړه ورپه
لاس کی وی کله چی دغه دله لــه خپلوغرنیو سیمو ته دغلااولارو -
هنی په منظو ر دسر کار مید انـــی سیموته روانه شی نو تر هغـــه
ځای چی د دوی د غره حددی هلتــه خپل شو تنه بی زړه او دلرن ملګری
چی په خپله پښتو ژبه هغوی تـــه څاربانی وایی دځار له پـــا ره

پریږدی او خپل ټول فالتو اسبا ب او بوټان او نور شیان هغوی تـــه
ورکوی او په خپله دجرم تر سر ه کولو له پاره ځان هغه تا کلی ځـای
ته رسوی . ددلی مشر خپل ملګری په دوو دلو ویشی لومړی ګډو وبی
یا هغه شوك چی د مقصد ځای تـــه ورننو ځی دویم ګډوونی یا هغـــه،
شوك، چی دریږیاوخبر اخلیپه لومړیدله کی چی نقب وهی یا مال راباسی
پیاوړی هم شامل وی او دویم دلـــه د لومړی دلی محافظت کو ی چـــی
هغوی په غلا باند ی بوخت وی‌ا و هم کله چی مظلوم مستحـــقان و ر
باند ی خبرشی د هغوی سره‌مقابله کوی .

د دغو بدبختی محا فظی دلی پـــه لاسونو کی تیږی په ملا پوری‌خنجر
او توره او د لوټ په وخت کـــی د اکثرو سره ډال او توره او ځینو
سره توپك او تفنګچی هم وی ،کله چی د کور خاوند خبر شی نـــوددی

محافظینو علدت داسی دی هغه‌وخت چی مالك دخپل مال دساتلو لـــپا ره
چیغه ووهی یا شو رما شور وکړ ی‌په تیږه ئی‌وهی . که ددوی ملګری
تیښته و کړی نو خیر اوکه دوی‌خپل ځان اویاکوم ملګری‌دنیولو په وحت نی
وو ینـــی دهغه چا د وژلو لتـــه کوی چی د دوی د نیو لو نیت یـــی
،کړی وی .

که څه هم په لومړی سرکی دوی عمدی قتل ،لوټما ری، غلا وی‌اونو ر
شرار تونه کول خواوس عموماًیوازی په هغو حالاتو کی چی پورته بیان
شول قتل کوی تر دغه عمل وروسته هر خومره زرچی کیدای شی غـــلا
شوی مالونه خپلو غرنیو سیمو تـــه وړی اوهغه وخت چی دخپل غره حـــد
ته ور سیږی نـــو هغه څار با نی‌دله چی د څار له پاره د فالتواسبابو

نو سره هلته پاتی شوی ده . دو ی ته دودی چی ورته کاك وایی او
په دبره باند ی پخیږی لا دمخـــــه تیاروی دوی دغه دود ی ، خو ر ی
او دستړیا در فع کولو له پاره‌په هما غه ځای کی وید ه کیـــږ ی‌او
څاربانی دله فوراًغلاشوی مال‌اخلی‌اوروانیږی او یوتن دویده شو وغلو
له پاره پیره کوی که چیر ی‌د سړی‌نه دمال تعقیب کونکی ولیدل شی‌نو
هغوی بیدار وی او له دغه ځای نه روانیږی .

دغلاشو وما لونو ویش :

دغلا شو ی مال یوه برخه ددوی په نامه یا دوی . د غلو مشر هغه وخت چې د پیښې ځای ته نږدې شي نو خپلو ملګرو ته وايي چې هغه سړی چې نقب وهي یاکو رته ننو ځي یا څاروی راوباسي ټوله هغو نه هر یو ته دوی دوی یعنې دوی بر خــې ورکول لیږي او هغه څوک چې بهر ولاړو ی یوه سړی ته یوه برخه اودمرتکبینو په مینځ کې دا دول ویش ترسره کیږي خو سر غنه یا مشـر ته دنور و په نسبت یوه یا د وی برخې زیاتې ورکول کیږي اودځاربا نږهریو ه ته یوګنډ کې یعنې دیو ی برخې څلورمه حصه ور کـــول کیږي . هغه غلاشوی مال چې لوټ پـــه ذریعه تر لاسه شوی وی د هغـــی د یوی حصی نه پرته د هر یـــو ه وسله وال مرتکب په وسله باند ی هم ویش ترسره کیږي ، که د چـا سره یوازې یوه توره وی نو دهغه برخه معمولي او د هر یوه توپک یا تفنګچې خاوند ته یوه دوی او هــر یوه سپر خاوند ته نیمه دوی تا ــ کله شوی ده . په دغه اساس که چا سره د غلا په وخت کې یو توپک یو تفنګچه یوه توره او یو د ا ل وی نو هغه دری برخې اخلي خو په دی شرط چې دغه سړی نو مــوړ ی وسلې تل له ځان سره ولری نه دا چې یوازی د غلا دورځې له پاره اودویری بر خې تر لاسه کولو پــه منظور یې له ځان سره راوړی وی. نو له همدی امله اکثراً وزیر ددی له پاره چې خپل ځان ته د پیاوړی او زړه ورنوم ترلاسه کړی نو دغه ټولې وسلې له ځان سره ګرځوی.

دغلا شوو مالونو دلیږدولو لاری:

غلا شو ی څاروی او حیوانـــات غرونو ته بیول کیږی او اکثراً پـه سلیمان خیلو اوغلجیو باندی پلورل کیږی او یایې د توری ښاغ خلـــک اخلي او خوست ته یې بیایي ا و د ختکو په سیمه کې ځینې میا کـــان او ښان اخلي او غلاشوی مالونه لکه توکران او نور اکثراً د وزیرو پـــه سیمه کې پلورل کیږی . دغلا شوو مالونو اخستونکی اکثراً د غلو لـــه مشرانو سره اړیکی لری. او کلـــه چې غلا شوی مالونه خپلو غر نیـــو سیمو ته یوسی د اسانونه پر تـــه نور ټول یې ډیر زرخر څیږی .

دغه قبیلی تر منځ دیو والی او نفاق څرنګوالی :

هغه څه چی د افغانستان دټولو اقوامو په باره کی ما د خپلو څیړنو په باب تر لاسه کړل د هغونه د اخبره څرګندیږی ، په هغه اندازه یووالی او اتفاق چه په دغه قبیله کی موجود دی په نورو پښتنو قبیلو کی ساری نه لری او علت یی د دوی په دود او دستور کی نغښتی دی. خو بیا هم د جهالت او ناپوهی له امله په ځینو ښاخونو کی دښمنی مینځ ته راځی او دغه دښمنی او عداوت ان دوینو د تویو لو تر سرحده پوری رسیږی لکه چی داتمان زیو په ښاخ کی دممیت خیلو او برهم خیلو ځانګوتر یوی مودی پوری په خیلو مینځو کی سخته دښمنی لرله او همدارا ز بهلول زیو مسعودو د توری خیلو او عبدالی خیلو څانګو په رزمک نومی ځای باندی د شخړو له کبله تر یوی مودی پوری دښمنی لرله . و یل کیږی چی دغه دښمنی دیره پخوا نی او د دوی د دودنو د مینځ ته راتلو وړاندی پیښه شوی وه . که څه هم په اوسنی وخت کی د دوی تر مینځ کومه ظاهری دښمنی نشته خو په زړو نوکی یو بل ته چندان پاك نه دی او دښمنی د لی د یو بل ښه والی نه غواړی . سږ کال د اتمان زیو وزیرو د بکا خیلو او ممیت خیلو د څانګو تر مینځ په ښځو باندی شو ځله شخړی ، را مینځ ته او د وینو تویولو باعث شوی . او د سپرکی احمد زیو او مسعود و وزیر و تر مینځ هم څو ځله دمال او قافلو دلوټولو په سبب شخړی پیل وشوی او درویش خیلو وزیرو د توری د راتولولو تکل کړی دی خوښایی چی د دوی تر مینځ سوله وشی .

دنورو ګاونډیو قبیلو سره دښمنی:

دوزیرو قبیله له خپلو ټولو څلورو خواوو ګاونډیو سره دښمنی لری خو په ترڅ کی دوی دومره پوهه لری چی که وغواړی د هری قبیلی سره دښمنی وکړی نو په هغه قبیله کی یوه ګروند ی د خپل ځان په ګته مینځ ته راوړی .

په پخوازمانوکی د بنو څیو له قبیلی سره دځمکو دنیولو په سر احمدزیو اتمان زیو اکثراً جګړی کولی او د مسعود و ښاخ د بیټنیو او اورمړو سره د ملك نه د خارجولو په سبب سخته دښمنی موجوده وه . اودحتکو د قبیلی د میری خیلو له ښاخ سره هم دوی څو جګړی وکړی .د دوی د مروتو قبیلی د لوحانی ښاخ سره هم پخوانی د ښمنی موجوده او تقریباً

یوویشت کاله وړاندې چې د احمدزیونښاغ لوی ملك سوهانخان یو ځه د خپلی پخوانی دښمنی په سبب او څه هم د مروتو د نیمی کونډی د غوښتنی په سبب د شپږ زره لښکر په ملګرتیا د مروتود قبیلی په بیکو خیل اوسکندر خیلو په ښاخو باندی په لکی نوم ځای کی یرغل وکړ په دغه جګړه کی د مرو تو کوچنی دلی چی حسن خان خیسورهم ورسره ملګری و دوزیرو لښکر و ته سخته ماته ورکړه او تقریباً سل تنه وزیر تپیان او ووژل شول که چیری په دغه وخت کی مروتوددوی مات شوی لښکر ترلیری ځایو نو پوری تعقیب کړای وای نو دوی ته به یې دیر زیانونه رسولی وای . اوس د دوی تر مینځ کومه ښکاره دښمنی او جګړه موجوده نده اوسبب یی دادی چی دغه قومونه دانګریزی سر کار تر حراست لاندی ژوند کوی .

وزیر اوس په ښکاره دولدغلجیو، او د کور می د اوسیدونکو تو ریو، خر وټو ، دوړ او میا خیلو سره دښمنی لری او هر کال د دوی تر مینځ د لږ ویا ډیروو ینو د توئیدلو باعث ګرځی . وزیرد کاکړ و د قبیلی له ځینو ښاخو نو سره چی د ګرمی په موسم کی د دوی غرنیو سیموته خپل مالونه د څر ولوله پاره بیایی دهغو سره هم کله کله کوچنی جګړی مینځ ته راځی خوداسی ښبی موجو دی چی دوی به دخپلی زړه ورتیا او دغرور او دغرنیو سیمو دد نیولو په اثر له دوی سره هم دښمنی پیل کړی . سره ددومره دښمنی دذوی په مقبوضه سیمو کی هیڅ څوك مداخله نشی کولای خو دوی په نورو باندی یرغلونه کوی .

د پاچا یانو سره ددوی اړیکی :

ددغه قبیلی خلك له پخوا زمانو نه په مالداری او درمو په څرولو بوخت اوپه غرنیو سیمو کی اوسیدل، نو ځکه یی دپخوانیو شاهانو سره کم ارتباط لاره نوځکه وزیرپه خپلی آزادی باندی ویاړی اووایی چی موږ له پخوا نه هیڅ پاچا ته باج نه دی ورکړی .ددی قبیلی خلکو داورنګ زیب عا لمګیر دزوی بهادر شاه له پوځونو سره دوه ځله مقابله وکړه . همدا راز هغه وخت چی د سکها نو پو ځونه بنو ته راغلل نودسائیسانو (دآسانو دساتونکو)اونورو په وژ لو سره یی خپل ځانونه ګنهکار کړل . لنده داچی دانګریز سر کار نه وړاندی دوی دهیڅ چارعیت نه وو .اوانګریزا

سرکار هم یوازی په هغوښا خو نو تسلط لرئ چی دژمی په موسم کی
دبنو دضلعی په حدودو کی میشته کیږی ، همدا رار دمیدان په سیمه
کی دوی له پخوا نه ځمکی لرلی ا و هم دسن کار لخوا د بخشش په ډول
دلته دوی ځمکی ترلاسه کړی د ی . اوس هم ددغه قبیلی اکثریت په
آزاد ډول په غرنیو سیمو کی ژوند کوی . هغه لومړنی حاکم چی د وزیرو
قبیلی ځینی ښاخو نه یی رعیت کړل کرنیل هربرت اډ واردس و .

په (۱۸٤۷) عیسوی کال کله چی نوموړی دجرنیل وین کورټ لندت
په ملګرتیا دسیمی دچار ود تنظیمولو په منظور بنو ته راغی او په دغه
سیمه کی یی په سرسری ډ و ل دمالیی راټو لولو له پاره مطالعه
پیل کړه نو په دغه وخت کی دوزیرو قبیله چی ددوی ځمکی د بنو په سیمه
کی وی نو دوی دخپل لوی ملک سوهان خان ترمشری لاندی په دغه کا ر
اعتراض وکړ اوویل یی چی مونږ هیڅ کله کوم باچا ته باج ندی ور کړی
نو اوس هم دخپلو مقبو ضه ځمکو له سروی نه معذرت غواړو .

داخبر د(۱۸٤۷) عیسوی کا ل ددسامبر دمیاشتی په یوولسمه نیته
کرنیل اډ وار ډس ته ورسیده او ده تر پوره غور وروسته په فار سی
ژبه یو اعلان جاری کړ چی د هغه ښیکنی اود عملی کوونکی د عمل
استقلال او خپلواکی ور نه ښرګندیږی او ښرنګه چی دغه اعلان ګتور د ی نو
ځکه هغه کټ مټ لاندی راوړل کیږی.

داعلان نقل : (*)

هغه اعلان چی دلاهور بهـا در استنټ ریز ډنټ هر برټ اډ واردس
له خوا د (۱۸٤۷) عیسوی کـا ل د دسامبر دمیاشتی په ا و لسمه
نیټه په میش خیلو کی جاری شـوی دی:

« دا دوزیر ودقبیلی هاتی خیلو ، بیزن خیلو ،عمر زیو سرکی خیلو ،
محمد خیلو، سودن خیلو ، بکی خیلو، او جانی خیلو ملکانو ته دی چی دجرګی
له پاره غونډ شوی دی دا ښر ګنده و ی چی ما ته داسی ښکاری له هغه
وخت نه چی پنځه ویشت یاد یرش کاله وړاندی دبنو ښیا نو ملک دخرا-
سان د پاچهانو له لاس نه وتلی دی له هغی مودی نه دوزیر و قبیله

---

* په کتاب کی دغه اعلان پـه پارسی ژبه راغلی دی .

خو ښرنګه چی دغه کتاب په ښتو ژبه ژباړل کیږی نو ځکه پورتنی اعلان
هم وژباړل شو .

چي په خپل مينځ کی اتفاق در لو ذاو بنو شيان چی ددوی تر مينځ ا تفا ق
او يووالی موجود نه ونو ځکه وزير له خپلو غرنيو سيمونه را ښکته

او دبنو زر خيزی سيمی يی و نيولی‌او کال‌په کال يی‌خپلی‌قبضی ته توسعه
ور کوله اوکله چی وزير د بنـــو سيمی نيولی نو بايد په دی‌پوه شوچی

په هغه وخت کی‌په بنوکی نه کـوم قانون موجود واونه يی کوم حا کـــم
لاره . که څه هم د بنو دود داســـی‌وچی په خپل مينځ کی يی د چا حـق

نه پيژانده او ځکه به دزورد دخاوندوه ، او هغه څوك به‌چی‌دنو ر و
سيمو نه راتلل په همدی ډول يی عمل کاوه ، خواوس هغه وخت تير شو ی

اود لاهور سر کار داسی تکل کـړ ی‌دی چی دبنوملك د پنجاب د ريا ست
يوه برخه وګڼل‌شی اوپه راتلو نکی‌کی به يو لوی پوځ اوحاکم‌د پنجاب

درياست له خواپه دغه سيمه کـــی وټاکل شی ددغه تجويز مقصد دا د ی
چی د سرکار اوامربی له ستونـز وعملی شی ځکه په هره تپه کی‌دځمکو

جريب کول اود سروی چاری پيـــل‌شوی ترڅو د ځمکو اندازه اود هغوی
څښتنان وپيژندل شی اوپاتی دی نه وی چی دهرچا سره چی د بنو ځمـه
وی هغه سړی که‌وزير وی يا ختټك‌او يا هم له کومی بلی قبيلی نه ،له
دی امله چی دسر کار مقصد د ټو لـو خلکو سره په برابر ډول چلند کو ل

او تر يوه نظم لاندی راوستل د ی.. نو ځکه به دهيچا پلوی نه کيـږ ی
که څه هم‌دی دلوی يا کوچنی قوم وی‌زور ور اويا کمزوری ری هر څـوك

چی دبنو په‌سيمه کی ځمکه لری‌هغه دبنو شيو په‌جمله کی شميرل کيږی.
او هغه څه‌چی ملك‌سوهان خـــا ن وايی چی‌وزير وتراوسه کوم پا چـــا

ته ماليه نه‌ده ورکړی نواوس يـی څرنګه ورکړی ؟ ترهغی چی دری په‌ا
خپل سيمه کی اوسـيږی ، د د و ، دادليل معقول دی داځکه چی تراوسه
ددوی ملك آزاد او دکوم حاکم تـــر قيا دت لاندی نه دی او مها راجادليپ
سنګهه بها در هم دد وی دغرينو سيمو سره څه کار او غرض نه لری ،خـو

هغه وخت چی دوی بل ملك ته‌راشی نوضرور ده‌چی دهغوی نظم اوقانون
ومنی ،که دوی دسرکار ما ليـــــه او قوانين نه منی‌نو ځکه دی هغه
چاته ور کړی چی پخوا ئی له هغـه نه نيولی ، اوپه خپله يی قبضـــه
ور باندی نه‌ولی ، ی ، دوی دی خپل پخوا نيو په‌زړه پوری غرنيو سيموته

لاړ شی چی هلته ماليه نه ورکوی . هلته غنم نه پيږی اوهم ددوی پـه
دغه خبره‌باور ولری‌چی‌يـا به قانو ن‌منی اويا به له بنو نه د توری پـه
زوروايستل شی او بايد وپوهيږی‌چی له ما سره دومره پوځ نه موجود دی

چې د وزیرو ټوله قبیله ور باندې تباه کولی شم خوزه یقین نه لرم چې دوی به ترهغه اندازې نا پوه او بې خبره وي چې هغه ځمکه چې د دېرش کاله یې په لاس کې وه په یوه و ر ځ خوشې کړي یادې دخپل ټول فصل یوه وړه برخه چاته پرېږدي ، نو د وی ته دغه لاندې شرایط وړاندې کو م :

لومړی : دهغه ځمکې چې د بنو په تپه جاتو کې د پیسو په بدل کې اخیستل شوې وي هغه بې له شکه ددوی حق گڼل کیږي . اوهغه ځمکه چې وزیرو په زور له پنځو کالو راهیسې نیولې وي هغه دې هم ددوی په قبضه کې وي .که چیرې له پنځو کلونو نه په کمه موده کې وزیرو ځمکه نیولې او بنو څیو دهغې د بیرته نیولو له پاره جګړه نه وي کړې . هغه دې هم د وزیرو په واك کې وي .

دویم : په هره اندازه ځمکه چې دوزیرو په لاس کې ده دبنو ددوله مخې دې خپل محصول دبنو څیو په شیر دمنې دموسم له فصل نه ورکړي اوپه راتلونکې کې دې خپل محصول فصل په فصل ورکوي .

دریم : هغه ټول ځړځایونه چې د تهل په نامه بلل کیږي او څلور خواوې یې په دې ډول دي ختیځ ته یې پراخې دختکو زراعتي ځمکې یا دلتمر، کمر، نصرتي اوسوار اوسهیل ته یې یوه تنګه دره ، لویدیځ ته یې مچن خیل د کورمې درې اود سورانیو سیمې، قطب ته یې له هغه ځا یه چې د کورمې سین له غره نه د بنو ملك ته ننوځي. دغه ټول ځړځایونه چې دمالونو لګه اوښان ،غوایان ، او پسونو دڅرولو له پاره دسرکار له خوا تخصیص شوي هغه څوك تر ی کته اخستلای شي چې دسرکارتابعیت ومني اود کال (۲۵۰) پسونه دمالیې په ډول ورکړي اود مالیې دورکولو ویش دې قبیله په خپل مینځ کې دزیاتوالي اوکم والي په نظر کې نیولو سره وکړي اوهر کله چې دوزیرو قبیله له غره نه راښکته شي نو باید دهرښاغ ملك د سرکار ملازم ،ته حاضر او دخپل ښاغ شمیر دې دملازم په کتاب کې ثبت کړي چې څومره خلك تهل ته راښکته شوي دي.

څلورم : هغه څوك چې په للمه ځمکه کې هر څومره ساحه ور کړ ی نو شپږمه برخه دې سرکار ته ورکړي.

پنځم: څرنګه چې د وزیرو قبیله په للمي ځمکواو دبنو په نور وسیمو کې په متفرق ډول ژوند کوي نوددوی له پاره به دسرکار له خوا سو هان خان وزیر ملك وټاګل شي.

شپږم: په راتلو نکی کی به دوزیرو او بنو شوترمینځ دښمنی او عداوت له مینځه ولاړ شی. او ددوی ترمینځ وینی تویول ، لوټماری اودزراعتی اوبو وچول بندوی. اوکه له وزیرو نه کوم یو ځان مظلوم گڼی نو باید زما حضور ته راشی اوعرض او دا دوکړی فقط.

باید ددغه اعلان په محتوا باندی خپل ځا نونه پوه او پخپل منځو کی سلا او مشوره اوډیر زر مثبت یا منفی ځواب راکړی . »

هغه وخت چی دغه اعلان خپور شو نو محتوا یی هغه وزیر چی د بنو په سیمه اودغرو په لمنو کی یی ځمکی لرلی د غفلت له خوب نه را ویښی اوټول هغه حکمونه اوشرایط چی په اعلان کی خپاره شوی وو د ملکانو په جرگه کی ومنل شول ا و ددغه حکم دشرایطو په نظر کی نیولو سره هغه وزیر وچی د بنو په تیپو کی یی آبی ځمکی لرلی دا ومنل چی د خپلو حاصلاتو څلورمه بر خه شرنگه چی په نورو بنو څیو کی رواج و د ما لیی په ډول سرکار ته ور کړی خو دوخت حاکما نو دځمکو دسروی جمع اوقیداوبندوبست په وخت کی له وزیرو سره له ډیری نرمی نه کار واخیست خو دبکا خیلو ښاخ له دغه نرمی نه محروم دی اود تهل او نورو ځمکو باندی شپږمه برخه وټا کل شوه اوس دبکا خیلو له ښاخ نه پر ته نور ټول وزیر دغه مالیه درونډ بار نه گڼی او په خپل وخت باندی یی ور کوی.

اوس غواړم ددغه قبیلی په هغه له دښمنی نه ډک چلند وغږیږم چی دانگر یز سرکار دوا کمنی له پیل نه یی تر اوسه دنو موړی سرکار سره کړ یدی.

دا خبره څر گنده ده چی ددغه قبیلی تقریباء ټول خلک غله دی او په دغه باب هغوی په خپله زړه ورتیا او اتفاق باندی افتخار کوی اوتر هغی چی دوی ته دتیکس او خراج په ډول څه پیسی ور نکړل شی نودوی په خپلو همسا یه گانو باندی یرغل کوی. کله چی هغوی دانگریز سرکار په لو یدیځه بوله کی دیو سلسو څلویښتو میلو په اوږ دوالی همسایه شول. نو دکور نمنت دملا زمینو له خوا ډیر کو ښښ کیږی چی دوی راضی وساتی خو په لومړی سر کی داحمد زیو او اتمان زیو څینی ځانگو او ټول مسعود ودانگریزی سر کارسره ډیر مخالفت څرگند او تل به یی په پر غلونو لاس پوری کاوه او تر څو به چی ډیر او قوی خلک له دوی سره نه وو نو څو میله دننه په سرحدکی به هم کار وانونه او مسا پران محفوظ نه وو او وزیرو په دغه خبره باندی دپو هیدو ظر فیت نه لاره چی کیدای شی له دوی سره دملا او سولی له لاری چلندو شی

او هم دهغه زیان تاوان له دوی نه واخیستل شی اودا خبره خو دوی ته هیڅ دمنلو وړ نه وه چی سرکار کولای شی دوی ته ددوی دخپلو غر یو سیمو په دننه کی سزا ورکړی، اوپه حقیقت کی دوی په ځان دا سی اعتماد لاره چی دوی به تل کولای شی چی په سرحد کی خلکو ته کړاوونه پیښی او مجرمانو او فراریانو ته به په خپلو غرنیو سیمو کی پناه ورکوی او انګر یزی سرکار به په خوشالی سره سره دروپیو په بدل کی دوی خپل پلو یان کړیدی ددغو خامو خیالواو لوړ په ذریعه به دوی تل پـــه سرحد کی فسادو نه رامینځ ته او په ځوکیو باندی به یی یر غلونه کول آن تردی چی یو ځل یی هم ددوی یوزیات شمیر خلکو دبنو دنیولو له پاره ملا وتړله اوهم یی دانګریز رعیت په هغو ځایو نو باندی چی دپولو پــه دننه کی میشته وو تیری وکړ اوتهدیدول به یی او کله به چی دوی تــه په مناسب وخت مر سته ونه رسیدله نو هغه ځایو نه به یی لوټول، مسا پرانو او دسرکار رعیت یی تـر هغه ځایه چی لاس رسیده لو ټاوه او زیان به یی ورا ساوه.

په پای کی د (۱۸۵۲) عیسوی کال په ورو ستیو وختو نو کی تر هغــه ورو سته چی دپخلا توب ،سولی اوحفا ظت دتړون نه تر دریو کا لـــو زیات وخت تیراو ددوی اکثره تیری او کړاوو نه وزغمل شول. نو دبنو دپټی کمشنر جان نکلسن دګورنمنت په منظوری داسی پریکړه وکړه چی داحمد زیو له قبیلی نه دعمر زیـو په ښاخ باندی چی دبنو په شما لی غرو نو کی او سیدل او یو سخـــت یرغل نه ورو سته چی دوی ترسره کړی و، دتهل له سیمی نه غرو نو ته په شا شوی وو او هلته یی له پخوانه خپل قدرت لاپسی پـیاوړی کړی وه یرغل وکړی او دغه یرغل شپی په نا ځاپی ډول په دوی عملی شـوچی په دغه جګړه کی ددوی ځینــی کسان ووژل شول ـ کنیږ دیو ته یی اور ونه وروا چول شول او رمی او څاروی یی دسرکار لخوا ونیول شول او راو ستل شول، لنډه داچی دا یرغل بر یالی واو له هغه وخت نه عمرزی لاری ته راغلل او له حملو نه یــی لاس واخیست، دسرکار سیمو تـه ددوی تګ راتګ ازاد او له هغـــه وخت نه ددوی کره وړه سم دی.

او یوه بریا لی یرغل ددی له پاره کافی وچی هغه کارو نه چی داحمدزیو په ټولی قبیلی پوری مربوط ووسم کړی شی، دعمرزیو د ټکو لو نـــه وروسته داتمانزیو قبیلی د کا بل خیلو ښاخ باندی چی دکو هاټ پـه خوله کی اوسیږی چی دری ځلی یرغل وشولومړی ځل په ۱۸۵۵ عیسوی کال . چی ددغو یرغل ددی لپا ره کافی وه چی دسرکار دعوه چی ددغو خلکو سره یی لرله دسولی له لاری حل شی په (۱۸۵۶) عیسوی کـــال

ددویم ځل لپاره په لارو وهو نکو باندې د شپې له خوا ناڅاپي بریده وشو او هغه وخت چې دوی په دې وپو هیدل چې دسر کار دپوځ له خوا محاصره شوی اود مقابلې یا تسلیمیدونه پرته بله لاره نه وه پاتې.

دوی هغه قاتلان چې دسر کار لخوا ورنه غوښتل شوی وو سر کار ته وسپارل او دوی په خپله په امن کې پاتې شول..

د (۱۸۵۹) عیسوی کال دد سا مبر په میاشت کې ددریم ځل له پاره په همدغه کابل خیلو باندې په دې سبب یرغل وشو چې دکپتان مچم قاتلانو ته دوی پناه ورکړې او سرکار ته یې هغوله سپارلو نه دده کوله اوځنګه چې هغوی دخپل ملك دموقیعت په استحکام باندې داډ درلود نوځکه یې دسر کاری پوځونو سره په جګړه لاس پورې کړ خو ماته یې وکړه اوددوی کیږدې مالونه اوڅاروی دسرکارلاس ته ورغلل. په پای کې مجبور شول هغه شرایط ومنې چې دسرکار له خوادوی ته وړاندې شوی وو. اوس به دوزیرو دقبیلې دمسعودو دښاخ بیان وشي؛

دغه ښاخ له نورودریو څانګو نه دلوټ په کارکې ډیر مشهوراوپیاوړی اوددوی زیانره ګوزار ه په لوټ جبر اوتشدد باندې ده. دوی په دغه خبره پوره باور لري چې دهغوی غرنیوسیمو ته رسیدل او ددوی په چاروکې مداخله یوناشو نې کار دی. دوی له پیلنه تراوسه په غلا، لو ټ اولار وهنه بوخت دی او هیڅ داسې یومیاشت به نه وی چې دوی په دا سې یوه کار لاس پورې نکړی.

د(۱۸۵۵) عیسوی کال دمارچ په میاشت کې یوپومې افسر چې دولس تنه پولیس هم ورسره وواو یوه ډله لوټماران یې ددوی په غرنیو سیمو کې څارل اوتر ډیرو لیرې ځایونو پورې ورپسې تللي وو. ددوی پــــه ذریعه ووژل شول او دهمدغه کال د نوامبر په میاشت کې ددغه ښاخ دری زره خلك سره راټول اودټانك سیمې ته مخامخ دیوی دری په منځ کې دغه نیت سره یوځای شول چې نوموړی ښا ر لوټ کړی خودسر کار پوځ له پنځوس میله لیرې نه د دوی، منځ ته ورغلل خوددوی تصمیم عملي نه شو. پـــــه (۱۸۵۵)ــ عیسوی اوبیا په (۱۸۵۷) کا ل کې په د غه ښا خ ، با ند ی دپوځې یرغل تجو یز منظور خودځینو نورو ضروریاتو له کبله دغه کارو ځنډیده او دځو کالو پوځی عملیاتو دځنډ یدلو په سبب دغه خلك زړور

او په دغه خبره باندې یې باور تېنګ شو چې که دذوی غرنیو سیمو ته ورننګ او ددوی په چارو کې لاس وهنه وشي نو دوی به ددغه عمل مخه په بریا لیتوب سره ونیسي.

د (۱۸٦۰) عیسوي کال دمارچ دمیاشتې په دیار لسمه نیټه دمسعود وخلك پر ټانك له دې چې دوی ته کوم زیان ور رسیدلی وی د څلورو زرو تنو نه یو لښکر ترتیب او دلو یو ملکانو په مشری ټانك دښار دلوټولو په نیت میدان ته راغلل له نیکه مرغه په ښاوخوا ځو کلیو کې سپاره پوځونه موجود وو او هغوی ته په داسې وخت کې خبر ورسېده چې دوی د (۱۹۵) تور زنو تولولو مهلت ورکوند او دسرکاری پوځ دزړه ور توب او دجنګی تعلیماتو سره داشنا یې په سبب غرنیو لوټمارانو ماته ورکوندله او ددغه لوټمارا نو نه، له سلو تنو نه زیات مړی پاتې شول. له بلې پلوه دسرکار له خوا خلك لږ مره شول، خو زیات اسان ضایع شول.

تر دغه و روسته نواب ګورنرجنرال حکم وکړ چې ددغه ښاغ غرنیو سیمو ته باید پوځ ولیږل شی تر څو وړاندنیو جرمونو بدل او دراتلو نکی له پاره باید داد تر لاسه شی ،کله چې دیرغل حکم صادر شو نو دضرورت ور سپایان راټول او دغه پوځ دبرید جنرال چمبرلین په مشری هغه ځای ته چې لوټمارانو ته ذلت ورپه برخه وورغی او هلته یې لښکرګاه جوړه کړه خو دسپایانو دبرید نه وړاندې دمسعودو ملکانو ته اعلان ورولیږل شو. په هغه اعلان کې غرنیو سیمو ته سرکار دپوځ دننوتلو مقصد هم څرګند شوی او هغو ته خبر ورکړل شوی و چې تریوې، تا کلی مودې پورې دوی ته ددې اجازه شته چې سرکاری لښکرګاه ته راشي او دسرکار دعوی ته غوږ ونیسي او که چیری دوی را نشی او یاد سرکار دعوه ونه مني نو ملکانو او دهغوی له ښاځو نو او ماشومانو سره به ددښمنی نه ډك سلوك وشی او سزا به ورکړل شي او څو نو نه به یې په خپلو غاړ ووی.

دبرید جنرال چمبرلین دغه معقول او پر ځای اعلان، ته هیڅ ځواب ورنکړ شو بیا لښکر ته خبر را غی چې مسعود دغره په دننیو سیمو کې جګړې له پاره چمتو دی او زیات ټم کیدل ضرور نه وو، لکه چې د (۱۸٦۰) عیسوی کال د اپریل دمیاشتی دشپاړسمی نیټی په سهار برید جنرال چمبرلین خیمی ټو لې او دپنځه زره اوسلو جنګیا لیو په مشری ټانك ته مخامخ دټانك زا م دری له پو لونه تیر او غره ته ننوتل. په پیل کی ددغو لښکر ومقابله ډیر خفیفه وه تر څو داخل ته و رسید ل دسر کار لښکر ی دعسکری پلان له مخی په دووبر خو

وویشل شوی . برید جنرال چمبرلین د یو زیات شمیر لښکر و او غرنیو توپو نو سره دشاهون په خوا روان شو . او دسپا یانو یوه ډله یی چی شمیر یی تقریباً دوو زرو تنوته رسیده، په پلو سین کی چی دچنډو له نه شلور میله وړاندی پروت دی . دلفټننټ کرنیل لمسډن تر مشری لاندی پر یښود لشو . دبرید جنرال چمبر لین پوځ نو بیله مقابلی دغلیم ډیر کلی وسوځول اوکرنی او زراعت ته یی ډیر زیان ورساوه خودری زرووزیرو په هغه ډلی باندی چی په پلوسین کی میشته وه ددغه کال داپریل دمیاشتی ددری ویشتمی نیتی په سهار د شبخون په ډول یرغل وکړاو دپوځ وړاندی برخه یی له مینځه یو وړه اوله دوی نه یی تقریباً پنځه سوه زړه ور کسان ووژل او هر څه به چی لاس ته ورتلل له مینځه به یی وړل ا و انسا ن اوحیوا ن به یی تر تیغ تیراوه . که څه هم په لومړی سر کی ددغه نا څا پی برید په اثر په سر کاری پوځ کی وارخطا یی او بی تر تیبی مینځ ته را غله خوتر لږی مودی و روسته سپا هیانو ځانو نه سنبا ل او گور کهه او گا یډ پلټنن دتو پکو او تورو په زور و زیر په شاو تمبو ل او تردریو میلو پوری دوی تعقیب او ډیر وزیر ووژل شول او په دی ډول دوی ته یوه وړه سو به ورپه برخه شوه ، هغه وخت چی د پوځدواړه ډلی سره یو ځای شوی نو بیاهم یوی برخی و ړا ندی تګ و کړدمی دمیاشتی تر شلور می نیتی پوری هیڅ کومه مقابله ونشوه په هغه ورځ دبر یړه ددری تر مینځ او د غرو نو دواړو غاړو ته تقریباً اوه زره تنه مسعودود سر کاری پوځ لاره بنده او دجګړی له پاره تیار شو ی وو، نو موړ ی دره ډیره تنګه، اوتګ را تګ په کی ډیر سخت دی . دښمن که څه هم ددری لاره ډیره مضبو طه تړ لی وه خو جنرا ل صاحب په داسی تدبیر سره جګړه و کړه چی وزیریی ډیر زر تیښتی ته مجبور کړل . د وزیر و مسعود ملک چی په دغه جګړه کی حاضر و وایی چی مادهغی دری دبندو لو اوسختی مقابلی له پاره لښکری په، درو ډلو ویشلی وی. په دی ډول چی خاص په د ره کی دښمن خیلو دښا خ خلک،دشمالی غره په سر بهلول زی او سهیلی خوا ته یو تمه خیل علیزی ځا ی پر ځا ی شو ی وو. شمن خیل په دی فخر کوی چی دتو لو نه وړاند ی بهلول زی اودغره دسر خلک و تښتیدل . لنډه دا چی تر دی جګړی و روسته مسعود و بیا هیڅوخت په مخامخ ډول جګړه و نه

کړله دهغې میاشتې په پنځمه نیټه لښکرې په مخ ولاړې او تر پنځلس میله و ړاندې تګ نه وروسته دکانی ګروم تر څنګ چې د هغو خلکو یو مشهور ښار دی چې په هغه کې داور مړیو لښ شمیرسیدان او سیدل تم شوی. او ددغه ځای دبیګناه خلکو په غو ښتنه دو ی یوه اندازه رو پۍ واخیستې او دغه ښار له لوټ اوسوزلو نه وژغور ل شو . سر کارې پو ځ له څوورځو تم نه و روسته دشمال په خوا مخه وکړه او په یو لسمه نیټه دمکین سیمې ته ورسید ل او هلته تـــم شول دغه ځای د مسعود و دقبیلې لوی ښار دی او هلته اوسپنیـــز ساما ن ا لات جوړ یږی او دعبدلی ښاخ اونور مسعود چې داوسپنـــی سوداګری کو ی ښه اوهو ســـاژوند لری .

سره له دې چې مسعود په پر له پسې ډول ویو هول شول تر څـــو چې مسعود په لاره نه شی نودمکین ښار به لوټ کړی شي په دغه وخت کې سر کاری پو ځ دبنو خوا تـــه مخه کړه او ددښمن زراعت اومالونه یې زیانمن او دمسعود و له حدنه تیرا و د اتمانز یو و زیرو سیمې ته ننوتل دخیسور در ی سر تـــه تر رسیدلو پورې دمسعود و زیرو سپرو به لښ لښ دوی تعقیب او د دوی داذیت باعث به ګرځید ل . خو د مقابلې له پاره به یې هیــــخ اقدام نه کاوه . ددغه میاشتې په اتلسمه نیټه پوځ بیرته دبنو ضلع یعنی سر کار ی سیمې ته ورسیده اودغه معامله په ډیره آسانۍ پای ته ورسیده . او دسر حد دانتظا م له پاره دا ډیر بریالی یر غل و. اودهغو سیمو غرنی ګاونډي هم په دې پوه شول چې موږ په سختو غرونو کې دمیشته توب اوپه دغو ځا یونو باند ی دباور په سبب دانګر یزی سر کار سره ددښمنۍ په صورت کې خوند ی نشو پا تې کیدلای او هـــم هغوی دځپلو اعمالو په بـــد ل کې سخته سزا و لید له ، ددو ی ملک ولید لشواو نقشه یې واخیستل شوه چې دغه عمل په راتلو نکـی کې ددو ی دوېرې اوعبر ت با عث دی . دمسعود و هغه ملک چــــې دمولف سره یې کتلی دهغه دبیا ن له مخې په دې جګړو کـې ددو ی (۲۸۰) تنه وژل شـــوی وو. چې دتېپیانو شمیر ددغه عـدد نـــه زیا ت و ، په دغه جمله کې (۱۰۵) تنه د ټانك په جګړه کې (۳۶) شپږدیرش تنه دبړ یره په جګړه کـــې او پاتې یې د پلو سین په جګړه کې وژل شو ی و ،هغه په خپله دا خبره منی ، چې دوی ته ډیر زیا ن ورسیده او د هغو ی له لو یـــو ملکانو نه جنګی خان سملی خیل ،لوټ خان شهابی خیل او چلك ملـك

شاهي او ميراث هيبت خيل او نورووزل شو ل.دو ی وايي چي زمو تږ دقبيلي خلك د توپ له دزو نـه ويريدل خو دهغو نه دو مره زيات زيا ن راو نه رسيده لکه چي رافل توپکو را ورساوه .

تر دغه يرغل و روسته دافلاس، دغلي دنشتوالي او د کار وانو نو دبند والي سره سره مسعود و دضدله مخي دسر کار سره دپخلا کيد و غوښتنه و نه کړه خو تر يوه کا ل وروسته چي کله دوی ته دهغـه زړه ور توب نه خرابه نتيجه ورپه برخه شوه نو بيا يي دسولي غو ـ ښتنه و کړه او دپنجا ب گور نمنټ دبرقي مزی (تلګراف) په ذريعـه سره د سر حد حاکما نوته د سولي دغو ښتني دمنلو په باب داسی امر وکړ چي دمسعود و له دريو واړولو يو ښا خو نو سره دي په بيل بيل دول دسولي بند و بست و کړی اوله هريوه ښاخ نه دي په مفصل ډول لاندني اقرار و نه واخلي .

لومړی :

داچي دراتلونکي له پاره دي له سر کار سره دسولي ژمنه وکړی .

دويم :

که په راتلونکي کي د مسعودو، وزير و قبيله دسر کار سره کو مه بدی و کړی نو سر کار به دهغـه در يو ښـــا خو نو له جملي دهغـه ښاخ څخه بد ل وا خلي چي بد چلندوکړی .

دريم :

که چيری له تو لو ښا خو نو نه کوم يو وزير بدی وکړی نو نـــور ښا خونه دی هغه مجرم ته پناه نـه ور کوي او مرسته دی نه ورسره کوی.

څلورم :

که چيری دو زير و دکو م ښاخ نه څوك دغلا مرتکب شي نو د پاتـی خلـــك دی غلا شو ی مـــا ل په خپله سيمه کی نه پريږدی.

پنځم :

د دريو واړ و ښا خو نو ضامنان دی سر کاری سيمی ته دير غمـل په ډول راشي او د سر کار ترنظرلاندی ، دی استو گنه غوره کړ ی. او د سر کار له خوا به هغـو ی ته دگو زاری له پا ره منا سـب خرڅ ورکړل کيږی او هم به ســـرکار له هغو سره ښه چلندکوی او

دمسعود و مشران دی وپو هول شی چی دپور تنیو منذر جه شرایطو مقصد داد ی که چیری دسر ئ په سیمه کی د مسعود و قبیلی دری واړ و ښنا خو نو ته کوم زیان ورسیږی نو دمال خاو ند ته دده د حق او داد تر رسید و پور ی یوازی دهغه ښنا خ کاروا ن ضبطیږی چی په هغه باندی دغه زیان ثابت وی او مظلوم ته به دهغه دحق سپارلو له پاره دهغه دو داودستور له مخی چلند و شی کوم چی ددغه سر حد په نورو قبیلو کی جاری دی.

مسعود ودغه ټول شرایطو منل او د شنگی له ښناخ نه پر ته دنور و ټولو ښناخو نو دملکانو یوه لو یه جرگه راټوله او دسولی دشرایطو له پاره بنوته راغلل او د ډیټی کمشنر په حضور کی چی د سو لی کوم تړو ن و لیکل شو د هغه نقل په لاند ی ډو ل راوړل کیږی. ددغی سولی دتړون نقل د (۱۸٦۱) عیسوی کال دجون په میاشت په بنو کی دډیپټی کمیشنر کپتان مزو په حضور کی د مسعود و او و زیر و قبیلی ددریو واړو ښنا خو دملکا نو له خوا تحریر او تایید شو.

دسولی دتړون نقل:

موږه د سلمی خیلو د ښنا خ جنگی خا نزوی عمر خا ن او دلنگر خیلو له ښنا خ دسید شاه خان زو ی بارك خان د تمرو زو ی ببری گل، دمزدور زوی متین دقا سم خان زوی زار محمد، د دریاخان زو ی علی خان او دگوری خیلو دښناخ دمیر احمد زوی شجا ع دختان زو ی ولایت، دغفاری زو ی طوطی او دشابی خیلو دښناخ د محمد ی زو ی داداد، دشیرك زوی سوها ن خا ن د میهما ن خان زوی زری د ناصر خان زو ی ولی خان، دقتال خا ن زوی گلان دباری زوی عیسی گل دمردا خان زوی علی هیبت خان اودمحمد زو ی بید ل دگر یره له ښناخ نه د صالت خان زوی میرخاك دسید امین له ښناخ نه دشیر محمد زوی گل شاه.

دمسعود دقبیلی دعلیز یو ټو لملکا ن چی دلته راغلی یو غوا ړ و دانگریز سرکار سره دزړه له کومی سوله و کړ و نو په لاند ی ډو ل اقرار کوو:

لومړۍ ماده:

موږ په حپله خوښه دلتـــــه حاضر شوی یو او د راتلونکی وخت له پاره دسر کار سره سرله کـرواو کړی موده اوپه هغی به کلـک ولاړ یو .

دویمه ماده:

که چیری په راتلو نکی کی زمونږد قبیلی نه څوك دسر کار پــــه مقابل کی تو مه بدی و کړی اویادکوم جرم مر تکب شی نوسر کـا ر کولای شی زمونږ علیز یو نـــه پو ښتنه وکړی، مثلا که دعلیزا یـو له تول ښا خ نه کوم یو دانگر یـزسر کار سره ددو ی په ملك کـی هر ډول بدی و کړی نو سر کـار کولای شی له نورو علیز یو به دهغی پوښتنه او حساب و کړی او پـه دغه باب کولای شی د لار وانو نـو دنیولو له لار ی اویا د همـــد ی اقرار نامی دورو شرایطو دتعمیل له مخی چلند و کړی .

دریمه ماده:

که د بهلو ل زیو او شا مــــن‌خیلو دښا خو نو نه کوم تن‌دسر کار په سیمه کی کوم جرم تر ســـره کړی او زمونږ سیمی ته پناه‌راوړی موږ به دهغه پناه په هیڅ و جه‌و نه منو او مرسته به‌ور ســـر ه ونکړو او نه به غلا شوی ما ل لـــه ځان سره و ساتو .

څلورمه ماده:

که چیری دسر کار ی ر عیـــت‌نه‌کوم تن دسر کار په علاقه کـــی کوم جرم و کړی او زمو ږ سیمـــی‌ته پناه راوړ ی نو هغه او دهغـــه مال به مونږ هیڅ‌کله د خپلـــــی‌سیمی په حدود کی پری نږدو پـــه تیره بیا د مچم بهادر قاتلان ،یعنی‌حواجه هوس ،ممریز او دین یـــار گل ته به هیڅکله دااجازه ور نـــه کړو چی زمونږ سیمی ته راشی .

پنځمه ماده:

مونږ د سختی دښمنی‌او وسلـه والو کسانو دبرید اوجگړی‌ضمانت کوو ، خود غلاو په باره کـــــی‌دومره ذمه واری نشو احستلای چی هیڅ کله به و نه‌شی ، خودوسی‌ا وقدر ت په‌اندازه به تو ښـــبنی وکړ و چی دغه کار سر ته ونـــه رسیږی .

ځو که چیری دسرکار په سیمه کی د علیز یو لګو ا کسوم زیان را مینځ ته شی لکه غلا ،قتل یاکوم ځای ته اورور واچوی نو د هغو په بدل کی سر کار ددی‌اختیار لری چی زمو نږ له بهیر (کار وا نو نو) نه په لاندی ډو ل جریمه واخلی .

د وژنی په بدل کی (۶۰۰روپی) دسخت ټپ په بدل کی چی کوم غړی ناقص او له کاره لوید لی وی (۲۰۰) روپی .

دعادی او خفیف ټپ په بد ل کی د ټپ په اندازه .

داور اچو نی یاکوم بل زیان په بدل کی دهماغه زیان‌اورسیدلی تاوان په اندازه .

شپږمه ماده:

دخپل اقرار در ښتیا وا لی ا وصدا قت په سبب خپل دوه تنه معتبره خلک د یر غمل په ډول دسر کار په خو ښه یود خپلی کور نی سره او بل په مجرد ډول‌د تانک یاد بنو په سیمه کی تر یوه کال پوری د سرکار په واك کی‌ورکوو که چیری دسرکار په ملك کی تر یوه کا له پوری دعلیز یو له خوا کوم زیان میںح ته را نه غی نو یر غمل به خو شی کیږ ی که چیری په دغه موده کی د سر کار سیمی ته کوم زیان وز سید ه‌اود سر کار سیمی دمال حاو ند حق دپور تنیو شرا یطو له مخی ادا نه کړای‌شو نو بیا سر کار اختیارلری چی یر غمل خو شی کړی که نه .څر نګه چی مونږ دسر کار سره ژمنه کړی ده چی په راتلو نکی‌کی‌به په پور تنیو شرا یطو وفا کوو. نوځکه دغه غوښتن‌لیك دا قرارنامی‌په ډول سرکار ته وړاندی کیږی او هیله لرو چی سر کار زمو نږ ه‌دغه اقرار نامه و منی د (۱۸۶۱) عیسوی کال دجون (۱۹) نیټه .

عمر خان ،یارك خان ، ببر گل ،متین خان ، زار محمد خان ، علی خان ، شجاع خان ، ولایت خان ،طوطی خا ن ، داد ك خا ن، سو هان خان ، زاری خان،ولی خان ، کلان خان ، غنی گل خان، علی هیبت خان ، بیدل خان.

دغه اقرار لیك نن‌ورځ پورتنیوکسا نو په خپلی خو ښی او رضا یت سره دبنو دضلعی ډپټی‌کمشنرکپتان مزو بها در ، دټا نك نوا ب محمد شاه‌نواز خان بهادر او سلطان‌محمود خان تحصیلد ار په وړاندی

ولیکه او هغه وخت چی نومو ړی دپتی کشمنر قلم په لاس کی
وا خیست اودغه اقرار لیک یـی و لوست نود کلمی او فا تحی تر نو
ستلو ورو سته یی هغه تصد یـق او منظور کړ ـد (۱۸٦۱) عیسوی
کال دجون دمیا شتی (۱۹)نیټه .

دشمن خیلو ، ښاخ د ملکا نـولاند ینی سو له لیك دپور تنی
شر حی له مخی :

پیر زال خان ، صا حب خان ،الله داد خان ، قمرالدین خـان،
معین الد ین خان ، شا دی خـان ،عادل شاه ، عباس خان و بر یـن
الدین ،سور کمند خان ، منصب خان،خواجه میر خان، الله یار خان ، سید
میر او سید امین .

دغه دله خلك اصا لتاً د خپلی‌خوا اوو کا لتاً دخپل ښا خ‌دد غـو
کسا نو شیر علی خان، پردل خـان ،خدا داد ، او حسین لخـوا
(تصدیق شوی).

دبهلول زی دښاخ دملکا نو سوله لیك دپور تنی شر حی له مخی:

داحمد زوی تاج محمد ، داوری‌زوی لا تهی ، دالله یار زوی‌میسر،
دمهربان زامن یار محمد او مسك ،دغر نا زو ی گد ی ، دمشعل زو ی
دهود ی ،دعلی زوی قایم خا ن ،دنامدار زوی برخوردار دوه ورو نـه
درانی او شکر او دمحمد زوی پهوجړدنانا خیلو دڅا نگی دصورت زو ی
میرات او خوا جه ا حمـد او(بیا) دشنگی د څانگی او دسمند
زوی قلندر شاه د بند خیلـوله څانگی دور سمند زو ی نانـا
د مرصع له څانگی ، او دشتر مـان‌زوی دلا ئی .

پور تنی ملکا ن چی د بهلـو ل‌زیو د ښاخ دی اصالتاً د خپلی خوا
او و کالتا دبهلول زیو دښـاخ‌د نورو ملکا نوله خوا په تیره بیا
دلاند ی معتبر و کسانو لخـو ادشنگی څا نگی نه زبر دست ، سید
اونبی دنظر خیلو له څانگی نـه اخلاص او سوار او دملك شاهـی
دڅانگی نه فتح خان (تصدیقوی) .

ددغی سولی د شرایطو له مخی‌د وو واړو ښا خو نونه شپږ تنـه
یر غمل چی د هر ښاخ نه دوه تنه‌دملکا نو و رونه او زامن تا کـل
شوی وو سر کار ته و سپـارل‌شول چی دهغو ی نه دری تنـه
په بنو او دری تنه په ټانك کـی‌میشته او داستو گنی ځا یو نـه
ورکړ شو ل . چی مجرد و کسا نوته دمیاشتی دولس روپـی او د
کورنی خښتنا نو ته (۱۸) رو پـی‌تنخواه و تاکل شوه .

دسولی له ترون نه لا یو کال تیر شوی نه و چی دبهلول زیو دښاخ دشنګی څانګی ملك چی نبی نومیده او دسولی په وخت کی حاضر نه و د کابل نه راستون او په فساد و نو یی لاس پوری کړ او څو غلاو نه یی پر ته دپنجاب درسالی پنځه کسه واښه ریبو نکی او یو غوبه دټانك په سرحدکی ووژل . ددغو جرمو په سبب چی دبهلول زی ښاخ دشنګی ځانګی له خوا رامینځه شوی و او داسی ښکاریده چی دعلیز یوپوتیه خیلو څو تنو هم ورسره یو ځای شوی وو . له دی کبله ددوی دواړو ښاخو نو خلك دسرکار په سیمه کی ونیول شول ، او شمن خیلو ددی له پاره چی ددوی سره یی په دغه کار کی ګډون نه وکړی برائت تر لاسه کړ . په پای کی څلور نیم زره روپی ددوی نه جرما نه واخستل شوه او ګناه یی وبخښل شوه . خو ددغی جرمانی په سبب هغه څانګی چی ځا نو نه بیګناه ګڼی ډیر نا راضه دی .

تر دوو کالو وروسته یر غملکسان رخصت شول که څه هم په اوس وخت کی ددوی لوی جرمو نه او غلاوی کمی شوی دی خو د حیوانا تو اونوروړو غلا و ونه لاس نه اخلی له همدی کبله د سولی دترون دشرایطو له مخی دغلا شوو مالونو په بدل کی د دوی قافلی نیول کیږی او دغه مال بیر ته ورنه اخستل کیږی . او ددوی حال داسی دی چی وایی قهر درویش برجان درویش .

دبنود ضلعي په د ننه کې د ځینو ځایو نو د نیولو ځرنګوا لی

د احمدزیو د قبیلی د ها تهـــی خیلو ، سپیر لی، بیزن خیلو، پایند ه خیلو ، عمر زیو ،سر نی خیلو اوبدین خیلو ښاخو ،واو داتمان زیو دقبیلی دبکا خیلو ، جانی خیلواود ملك شی ښا خونو چی دبنو دقبیلی د شاوخو ا اود غره په لمنه کی دتهل او ورغـړ په نامه سیمو دنیولو څر نګوا لی او له هغه وخته چی نو موړی ځا یونه یی نیولی دهغوی مفصل بیان دلتـه راوړل کیږی . څرګنده ده چی پــــه پیل کی د وزیرو قبیلی خلك پــــه عمومی ډول په شپنتوب او د ما لګی په خرڅرلو باندی بوخت وو اود لږو ځمکو نه پرته یی، چی هغه هم پـــه غرنیو سیمو کی پرتی وی نــــوری زراعتی چاری یی نه تر سره کولی . تقریباً دوه سوه کاله وړاندی داحمد زیو اواتمان زیو د ښاخو نو ځینـــی څانګو درمواو حیوا ناتو د څر و لـــو په منظور د ژمی په موسم کی دتهل او ورغړ دغره لمنو ته یی تګ پیــــل کړ اوپه هغه وخت کی دتهل پـــه شما لی او ختیځو سیمو باندی اکثــراً د مرو تو قبیلی قبضه لرله او همداراز دسندراوڼ ، دبك اودتهل پــــه نورو لویدیځو برخو سورانی بنوڅیوقبضه لرله . اود مرو تو ،سورا نیو او ختکو ترمینځ اکثراً په تهل باندی جګړی کیدی وزیر به یواز ی پــــه ژمی کی د مالونو د څرو لو له پاره دتهل په څړ ځایو نو کی ما لو نــــه څرول او دګرمی دموسم په پیل کـــی دخپلو کیږ دیو او رمو سره بیر تــه

غرونو ته تلل . او ددوی د حیواناتو له څر ولو نه پرته کومی ځمکی او ملکیت نه لاره اود کر نیاویوی سره یی بیخی مینه نه لرله . دوی ته ځمکی چی دتوچی دری په جنوب کی موقعیت لری اکثراً شاړی وی خو دمیری د ځانګی دمالو نو له پاره څرځای ګڼل کیده تقریباً دوه نیم سوه کاله وړاندی چی له هغه وخت نه پنځه پښته تیر یږی داتمان زیو وزیرو ښاخو نو بکاخیلو اوجانیخیلو په ورغړ باندی په دایمی ډول قبضه ټینګه کړه او دوی لومړنی خلك و وچی دغه ځای یی د ځان لپاره په دایمی ډول ونیوه .

د ورغړ اونورو سیمو دنیولو بیان:

ددغی سیمی دنیولو څرنګوالی داسی دی چی څه موده د نه ځای ته بکاخیل او جانی خیل وزیر د ژمی په موسم د مالو نو دڅرولو له پاره راتلل او څرنګه چی دغه ځای دهغوی دغر نیو سیمو سره نښتی وله د ی کبله دبار کزیو دقبیلی د میری له ښاخ نه دالانومی دتوجی له او بونه دبر لښتی په نوم یوه ویاله جاری او ځمکی یی دکرنی وړو ګرځو لی او بیا دنورو ویالو په جاری کو لو سره یی خپله قبضه په دغه ځا ی لاپسی مضبوطه کړه، ترهغه وروسته دبکا خیلو وزیر و اوبنو څو بار ك زیو ترمینځ د توجی په اوبو اوځړځایونو باندی دښمنی مینځ ته راغلی او خبره دی حدته ورسیده چی وینی تویی شوی ددغو شخړو رامینځ ته کیدو په سبب جانی خیلو و زیرو ختیځ خواته ځان له بیل څرځای وټاکه خود میری ښاخ دخپل کبر ا وغرور په وجه له دوی سره داسی دښمنی پیل کړه چی دجانی خیلو د ښاخ یو تن یی ونیوه او د هغه په زور ولویی پیل وکړ ، او هغه وخت چی هغه وویل چی زه جانیخیل یم نومیری خیلو ځواب ورکړ چی تاسی دجانی خیلو دښاخ خلك خپلی پیری موندی کړی ترڅو ددی په سبب دبکا خیلو او ستاسو تو پیر وشی اوهغه وخت چی جانی خیلو دغه خبرو اوریده نود بکا خیلو سره یو ځای اودواړو ښاخو په ګډهدمیری له ښاخ سره په جګړه لاس پوری کړ چی په دغه جګړه کی د میری بارکزیو له خوا تقریباً شپیته کسه وو ژ ل شول . اودغو فسادو نه تر هغه وخته ا وږده شول چی ابدالی احمد شاه دبکاخیلو وزیر واو میری بنوځیو ترمینځ د توچی اوبه د زراعتی ځمکو د خړوبو لوپه منظور ذاسیوویشلی چی دپسرلی په فصل کییی تو لیاو به وزیرو ته اوپه منی کی تو لی اوبه بنوځیو ته ورکړل شوی، څرنګه چی منی دکر او دفصل اخستلو موسم و اوپه دغه موسم کی به وزیر غره ته تللی و، نوځکه دغه ویشذوزیرو په ګټه و ، خو د بنوځیو له پاره دغه ویش ګټور نو و .

د انگریزی سر کار د واکمنی په پیل کی د بناغلی ادواردس په تجویز اودجنرال نکلسن په حکم دغه دودمنسوخ اوپه دواړو فصلو نو کی نیمی اوبه بکاخیلو وزیرو او نیمی اوبه بنوځیو ته وټاکل شوی د بنو په سهیل ور غړ باندی چی کله اتمان زیو وزیرو قبضه وکړه نومحمدخیلو وزیر وداحمدزیو دسپیر کی بناغ په ملگرتیا دداود شاه بنوځی له بناغ سره چی دبنو د سیمی په شمال لویدیځ کی میشته وو دبښمنی پیل کړه . ددغی دبښمنی اصلی علت داوچی د پراچه دقوم یوتن چی د بنګښو د سیمی اوسیدو نکی و دداؤد شاه له بازار نه یو څه اسباب اومالونه واخستل اود کورمی له لاری بیر ته بنګښوته روان وچی په لار کی محمد خیلو وزیرو د داؤد شاه سیمی ترڅنګ په غرنیو سیمو کی دده مال لوټ کړ او دغه سودا گر د داؤدشاه له بناغ نه مرسته وغوښته د داؤد شاه ملکانو چیغه وکړه او هغه غله یی تعقیب کړل اود محمد خیلو وزیرو نه یی څوتنه ونیول اوهغه یی دشوځی یعنی تبادلی له پاره وساتل. د وزیرو دغلا شوو اکثرو مالونو په ورکولو سره د خپلی قبیلی خلک خوشی کړل . تردغی پیښی څه موده وروسته داحمد زیو وزیرو دلو ی او مشهور ملک باره خان محمد خیل ورراره چی دبدرگی په ډول را ته دداؤد شاه بناغ د خلکو له خواووژل شو ، ترهغه وروسته د وز یرو دقبیلی خلک راټول او دداود شاه په سیمه یی یرغل وکړ له بلی خوا اکثر بنوځی ، سورانی ، منډا ن ، عیسکی اوپتی ټول سره راټول او داود شاه دبناغ له خلکو سره په شرم کی شریك او دبنو څو دسیمی د کورمی ویالی تر څنګ د وزیرو له قبیلی سره په جګړ ه بوخت شو ل . په دغه جګړه کی بنو ځیو ما ته وکړه خو وزیر و ته هم ډیر زیان ورسیده، سره له دی چی وزیر قوی وو خو دبښمن یی تر لیری ځا یو نو پو ر ی تعقیب نه کړ . په دویم کال د منی دموسم په پیل کی و زیر د حملی په نیت سره راټول شول اوکله چی دداود شاه دبناغ خلکو دغه خبرو ـ اوریده نو داسی تړون یی سره وکړ چی هر یوتن که کوم زوی لری هغه هم باید له ځان سره دجګړی میدا ن ته راولی تر څو د تیښتی اراد ه ونکړی داخل به یا مونږ ټول دجګړی په میدان کی مرو اویا به له وزیر و سره فیصله کوونکی جګړه کوو .که څه هم دغه ډول زړور توب دبنوځیو له عادت نه لیری و، کله چی غلیم دغه خبرواورید نو ویره ور ته پید ا او وزیر ملك چی ممکن نومیده هغوی ته خلك ورولیږ ل اود سولی غوښتنه یی وکړه اود وزیرو توره (لښکر)دعیسکو خوا ته مخه وکړه او دداؤد

شاه د ښاغ خلکو په خپله و یاله باندې یوه څوکۍ جوړه اوله او بړنه په یې گټه اخیستله ، دا ځکه چې دهغو وزیر و نږدې دوستان او خپلوان چې په جگړه او نورو حالاتو کې دداؤد شاه دخلکو له خوا وژل شوي وو نو هغوی به د بندو نو د ړنگولو او دویالې په قطع کولو اود او بو دلږ ید لو په ذریعه به یې هغوی ته زیان ور ساوه ، یوه ورځ دوزیرو دقبیلې یو غړی په ویاله کې ووژل شو چې دهغه په سر ږو ځل بیا بدې پیل اوله دی امله چې دداؤد شاه د کشره ځانگه چې په تور گو ندي پوري یې اړه لرله او دمشري څانگې ترمینځ ښکاره دښمنی مینځ ته راغلې وه نو ځکه یې د وزیرو له قبیلې سره دمقابلې توان نه لاره .

دوزیرو دقبیلې دبهیدن خیلو سپیر کیو چې داود شاه د ښاغ د کشر له څانگې سره گوندي لرله نو ځکه د کشر څانگې خلکو دوی ته له خپلې ځمکې نه چې پټها نو میده ور نکړه اود مشرانو څانگې تقریباً سل کاله وړاندې دهغې ځمکې نه خپله برخه دمحمد خیلو و زیر و ښاغ ته ور کړه . دداؤد شاه دسیمې لویدیځه برخه چې دغره په لمنه کې پرته ده دوزیرو په قبضه کې وه او په دغه ځای باندې هم ددوی دعوا ده په دغو پیښو کې دوزیرو لوی ملك بارخان نومیده اود وزیرو محمدخیلو د ښاغ ته و ،تر هغه شپیته کا له وروسته سرمست خان حسیني او سکندر خان موسکي اود بنوخیو دسپین گوندي نور وملکانو د وزیرودمحمد خیلو دښاغ له پاره یو کلی د خواجه عبدالله صاحب زیارت ته نږدې دکور مې دویالې دهافی ته نږ د ې دبنو خیو دکشر د څانگې تنکو لو پاره چې دتور گوندي سره یو شو ی وو جوړ کړ .او دهغه په ذریعه دکورمې دویالې غاړې دمحمد خیلو لاس ته ورغلې اوله څلو یښت کاله راپه دې خوا دکورمې د سیمې دخنې په نوم ځمکې وزیرو آباد ی او داؤدشاه دخلکو ځینې ځمکې یې دگروی په ډول ونیولې .چې له هغه وخته تر اوسه ددوی په لاس کې دي ا و د تهل په شمالي او شرقي برخو کې خپلې رمې پیایي او تدر یجایي د خپلې غلبې په ذریعه دختکو او مرو تو قبیسې په شا نه ته مجبور ی کړی او دسورانیو او جندو خیلو بنو خیو ته یې سدروا ن،تهل، دبك اوپینگ سیمې یې دځه دوو تنو وزیرا نو په بدل لی او څه یې دیر غلو نو په ذریعه ترلاسه کړې .

ختټک یی دچشمې او آرل نه په شا کړل اوسره له دئ چې د وئ
ټول پراخه تهل ونیوه خو بیا هم هغوی ددغه ځای وړی برخې کرلی
اوپه پاتی برخو کی یی رمی څرولی او له دغه کارسره یی مینه لرله

او تقریباً له څلو پښتو پنځو سو کالو راپه دی خوایی دتهل د سیمی
دځینو ځایو نوپه کرلو شروع وکړه ، او داچی ولی یی پخوا کښت
نه کاوه ددغه کارله پاره دوه دلیله موجود دی .

لومړی : دلیل یی داد چی د وی له کرنی سره زیاته مینه نه لرله .

دویم : داچی په تهل با ندی ځینو نورو لکه مرو تواو ختکو هم دعوه
کوله او دوی یی په کراره نه پرښودل.

دانګریزی سر کار دواکمنی په پیل کی هغه وخت چی کرنیل اډ وار ډس
چی دشمالی تهل په ټولو برخو باندی وزیر وته درمو دڅرولو اجازه ورکړه

اوورپسی دضلعو واکدارانود وز یرودقبیلی ملکانو ته غیر آباد تهل چی
دسرکار ملکیت ګڼل کیده د ځمکو دآبادولو له پاره ورکړ اوپه دی ډ ول

یی دسر کار انتظا میه د مخالفانوله خطر او حملی نه وژغورل او په
تهل کی دغنمو اونخود و پیداوارزیات شول . ترهغه وروسته په دوی کی
دکرنی او زمینداری شوق پیدا او د وزیرو هر یوه سړی هیله من د ی تر
څو دتهل هغه برخه چی آباده شو ئ نه ده د آبادی له پاره له سر کار

نه واخلی چی له دغه کار سره ددوی مینه ښه ده او د تهل اکثره سیمی
د آبادی په حال کی دی .

آبی یا نهری ځمکی :

د بارانی یاللمی ځمکو په با ب وړاندئ معلومات لیکل شوی د ی .
آبی ځمکی دبنو په سیمه کی په تیره بیا دمنده خیلو سورانیو چیدوزیرو،
عمرزیو او نورو لاس ته ور غلی دی هغه یی عموماً د ګروی په ذریعه
له بنو خیو نه ترلاسه کړی دی نه په زور اوددغه ګروی علت په دغه

وخت کی اکثراً داو چی وزیر و له بنو خیو نه ځمکی په ګروی ونیولی
خو دوی به نه کرلی اواکثراً به پخپله دځمکو خاوندانو کرلی او کله به
چی وزیر دژمی په موسم کی دغرونو نه ښکته شول نوله دوی نه به یی
یوه ټاکلی اندازه غله لکه جوار ا و نور دګروی دحق په سبب اخیستله او

هغه به یی غنیمت ګڼله ا و ټاکلی اندازه غله به یی چی په دغه
ډول ترلاسه کوله هغی ته به یی اجاره ویله ، هغه وخت چی بنوخیو
د وزیر وداساده توب ولیده نو په لږو پیسو سره به یی ځمکی په اجاره
ورکولی . خلك وایی هغه وخت چی وزیر دلومړی ځل له پاره دبنو سیمی

د انګریزي سرکار د واکمنۍ په حدود وکې د وزیرود قبیلې د مقبو ره مځکو فهرست

شمیر	د قبیلې نوم	د مځکو د مالکانو نوم	په تخمیني ډول د مځکو اندازه			د مالیې شمیر			د بخشش شمیر	
			اباد ي	شاړي	میزان	مالیه	د پسونو له بابته	میزان	نغدي	د ملکانو لونګیه
۱	بزن خیل	میرا کبر، جعفر او نور	۲۴	۱۰۰	۲۵ زره کناله	۳۱۵	۲۸	~~۳۳۳~~ ۳۲۲ ۱/۲	۳۱ ۱/۲ ۸ آنه	۰
۲	بیپرکی	نجیب خان	۶۰۰۰۰	۱۴۰۰۰۰	دوه لکه کناله	۲۶۷ ۶ پایي	۱۵	۲۸۲ ۶ پایي	۲۶ ۱۱ آنه	۰
۳	بدین خیل	رضا خان	۷۰۰۰	۱۳۰۰۰	۲۰۰۰۰ کناله	۸۴ ۹ پایي	۳	۸۷ ۹ پایي	۸	۰
۴	پاینده خیل	بریم خان	۸۰۰۰	۸۰۰۰	۱۶۰۰۰ کناله	۵۷ ۱۴ آنه ۹ پایي	۱۴ ۸ آنې	۷۳ ۶ آنه ۹ پایي	۵ ۵ آنه	۰
۵	سرکي خیل	لال میر، شامداد	۱۶۰۰۰	۱۹۰۰۰	۳۵ زره کناله	۱۴۰	۶۰	۲۰۰	۱۴	۰
۶	حاتي خیل	مظلم بند او نور	دوه لکه ۷۰۰۰ زره	۹۲ زره	دوه لکه ۹۹ زره کناله	۹۰۰	۲۲۴	۱۱۲۴ زره	۹۰	۰

شمېر	د قبیلې نوم	د ځمکو د مالکانو نوم	پهتخمیني ډول د ځمکو اندازه: اباد ي	شاړي	میزان	د مالیې شمېر: مالیه	د پسونو له بابته	میزان	د بخشش شمېر: نغدي	د ملکانو لونګی
۷	محمد خیل	فضل شاه	۱۰۰۰۰ زره	۷۰۰۰ زره	۱۷ زره کناله	۹۹۰	۰	۹۹۰	۲۲۲	۰
۸	عمرزي	لنډۍ کاویکی	۲۱۸۳۰ زره	۱۰۲۵۵ زره	۳۲۶۸۵ ۱۶ مرله	۴۸۰	۲۵	۵۰۵	۴۸	۰
۹	تبه جات	نجیب میراکبر او نور	۴۹۶۸	۱۰۰۰	۵۹۹۸/۱ کنالـه	۱۲۵۰ کنالـه	۰	۱۲۵۰	۳۲۵	
۱۰	تختي خیل	جان بهادر، حسین شاه او نور	۷۰۰۰	۴۰۰۰	۲۲ زره کناله	۴۰۰	۰	۴۰۰	۴۶۲	۳۲
۱۱	سوړي خیل	قاسم، زبر، سردار اورنګا خان	۲۵۰۰	۲۰۰۰۰ زره	۲۲۵۰۰ زره کنالـه	۳۷۰	۰	۳۷۰	۳۷	۳۲
۱۲	نري خیل	حسن خان او نور	۲۰۰۰۰ کناله	۱۲۰۰۰ زره کناله	۳۰۳۲ کناله	۳۲۵	۰	۳۲۵	۱۵	۳۶
۱۳	جاني خیل	ګلاب	۵۵۰۰	۳۰۰۰۰	۵۳۵۰۰ کناله	۵۸۰	۰	۵۸۰	۵۸	۵۲
	ټول شمېر	۳۹۴۹۹۷	۲۵۷۹۵۵ کنالـه	۷۲۳۶۵۳ کنالـه	۶۳۶۰	۳۵۹	۶۸۱۹			۹۱۰ زره بابي

190

ته راغلل نوداسی ساده وو چی کلـه چی یی دکور کمندو شنه بو تـــی
ولیدل نوپه هغویی دتمباکو کو ما ن کاوه . اودکنی بوتی به یی په د ی
هیله دریبنی سره له ځمکی راوایست چی بنایی په ریبنو پوری به یـــی
د کوری توتی نبنتی وی . په داســی گروی دارانو باندی د ځمکی گروو ل
دبنو خیو د ځمکی له لاسه وتلو لـه پاره کوم خطر نه و .دمندو خیلـــو
په سیمه کی دعمرزیو وزیر ودگروی بل علت داو چی د درانیو دواکمنـــی
په دوره کی قلنگ یعنی محصول تل دځمکی له خاو ندنه ترلاسه کیده او
هغه چا به ځمکه گرونیو لی وه سره له دی چی په ځمکه یی قبضه لـرله
د ځمکی له محصول نه معاف و. دچا وزی سروا نیو ملك چی چیار نو میده
یو ځل یی درانی حاکم ته یوه اندازه سوغات و مانه اوله هغه نه یـــی
وغوبنتل چی دگرو شوو ځمکو محصو ل دی د ځمکی له خاوند انو نه وا نـه
خیستل شی . ددی مشوری د قبیلیدو په امید چیار خپلی اکثره ځمکـــــی
ده وزیر ود قبیلی په خلکو گرو کری، تر څو چی دمحصول د پیتی نه یـــی
اوری سپکی شی ، له دی کبله چـی وزیرو په خپله په غرونو کی ژونـد
کاوه نو په هغوی باندی محصول نه و خود نورو ملکانو دنه ر ضایت لـــه
امله دا نقشه عملی نه شوه اودتولو مقبوضه او گروی ځمکو محصول لـه
نوموری چیار نه وا خستل شو ، چی هغو په سبب دی برباد او ځمکی یی
هم له لاسه ور کری اوله دغه وخت نه دوزیرو قبضه ور باندی تینگــه
شوه چی اکثرا اوس هم د دوی پـه قبضه کی ده او نوره برخه یـــــی
مشقتیانو (بز گرانو) ته په لـــــر ه بیه اجاره ور کرل شوی او ځینی یـــی
څو ځله په څو تنو گرو شو ی د ی. اوس چی بنو څی دځمکی د خلا صـــون
دعوی کوی څو وزیرو دغه ځمکه خپل پلرنی میراث بولی او اکثرا د گروی
له دعوی نه انکار او ځانونه ورڅخه بی خبر گنی او څر نگه چی په دغـــه
باب بنوڅی کوم قوی ثبوت نشـــــی وړ اندی کولای اوهم دکرنیل ادوارډس
داعلان دلومړی شرط له مخی چـــی د (۱۸٤۷) عیسوی کال دد سامبـــــــر
دمیاشتی له (۱۷) نیتی نه تر اجرأ لاندی ونیول شو ، وزیرو دعوه وگټله .

په لاندنی برخه کی یو جـــدو ل راغلی چی په هغه کی د وزیرو دځمکو
تخمینی اندازه چی دبنو دضلعی په دننه کی موقعیت لری او همدا ر ا ز
ددوی دمالیی اندازه ، د ملکا نــــو دانعام اندازه او نور بنودل شوی دی.
څو دځمکی په اندازه ،له دی کبلـــه دداډورنه ده چی دټولی ځمکی صحیح
اندازه معلومه نده .

د کوچ او لیږ دید لو ځر نګوالی:

د احمد زیو ا واتمان زیو ښاځو نو اکثره ځانګی داپریل او می په میاشتی کی هغه وخت چی داوړی موسم پیل شی دسلیمان دغره سیمو شوا ل ، وانه ، برمل او نورو سړ و ملکو نوته لید کوی اودمنی دموسم په پیل کی یعنی داکتوبر او، نوامبر پـــه میاشتو کی بیرته دغره لمنو ته راځی اوپه پورته اوښکته دواړو بر خوکی هر یوښاغ چی په ژمی کی دبنو پـه شاو خواکي اوسیږی یوه اندازهځمکه لری چی نوموړی غرنی سیمه ددوی پخوانی ملکیت او تهل اونوری سیمی یی وروسته نیولی دی .

ددغو خلکو تګ راتګ چی ښکتـــه او پور ته سیمو ته یی کوی او دهغه په ترڅ کی له ډیرو کړاوو نو سرهمخامخ دی دتړ حم وړ د ی مـــاڅو ځله په خپلو سترګو د دوی لیږدوولیده چی په دغه وخت کی ددوی ښځی له ډیرو کړاوونه سره مخامخ د ی ،دیوی قافلی سره د پاینده خیلـــو دځانګی یوه ښځه وه دهغی په شا باندی داوبو یوژی ، پرسر باندی یی یو کوچنی هلك اوپه اوږو با نـد ی یی یوکوچنی تیرهم ایښو دل شو ی واو سره له دی یی هم خپل مالو نه ځارل اوهم کله به چ یی کو چنی ماشوم ژړل نوهغه ته به یی شید ی هم ور کولی ، په همدی ډول دپنځو، شپږو کالو یو هلك د اوښانو دکلی پسی په لوڅو پښو روان و.کله چی اوښ له ده نه وتښتیده او د هغه په پښو کی به اغزی لاړه نوده بی لـــه کوم ځنډاو فکر نه اغزی په جرئـت سره له پښی نه راوایست او بخپل کاربه بوخت شواو سره له ډیـــری ګرمی دهغه سر لوڅ و. چی دغه حالات ددغو خلکو پیاوړ تیا او کلکوالی ښیی دبالغو کسانو سره وسله اود ځرمنی کوډی چی په هغه کی اوږه وي لـــه ځان سره وړی اوهم په دغه حال کی خپل مالونه مخ په وړاندی بیا یـی دغه لیږد په داسی سخته ګرمی کـی ترسره کیده چی معاذالله .

دوی دمزل په وخت کی کیږ دی،نه درو ی بلکی دکو می ونی تـر سیوری لاند ی ګو زاره کوی ،دویسهار د لمر تر راختلو و ړا نـد ی په لیږد پیل اولیږ تر لږهدو ر ځیشپږ کو سه لارو هی او دور ځـی په لسو یا یوو لسو بجو بانـد ی په یو ځای کیدمه کوی او خپـــل حیوانا ت او ځارو ی څرو ی دو ی د کهیځ ډوډی تر لیږ دو ړانـــدی پخوی او دشپیډوډی دمزل ترو هلووروسته تیاروی ، دوی دسفرپوخت کی تل دغنمو ، جوار ویا اور بشـوډوډی خوری او که چیـــری ډوډی پخه نه کړی نو خاماوړه همخوری.

دګیږدۍ دود اودستور :

دغه کوچنی خانګې د خپلی استوګنی له پاره یوه کوچنۍ کیږدۍ چی اکثراً د وزو له ورو وژغنو نه جوړه شوی وی. استعمالوی، دوی دغه کیږدی د ضرورت په اندازه د دری (سطرنجی) په ډول جوړوی او هغی ته په پښتو ژبه کیږدی وایی او په دوه ډوله دی چی یوه یی د ژمی او سړ وپه موسم کی استعمالوی : چی لړه لویه ده او دوه لرګی لری . او دویم ډول یی چی د ګرمی په موسم او دسفر په وخت کی تری استفاده کوی کوچنی وی.

دیوی کیږدی بیه له اتو نه نیولی تر شلو رو پیو پوری رسیږی دیخنی په موسم کی د کور تر ټولو لغړی نر او ښځی سره یو ځای دهغی په د ننه کی په ځمکه باندی ځملی.

مګر په هغه وخت کی چی چانوی واده کړی وی او کله چی کوم ماشوم زیږیدلی وی او یا هغه وخت چی څوک دنوی واده شوق په زړه کی ولری دنوری کورنی نه لږ لیری په همدغه کیږدی کی په بیل ډول په داسی حال کی د کور ځینی شیان یی د پردی په ډول په مینځ کی ایښی وی ځملی . سره له دی چی د دغو کیږدیو اوږ دوالی د خلورو ګز واو پلن والی یی له دریو ګزو نه زیات نه وی خو دزیا تاو ر ښت په وخت کی دامکا ن تر حده ځارو ی هم له ځان سره یو ځای دخیمی به دننه کی ساتی .

دښځو او نارینه وو تر مینځ دکورنیو چارو ویش :

ښځی د اوبو د راوړ لو او دکوردنورو معمولی کارو نو نه پرته دنارینه و سره دفصل په ریبو لو او ټولو لوکی هم مرسته کوی او د وریو په څرولو او دسو نو دلر ګیو او د و ښو په راوړ لو بوخت وی همدا راز نارینه وو ته دوړ یو نه دجامو جوړ لو د ننده هم ښځو ته ور په غاړه ده .دسفر په وخت کی چی غره ته تګ راتګ کوی د اوبو د ژیو وړل را وړل، په حیوانا تو د بارو نو باروول او د اسبو نو وړل دهغوی په غاړه وی ،سره له دو مره زحمت او زیار ګاللو بیاهم دوی ډیر ی بی قدر ه دی ان تر دی چی د ښځو په قاتل باندی قصاص نشته .

کسبو نه او عادتو نه :

په پیل کی د دغه قبیلی اکثراًخلك د غوایانو او رمو په څرو لو او دشنی مالګی په سودا ګری بوخت وو ، خو اوس اکثر په کرنی ، مالداری او دوړیو خر څو لواونورو کسبوو نو له لاری خپله ګو زا ره کوی .

که څه هم ددو ی دپسو نوړی اعلی جنسیت نه لری دا ځکه چی په خراب او خیرن ډول تو لیږی خو ددو ی پسو نه دغو ښو او چاغوالی له کبله دومره ښه دی چی لومړی درجه پسه یی له اتور و پیو نیولی تر لسو رو پیو پوری بیه لری . دوی دمالګی ، څارو یو ، سپنسینو او سپینو توکرانو ، ژیړو غوړیو او نور و شیانو سوداګری هم په لړه اندا زه کوی . هغه هندوا ن او نور سوداګران چی دخوست او دوړو سیمی ته تګ راتګ کوی . دهغو ی سره ځینی و زیر داجور ی په اخیستلو سره بدر ګه کو ی او ځینی نوریی په لو ټ اولا رو هلو بو خت دی . او س د تیرو وختو نو په نسبت دوی دنورو ښا خو نونه ډیر ښه چلند کو ی ، دو ی دعلم او پو هی له حاصلو لو سره هیڅ مینه نه لر ی او س څو تنو ملکانو زما سره وعده کړی ده چی موږ به خپل ځامن د مروجه علومو په زده کړه بوخت کوو باید و لیدل شی چی په دغه نیکه وعده به کله وفا وکړی . دوی په پوځ کی دداخلیدو هیڅ هیله نه لری . له خپل ملك نه د باندی سفر کول په دوی کی نه لید ل کیږی خو لږ شمیرو زیر شته چی د خپل ملك شاو خواتر څلو ښتو کوسو پوری یی سفر کړی وی . خو نورو ټولو تقریباً که خپل ملك نه د باندی سفر نه دی کړی . او د سوداګری له پاره لیری ملکو نو ته هیڅ نه دی تللی ، په دی قبیله کی دنورو پښتنی قبیلو په شان دنارینه وو د ناستی له پاره عام ځای یعنی حجره نشته ، دو ی عموماً دخپلی کیږدی یا کور په وړا ندا ی په ځمکه یا پوزی باندی کښینی او هغه وخت چی کوم میلمه ور کره راشی په تیره بیا دژمی په موسم کی په یوه بیل ځای کی اوربلو ی او دکور نا رینه هم دهغه تر څنګ کښینی کله چی د خلکو راټولید و ته کوم خاص ضرورت و لیدل شی نو دو ی په یوه میدان کی سره را ټولیږی په دغه غونډه کی دوی چلم څکوی او دخپلو څارو یو او دکرنی دجارو په باب سره خبر ی کوی او بهلولزی ، مسعود دهغو غلاو او لار و هنو په باب خبر ی کوی چی تیری شوی دی او یا په

راتلونکی کی دهغوی نیت لر ی .مسعود ،وزیر ډیر نصوار اچو یّ ، همدا راز عبدلی مسعود هغه وخت‌چی په حپلو مینځو کی سره‌رانو ل شی نو داوسپنی دتجار ت په با ب‌سره خبری کوی . داتمان زیودبناخ او داحمد زیو ، محمد خیلو ښا نکی‌ړ شمیر خلك بنگ اوچر س هـم څکوی .

په دوی‌کی هیڅ څوك شرا ب‌نه‌څکی او له زنا او دښځو سره لـه معاشقی نه ډیره کرکه کـــوی ،دوی‌در واغ وایی‌خو په دومره ساده گی سره خبری کوی‌چی تر لږ فکرکو لو ور و سته دهغــو ی رښتیا او درو غ ثابتید لای شـی .کله چی ددو ی نه کوم مجرم چـی غلا او یاکو م بل کار یی کـر ی‌ږ زموږ له خوا ونیول شی‌او عدا لت او محکمی ته وراند ی شی‌نوهغـه دخپل خلا صو ن آسانه لار انکـا ر کنی . او کله کله داسی هـــم پیښیږی چی دخپلی‌دفا ع شا هد ، هغه څوك چی د غلا له مال نه‌یو ه‌برخه ورکړل شو ی وی، خپـل خپلوا ن او حتی هغه څوك چی پـه غلاکی ور سره شریك وی هغه هم ښیی، او داسی شاهدان تل د مدعی‌غلیم په گټه وی .

خوراك :

دو ی دخورا ك له پاره عمو مـادغنمو ، جوارو او اوربشو له‌ډوډی اوهمدا راز دپسه له غو ښو نـه‌ډیره استفاده کوی اوهم د جوا رو له ډلدی نه گټه اخلی او دغلودلی،کاروانو نه اوهم ځینی خلك دسفر په وخت کی د کاك په‌نــوم ډوډی‌خوری . کاك هغه‌ډول ډوډی ده چه لومړی یوه گردی تیږه پــه او رباند ی تودو ی اوبیا یی په‌اوړوکی پټوی او داور په خفیف انگار کی‌یی‌ښخوی او څه ساعت وروسته چی پخه شی نو را با سی یی او لــه تیږی نه یی رابیلوی او خور ی‌یی، دکوړی شر بت، اوپه شړ مبو کی‌میده‌شوی ډوډی دهغو ی خو ند ه وره غذا ده . دوی هیڅ‌کله او ږه‌نه چښوی. دهغو ی غوره غذا دا ده چی غټی وریجی دڅړو غو ړ یـــوسره یو ځا ی کړی او بیا یـــی وخوری او دپسه غوښه او وازده دغنمو او جوار و له ډوډی ســر ه یوځای نوش جا ن کړی .خو دغــه‌ډول ډوډ ی دخپلو ډیرو نـږ د ی او قدر وړ میلمنو او شتمنوکسانونه پر ته نورو خلکو ته پـــه کلو نو کلونو هم نه رسیـــږی . او دډوډی خوړ لو ډول یی دا دی‌چی دکور ټول نارینه یا هغه کسان چی له دوی کره میلمانه وی د لرگی په

یوه ښانك ، کنډ ولی یا خاوریــن لوښي کي ډودۍاچوی که چیری ښوروا، شړو مبی اوشربت پیدا شي نو هغه په گډه سره خوری اوهغه ډ و ډ ی چی له دوی نه زیاته شي نو هــغــه ښځي بیله خوری ، په دغه خلکو کی نر اوښځي په گډه سره ډوډۍ نخوری که څه هم ښځه او میړه وی .

همدا راز دوی دسهار له خوا لــه خوب نه وختي را پاڅیږی ، او دو ی دغه عادت یوازی دحقیقی معبــو د دعبادت له پاره نه بلکی دا د دو ی معمولي عادت دی چی ټول نراو ښځي سهار وختي له خوبه را بیدار ا و ښځي د ډوډۍ په پخولو او نارینــه د حیوانا تو دڅرولو له پاره‌د لمــر ختو دمخه خپله ډوډۍ خوری اوپخپلو کارونو بو ختیږی . د ډوډۍ پخــول دښځو دمعمولی کارو له جملی نــه شمیرل کیږی . یوه ورځ په خپلــه مؤلف‌ددوی تم ځای ته هغه و خــت ورغی چی دوی غرونو ته د تګ لــه پاره چمتو وو، اوهلته یی له نږدی نه ددوی‌دودااور واچو نه و لیـدل ، ددوی په کمپ کی دماښام له خوا هری‌خوا ته‌اور نه بل وو اود وزیر و هغه ښځي چی مخونه یی پټ نــه و وډوډۍ په پخولو او نارینه یی پــه ډبر ینو تبیو باندی له نرمو اوړونه د ویشلو په پخولو بوخت وو ، خــو اکثراً داوړ بشو اوجوارو ډوډ یو په پخولو باندی مصروف وو . ددغــه ډوډ یو ډبل والی‌له دوو اینچو نه کم نه وی او هغه وخت به چی ډوډ ی دواړو خواوی لږ وچی شوی نـــو دسور کولو له پاره‌به یی په‌اوربا ندی ایښو دلی او هغه وخــت به چی‌ډوډی ښه سره شوه . نو بیا بــه دخوړ لوله پاره تیاره وه .

دمعمولی خوړ ونه پرته دد وی‌په غرونو کی دخرتجه * دو نی میوه‌چی دوی یی پرکی بولی وچوی اوبیا یــی اوړه کوی اومفلس خلك یی‌دکاختی او تنگی په وخت کی اکثراً داور بشوداوړو سره یو ځای کوی او ډ و ډ ی تری پخوی او خپله خیټه ور باند ی مړوی اویو بل بوټی چی ببریی بولــی دهغه پانی اوچوی ، بیایی میده‌کوی اویوازی د شړو مبو سره یی خوری ددغه قبیلی په مقبوضه غرنی سیمه کی څو ډوله وچی اولمدی میوی‌پیدا کیږی چی دوی یی غنیمت گڼی‌اوډیری یی خوښی د ی‌چی دلته یی تو پیــر راوړل کیږی . لومړی هغه میوی چی یوالځی ملکان او ددوی‌نږدی خپلوا ن او دوستان یی خوری اوپاتی نوروته په سختی سره ترلاسه کیږ ی.مندته

---

* په اصل (٤٠٠ مخ) کی هــم دغسی لیکلی ده خو مراد ځینـــی دځیړی ونه ده زما په‌خیال دغــه نوم به «خرلنځه »وی چی د ځیــړ ی (بلوط) دونی یو ډول دی . (رشاد)

يا زرد آلو چې په ځينو ګرنيو سيمو کې په زياته اندازه پيدا کيږي اکثراً د جوارو او وربشو سره په يوه وزن اويا دغوايي سر بار يې په خلور وانو خر شيږي . همدا ر ازانګور چې دغنمو سره په برابر وزن پلورل کيږي خو پيداوار يې زيات نه دی . آلوچې او انار پيدا کيږي خو دجنسيت له پلوه د ستايني وړ ندي، همدا راز بادرنګ د جوار وسره کرل کيږي ، کدود وزيرو لخوا هم په پاخه اوهم په خام ډول خوړل کيږي، په دغه سيمه کې هندوانې هم پيدا کيږي خو پيداوار يې زيات نه دی . جنغوزی يا زنغوزی چې په هند ی کې يې دنيزی په نامه يادوی د چيلدونې ميوه ده چې دغه ونه په غرونو کې په خود رويه ډول موندل کيږي اوهر څوک يې په خپلو مقبو ضه سيمه کې د خر څولو اختيار لري، خو نرخ يې ډير ارزان دی تردې چې په دوو دريو روپيو سره د جنغوزی دونو لوی ځنګل دميوی تر لاسه کولو لپاره اخيستل کيداي شي او دخپل خوراك نه پرته دبنو بازار ته هم دخر څلاوله پاره راوړل کيږي .کشملې هم همدا راز ميوه ده، تره کې يوه خوږه ميوه ده چې تر يوالې هم لري ، دويم ډول غرنې ميو ه چې پخپل سر راشنه کيږي شمر توت دی او خلك يې په مړه خيټه خوري اوخصوصاً دپسرلي په موسم کې په زياته اندازه خوړل کيږي اومسعود وزير يې په اومه ډول هم خوري. ګور ګوری ديوه واړه بوټي توررنګې ميوه ده چې تازه يې ډيره خوندوره وي اودغه خلك يې د کټك سره خوري شملنې ياشولنې چې دزيتونو د ونې ميوه ده اوشيره وه‌مومانې او پشتو رګې اوانځري هم د دوی په غرونو کې شته دی اود هغوی عمده خو راك تشکيلوی اود ګور ګوری د ميوی په باب ويل کيږي چې د صحت له پاره هم ګټوره ده .

پوښاك :

د نارينه وو جامې:

نارينه د ډبل تو کر پګړی چې اوږدوالې يې له دريو ګزو نه تراوو ګزو پوری رسيږي او عموماً تور يا نيلي رنګ لري په سروی. د تور ی خيلو ښاغ سور بې رنګه او پاتې يې سپينې پګړی چې ډيری زړی و ی په سره وی اود ملکانو اوشتمنو خلکو نه پرته نور ټول خلك په خپل ټول ژوند کې له يوی يا دوو پګړيو نه زياتې نه شي په سر کولای اوځا د ر چې هغوی په خپله ژبه ور ته پټکې وايي اوله سپنهسين ډبل تو کر نه جوړ شوی دی اوپه غرونو کې دهغه په ځای سپين رنګه شړی استعما لوی

او ځینې ملکان لونګۍ استعمالوي هغه کمیس، چې له ټوکر نه یې جوړ وي چین دار او یا بې چینه وي چې هغوی په خپله ژبه خلقه یا اتیکو یې ورته وایي له ډبلو وړیو نه په پراخ ډول جوړ شوی وی او خلقه اکثراً له طبیعي رنګه وړیو نه په داسې ډول جوړیږي چې ګریوان او مخکیني برخه یې په ژیړ واو سرو ورېښمو او سپینسیو باندې ښایسته شوی او عموماً دغه کار د دوی د ښځو له خوا تر سره کیږي او دغه وړینه انګر کې ته دوی په خپله ژبه شړي وایي او اغوستل یې په زیاته اندازه رواج لري . د دې شړي بیه له یوی روپۍ نه نیولې تر د وو روپیو پورې وی . د نارینه و پای جامه (پرتوګ) له یو ډول سپین ډبل ټوکر نه چې لږ پراخ وی اغوندی خو د مسعود و غریب خلک خپله پا جامه له وړیو نه هم جوړوي او ځنې معتبر ملکان هغه وخت چې د حکامو حضور ته ورځي نو لوی ګهیره داره پرتګو نه هم اغوندی .

د ښځو جامې :

ښځې عموماً یو ډول تور رنګه ټیکری په سروی چې له یو راز ډبل ټوکر نه جوړ شوی وی .همدا راز زړې ښځې له ډبل ټوکر نه جوړ ی کوچنی دو پټې یا ټیکری چې خاکي رنګ ولري په سروی . نازولې او نازنینې ښځې چې دوی یې په خپله ژبه نیازمنې ښځې بولي او نوی پیغلې د ټیکری په ځای یو ډول ټوکر چې جمې یې بولي او د سالاری په ډول سری، زیړی او توری لیکې لري او یا یو ډول لونګۍ چې غاړې یې وریښمیني وی په سروی او ښځینه کمیس چې دوی یې خت بولي د و ډوله وی یو یې نجلانه خت او بل یې ګر یوانه خت ـ چې لومړی ډول یې پیغلې اغوندی چې له یو ډول رنګیني او ډبل ټوکر نه جوړ شوی او په ګریوان باندې یې څه کار نه وی شوی او هم چینداره نه وی . دویم ډول یې ، چې دواده شوو ښځو له خوا اغوستل کیږي او اکثراً له ډبل سور ټوکر یا تور رنګه نیلي نه جوړ شوی وی. او ددغو کمیسو نو د ګریوان شا وخوا او په ټول ټټر باندې اکثراً د سرو او ژیړو ورېښمو یا سپینسیو کار شوی وی او دغه کار هم عموماً ښځې تر سره کوی . او د ټټر نه لږ لاندې د ټول کمیس ګرد چا پیره تر هغه اندازې چین داره وی چې ټول یې دیوه ګون په ډول ښکاری

هغه کميسونه پورته د ټټرخواته ډير تنگ او تر هغه لاندې ډيــر پراخ اود پيشو ازپه شکل ښکاري او اوږ دوالي يې له غاړې نه نيو لــې تر پښو پورې رسيږي . دواده شو و ښځو پرتگو نه اکثراً له څو ډو لــو توکرا نو نه چې نيلـــې ، ز يړ ا و آسماني وي او هغه دوې په خپلـــه ژبه بيگمې ، زيريړخيش‌او سور خش بولي جوړ وي . ددغو پر تگو نــــو د جوړ ولو ډول‌داسې‌دی چې‌اوږدوالي يې ترزنگنو پورې رسيږې چين داره وي‌اوښکتنې برخه يې تنگداودپا يجا مې په ډول او له زنگنو پورته پراخ وي . د غر نيو او مفلسو وزيـــر و ښځې تر زنگنو پورې يو گز سو ســې توکر دچين دارې پټې په ډول پـــه زنگنو پورې تړې چې دو ې پخپلـــه ژبه ورته ور بلې وايي او له زنگنو نه پورته وي او دکشميرې ښځـــو غوندې دکميس نه دغه کار اخلي اوداسې يوه لوې کميس په اغوستلو سره چې ترښنگرو پورې او ږدوالـــې ولرې پر توگ‌ته چندان ضرورت هم نه ليدل کيږي .او پيغلې نجو نـــې ديو ډول سپين د بل تو کر نه جوړ پر توگ چې تر زنگنو پورې چينداره‌او پورته يې کهيره داروې اغو ندې.

په وزيرو کې دپيغلو نجو نواووا ده شوو ښځو تر مينځ ډيره ښکاره‌نښه داده چې پيغلې نجو نې سپين پرتگونه‌اوله سره چيټ نه جوړ ساده‌کميسو نه چې چينداره وي اغوندي په داســـې حال کې چې واده شوې ښځې برعکس اوږده چينداره او کريوان لرو نکـــې کميسيو نه اوسوسې‌پرتگو نه‌اغوندې او دوې دڅر منې څپلې اواکثرآدمزرو څپلې ته اوښځې يې استعما لو ي .

دوزير و ښځې دسره يا نيلې توکر کميسو نه چې کريو انه او ټټر يـــې خامـــك شوې وي . ډير خو ښو ي. احمدزي او اتما نزي وزير د خمتاد بل او رنگه توکر دښو په بازار اومسعود يې دټانك اوښو په بازارو نو کـــې اخلي ددوې په ملك کې پنبه نـــه کرله کيږي . اوددغه جنس توکرتل په بهر کې اخيستل کيږي .

دساز او سرود سره مينه :

دغه خلك دموسيقي له اصليت‌نه په مطلق ډول خبرنه دي . خو بيـــا هم دخپلو زړونو دخوشحا لو لو لـــه پاره په کې سندرې سرود او نڅـــا رواج لرې ، سرينده له لرگې نـــه په بد شکله ډول جوړ يږي او پـــه هغه باندې دکولمو درې تاره لگو ي‌او بيايوه وړه کمانۍ‌داس دوروږيالکې له ويښتو نه جوړ وي چې د سرينده دوهلو او غږو لو له پاره ور نــــه کار اخلي که څه هم ددوې د سرينده غږ په زړه پورې نه دي خـــو

دوی داسی مینه ور سره لري چې واوري نوټول خپل کارو نه پر یږدي که په کوم ځای کی دسریندی غږ پیل نوی ، اود سریند ی غږ وو نکی او هلته سره راټولیږی اوپه نڅا له سر سره مطابق خپل حرکتو نه اجرا کوی .

او داسی سندری او نڅا وی دواده له مراسیمو نه پرته هم عام رواج لری او کوچني اولویان بی له کوم شرم نه دغه کار نوی اوهر چیری چی سر ینده غږول کیږی نو ټول نڅاپیل کوی .له سریندی نه پرته د شپنو اوغوبه وو سره یوه شپیلی هم و ی چی دوی یی دروی بولی او پنځه سوری

دلر ی . د و ی په شپلی باندی خپلی شوندی ږدی او پو نوی یی او په هغو سوریو باندی گوتو ته حرکت ور کوی اوله هغی نه یو تأثیر ناك غږ پورته کیږی اود شپیلی غږ ته شپا نه ا وغوبه را ټولیږی او نڅا گانی نوی ، په ودونو نی له ډول سره یو ځای سندری او نڅاوی کوی او شور ماشور جوړ وی .

لنډه داچی په دوی کی، سندری ویل او نڅا یو شور او شوق دی خو ددوی دشوق په اندازه د هغوی سندری او سرو د خو ند ورنه دی.

ددوی ښځی که څه هم سند ر ی وایی خو نڅا نه کوی . ډول اوسورنی ددوم په ذریعه وهل کیږی . دوزیرو موسیقی آلات یوازی سرینده اودروی یعني شپیلی ده .

د وزیرو ښځی

ددغه قبیلی اکثره خلك پیاوړی، فعال اوجگی ونی لری .د وی ښکلی گرد مخونه ، گردی سترگی او پرا حی تندی لری .

خو د خوی له مخي زودر نجه اوکینه کښ خلك دی ، همدا راز دوی ننگیا لی طابع او نا عاقبت اندیشه خلك دی اودمسعود د ښاخ دپیژندلو له پاره یوه بله عجیبه نښه هم موجوده او هغه دا ده چی ددوی دغاښو نو شمیر (۲۹) یا (۳۰) دانی وی اودیر واړه واړه اونږنوتی وی او بل داچي ددوی ددواړی اوږی لړ ی دمخ خواته نری ښکاری ددغه قبیلی اکثراً خلك خپل ویښته اوږده پریږدي چی تر اوږ وپوری رسیږ ی

که څه هم دوی دویښتو ذپاك ساتلو سره مینه نلری خود شړ شمو په تیلو او په ژیړو غوړوپی غوړوی. د اکثرو پوښاك اوجامی ډیری خیر نی وی ان تردی چی رنگ یی تور اوښتی وی .دوی صابون تقریباً نه استعما ـ لیوی او په هغو ی کی داسی کسان هم شته دی چی تریوه کال پوری خپلی جامي نه منځي .اوهغه و خت د جامو کوم ځای ورته بیلما نځه ښکاره شی نوپه اوبو یی و ینځی.

میلمه پالنه :

داخلك په ډیرمینه او شوق میلمنو او دوستانو ته میلمستیا ور کوی او کله چی د میلمنو شمیر ترا تو کسونه زیات وی نو ضرور ور ته پسه حلالوی . دمعتبر و میلمنو له پاره که شمیر یی تر دغی اندازی لږ هم وی پسه حلالوی او هغه توله غوښه دکلمو نه پرته د سراو پښو سره دوی ته پخوی تر څوهغوی په دی شکمن نه شی چی دغه پسه یی د ځان له پاره حلال کړی دی، کله چی ډوډی تیاره شی نود هروا تو تنو له پاره په یوه مجمه یا تالی کی غوښه راوړی اوږ دی یی او اکثرا د کور خاوند په خپل لاس هر میلمه ته د غوښی ، وازدی اوهډو کی بر خه په لاس کی ورکوی اود ښو روا سره په غوړو کی پخی وریجی د غنمو ډوډی (د نور به دوسی په اندازه) او یا دجوارو او کره ور کوی اودغه ډول خواړه زما دخپلو ستر گو لیدلی حال دی اود میلمستیا دادود ما هغه وخت ولیده چی یوه ورځ په اتفاقی ډول دسر کاری علاقی نه د باندی په غرنی سیمه کی میلمه شوی و م او علت یی داو چی یولوی او سابقه دار مجرم دخپلی ډلی سره د جرم دارتکاب په نیت دبنو نه تقریباً شل میله لری دخیسور درۀ په غره کی میشته شوی و.دهغه د تعقیب له پاره (۱۸۶۳) عیسوی کال دفبرور ی دمیاشتی په نهمه نیټه د سلو تنو په ملکرتیا چی اکثراً په کی ملکان، رعیت او نورو و دشپی لخوا دننه غر یو سیمو ته دسرکار دپلو یا نو په لار ښو نه ورغلل اود څو تنومجرمانو تر نیولو وروسته هغه وخت چی بیرته راستون شوم نو هغو خلکو چی په دغه ځای کی زمونږ پلو یا ن وو دهغوی ملك زمونږ له پاره میلمستیا جوړه کړه اوکله چی دهغه په غوښتنه ورغلو نوو مو لیدل چی دپسونو لمونه په وښو کی پیچل شوی اوهمدا راز دپسونو نور غړی هم پاخه شوی وو، ماخپلو ملگرو ته د خوړلو اجازه ور کړه او څرنگه چی له ماسره هم اکثراً وزیرو و نو هغوی په خوښی سوه لمونه و خوړل او ډیر صفت یی کاوه او ددوی له صفت نه دغه خبره څرگند یده له چی په دوی کی دا ډیر غوره خواړه دی که څه هم په داسی نازك وخت کی زما تم کیدل بی ځایه وو خود هغو پلویا نو دزړ ونو دنه ماتو لو له پاره چی ددوی پلیو کسانو ز مونږ دبیرته راستنید ولاره هم سا تلی وه نو ځکه ماخپلو ملگرو ته هلته د تم کیدو اجازه ورکړه چی له دی کبله هغوی ډیر خوشحا له شول . اودمیلمستیا او دتور ی (لښکر کشی) د خرڅ په وخت کی ددوی د توغ له مخی هر سړی خپله برخه ور کوی او

د کورنیو میلمنو له پاره په ځینو ښاغو نوکی د توغ په حساب او ځینی یی په خپله خوښه اودوسی په اندازه میلمه پالنه کوی . دمیلمستیا خواړه په دری ډوله دی:

لومړی . دمیلمه له پاره تر تولو قدر من او غوره خواړه د چاغ پسه حلا لول دی چی دلم سره یی پخوی‌اود وسی په اندازه وریجی ،ډوډی، جواری یا اوکره ورسره پخوی ، اوهغه ته دمژه مړی او یا ښره وره (۱) وایی .

دویم : کونډی (۲) مړی :

دا هغه ډوډی ده چی د ژیړوغوړیو سره د غمو یا نورو شیانو ډوډی خوری .

دریم : وچه مړی :

چی وچه ښیده هم ورته وایی.او ډوډی ورکوی خود میلمه له پاره هیڅ کله چرگ نه حلالوی مگر اوس په کښینیو (ښکتنیو) وزیرو لی دچرگ حلالول رواج شوی دی . ننده داچی ددوی‌میلمه پالنه دمیلمه د حیثیت پوری اړه نری یعنی دا چی دقدروړ میلمه ته ښه خواړه ورکوی او دویم ډول‌میلمه ته هغسی ډیرښه حواړه نه ورکوی ، کله چی نوم مسافر د دوی سیمی ته راشی ،نوهغه وظیفه غواړی او خپله کوزاره وربا ندی کوی خو ځینی مسا فران‌دملا یاآخوند په نوم هم ځانونه میلمه کوی . د میلمه له پاره پړستن او کټ کم ترلاسه کیږی خو قدرمنو میلمنو ته سطرنجی ورکوی چی په ځمکی یا پوزی باندی یی اوار وی دوی هندو میلمنو ته هم میلمستیا کوی . دوی میلمستیا ته پخپله ژبه میلمستیه وایی .

---

(۱) دښکره وری نه مقصد پسه دی .

(۲) کونډی مړی بی‌ښکره مړی :هغه ډوډی ته وایی چی پسه پکی نه وی .

ددوی اقتصادی جوړښت :

وزیرو په لومړی سرکی په ډیرافلاس او فقر کی ژوند کاوه خو د انګریزی سرکار دواکمنی په وخت کی‌هغو ښاخونو چی دتهل څمکی یی په ډیرامن سره‌کرلی دهغو اقتصادی وضعه ښه لښوه او آسوده شوی دی او ددوی نه پرته هغه ځانګی چی په غرونو کی میشه دی په هغوکی هغه خلك چی په سودا ګری‌بوخت‌دی ښه اوسو کاله ژوند لری . او پاتی خلك په تیره بیا مسعود دا وسپنی دسوداګرانو پرته نور ټول دپخوا په شان نیستمن دی . کله چی دوی پخپلو سترګو وینی چی نیك‌چلنه خلك‌ورځ‌په ورځ شتمن‌کیږی‌نو ښایی دوی دغلاعادت بدوګنی ا و هغه کسب ته‌چی ددین او دنیاګټه په کی وی رجوع وکړی.

دغلی دپیداوارو څرنګوالی :

ددوی په غرنی ملك کی غنم ،جوار ، اوربشی او وریجی پیدا کیږی په غرینو سیمو کــی ددوی‌څمکی خورا لږی دی نو څکه حاصل یی ددوی کلنی اړتیا نه پوره کوی.د څمکو داوبه په تیره بیا نهری‌څمکو د لږوالی په سبب یی اهمیت ترهغی‌اندازی دی چی یوه ویا سته څمکه په منځنی توګه په (۲۲) روپـــی‌پلورل کیږی .یوه ویاستــه ددوی ددودله مخی اوه لس ګزه رسی ته ویل کیږی . او دغه ګزله دووفو تو او دری انچو سره برابر دی اوهغه څمکه اوږده ددغه رسی له اوږد ـ والی سره‌برابره او پلن والی یـی‌د ذکر شوی رسی نیمایی وی هغی ته یوه ویاسته څمکه وایی ، دتهل په څمکو باندی داحمد زیو د ښاخ ځینی ځانګی قبضه لری او اکثــراء‌یکی غنم او نخو دکری او په منی‌کی په کی باجری ترهغی اندازی ډیری‌وی چی ددوی له خوارك لس چندو ته رسیږی اودهغی دځرڅلاو لـــه مدرکه ډیره ګټه ترلاسه کوی .

مذهب او عقاید :

د وزیرو دقبیلی ټول خلك اهـل‌سنت او جماعت اوحنفی مذهبـــه مسلما نان دی خو دمذ هبی علم زده کړه په تیره بیا دقران کریم لوستل هم په هغوی کی لږ رواج لری اوپه اسلامی عقایدو یوازی تش په نو م پوهیږی نه په علمی توګه خوسره‌له دی هم دوی ډیر مذهبی تعصب لـــ ری د و ی مذ هب‌ته ډیر په درنه سترګه ګوری او

دنورو مذاهبو دپیرو انو مالو نـــه نوتوی او روایی گنی ، همـــدا راز دوی دانگریزئ سرکار د سیمـــی دمسلما نا نو ما ل هم روا گنـــی ،

که څه هم په دوی کی جوماتو نه اوملایان ډیر نه دی خوعوام خلـــك یی لمونځونه ادا کوی په تیره بیـــاتمان زی وزیر او داحمد زیو دښاځ دسپیر کی ځانگه او دمـــسعودو دعبدلی او علیزی ځانگی د لمانځه په ادا کولو کی ډیر مشهور دی. هغـه اتمان زی چی دایمی استوگنځی لری، دوی جوماتونه هم لری . ویلای شوچی دغه خلك دلمانځه په توســـو

فرایضو، واجباتو، قواعدو ، رکوعـ کانو او سجدو باندی په ښه ډو ل نه پوهیږی خوسره له دی هم تـــر حپلی پوهی پوری فرایض ادا کوی. په دوی کی ملایانو ته ډیر قد را وعزت ورکول کیږی او دهغو دخوــی

نه چی کومه خبره واوری هغه ته دسندپه اندازه اهمیت ور نوی .دوزیرو ملا یان ډیر پوه نه دی . وعظ او خطبه دعامو خلکو په مینځ کي په ښه ډو

ل نه شي اداء کولی ،ددغه ســـا ده خلکو تر مینځ تعویذ لیکو نـــکی هم شته چي ددوی په غولولو سره له دوی نه شیرینی اوندرونه احلی. د ملادنده امامت او خلکو ته لومنځ ورکول دی . همدا راز دوی کوچیو هلکانو ته لمونځ ورزده کوی ، نکاح تړی او دجنازی لمونځونه ادا نو ی ملایانِ اکثرء مړوته غسل ور کوینود مړو زړی جامي هم دوی تر لاسه کوی .

ملا یانو ته دعشر غله او دمړ ی سقاط هم ورکول کیږي خو دوی اکثراء مفلس وی . ځینی ا سود ه حـا لـــه خلك روژه فرض گنی خو ځینـــی نایوه وزیر د روژی دمیا شتی لـــه راتلونه هم خبرنه وی . ما اوریدلی

چی داوارو سیمود او سیدونکـــــووزیر ونه یوتن د روژی د میاشتـــی په پای کی غره ته لاړ او هلته یی وویل چی نن اختر دی د غرنیـــو وزیرونه یوه سړی وویل الحمدالله چی روژه تیره شوه او مونږ خبـــر هم نه وو پاك خدای دی په دی گناه زموږ غاړه بنده نه کړی . ځکـــه چی مونږ دروژی دمیاشتی له را تلـــو نه خبرنه وو . نوله دی کبله معاف یو، کله چي ددغه قبیلی کوچیـــان غرنیو سیمو ته تگ راتگ کوی نو په هر ځای کي چي دیره اوتم شي دهماغه ځای په یوه پاك اوښه ځای کی یو

یوه دبری ږدی او دجو مات علا مـــه جوړوي او د دوی ملاچی له هغو ی سره ملگری وی په دغه ځـــای کی اذان کوی، او په جماعت ســـر لمونځ اداء کوی،ځینی وزیر ی شپانه او غرنی غوبه داسی هم وی چی هغوی

دلمونځ سبق نه وی ویلی په مجموعی ډول د دوی په باب ویلای شو چی هغوی په دینی چارو کی لږ معلومات لری.

مالداری :

دوزیر و دآسانو په باب وړاندی معلومات وړاندی شول ، د هغوی نه پرته په دغه قبیله کی دپسو ـــــو ډیری رمی سا تل کیږی په تیره بیاد احمد زیو ښاخ ډیر پسونه ساتی چی په ژمی کی تهل او په اوړی ئی د سلیمان دغره څوکوته ځی . نرپسونه اکثراء دبنو په بازار او دهغه ځای

په شاو خوا کی پلورل کیږی اومیږی عموماً دنسل دزیاتوالی له پـــار ه ساتل کیږی د دوی په ملك کـی دسپینو پسو ډیری رمی تر ستر کـو کیږی . دوی دپسو نو دوړیو دخــرڅلاونه ډیره گټه ترلاسه کـوی . غریبی وزیر د وزورمی هم سا تی ،حو په ننهل او اورو سیمو کی وز ی لږی دی .

دوی ځینی خلك اوښان هم روزی، په تیره بیا کوچیان چی دسفراولیږد په وخت کی په هغو باندی دکـــور اسباب او کیږد ی باروی . ددغـــو اوښانونه دمالگی دسواد کری پـــه منظور هـــم گټه اخلـی . دوی د اوښا نو جو نگی (نربچیان) د خپلی قبیلی په سوداگرو او نورو کسانو پسرری ، دوزیرو او ښان اکثـــراءواړه واړه بی مهاری او زیار کالونګی دی چی له کوچنی والی نه هغـــو باندی کته اچوی . دغه خلك گاو- مښی هیڅ نه ساتی ، حوغوایان اوغواوی په کی ډیری دی . خو ونی یی تیتی ، ډنگر اورنگونه یی تـــوروی ، د غه خلك وایی چی د ـنو رو غوایانو او غواگانو ساتل په غرونو کیمساعد دی داځکه چی دغه غواگانی اوغوایی پیاوړی او فعالوی نو ځکه دوی توربخون سلنداد نسل غوایا نو روزیی به پمدرنه کوی اوهغه وختیی چی بچی یو کلنـشی نو هغه باندی بارونه وړی او دبی ر حمـی خبره خودا ده چی په لنگو غوایانو باندی هم باروـنه وړی یـیی پـــه یوی کی تړی . دوزیرو په هـــر کور کی خرشته دی ، په تیره بیا کوچیان دتهل داوبو ژی ور باندی وړی او هغه څوك چی اوښان نـــه لری نو هغوی دلیږد او سفر پـــه وخت کی له خرونه دما لونو دوړلو له پاره گټه اخلی .

د وزیرو سپی :

په دغه قبیله کی درمو او کـــورونو دساتلو له پاره دسپیو ساتنه ډیره رواج لری او دغه سپی ډیر هو ښیار او با خبره دی او غله پـــه دی نه بریالی کیږی چی غلاوکړی. دغه سپی په جنگ نی تکړه، وړی او لوړ قدونه لری خو په دغـــه قبیله کی د ښکارکولو مینه نشته .

ناروغـــی :

د وزیرو خلك سره له دی چی د ډوډی دخوړلو سره احتیاط نه کوی اوخیرن گرځی خودتازه هـــوا دمو جودیت له کبله په دوی کـــی

ناروغی لړه د. اود کوی لـــــه ناروغی نه د مسعودو له ښاغ نه پرته دنورو وزیر و لـــو ی او و ا ړ ه لړ مړه کیږی . د دغی قبیلی پـــه کوچنی ښاحونو کی دتبی نارو غـــی شته اوهغه وخت چی دوی له گرم ملك نه غرنیو سړو سیموته یالله ، کرمو سیمو نه سړو سیمو تـــه راځی نو هغوی دځو ورځو تبه کوی او داسی سړی ته تود او ســـوړ وایی . په دوی کی دلویی تبـــی او وچکی تبی ناروغی هم شته اود هر ډول تبی له پاره ژون اچول* یعنی دپوستکی اغوستل دی اوترتیب یی داسی دی چی هغه پسه چـــی تازه حلال شی دهغه گرم پوستکی لوڅ ناروغ ته اغوندی چـــی دوړیو خوایی د باندی وی . که نــــاروغ د دوویا دریو پو ستکو په اغوستلو ښه نه شو نو نور پوستکی هـــم وراغوندی ترهغو چی یا ناروغ مړ شی او یایی تبه پریږدی. خواکثراء دپوستکی په اغوستلو سره جوړـ یږ ی او ظاهراء ددغه کار کتـــه په دی کی دهچی وجود خولی کیږ ی او تبه ورکیږی او تر څــــلو رو پهرو **پوری یو پو ستکی اغوندی که څه هم دی له آز اد ی هـــوا او

اوبو نه پر هیز وی خووزیردپرهیزډیر مراعات نه کوی . ددی نه پرته دتبی څخه دجوړید لو په منظـــو ر دجمال کوټه *** جلاب چی مسهـل دی هم استعمالوی او د موسمـــی تبوله پاره دغنمو اوړه په اوبوکی کډوی او په ملایم ډول یی جوړوی او په اور باندی یی پږدی اوپـــه هغه کی کورکمن او تور مرچ اچوی او بیایی گرم گرم خوری چی د هغو په اثر وجود گرم او خولی کیـږی او په دغه ډول تبه لیری کیږی .

مسعود له و چکی تبی مـــړی تبی او دکوی له ناروغی نه ډیـر ویریږی او په کوم کلی یا کیږدی کی چی دغه ډول ناروغی موجو ده وی هلته تگ راتگ نـــه کـــوی . دوزیر و خلك دسادگی په سبب د

پیریانو له سیورو نه ډیر ویریږی او داکثرو ناروغیو علت دپیریانو اوښاپریانو سیوری گنی او د هغو ی له صدمی نه د ځان ساتلو اودهغوی ددفع کولو له پاره حیله گـرو اوتعویذ لیکونکو ملایانو ته ر جـوع

---

* په اصل (۴۸۰مخ) کی هـــم دغه کلمه ژون لیکلی ده یعنـــی ژی ترو اودمخه راغلی ده خودغـــه کلمه ماژون اروېدلی ده چی واوتر ژی دمخه دی په منگلو کی متل دی « تارلمی ته خپل وژن بـــلا دی » ناصران یی وزن بولی . (رشاد)

** یو شبانه روز اته پهره دی اوهر پهر دری ساعته ـ څلور پهر دوولس ساعته کیږی . (رشاد)

*** دجمال کوټی سهی نـــو م جپال کوټه ده په پارسی یی «دند» بولی انگریزی نوم یی eroton دی.

په تخمیني ډول د قبیلو شمیر

لاندې یو فهرست کېښل شوي دي چې د هغې له مخې د هرڅوه لوي ښاخ شمیرکسیونه

د استوګنې ځایونه او د ملکانونو مو نښودل شوي دي

لومړي : د اتمام زیو د قبیلې په باب تفصیلات

شمیر	د مشهوراو عامو ښاخونو نومونه: د پورتنی ښاخونو نومونه	د مشهوراو عامو ښاخونو نومونه: د لاندینو خانګو نومونه	د وسلوالو کسانو شمیر	د ملکانو نومونه	د استوګنې ځایونه	کسب
١		معیت خیلی یا محمود خیل	٣٥٠٠		حسن خیل په کتوکی د وزي خیلو د خیسوړد ري په سرکي او نور په خواره واره ډول	کرنه ، د مالګي خرڅول او بورک‌خیل کرایي کارونه
٢		منظرخیل یا منجرخیل	٦٠٠	بلال ، قمرالدین	په خوار نواره د ول سره استوګنه لري	بزګرۍ او مالداري بوخت دي
٣		مدخیل یا مداح خیل	٢٥٠٠	آدم خان مساخیل	د ګوپه غره کي چې د وزیرو په پورتنی برخه کي موقعیت لري	رر
٤		توري خیل	٣٠٠٠	ایخزکتي ، میرحسین معروف شیخ عبدالرا اخوندزاده او نور	په شیوه تله اود ره خیسوکي	کرنه وډانیو د لرګو پلورل ، خوزړني اوږسل خیل پخلاوو بوخت دي

نمبر	د مشرانو او وړو ښاخونو نومونه: د پورتنی ښاخونو نومونه	د مشرانو او وړو ښاخونو نومونه: د لاندنیو څانګو نومونه	د وسله والو کسانو شمیر	د ملکانو نومونه	د استوګنې ځایونه	کسب
٥		کابل خیل	۳۲۰۰	ملك د من، رحمت شاه، عالم شاه او نور	د کرم د رود پرغاړه د غره په دننه کی استوګه لري	په کرنه او غلا بوخت دي
٦		ملك شاهی یا ملك شی	٤٠٠	صالح	اکثره د میرانو د تمانی په سیمه کی چی د کهود غره په لمنکو قسمتونو او سوزی	رر
٧		جانی خیل	١٠٠٠	الهداد، بکن، رضاداد، میرشاه، کریم خان،	رر	په کرنی او د لرګو په خرڅولو بوخت دي •
٨	بکاخیل یا بکه خیل	سروي خیل	٤٠٠	غاسم، سربدار	د وزغر په سیمه کی استوګه لري،	د کرنی په چارو بوخت دي
٩		تشختی خیل	٦٠٠	حسن شاه، سردار جنګ بهادر	رر	ررر
١٠		نرمی خیل	٥٠٠	حسن خان، کریم خان کته مـــیر	رر	په کرنی او غلا و بوخت دي
ټول شمیر			١٥٧٠٠			

نمبر	د پوتنی بناخونو نومونه	د لاندنیو څانګو نومونه	د وسله والو کسانو شمیر	د ملکانو نومونه	د استوګنی ځایونه	کسب
	د مشعورانو د بناخونو نومونه					
۵		کابل خیل	۳۲۰۰	ملک دین، رحمت شاه، عالم شاه او نور	د کرمی د رود پر غاړه د غره په لمنه کی استوګه لري	په کرنه او غلا بوخت دي
۶		ملک شاهی یا ملک شی	۴۰۰	صالح	اکثراً د مرهانود تهانی په سیمه کی چی د کرم د غره په لمنه کی موقعیت لري اوسیږي	״
۷		جانی خیل	۱۰۰۰	الهداد، بکن رضاداد، معزشاه، کریم خان	״	په کرنی او د لرګو په خرڅولو بوخت دي.
۸	بکاخیل یا بکه خیل	سروپی خیل	۴۰۰	قاسم، سردار	د وزیرو په سیمه کی استوګه لري	د کرنی په چارو بوخت دي
۹		تښتی خیل	۶۰۰	حسن شاه، سردار جنګ بهادر	״	״
۱۰		نرمی خیل	۵۰۰	حسن خان، کریم خان کته مسیر	״	په کرنی او غلا و بوخت دي

ټول شمیر ۱۵۷۰۰

د ریم ۽ د محسود وزیرود قبیلې په باب تفصیلات .

نمبر	د مشهورو او مهمو خونو نومونه			د وسله والو کسانو شمېر	د ملکانو نومونه	د استوګنې ځایونه	کسبونه
	د پورتنی بنا خونونومونه		د لاندنیو څانګو نومونه				
۱	علي زي	بوتيه خيل	نڅابي خيل	۱۲۰۰	ګلان ، محمرخان ، زرېلند میرپاپاو	د بابړ پهغرباو نوروځایونو کې پهمتفرق ډول اوسیږي	داوسني خرخلاو . غلا اولږ څه پهکرنه بوخت دي
۲	رر	رر	من زي	۲۳۰۰	د جنګي خان زوی محمرخان سر فراز ، یارك	د غره په د ننه کې په متفرق ډول	داوسپني خرخلاو د یوزیو خرخرل او د کرلیو خرخونکی
۳	رر	شمن خيل	جيار خيل	۶۰۰	برزان ، بردل ، میناد یـــن یامین الدیـــن	په شهیر او میلان کې	د او سپني خرخول
٤	رر	رر	خني خيل	۵۰۰		پهمدغیرکی او هم په خوارموارە ډون اوسیــــږي	رر
۵	رر	رر	بدين زي	۸۰۰		رر	رر
۶	رر	رر	ګلي شا هي ګلي شي	۱۰۰۰	قمرالدین ، میرحسین ، شود ي	پهغورلامہ نومی ځای کې چې د د کانی ګورم نه ختیځ خواته موقعیت لري ـ	رر

شمیر	د پورتنی بنا خونومونه		د لاندینیو څانګونومونه	د وسله والوکسانو شمیر	د ملکانو نومونه	د استوګنی ځایونه	کیفیت
	د مشهورواو عام وشاخونو نومونه						
۷	پهلول زي	هملخیل	عبدالی	۲۵۰۰	زبردست ـ سعید	اکثراً په مکین کی اوپاتی په خوارمیاو رمزوک استوګنه کوي	داوسپنو خرڅول او د کرنی چاري
۸	رر	رر	ملکشی	۸۰۰	اخلاص او شوازي	د کانی ګورم نه پورته په غره کی اوسیږي	داوسپنو خرڅولو او غلاوو باندي بوخت دي
۹	رر	رر	نظرخیل	۹۰۰	فتح خان	رر	اکثراً په کرنه بوخت دي
۱۰	رر	رر	بلند خیل	۳۰۰	د مشعل زوي میر بابا	مکین	په کرنه بوخت دي
۱۱	رر	تانوخیل	هیبت خیل	۱۴۰۰	تاج محمد میرغضب جهانګی	په خوارمیاو رمزول اوسیږي	په کرنه او غلاوو بوخت دي ؞
۱۲	رر	رر	عمرخیل	۲۰۰	شاه دیدار	مکیـــــن	په کرنه اخته دي
۱۳	رر	رر	کوکري	۶۰۰	شاه مراد درانی یخې شواز	په خواره وارمزول اوسیږي	داوسپنو په خرڅلاو کرنی او غلا بوخت دي
۱۴	رر	رر	ورمرخیل	۲۰۰	ګل میر	رر	رر
۱۵	رر	رر	شنګی یا اپشنګی	۱۲۰۰	د مانګی زوي نبی او نور	اکثره د تاک په درمکی اوسیږي	داوسپنی خرڅول او په غلاوو بوخت دي
	تول شمیر			۱۴۵۰۰			

نوټ: د دي تخمینی شمیر لمخی چی په فهرست کی کښل شوي دي تول (۳۹۹۵۰) تنه دي چی د هغو له جملی نه د اتمان زي ښاخ (۱۵۷۰۰) تنه داحمد زي (۹۷۵۰) تنه او د مسعود د (۱۴۵۰۰) تنه دي ٠که څه هم دا شمیر صحیح نه ښکاري خو بیا هم تقریباً صحیح دي ځکه چی د دي شمیر په باب د اکثرو ملکانو د نظریو والی موجود دي د غه ننه [illegible] چی په فهرست کی کښل شوي د مدهغو بنا خونو په تمونزه را ښیی چی د بنو ضلعی په سرکاري حدود کی ځمکی لري ٠د دي شمیر څخه څرګندیږي چی په دي لوي قبیله کښی یوازي په ۶۷۵۰ تنو باندي انګریزي سرکار قبضه لري او اکثراً د ژمی په موسم کی غرونو ته ځی ٠د دي قبیلی د تو لووګړو شمیر تقریباً یو لکو تنو ته رسیږي چی شمیر یی مخ په ډیر یدو دي ٠

کوی او هغوی ورته تعویذ و نه لیکی او تعویذونه په غرمنو کی پوښ لیږی او بیایی په غاړه کی اچوی په وزیرو کی به داسی ډیر لږ خلك وی چی تعویذونه لری. او دهر سړی په غاړه کی څو څو تعویذ ونه وی او په هغو باندی عقیده لری. تعویذ لیکونکی ملایان اکثراء په یوه تعویذ باندی یوه روپی او څلور آنی نذرانه یا شکرانه اخلی او دوی په دغه عمل باندی وزیر معتقد ساتی.

کالونه :

دهغو ډبرونه پرته چی اوسپنه ورنه لاس ته راځی ، تراوسه د دوی په سیمی کی دبل شی کان خرکند شوی نه دی . د اوسپنی د استخراج طریقه چی مسعود اووزیرورنه کار اخلی په دی ډول ده چی د مکین او باړ و دسیمی غردمالګی دکان په ډول کنی او یوډول تور رنګه ډبری چی نړی ځلیږی او هم دروند والی یی د نورو ډبرو په پرتله زیات دی راباسی او بیادغه تیږی میده کوی او هغه د هوا او ارزښت نه دساتلو په منظور دیوی ګردی خیمی یاڅپری تر لاندی دکان کی چی دوی یی مندو بولی اچوی او دچونی دوروتوتو په شان یی جوړوی او په دغه ځای کی دوی برخی د ډبرو سکاره او دریم برخه نو موړی معد نی تیږی اچوی او دخرمنو دبنیو په ذریعه هغو ی ته ډیر زیات تاوا و حرارت ورکوی او هغه وخت چی ډیر زیات حرارت ورکړشو نو اوسپنه دختی په په تشکل اوړی او سور رنګ غوره کوی او له خپل ځای نه ښکته توئیږی چی د اوسپنی دساما نو الاتو په ذریعه یی کثا فت او اضافکی مواد لیری اوله اصلی اوسپنی نه بیلیږی . دلوموړی تاو اوسپنی ته متره وایی چی دشلو سیروبیه یی یوه روپی ده او بیا په بل دوکان کی حرارت ورکول کیږی او په پحی اوسپنی بد لیږی چی بیا ورځخه کشی چی دوی یی په حپله ژبه کرکی یا پالی بولی جوړوی . او دلس سیرو نرخ یی په غره کی یوه روپی وی . دغه کانونه دیوه خاص سړی په واك کی نه دی او په هر ډول چی مسعو دوزیر یی وغواړی کار ور ځخه اخلی ، خو دوی په خپلو مینځو کی کانونه او دهغو ځایونه ویشلی دی . ا و هغه اوسپنه چی په مکین کی لاسی ته راځی . عموماء داوړ کون په سیمه کی خرڅیږی او همدا راز دغه اوسپنه دمن زی ښاغ له حوا په تاك او دیره اسمعیل خان کی او کوکری بهلولی زی او استانی شهابی خیل یی دبنو ضلعی دمروتو په سیمه کی پلوری او د مسعودو د

ښاغ سوداګر خلک وايي چې دوی په کال کې تقریباء دپنځوسو ز روو پو په بيه اوسپنه استخراج او په خام او پاخه ډول يې خرڅوي .

په مکين کې دعبدالی د ښاغ خلک له اوسپنې نه هرکاري، کوزې تبې ، پيالې اويو مونه جوړوی اوشاو خوا سيمو ته يې دخرڅلاو له پاره وړي او همدا راز دغه ډول لوښي او اوسپنې د اورګون په سيمه کې دپرملي قبيلې خلک اخلي او په غزني ، کابل ، کندهار او د غلجيو په سيمه کې يې پلو ر ي دمسعودو وزيرو خلک ا کثراً د اوسپنې دخرڅولو له لاری ګوزاره کوی او داوسپنو سودا ګران دنورو خلکو په پرتله شتمن او هوسادی.

ګربز ښاخ :

د وزيرو د قبيلې د نسب له شجرې نه ښکاری چې د سليمان زوی وزير چې دوزيرو دقبيلې لوی نيکه دی دوه زامن لرل چې له دوی دواړه ونه خودی ددريو زامنو پلار و چې تر ټولو کشر يې مبارک و او دمبارک زوی ګربز نوميده چې چې دده اولاده دګربز په نامه يا د يږي .

که څه هم ګربز د وزيرو دقبيلې يو ښاخ دی خواوس د ملک ددوداودستورله مخې له وزيرونه داسې جلا دی چې هغوی بايد له پا تې وزيرو نه په جلا ډول ذکر شي، په پيل کې ګربز دمسعود و وزيرو سره يو ځای دهغو دغره په شمالی برخه کې او سيدل لکه څنګه چې دشکتو په دره او دبابړو په غره کې تراوسه هم ځينې سپين ږيری و زير د ګربز و دوخت د اوبولکولو او دهغوی د کورو نو نښې نښانی ښيي او تقريباء تر دوو سوو کالوو ړاندی دغو خلکو له دغه ځای کوچ وکړ او ددوی دکوچ علت د اوچې دګبر په غره کې په لومړی سر کې دبيټني دقبيلې دوړکاړی ښاخ ميشته و ، ګربز و په دوی باندی يرغل وکړ، هغوی يې قتل عام او دګبر غرييي په خپله قبضه کې راوست . څه موده وروسته په هماغه ډول چې د بيټنيو په برخه کې ذکر شول دبيټنيو دکجين ښاخ په ګر بـــز ويرغل وکړ او ترسختو جګړو وروسته ګربزو ماته وخوړه او دګبرغربيا دبيټنيو لاس ته ورغی او څرنګه چې ګربز په دغو جګړو کې کمزوری شوی وونو له دی کبله د وزيرو دسيمې په لويديځ اوشمالی څنډوکې د خوست دسيمې جنو ب ختيځ او ددوړو دسيمې په شمال لويد يځ غرنيو سيمو کې ميشه شول،

د گربز ابن مبارک د نسب شجره



ددوی په دغه غرنی سیمه کی دژمی په دوو میاشتو کی واوره او - ریږی ، او څرنګه چی غرنی کر بزاکثراء دپوز یونه جوړوسوو خیمو کی ژوند کوی نو ددغو واو رو په اثر ددوی ددغو خیمو ښکتنی برخی تر دریو یا څلورو فو ټو پـوری خرابیږی ددغه ښاخ خلك غر یـب مګر جنګیا لی دی . دوی د خـوست په جنوب ختیځه برخه باندی یرغل کړی او دخوست لږه برخه یی په خپله قبضه کی راو ستلی ده ، نو ځکه اوس دکابل حـکومت د واك منلو نه پرته یوه جریب ځمکـه باندی په هر فصل کی دوی کابلی روپی مالیه ورکوی . او همدا راز دخوست حاکم دهر کورنه د لوګـی په نامه دوی روپی محصول هـم اخـلی .

دکربز و پوښاك او دود اودستوراکثراء دخوست د نورو اوسیدونکو قبیلو په شان دی خو ددوی فزیکی جوړښت ښی ، خیری او رنګونه یی د وزیرو په شان دی. کربز دپاتی وزیر و سره په ګټه او تاوان کی شریك نه دی خوهغوی خپل ورونه ګنی . دوی دمخه دوزیرو په نرخ عمل کاوه خو اوس یی نکوی .

ویل کیږی چی ددغه ښـاخ دوسله والو کسانو شمیر (۱۰۰۰) زر تنه دی . دوی عموماء د کرنی او مالداری په چارو بـوخت دی خو ځینی یی سودا کری کـوی او د بدرګی چاری هم ترسره کوی دوی بی علمه او نا پوهه خلك دی دغه خلك دخوست دسپین ګوندی او تور ګوندی د شمیر پـه وخت کـی پـه سپین ګوندی کی شمیرل شوی دی.

د وزیر و دلالی یالیلی ښاخ :

ددغه ښاخ دوسله والو کسانوشمیر پنځه زره کسه ښودل شوی دی چی د سپین غره په شمال او لویدیځه برخه کی اوسیږی. دا خلـك هم دوزیرو د قبیلی یو ښاخ دی چی دخپل پاتی برخی نه بیله شوی ده او ددوی دلیږد په باب داسی ویل کیږی چی لالی ابن وزیر له خپـل پلار سره دشوال په غره کی اوسیده چی اتفاقاء دهغه له لاسه دشیتك د اولادی نه کوم یوتن ووژل شو ، نو په دغه وخت کی دی دبدل لـه و یری د خو ګیانیو قبیلی ته ورغی او هلته یی واده وکړ چی اوس یی اولاده دی حدته رسیدلـی ده ،دویم روا یت داد ی چی نو مـو ړی یوه ښځه چی لیلانو میده غو لولی او ښښتو لی وه او په لاره کی ده پـه دیر زړو ر تو ب سر ه خو تنـه شینواری غله چی دده د معشوقـی نه یی د شرارت په منظور او بـه غوښتلی وی، ووژل، او له هغـه لیلانه دده خو اولادونه دنیا تـه راغلل چی اولاده یی تر اوسه هـم مشهوره ده .

مؤلف د دیرو هڅو سره په دې بریالی نه شو چې د دغه ښاخ له کوم غړي سره ملاقات وکړي او همدا و جه وه چې د دې ښاخ د وروستیو ځانګو د نسب شجره تر لاسه نه شوه .

د دوړ قبیله :

لکه څنګه چې د شتیك د نسب په شجره کې راغلی ده دغه ښاخ هم د شتیك له اولادې نه دی . کله چې د کیوی ا و سورانی اولاده ، چې په بنو څېو سره مشهوره ده د شوال نه د بنو دسیمې خواته راغلل نو له هغه وخت نه تقریباً تر (۵۰۰) نه زیات کلونه تیر شوی دی دا قبیله هم دغره په دننه کې د توچي د رودپه دواړو غاړو کې میشته شول او د زیاتو معلوماتو سره سره دا حال څرګند نشو چې له دوی نه وړاندې په هغه ځای کې چې اوس د دوړو دملك په نامه بلل کیږي څوك اوسیدل او یا یې هغه وخت چې ولیدل په دغه ځای کې څوك نه شته په کې استو ګن شول . د اور یدلو روایتونو او دموجودو دلایلوله مخې دا سې ښکاري چې وروستی روایت به رښتیا وی . د دغه ښاخ پخوانی تاریخ او دهغوی اړیکی د پخوانیو پاچایانو سره ترلاسه نه شوی خو د (۱۱۱۲) هجری کال چې د (۱۶۹۶) عیسو ی کال سره سمو ن خوري اوله هغې مودې نه (۱۶۸) کلو نه تیر شوی دی او او رنګزیب دواکمنی په وخت کې په هغه کال چې شهزاده بهادر شاه د بنو ملك نیولی وپه هماغه کاله یې د دوړو په سیمه هم دولس زره روپی مالیه مقرره او سید حسین په نوم یوسړی یې د دوی حاکم وټاکه . تر څه مودې پورې ده په سختی سره ګوزاره وکړه او هغه وخت چې د بنو د سیمې انتظام خراب شو نو دوړهم آزاد شول ، تر څو چې بیا ایرانی نادر دوی تا بع او د زمان شاه درا نی تر دوری پورې یې دولس زره روپی مالیه ورکوله خو کوم حکمران په دوی باندې ټاکل شوی نه و . او یو یا دوه کاله وروسته به یو درانی افسر دیو شمیر پوځ سره ددوی سیمی ته ورغی او د دولس زرو روپیو مالیې په نوم به هر څه چې ګوتوته ورغلل وا خیستل اوله ځان سره به یې یووړل . د فتح خان بار کزی د حادثا تو په ترڅ کې شاه زمان دیوه سید پیر په غوښتنه د دوړو دولس زره روپیې مالیه وبخښله چې دهغې په بدل کې د دوړو خلك خپل دغه پیر اوسید اولادې ته دهری — غولی ځمکې په سریو څه غله ورکوی او له هغه وخت نه دوی هم آزاده دی. په اوسنی وخت کې دوی د وزیرو د قبیلی د زور زیاتی په سبب هیله

د شیتک د نسب شجره



۲۱۱



څرنګه چې د دغو اصلي (شاخ) صفحه وه چې پورتني ذکر شو خو اوس معلومه شوه چې نور متفرق قومونه هم له دوی سره
یو ځای شوي دي چې دوی د دوی اولاده نه بلکې د دوی په نامه بلل کېږي چې په برخه، ګټه او تاوان کې
له دوی سره یو ځای دي، د دوی تفصیل په دې ډول دی، ملخ زی، عبدک زی، دریپه خیل ابزراوده
امخاني یا ازرونی لمر، ترونی او متبه کنه چې د دوی شجرې پورته راغلي دي.

من دئ چې د انګریز سرکار دوی ته دخپل مهربانی په سیوری کی ځای ورکړی او ددوی سیمه هم دانګریزی سرکار په محروسه اونیول شوو سیمو کی شامله کړی اوځرنګه چې زمونږ حکومت د حدودو دپراخوالی او دملکونو دنیولو خیال نه لری نو ددوی له ډیرو غوښتنو سره بیا هم محروم دی .

پروسږ کال ددغه ښاخ په خلکو کی یوه آوازه خپره شوی ده چې انګریزسرکار غواړی ددوی سیمه دکابل امیر ته وبخښی، کله چې دوی دغه فضوله خبره واوریده نو ددوی ځینو خانګو بیا ددی غوښتنه وکړه چې مونږ پرته له کوم دلیل نه دانګر یز سر کا ر اطاعت منو اوسرکار دی مونږ د بی رحمه حاکمانولاس ته نه سپاری که څه هم دغه خبره بیخی غلطه او انګریز سرکار هیڅ کله د کوم دلیل نه پرته په بهرنیو سیموکی مداخله نکوی خوسره له دی هم له دغه خبری نه ښرګند ه ده چې د انګریزی سرکار دښه چلند او عادلانه انتظام زمونږ په آزاد و ګاوند یو سیمو باندی څومره تاثیر ښندلی دی . اوهغوی هم په دغه خبره پو هیدلی دی چې د عاد ل سلطنت رعیت په امن او آرامی کی ژوند کوی . ددغه ښاخ خلک ډیر جنګیالی نه دی ، دوی منځنی ونی، غنم رنګه ، خوزیږ بخون هوسا غو ښتونکی ، تنبل مزا جه او عیش خوښوونکی دی ، دوی په وعده خلافی او نامردی کی مشهور دی ،په دوی کی په ښځو او بی ږیرو هلکانو باندی مین کیدل ډیر رواج لری . اوپه دغه معامله کی دوی د افغا نستان تر ټولو قبیلو نه لوړی درجه بدکاره دی . اوهغه وخت چې په یوه بی ږیر ی هلک باندی څو تنه مین شی نو په دغه معامله کی رقیبان له یو بل نه دوړاندی کیدو او دمعشوق د جلبولو لپاره څو پسونه یا نور حیواتات حلالوی او د شپی له خوا دغه حلال شوی پسه د خپل رقیب سره دسیالی په منظور د هغه کور ته نږد ی په یوه جګ دار باند ی ځړوی ، کله چې سهار دهغه رقیب دغه حال وګوری نو په مقابل کی دی هم په همدغه کار لاس پوری کوی او دغه کار ترهغه وخت پوری جریان لری تر څو یوه خوا مغلوبه شی اویاهغه معشوق ددو ی له جملی نه کو م یو دملګرتوب له پاره وټاکی . کله کله په دغه بدکار باندی د دوی تر مینځ شخړی منځ ته راځی اووینی تو یږی اوپه دغه خبره باندی په

په کليو کی هم ګوندی ګانی موجودی وی. اوکوم عاشق چی دبل په نسبت ډير پسونه حلال کړی فخر وربا ندی کوی.
دوی دومره ډير رانجه استعما لوی چی سترګو چار چاپيريی تر غوږونو پوری توروی اکثره ځوانان سترګی په شونډو باندی سری کوی ځينی يی يوه سترګه په رانجو توره اوبله په سندری سره کوی لو ددوی سترګی هيڅ کله هم د دغو خرابو رانجو نه خالی نه وی ددوی بل خراب عادت دا دی چی په خپله پګړی کی دخپل ملك ډول ډول ګلان د څانګو سره تومبی.

لنډه دا چی ددوی عادات ډير خراب دی او ددغو تيتو او بدو شوقونو په سبب دوی بايد نيم ليونی و ګڼل شی ددوی پوخاك اکثرا له توری خمتانه جوړ شوی وی خو ډير خيرن وی ان تردی چی بوی يی ترليری ځايونو پوری ځی دوی خپلی جامی قصداء خيرنی ساتی ځکه دهغه چاچی جامی په تن ډيری خيرنی وی نوهغه ځان داسی ښيی چی ګواکی د ی غوړی ډير استعما لوی او په دغو خيرنو جا مو فخر هم کوی.

دوی په زياته اندازه ژير غوړی استعما لوی او غوړ لاس پخپل مخ اوکاليو باندی راکاږی او په غوړ يو باندی غوړه ډوډی په خپل جيب کی ږدی اويايی په لنګوټی پوری ترلی تول هغه ځوانان چی ږيره يی لومړی را ورسږی هغه خيريی ا و ځينی يی په نوسی را باسی او دديرشو او څلو يښتو کلونو عمر خلك يی دبياتی په ذريعه مورچه پيه کوی او ځينی خلك د اختر په ورځوکی ږيره او بريتونه له يوی خوا خريی. دوی په خپلو سيموکی غلا لږه کوی خو دخپلی سيمی نه غلا له پاره بهر ته ځی په تيره بيا دانګريزا سرکار په نيولی ملك کی چی دوی ته نږدی هم دی. دغسی پيښی لږی کوی. دوی اکثرا د کرنی په چارو بوخت دی اودځمکی په چاروکی ډير زيار ګالو نکی دی.
ځينی يی سوداګری هم کوی خودخپلی سيمی نه يی دباندی تګ خوښ نه دی، ددوی ډير اوږدسفر دبنو او خوست پوری دی او ددغه ديرش ميله سفر هم په دوی کی دګوتو په شمير سوداګر خلك کوی.
ددوی په سيمه کی تمباکو ډير پيدا کيږی او دخرڅلاو له پاره يی بنو ته راوړی، همدا راز ددوی د سيمی پنبه اوغله ددغه ملك د خلكو له ضرورت نه زياته ده. دګرنی ځمکی يی ښی دی خو د کښتنيو دوړو نه پرته د ګنيو ا و کور کمندو کرنه په دوی کی رواج نه لری. له بهرنه په تيره بيا دبنو نه ددوی سيمی ته خمتا او اپين ډير صادر يږی.

ددوړو خلك اکثراتو پاك دي او تـــي حتى ځيني ښځې يې هم اپين خوري او په دوى ني به داسي خلك لږ وي چې داپينو، چرسو يا بنګو نشـــه دي و نکړي .

دوى شنه غرنى بنګ و چــوى او په چيلم کي يې څکوي . خــو دوى حتى دشرابو نوم هم نه پيژني. د نورو نشو استعما ل له ماسپيښين نه نيولي توله شپه دمستي په حال تيروي خوسره له دغو بدو کارو نو لمونځ لږ قضا کوي خودوى يوازي ـ لمونځ لږ قضا کوي خودوى يوازي دلمو نځ په اخلاص اوتوا ضع سره ادا کړي.

دغه ښاخ له وزيرو سره لويه دښمني لري. سره له دې چې ددوى دښمن قوي او پياوړى دى خو بياهم دوى په خپل منځ کي اتفاق (يوالي) نه لري . دد غه ښاخ دټولو وسله والو کسانو شمير تقريبا (۱۲۰۰) تنو ته رسيږي چې په دغه شميرکې څلور نور ښاخونه چې د نسب شجره يې وړاندې را غلې ده هم شامل دي ددوى په سيمه کې چې دپخوانيو زړو او ورانوودانيو د دکنډ وا لـــو نښـــى نښـــا نـــى پا تي دي له هغو نه دا ســـى اټکل ليدلاى شي چې دهند وانو يا يو نانيانو دحکمراني په دوره کـــى لو يديځ افغانستا ن ته له دغـــه ځاى نه يوه عامه لارې تللې وه .

ددغه ښاخ خلك نه په پوځ کـــى د داخليدو سر ه مينه لري او نه هم ددغه کار لياقت لري .

د تنيو ښاخ :

ددغه ښاخ د نسبت شجره وړاندې ذکر شوه دوى خپل ځانو نه ددوړو ورونه ګنې ،خو ځدرا نړوايي چې تنى د کاغ دم له نسله دي ، مګر د څيړ نـــو پـــه نتيجه کي دا ثابتـــه شو ه چې تنى هم دکړلا نيو يا کرلا نيـــو يو ښاخ دي ويل کيږي چې تنى د وه تنه صلبي ځامن لارل يـــوبي ا ر ي چې اولاده يې اريو زى دى دويم يې مرى چې اولادى ته يې مرئ خيل وايي او مرى ابن تنى يو کوچنى ماشوم چې سينګى نوميده و روزه چې دهغه اولاده دسينګى په نامه سره مشهوره شوه، تنى دخوست په لويديځ او جنوب کې ميشته او اکثرا په غرو نو کـــى اوسيږي خو ځيني خلك يې دغرونو په لمنو کې هم استو ګنه لـــري .ددوى لوى کلى د درګى په ميدان کې دى چې پنځه سوه کوره لري .خلك وايي چې په دغه ځاى کې زر تنـــه وسله وال کسان شته دي د درګى پر ته چې ددوى له ټولو کليو نـــه لوى کلى دى دالاندې کلى هـــم لوى کلى شمير ل کيږي .

حصارك ، کوټه ، نرخـــي اواتمان، دغه ښاخ په دايمي استوګنځيو کې سره زوند کوي او مسقف والاکورونه لري . ددوی لوپدیځ غربنه شين‌دی کې سيوري لري او دلته ښکار ی‌بازان هم ډير نيول کيږي ..

ددغه ښاخ ټول شمیر تقریبـــاً دولس زره تنه دی چی دهغو لـــه جملې دري زره تنه وسله وال کسان دي ددوی د توپکو شمير دوسلـــه وسله والو کسانو په پر تله ۱/٤ لږ دی . ددوی له جملې نه دری‌زره تونه يې‌تور ی‌لري. هغه سړ ی‌چی‌توپك نه لري نو توره او سپرضرور ساتي . ددغه ښاخ خلك ډيرجنګيالي‌او زړه ور سپايان دی . دخوست د سيمي دګونديو له جملې نه دو ی باید د سپين ګوندي غړي و شميرل شي .دوی داسمعیل خیلواو دتورګوند نورو غړو سره کلکه دښمني لري.

او دځپل همت په وجه دوی‌اکثراً بريالي وی . ټول تني د کرنی پـه چارو بوخت دی . ځمکی یی للمـــی‌خوبوه اندازه آبی ځمکه چی دویالو په ذريعه خړو بيږي هم لري .ددوی‌ځينی خلك تر بنو پوری د تنبا کو او نورو شیانو سوداګری کوی خو اکثراً له خپلو سیمو نه بهر تـــــه تګ د دوی نه خوښيږي که څه هم‌ددوی په ميداني سيمو کې داوسيدو له کبله بايد د خوست دحاکم تـــر لاس لاندی وشمیرل شي او دکال‌زر روپی مالیه دنعلبندی په ډول پـــه دوی باندی تاکل شوی ده خو لـــه دغو پیسونه دوه سوه روپی دملکانو په انعام لی مجرا او په پاتی اتـــه سوو روپیو مالیه کی له‌دوی نـــــه ځینی اجناس لکه داسانو نعلونـــه. یومان ، هر ګاری او نور اوسپنيز سامانونه چی اکثراً د دوی په سيمه په تيره بيا په کوټه کی جوړيږ ی‌اخلی او بيايی دوی په خپلو مينځو کی په هر کور باندی په تاکلـــی‌اندازه ویشی ، سره له‌دی چی لـــه دوی دومره لږ محصول اخستل کيږی بيا هم ددغه ښاخ اکثره خلك دخپل غرور ، زړه ور توب او سختوغرونو دموجوديت په سبب دخوست له‌حاکم نه ياغي کيږي . که څه هـــم د دوی‌تر مينځ کورنی دښمني ډيری نشته خوددښمنی او عداوت نه خالي هـــم‌نه دی .دغه ښاخ په دووګوند نـــو ویشل شوی دی چی په يوه ګوند کی يی اريوزی او سينکی او په بل کـــی يی مری خپل دی چی‌دشميرله مخـــی‌دوروستی ګوند غړی زيات دی اوپه دوی کی هم داوتی خیلو د څانګـــی‌شمير ډير زیات دی او په مری‌خیلو کی هم دری نامی په‌یوه خوا اوخیبی‌خیل، اتمان زی او خبر زی په بلـــه خوا دی چی ددوی ترمينځ شخړی نه را مينځ ته کيږي .

د تغنو او ن شینکیانو نسب نامه



۲۱۳

اومن گل خان نوگل هیبت د دری نامه په څانګه اسمعیل او ادگل د خیبی خپلو په څانګه اوخان او فقیــــر شیر احمد او دل واز او نور دد غه ښاخ ملکان دی ،دتنیوخلك جگی ونی،غنم رنګه او ښایسته خیری لری ، دوی پوشاك اکثراً دوړوته ورته دی‌خوځینی‌خلك‌یی پشمی اندرکهه (شړی) هم اغوندی .ددوی پرتګو نه کهیره‌داره او سوسی دی او دوی ډیرخیرن ګرځی د اخلاقو له نظره دوړ وتــه ورته والی لری خو دهغوی نه لــږ ښه دی دښځو سره عشق او مینــه کول په دوی کی زیات دی خوپــــه پښتنی ننګ کی تر دوړ و تکړه د ی. دغره اوسیدونکی تنی دوزورمــی لو د میدانی او اوارو سیمو اوسیدــونکی د پسونو ډیری رمی ساتی . دغوایانو کلی‌هم‌په دوی‌کی ډیری دی.دوی دخوراك له پاره دغنمو ،اوربشو لوبودنو، نه استفاده کوی .خو اکثره‌یی داور بشو او غنمو اوړه استعما لوی . تنی یو ډول غرنی میوه لــری‌چی له خیړیو یی حاصلوی او پرکی یی بولی اوړه کوی او بیایی خوری. ددوی خوراك او پوښاك ډیر ثیفدی.

پنځم باب

دافغانستان دهغو متفرقو قومونو بیان چي ذکرېي : افغانانو په برخه کي نه دي لیکل شوي

په دغه باب کي به تر تولو وړاندي دهغو قومونو حال ولیکل شي چي د افغانانو په ډله کي داخل حو ځانونه سیدان بولي . * څرګنده ده چي بختیار او سترانی (ستوریانی) په شیرانی کي مشوانی په کاکړ و کي هني او وردګ په کړ ړانی نی خوندی په داوی کي ـ سپندزی په ترین کي غر شین په میا نه کي اوپه ګوتي بیتني کي دا ټول لی قبیلي دپور تني تفصیل په اسا س په مر بو طو افغا نیه قبیلو پوري اړه لري . که څه هم ظاهر آ ځانونه سیدان نه بولي خو څرنګه چي په افغاني قبیلو پوري اړه لري او په هغو پوري مربوط ددوی دنسب پلرني شجره تر لاسه نه شو له دي کبله بنایي دوی ځانونه په پټه سیدان وبولي خو څرنګه چي عوام ددوی په سیدی باور نه لري نو له دي کبله دوی وایي هغه وخت چي مونږ دساداتو له ریښې نه بیل اود افغانانو سره یو ځای شو نو ځکه مو ددغه قوم سره د خپلوی په سبب ددوی دود او دستور و مانه . نو بیا هغوی ته دسید دکلمي استعمال د

---

* دا دپښتنو دستانه کورنیو عادت دی چي پردریم پښت دسیادت دعوه کوی غالباً ددی سبب بـه داوی چي پردریم پښت له دوی سره دبزرګی هیڅ متاع نه وی پاتی نو دوی دخپل اعتبار دساتلو له پاره دنسب شرافت ته لاس واچوی اوله دی لاری ځان دخپلو عقید تمندانو په مغ کي د درناوی وړ ګرزوی . (رشاد)

د بختیار د نسب شجره

بختیار

کورتی — اکو — اتو — پری — توری

اتو

سید محمد

خواجه الیاس

خواجه یحیی کبیر

نظرزی روی هم پونده سوداګر او د بختیار قوم یوه ښاخ دی،

معتبري روی هم پونده بختیاري دي
مدين لوېدیځي استوګنځي له امله یې مترې بولي
مرچخي روی صفه بختیاري چې
په منځګي دامې استوګنځي لري

ادب او احسان د طریقی نه لیری خبره ده او زموږ مشران هم دغه خبره کوی چی که زموږ له اولا دی نه څوك سید و گڼی نو هغه زمو نږ له اولادی نه نه دی ، که چیری داوصیت ربښتیا شو نو هغه له دیقول سره صدق نکوی او مولف ته چی څه حالات ددغه قومونو په باب تر لاسه شوی دی هغه په لاندی ډول ذکر کیږی .

دبختیار قوم :

دمخزن افغانی لیکوال د بختیار دقوم د نسب دا صلیت په باره کی داسی لیکلی دی :

اسحاق نومی چی اصلا یو سیدزاده و په اوش نومی ځای کی چی دبغداد له توابعو څخه دی دروز گاردپیښو په سبب په سفر لاس پوری کړ او دسلیمان په غره کی د شیرانیو سیمی ته راغی او دشیرانی په ښاخ کی یی له یوی ښځی سره چی شبخی نومیده واده وکړ او له دغی میرمنی نه یی یوازی یو زوی پیدا شو او ابو سعید نوم یی ورباندی کیښود چی نوموړی ماشوم د بخت او نیکو طالعو په اساس په بختور سره شهرت وموند او دوخت په تیریدو سره په بختیار سره مشهور شوچیدده اولادی ته بختیار وایی خو مولف ته ددغه روایت په باب صحیح ثبوت تر لاسه نشو ،وروسته الفنستن د خپلو تحقیقاتو په ترڅ کی لیکلی دی چی بختیار د ایران نه دافغانستان هیواد ته راغلی دی چی اوس د دوی پنځه سوه (۵۰۰) کوره د مرغه په سیمه کی میشته دی . ددغی قبیلی خلك نیك چلن او دښه سلوك خاوندان دی .

په مخزن افغانی کی د دوی نسب نامه یوازی دومره راغلی ده .

دهغو خلورو قومونو ذکر چي خپل

لوی نیکه سید محمد گیسو دراز بولي

• خرگنده ده چې ستر یانی (ستوریانی) یا اوسترانی چې له هغو نه گنده پور مشوانی، وردك او هنـــی هم دی دخپل نسب شجره دسید محمد گیسو دراز سره له دی کبله یوځای کوی چې د شیرانی د ژوندانه پـــه وخت کی هغه سید دسلیمان غره ته راغی او دپښتنو سره یو ځای شو. دهغه د کراما تو په سبب و چـــی ترړانی، شیرانی او کاکړو پـــه ده باندی اعتقاد پیدا کړ او دامیر تیمور گورگانی دخطر ناك یرغل نه دنوموړی سید ددعا له برکته په امن کـــی پاتی شول * اوحال داچی امیر تیمور په هغه لار باندی تیر شوی هـــم ندی، ** همدا وچی د کاکـــړو، شیرانو او کرړ انیو دقبیلو سردارانو ده ته خپلی پیغلی لور گانی ور ړی او سید محمد گیسو دراز لـــه دری وارو سره شرعی نکاح وتړله چې له

---

* په تاریخ مرصع (۵۲۲ مخ) کی لیکلی دی «هر گاه چی لښکر د امر تیمور نژدی وکوه سلیمان بـــه راغی حضرت خواجه یحیی کبیـــر بختیار (۸۳٤ هـ ق مړ) له خپلـــو توابعو او لواحقو سره په خوا دغره کی و، مرید انو عرض وکړ چی یاشیخ امیر تیمور نژدی راغی، مبادا چـــی کنښیوزو، حضرت خواجه څه خاوری واخیستی دری ځله یې قل هو الله ولوسته او په لوریی د لښکرو غورزونی، په فرمان دحق تعالی په منځ دلښکر او ددوی حجاب پیدا شـــو. واړه مغل گویا ړانده شول . . . . . لږ چی پستنه وجاروتل ستر گی دمغلو بینا شوی.» دغه مطلب افضل خان ختك (۱۰۷۵) هـ ق زوکړی) له مخزن افغانی څخه ترجمه کړی دی خو له دپټی حیات خان څخه دد عاکوو نکی نوم بدل سوی دی. (رشاد)

** د پټی حیات خان دا خبـــره سهی نه ده ـ په روز نامچه غز وا ت هندوستان کی چی دتیمور د لښکـــر کښیو له پاره وقف سوی دی لیکلی دی: «روز نوزدهم ماه عساکـــــر (تیمور) به قلعه نغر رسیدند ـ از آنجا بر کلا نیان (کرړ انیان) تاختند برخی از تیغ گزرانیده شدند، فرزنـــ ان ایشانرا برده و اسیر گرفـــت. هشتم ماه بر لب آب سنـــد سایه افگند.» نغرد اوسنی حوست پـــه شاه خوا کی واقع وپه دغه روز نامچه کی دآریوب، شلوزان، بنود نیولو او دهغو ځایونو د خلکو دوژلو او چور چپاپیښی همه راغلی دی (رشاد)

هغوی نه څلور اولادونه مینځ ته راغلل د شیرانی له لورنه ستریانی (ستوریانی) دکاکړ له لورنه مشوا نی او د کړانی دلورنه دوه زامن و ځیځید ل یعنی و ر دك او هنی ګله چــــی سید محمد ګیسو دراز د هندوستان خواته تشریف یووړ نو خپلی در ی واړه میرمنی یی ددوی له زامنـــو سره دخپلو پلرونو په کور وکـــی پریښودلی ، دغه هلکان دخپلـــو مورنیو نیکو په کورو نو کی وروزل شول اودبلوغ ته تر رسید و ورسته یی په افغانانو (پښتنو) کی ودونه وکړل او په دی ډول ددوی نســـل له پښتنو سره ګډ شو که څه هــم ددغه روایت په رښتیا والی با ندی مولف مشکوك دی خو هغه د پــوره تردید په باب هم کافی دلا یل نشته دی . خو هغه ضعف چی په دغـــه روایت کی موجود دی د هغه بیانول ددغه تصنیف دذمه واری بارسپکوی

لومړی :

په مخزن افغانی کی چی دا لیکـل شوی چی دشیرانی دژوند په وخت کی سید محمد ګیسو دراز د سلیمان غره ته راغلی ودغه روایت ضعیف ښکاری دا ځکه چی وروسته په خپله د مخــز ن افغانی مولف لیکلـــی چی شیرانی دسړبن ابن قیس عبــدالرشید لمسی و او قیس عبدالرشید دجناب خاتم المرسلین محمد (ص) دهمعصره ښیلی او سید محمـــد ګیسو دراز (۸۰۰) هجری کال نه وروسته هندوستان ته ولاړ نـــو څرنګه دا امکان لری چی دسړ بـن لمسی شیرانی چی د قیس عبدالرشید له څلورم پښت نه وتر اتمی هجری پیړی پوری دی ژوندی وی . پــه تاریخ فرشته کی و کوری چی پــه (۸۱۰) هجری کال چی له هغه وخت نه تر اوسه څلور سوه او دوه اویا (۴۷۲) کاله تیر شوی دی د سلطان فیروز شاه بهمنی د واکمنی په وخت کی سید محمد ګیسو دراز د ډیلـــی نه دکن ته لاړ او په حسن آباد کی یی ګلبر ګه ته نږدی خانقاه جوړه او دیره شو ، چی تر اوسه هم هلته دده مقبره د خاصو او عامو زیارتګاه ده .

احمد شاه بهمنی چی په (۸۲۵)هجری کال کی ددکن په تخت کښیناســـ ست * نو هغه سید محمد ګیسودراز خاص مرید اومعتقد وچی ډیر کلـــی او قصبی یی دهغه دخانقاه له پــاره وقف کړل او تر اوسه هم دسیدمحمد ګیسو دراز اولاده په دکن کی شته خونه په هغه زیات شمیر سره چی دافغانستان خلك دده اولاده بولی .

---

*دسید محمد ګیسو دراز د مرګ کال هم ۸۲۵ هـ ق دی . (رشـــاد)

دویم :

دسید محمد گیسو دراز د نسب شجره چی د مخزن افغانی مولف راوړی ده او په هغې کی دده یو ولسم پښت دحضرت امام حسین سره ددوی د مولف په نظرد (۸۰۰) اتو سوو کلو نو په تناسب یوولس پښته لږ دی . ځکه چی د حضرت محمد(ص) نه وروسته د منځنی حساب له مخی په یوه سدی کی باید لږ تر لږه دری پښته تیر شوی وی .

دریم :

دمخزن افغانی نه پرته ددغه روایت له پاره بل کوم ثبوت ترلاسه نه شو او داهم اټکل نیدای نه شی له دغه قوموله واقعا دسید محمد گیسو دراز له اولادی نه وای سو کله چی په (۹۱۰) هجری کال کی بابر پاچا افغانستان ته راغی نو په دغه وخت کی ځنکه کیدای شول چی دوردکو او کندا پوریا نو شمیردی،دومره حدته رسیدلی وی په داسی حال کی چی دسید محمد گیسو درازاو بابر پاچا ترمینځ یوازی سل کاله وخت تیر شوی ونو دا څتکه منلی شو چی په یوه سدی کی دی له یوه تن نه دومره اولاده منځ ته راشی،څومره ، چی په دغه وخت کی ،کندا پوریان ، وردگ، مشوانی اوهنیوو.

له دی نه پرته دبنو دتاریخ له څیړنو نه چیددغه کتاب په دریمه برخی کی راغلی دی څر گند یږیچی د شیخ محمد روحانی دژوند په وخت کی دبنو څیو ښاخ تقریبا په (۷۵۰)هجری کی دبنو سیمه له منګلو نه ونیوله او دادهغی هغه ښاخ دی چی‌خپل ځانونه دسید محمد گیسو دراز له اولادی نه شمیری په داسی حال کی چی سید محمد گیسو دراز په بنو کی ددغه قبیلی له میشته کیدو نه سل کاله وروسته مینځ ته راغلیدی نو دا هیڅ کله امکان نه لری چی اولاد ونه دخپل نیکه له پید ایښت نه وړاندیپه فتوحاتو پیل وکړی یو بل داسی عجیب روا یت‌هم شته چید هغه له مخی ورد ک په خپل باب کی وایی چی زمو نږ اوسنی مقبو ضه سیمه د سلطا ن محمود غزنوی لخوا دابادی له پاره‌مونږ ته راکړل شوی وه . حال داچی دسلطان محمود غزنوی دوره دسیدمحمد گیسو دراز له پیدا ینبست نه تقریبا څلور سوه کا له قدا مت لری . که ددوی دغه روایت صحیح وی نو باید دی ټکی ته پاملر نه وشی چی د سید محمد گیسو دراز

دستریانی یا اوسترانی دنسب شجره



د یعقوب زئی ابن گنده پور نسب شجره



د عمران زی ابن گنده پور نسب نامه



220

د خوبی زی بن گنده پور د نسب شجره



د دری پلاره چې په ګنده پور سره مشهور و د ښاخونو تفصیل



پیدا ینبت نه شلور سوه کاله و راندی څنګه دده اولادی ګولای شول چې ملك اباد کړی . ددغو دلایلو تـه تر پاملرنی وروسته د ځینو تفـه افغانانو (پښتنو) دغه قول بی ځایه نه بریښی چی وایی «په افغا نستان کی چی کومو خلکو ته دخپل نسب په باب معلومات نه وی نو هغـوی ځانونه دسید محمد گیسو درازاولاده بولی »او هغه فقره چی په مخـز ن افغانی کی لیکل شوی ده چی دسلطان بهلول لودی اونورو د واکمنی په دوره کی ددی قومونو دنسب ذکـر راغلی دی نو داخبره سمه نـه ده ځکه چی سلطان بهلول لودی اوسیدمحمد گیسو دراز هم عصره اویا یو بل ته په نږدی وختونو کی تیرشوی دی په (۸۵۵) هجری کال سلطا ن بهلول لودی دډیلی په تخت کښیناست او سید محمد گیسو دراز تـر (۸۲۵) هجری کال پوری په دکـن کی ژوند کاوه نو په دغو دیر شو کالونو کی د سید محمد گیسو درازاولاده دومره ډیر یدای نه شی څومره چی ددغو څلورو ښاخونو خلك پـه هغه وخت کی وو او نه په دومره لږه موده یی ددی امکان موجود و چی دده اولاده په دغه ډول سره یو ځـای شی او دومره زیاته شي نو په دغه حال کی مولف داوسنیو حالاتو پر ته په اطمینان سره ددی ښاخونـو دابتدائی نسب په باره کی هیڅ نظر نه شي ورکولای خو ددغو قومونـو موجوده حالات یی په ترتیب سره کښلي البته ددو ی د ژو ند طـرز ، فزیکی جوړښت ، څیری او خصلتونه ددوی کره وړه ښرگندیدلای شي .

نوټ :

ښرگنده ده چی شیخی او مژیری دکنداپو ورونه وو، چیدهغوی د نسب شجره وراندی ذکر شوه او په کتـه او تاوان کی له دری پلاره سـره شریك شول او دشیرانیو دښاخ دسفرزی او خدر زی ځانګی هم په وصلی ډول له دری پلاره سره گډ شول .

ددی نه پرته انزی ځانګـــــه دشیرانی له ښاخ نه بیله اودګنـدا پور دابراهیم زیو له ځانګی سره یو ځای‌شوه. د موسی زی ښاخ چـــی

څلور ځانګی یی غنی خیل ماسین‌خیل، خواد زی او نظر خیل دی دغرغښتو له قبیلی نه بیل اودسین زیو کنـــد پوریانو سره یو ځای شول .درانی‌زی

ښاخ چی څلور ځانګی یی په دی‌دول دی علی خان خیل ،مالی خیل ،ملی‌خیل اوکتی خیل دیو سفزیو له قبیلی‌نه بیل او دیعقوبزیو ګندا پــور یانو سره یو ځای شول .

نو ځکه دګندا پور دغه ځـانګـی وصلی ګنل کیږی . خو په برخی او رسم او رواج نی داسی سره ګډ شوی دی چی دنسب له بیل والی نه پرته ددوی ترمینځ هیڅ توپیر نشی‌ئیدا .

دګنداپور قبیلې تاریخ

ددوی دنسب حال وروسته راغلی‌دی ، خو دنسب له شجرې نه داسی ښرګند یږی چی ستوری چی پــــه استریانی (ستوریانی) سره مشهورو پنځه زامن لرل په دی ډول چی : تری په ګنډا پور سره مشهور و ، شیخی ، مریږی او امرا ددی ځلورو واړو اولادی ته په مجمو عی ډو ل ګنډه پور وایی ،اوپه هغو ئی تری‌تر نورو ټولو په شمیر ‌ئی زیا ت دی چی په ګنډا پور سره ملقب‌دی.دستور ی پنځم زو ی همر نو میده اوس یوازی د همر اولاد دخپل لوی نیکه یعنی ستریانی یا ستوریا نــی په نامه سره مشهور دی چی د دوی ذکر به وروسته راشی ،ویل ښیږی چی په پیل کی‌دستو ر ی ټول‌ښاخونه دلویدیځ افغانستان په ستریانـــی (ځاه) نومی ځای کی چی د کند هار نه اوه منزله شمال ختیځ ته پروت واستوګنه لرله ، او دستوری لــه ټولو زامنونه‌تری(ګنډا پور)ښایسته و. دستوری دژوندانه په وخت‌کی دشیرانی دښاخ دمشریوه پیغله لور په ګنډاپور مینه شوه او دمور او پلار دخوښی نه پرته دګنډا پــور کورته ور غله، کله چی ګنډا پوردغی نجلی ښا یست و لیده نوځان ته یی‌دهغی دنکاح کولو نیت وکړ،خو دګنډاپور پلار ستور ی او دهغه نورو رونو دی ددغه کار نه منــع کړ خو ګنډاپور له دغه کار نــبه

لاس وانه خیست ، له همدی کبله ستوری او دهغه لور زامن له گندا پور نه خپه شول او دهغه سره یې له خبرو او نیږدی والی نه ډډه وکړه ، له دی کبله گنداپور په ستوریانی (شاه) کی دخپلو خپلوانو او کورنی سره له خپلو ورونو او پلار نه خپه او په تردی نومی ځای کی چې دستور یا نې (شاه) نه دوه سیك منزله فاصله لری استوګنه غوره کړه او پلاریې هغه ته دگندا پور یعنی دخراب زوی لقب ور کړ داوه دگنداپور دتسمیې وجه چې دتری پر ځای استعمالیږی. او همدا راز پلار داهم ورته ویلی وچې تا زما دخوښې پرته له دغې ښځې سره نکاح وکړ نوستا اولاده به هیڅ کله له بدی خلاصه نه وی که چیری بهرنی دښمنی ونه لری نوپه کورنی شر به اخته یې خو اولاده به دی ډیره وی .

لنډه داچې گندا پور په تردی نومی ځای کی استوګن شوی ، دی د کرنی په چارو بوخت او کاریزونه یې جوړ کړل . گنداپور له خپلی هغې میرمنې نه چې په مین توب سره یې واده کړی وه د دریو زامنو خاوند شو ، چې ابراهیم ، حسین او شلورم اولادیې یوه لور وه چې خوبی نومیده دبلې میرمنې نه یې شلورم زوی دیعقوب په نوم جهان ته راغی گنداپور هماغلته مړ شو او دهغه زوی ابراهیم خان مشر وټا کل شو . ویل کیږی چې کله دشیخی ، امرا او مریدی اولادی گندا پور دنسل ډیرښت ولید، نوپه ستوریانی (شاه) کی یې خپله استو گنه ترك لوله گنداپور یانو سره په تر دی یو ځای شول او تر هغه وروسته له دوی سره په گتهـ او تاوان کی شر یك شول چې د دوی اولاده هم دگنداپور یانو په نامه سره یادیږی . اوله هغه وخته چې د گنداپور یانو نه ځینې په مالداری او ځینی یې دکرنی په چارو بوخت شول په ژمی کی به د مان ته اودوبی کی به یې لو یدیځ افغانستان ته لیږد کاوه .

اتفاقاً یو کال دجبیل خان گنداپوری دمشری او ریاست په وخت کی هغه وخت چې گنداپوریان له خپلو کورنیو سره ددامان خواته تلل نو په ښځو باندی دننګ له امله د غرغښت دقبیلی دلهون دښاخ یو سړی چې خدل

نومیده د گنداپور یانو له لاسه ووژل شوند دغی پیښی په سبب د لهون دښاخ خلکو په گنداپور یانو باندی یرغل و کړ او څرنگه چی حدل دابراهیم زی دڅانگی لخوا وژل شوی ونو دعمرانزی ښاخ په دغه حسا س وخت کی له خپل نور قوم نه بیل تیر اودسند له رود نه پـــو ر ی او د دامان خواته وخوځیده له دامان تیر اود سیند له رود نه پوری وت وت او دتهل دچولستان په څاه نومی ځای کی استو گن شول . له بلی خوا دلهون ښاخ دگنداپور یانونه څو تنه ووژل . که څه هم په لومړی سر کی گنداپور یانو دخپل جرئت په سبب دلهون ښاخ ته ماتی ور کړ ی وه خو دویم ځل دلهون ښاخ دخپـل ور ورښاخ کاکړ نه مرسته وغو ښته او دبیا دبدل اخستلو له پاره روان شول او څرنگه چی کاکړ د ښمیر له مخی ډیر وو نو په زرگونو وسلـه وال کسان دگنداپور یانو دسیمی خواته روان شول . گنداپوریان دشمیر له مخی دغلیم په نسبت لږ او حتی د هغوی لسمه برخه هم نه وو نـو ځکه یی د دغه قوی د ښمن سـره ناچاره یی خپل پلرنی تاتو بی پور ی پریښود او خپل توری خیمی یـی د شمال خواته ولیږدولی تر هغـه وروسته چی دوی له خپل تاتوبی نه ا مقابله کول ډیر گران کار وگاڼه او وایستل شول دنورو پوونده وه په شان یی شپږ میاشتی په لویدیځ افغانستان او شپږ میاشتی په ختیځ افغانستان کی تیرولی او دتکواره له رود نه سهیل خواته دسلیمان غره تر ختیځولمنو پوری دگنداپوریا ـ نو خیمی لیدل کیدی او په پخوانی خاص روړی کی رئیس جبیل خا ن اوسیده او په هغه وخت هغـه رئیس جان زما ن خان دمروتو سره یوازی دمالداری په چارو بوخـت و تر څو چی دتاك دسیمی د کتی خیلو ددښمنی په سبب دگنداپور یا نـو دمرستی دتر لاسه کولو او پـــه دامان او په دغه ځای کی دده دمیشته کیدلو غوښتنه وکړه . دگنداپوریانو تولی جرگی تـر سلاو مشوری و ر و سته په دی سلاوکړه چی له هـــر کورنه دی یوتن دپوه نده وو پـه دول لویدیځ افغانستان ته لاړ شی اودهری کورنی یورنی یوتن دی په دا مان کی پاتی شول ددوی تول مصا رف خان زمان په غاړه وا خستـــه ددغـه قرار داد له مخی نیمـا ی گنداپوریان په روړی نومی ځـای کی استوگن او دوهم نیمایی یی دپخوا په شان لویدیځ افغانستان ته لاړل دپاتی کسانو له پاره خان زمان خان نه تاك نه ډیره غله او خرڅ ولیږه او همدا رازده یوشمیر بزگران د بزگری له نورو سامان الات سره

هلته ولیږل ترڅودوی ته دبزګرۍ او یوی لاری چاری ورزده کړی ة
هغوی داوبو بندونه جوړ او ډیر زراعتی پیدا واریی تر لاسه کړله
لنده داچی دخان زمان ګټی خیل دبندوبست له مخی ګنډا پور یان
بیاد ځمکو او ملك ښبتان شول او په تدریجی ډول دګنډاپور اکثر یت
خلکو په روړی کی استو ګنه غوره کړه . تر هغی څه موده وروسته
دمیاخیلو رئیس ابراهیم خان او د نور خان نور زامن دګنډاپور یانو له
لاسه ووژل شول ، له هغی ورځی نه دمیاخیلو اوګنډاپور یانو ترمینځ
داسی دښمنی رامینځ ته شوه چی آثاریی تر اوسه هم پاتی دی . نور
خان میاخیل دخپلو زامنو دبدل داخستلو په منظور د دولت خیلولله
ښاخ نه پرته دلوهانی ټوله قبیله متحده کړه او دبلو څو په ملګرتیا
یی دګنډاپوریا نو استوګن ځای روړی محاصره کړ چی تر څو جګړو وروسته
د دواړو خوا وپه تیره بیا دباند نیو خلکو ډیر کسان ووژل شول په پای
کی دوکیلانو دمنځګړ توب له مخی ددولت خیلو رئیس خان زمان په دی
شرط د ګنډا پور یانو او میاخیلو ترمینځ سو له و کړه چی ګنډاپور یان
له روړی نه ووزی او د ټاك اوك ا ومرتو خوا ته دی لاړشی او دلوهانیو
او میاخیلو لښکر او نوری قبیلی له هغو ی سر ه د ن د نور خا ن دزامنو
د وژ لو په بدل کی در وړی ښارنه. چی هغه وخت اکثرا له څپرو
نه جوړ شوی و اور واچوی او تریوه کال وروسته. دی ګنډاپوریان بیرته
راشی او بیادی هلته میشته شی .ددی سولی داقرار له مخی ګنډا پوریان
دخپلو کورنیوسره دټاك خواته راغلل او بیا له هغه ځای نه دمروتو خواته
او ورپسی دیو کال دتیرو لوله پاره بنوته لاړل ، میاخیلو دروړی ښارته
واچاوه او لولپه یی کړ .
دوی ددا بن خواته لاړل او تر ټا کلی مودی وروسته ګندا پور یان دبنو نه
بیرته روړی ته ستانه او هلته میشنه شول .

دځمکی او ز راعتی اوبو ویش :

هغه وخت چی ګنډاپوریانو په روړی کی دایمی استو ګنه غوره کړه
او به اوځمکی یی په شپږو ویالولاندی په دی ډول ویشل په دی تو ګه چی
یوه برخه یی دابراهیم زی د ښا خ ته ،یوه برخه یی جبیل خان ، چی
دبراهیم زی دښاخ مشرویوه برخه یی حسن زیو او موسی زیو ښاخونو ته
یوه برخه یی یعقوب زیو او زانی زیو ته ، یوه برخه یی خوبی زیو ته ،
او یوه برخه یی دری پلاره ته ورکړه ، مګرکله چی وروسته ګدایی

خان عمران زی زوی آزاد خان دخپل ښاخ د خلکو سره بیرته راغی نود گنداپور یانو سره یو ځای په روړی‌لی استوګن شو اودخپل تدبیر او پوهی په سبب دګنداپوریانو لوی‌رئیس وټاکل شو او تکواره یی آباده کړه چی له هغه وخت نه براهیم زیو دتکواړه په برخی حوړی له هغو نه دی یوه برخه عمران‌زیو ته ورکړی . اودتکواره نه دی‌شپږمه برخه ورکړل شی، لکه چی براهیم‌زیو دغه خبره ومنله اودګنداپوریانو توله مقبوضه سیمه چی تر اوسه پوری هم په هماغه ډول ده په شپږو ښاخو نو ویشل شوه ،په‌لو مړ ی‌ویش کی دعمران زیو دنشتوالی په وخت کی براهیم زیو چی دوی برخی یی نیولی وی له هغو نه یی یوه برخه عمران زیو ته ورکړه او پاتی ویش په هماغه ډول پاتی شو او دروړی تولی ځمکی او اوبه یی دشمت تسه په ترتیب او په هر یوه کس د ده سوه ډډی او په هر ځانګه باندی‌دکسه‌و ټاکله او تو ل مشترک عایدات یی دډډی په حساب یعنی‌دټاکلی برخی په اساس‌په خپل منځ کی سره ویشل‌او و روستی یاکورنی ویش دهغوی دکورنیوغړو دشمیر له مخی ترسره کیږی اوکومه ټاکلی اندازه نه لری یعنی کله لږ او کله ډیریږی .

پخوانی دودونه :

گنداپوریانو په مجموع کی دخپل‌دښاخ ډلی دتومن په نامه بللی .

په لومړی سرپاد ازادی په‌دوره کی تومن ته دا دنده ور په‌غاړه وه چی دقبیلی دتولوپه مشوره اواتفاق باندی به یی یو پوه سړی چی عموماً به دمور وثی کورنی غړی‌وټاکه او دخان منصب به یی ورکاوه . او شو کسونو روبه دهری‌ویالی نه یویا دوه تنه پوه اولایق کسان چی دکار قابلیت او اهلیت به‌یی لاره‌دجرګی له پاره ټاکل چی تولی‌پوځی، ملکی او مالی چاری اوشخړی په دخان‌او جرګی درایوله مخی فیصله کیدل . دهغونه پرته به خان اوجرګی یوه سړی دخپلی ځانګی نه دلوی ځلویښتی په نامه ټاکه اودغه لوی ځلویښتی به دخان او جرګی مرستیال او دده اولاس لاندی به په‌هرو پنځو سړیو یاپنځو کورونوباندی یو تن دواړه ځلویښتی په نامه ټاکل کیدل .

دګوچنیو ځلوېښتیا نو ټشمیر په سلګونو تنو ته رسیده او هغه وخت په چې خان یاجرګې کومه فیصله وکړه نو په مربوطو ځانګو یاندی ددغو فیصلو عملي کول دځلوېښتیانو دنده وه په تیره بیا له غلیم سره دجګړې په وخت کې ځلوېښتیا نـوډېر زر لښکر را ټولاوه .مثلا کلـه به چې دکوم ګاونډي ښاخ یا قبیلې په ګنداپوریانو باندې کوم تیری وکړ اویا به یې دوی ته ځانی یا مالـي تاوان واړاوه ا و له ګنداپوریا نـو نه به ځینو دهغو سره دجګړې اراده درلوده او ځینو به نه درلوده نو ددغه کار له پاره به خان او جرګې فیصله کوله او دجرګې به درایو په اتفاق دجګړې له پاره تجویز منظوراوه نو بیا چادې واك ته درلود چې ددوی له فیصلې نه سرو غړوی اولوی ځلوېښتی ته به دخان او جرګې له خوا دا حکم کیده چې ددوی فیصله عملي کړی او هغـــــه به دخپل لاس لاندې ځلـــو یښتیان یعنـي محصلان راټو لول او دخان اوجرګې دا جازې تر اخیستلو وروسته به یې په شپږ و واړو یالو باندې دلښکرو شمیر ټاکه او حکم به یې کاوه چې په یوه ټوکلي وخت کې له هـرې ویالې نه په هماغه ټاکلي انــدازه سپاره او پلي دپلاټی مخالف ښاخ سره دجګړې له پاره برابر اوموجودشي، دغه حکم به په ډیره ښه وجه عملي کیده او دجګړې په ورځو کې به لوی ځلوېښتی دسپه سالار په توګه دخان ترلاس لاندې دلښکر و دخرڅ اوهغو اسانو په باره کې چې مشر ی په غاړه لرله . او دجګړې خرڅ او هغو آسانو په باره کې چې په جګړه کې مړه کیدل داسې پریکړه شوې وه چې دشپږ و واړ و یا لود څخه یوه ټوټه مشترکه ځمکه بــه د(اسود ځمکې) په نامه ټاکل کیدله او ددغې ځمکې حاصل به دسپرو له خوا مصرف اویو بل ډول ځمکه چې د(ژوبلي) په نامه یادیدله دشپږو واړو ښاخو نوله خوا ټاکل شوې وه چې که چیرې دکوم سپاره آس به ووژل شو نودهغې ځمکې نه به یې دچندې په ډول برخه ترلاسه کوله او دسزا دورکولو واك دجـــرګې د برخه والو او خان په لاس کې واو دغه سزا به لوی ځلوېښتی دوړو ځلوېښتیانو په ذریعه عملي کوله .مثلا دقتل په قصاص کې زر روپـې ناغه ټاکل شوې وه کله چې به چې خان او دجرګې برخه والو فتــوا صادره کړه نولوی ځلوېښتی به دخان اوتومن په مشوره قاتل وتیوه او ټاکل شوې ناغه او جرمانه بـه دنقد او جنس په ډول ور نـــه

حاصلیدله او دخان اوجرگی حضورته به راوړل کیدله او دغه جرمانه به دغاغه وخت ددستور سره سم خومره به چی دعامه کارونه بار ه تومنو ورته ضرورت درلود مصرفونه به یی اوکه به دوی باندی جه ونویشل شوه نوخان او لویه ا ورړو خلو ښتنیانو په خپلو منځوکی سره ویشله او هر یوه به خپله برخه اخیستله اوکه کوم سړ ی به بخپل ښاخ یا خانګه کی کومــه کوچنی او یالویه غلا و کــړ ه او هغه غلاء به وریاندی ثابته شوه، نو دغلاء سزا داوه چی غلاشوی مال به بیرته خپل خاوند ته سپــارل کیده او دغله کور به سوزول کیده او په دغه ډول په لومړی سر کی ددوی یو ښه جمهوری انتظام موجود و، خو وروسته دکور نیو دښمنیو په سبب خراب شو، اوس دانگریزی سرکار انتظام تر ټولو انتظامونــه غوره او بهتر دی .

دگنډا پور دخانانو حال :

لکه څرنګه چی دمخه وویل شول په پیل کی دګنډا پور خانی دبراهیم زی کورنی په لاس کی وه خــو د نصرت خان براهیم زی په وخت کی خانی دعمران زیو کورنی ته ولیږدیدا او له ډیری مودی نه دعمران زیو د عیسی خیلو ښاخ دبره خیلو پـــه خانګه کی موروثی خانی روانه وه خو واك یی لږو خلك تل په خپلـــو منځوکی جنګیدل اودلوتماری اونورو پیښو مخه نه شوا ی نیول کیدای اوس دظفر خان زوی ګلداد خا ن او دعلی خان زوی قالو خان دصمدی ښاخ لوی خانان دی، خوسره له دی چی ددوی نیکو نه سره یودی خـو بیا هم ددوا ړو ترمینځ سخته دښمنی موجووده ده چی دد ی دښمنیـــو نه زیاتی خرابی مینځ ته راغلی. د انگریزی سرکار له خوا دوی تـه دګوزاری له پاره جاګیر ورکـــړل شوی دی. او دبراهیم زی په ښاخ کی نور ننګ خان یاعزته سړی دی او ده په (۱۸۵۷) عیسوی کـــا ل او نور وختو نوکی د انگریزی سرکار ته دقدر وړ خد متو نه کړی او انگریزی سرکار هم د مهربانـــی او قدر دانی له مخی هغه ته د خـــان بهادری لقب ورکړی دی .

د نورنګ خان زوی زمان خان هم دانگر یز ی سر کار ته دخد مــت په لار کی و ژل شو ی دی.

دبهرنی دښمنی څرنګوالی :

ګنډا پور یان دانګر یزی واکمنی نه دمخه جنګیا لی اوز ړه ور خلك وو ددو ی ملك څلورو خوا و ته داسی قبیله نه وه چی له هغو ی سر ه دی دوی جګړه او مرګ ژو بله ونه لری او په خپلو مړی استو ګنځی

سیمه باندی‌یی قبضه تینګه کړه‌نود فاصلی دزیاد کی میشته کیدو په‌وخت کی ترتوالووړاندی له‌دوی‌سره د غرـغبنت دقبیلی بنا ،حو نو لهو ن ا و کاکړو دښمنی پیل کړه چی‌دد غـه دښمنی څرنګوالی دمخه لیکل شو ی دی .حو کله چی په اوسنی‌مقبو ضه سیمه باند ی یی قبضـــــــه تینګـــه کړه نو د فاصلی د زیـا توالی په سبب یی دکاکړو او لهوڼ سره د دښمنی نښی پاتی نه دی . دوی شوشو ځله دمیاخیلو او بابړو سره جګړی وکړی اوسره له دی چی‌دولت خیلو له دوی سره د ورو د کلوی سلوك او چلند کاوه خو بیا هم ورسره جنګیدل . دمروتو سره هم دوی په تکواره کی سخته جګړه وکړه او ددیری‌دنواب صاحب سره‌یی دجګړی په وخت کی ماته وخوړه .اوس که څه هم دسرکاری ښـــه انتظام په وجه‌دچاسره ښکاره‌دښمنی نه لری،خود میاخیلو سره‌یی میراتی او پخوانی دښمنی نه ده هیـــــره کړی .

دکورنی دښمنی څرنګوالی :

که څه هم ددوی کورنی دښمنی‌ډیره سخته نه ښکار ی چی د هغی له مخی تولی قبیله په دور وګوندویشلی وکړل شی خود ازادی پـــه وحت نی دوی له جګړی نه خـلاص نه وو، په اوس وخت کی که څـه، هم دوینوتو یولو او دښمنی نـوم او نښان هم پاتی نه دی حـــو د ګلداد حان او فالو خان دګوندی اودښمنیو په سبب اکثراء ګنداپور ـ یان په دووګوندونو وویشل شو ل ځینی یی دګلداد خان په ګوندی او ځینی یی دقالو خان په ګوندی کی شامل دی اوبیا ځینی خلك ددغـــو ګوندونو موقعیت ته .ګوری او هره‌خوا چی ده ته په زړه پوری وی هماغه مخی نو ځکه یولړبدلونو نه په لی راځی اوښایی چی دغه کوچنی دښمنی هم له مینځه ولاړه شی.

ددغی قبیلی شمیر :

داحمد شاه ابدالی دشمیر لـــه مخی ددوی ذوسله والو کسانوشمیر دولسو زروتنو ته‌رسیده، خوښا یی‌اوس ددوی شمیر دیرش زرو کسا ـ نوته رسیدلی وی .

ددوی اوسنی استوګنځی:

دګندا پور یانو سیمه دد یـر ه‌اسمعیل خان د ضلعی په د ننه کی موقعیت لری . سهیل‌ته یی د میـــا خیلو سیمه ، قطب ته یی دولـت خیل ، لویدیځ ته‌یی دتخت سلیمان‌دغره لمنی او ختیځ ته یی د دیره اسمعیل‌خان سیمه موقعیت لر ی .ددغه قبیلو لوی کلی په دی دو ل دی :

۲-کلا چې د ګنډاپور یا ټــو درئیس باراتا ن په وخت‌کې آبـا د شوېدي او ددغه ځای دتسمیې وجه دا ده چې دمخه په دغه ځای کـــې کله چې بلوڅ اوسېدل نو له دې کبله دغه ځای ته دکلا چې نــوم ورکول شو .

۲- تکواړه : چې د عمران زیـوګنډا پور یانو د آزاد خا ن دخا نی په وخت کې اباد شوی دی .

۳- لونی : چـې د سلیمان دغره په ختیځو لمنو کې دلونی د ویالـې په غاړه موقعیت لری .

او دا غز نی و یاله دګنډاپوریانودسیمې د ځمکو دخړو بو لو له پاره ډېره ګټوره ده .

٤ ـ مډی : چې دد یره اسمعیـــل‌خان دلاری په پور تنی بر خه کـې موقعیت لری .

۵- رو هړی .

٦- کوټ ظفر .

دوی دکورونو او استو ګنځیو له پاره د ختو کوړ و نه جو ړ وی چـې اکثراً یوه خو نه لری .

د ګنډ اپور یانو بڼې او عادتونه :

ګنډ اپور یا ن سره ته مایل غنم‌رنګه رنګو نه ، بیضوی څیری ، لوړ قدونه ، پیا وړی ، غښتلی او قو ی‌هیکله ځوا نان دی .

لکه ددا مان دنورو خلکو په شان‌دوی هم غټ او غښتلی هډو کـــی لــر ی .

ګنډ اپور یان سنی مذهبه خلـک‌دی او هیڅ کلی‌یی دجو ماتــو نو او ملایانو نه خالی نه‌وی .که څه هم‌ددغه خلکو چال چلند بدنه دی خـو کینه کښ او بخیل دی . دوی‌دخپـل‌سیال بر تر ی د ستر ګو اغــز ی ګڼی . په دوی کې د چلم او نصواروااستعما ل ډېر زیات روا ج لــری. هغوی په یوه اوار میدان یا چو ک‌کې راټو لیږی او دنصوارو پـــــه اچولو او چلم په څکو لو بو خت‌وی‌اوټو ل چلم کښ خلك په خپلـــو اوږدو دستما لو نو کې تمبا کوساتی‌دوی دښکار کولو سره ډېره مینه نه لری . په هر میدان کې چار تاره اورباب غږ ول کیږی . په دوی کـــی مسخره باز ی او دبنګو او چر ســوڅکول ډېر مرو ج دی . همدا رازدوی بې علمه او خود خواه خلك دی.

کسبونه یی :

گنداپور یانپه عمومی ډول‌دکرنی په چارو او سودا گری بوخت دی. دغا نانو ملایانو او ځینو سورومعز زو کور نیونه پر ته نور تول‌د کری چاری په خپله ترسره کوی‌خو ځینی یی بزگران او په خیته باندی کار گر هم ددغه کار له پاره‌استخداموی .

گنډاپوریان په خپله کسب کسی‌زیار کښې او دکار لپاره ډیر مساعد دی .

دگنډاپوریانو سوداگران په ساړه موسم کی هندوستان او په گرمی کی د نور و پوونده وو سره‌یو ځای لو یدیځ افغانستان‌خراسان او حتی ځینی یی تر ترکستان‌پوری ځی .دوی اکثرا شتمن او هوسا خلك دی او ځینی شتمن خلك یی‌چی په خپله تجارت پسی نه ځی‌نوخپل یو نماینده او استازی‌په دغه کار پسی لیږی . ځینی خلك‌سرکاری نو کری او ملازمتو نه هم کوی . خو د ملیشی او بی قانونه سپرو لښکرو نه پر ته دپلی پوځ‌کی له نو کری او ملازمت سره چندان مینه نه لری .

په دوی کی مالداری په تیره بیاداو ښانو د گلو ساتنه ډیره رواج‌لری . داوبو د راوړلو له پاره په هر کور کی یو خر موجود دی .دوی داسانو سوداگری هم کوی خوددوی‌په ملك کی کچر ینشته .

خوراك :

څرنگه چی ددوی په ملك کی‌دباجری کرنه او پیداوار ډیر دی نو ځکه اکثره خلك د ژمی په موسم‌کی‌دباجری ډوډی له تروو (شړومبو) سره یو ځای خوری او په گرمی‌کی تیتك * یعنی دکو چنی هندوانی تر کاری پخوی .

---

* تیتك د کدو په شیر اود توری‌په اندازه یو ډول سابه دی (پښتو پښتو تشریحی قاموس) دو یم توك(۱۲۲۳) مخ .

د ہمر ابن سریانی د نسب شجره



شتمن او ماره خلك د غنمو دو دی‌مصر فوی او په ژمی کی د پسه غو ښه دنورو حیوا ناتو د غو ښوپه پرتله ډیره استعما لو ی‌اوداورښت په مو سم کی څو تنه ملکر ی سریو ځای کیږی او له هر کور نه یوه اندازه زیږ غو ړی چرګان او نورشیان راټو لوی او په یوه منا سب ځای کی یی‌خوری‌چی دوی دغی میلی‌ته صحبت وایی . دوی د شیر ینی سره ډیره مینه لری اوښه نفیس‌خواړه په دوی کی خورالږ دی اود لونی دو یالی دسیلاب عمده تاثیرداذی چی په اکثرو ځایونو کی چی یو کال باجر ی و کړی نوهمد غه ځمکه په بل کال بیا هما غه حاصل ورکوی په همد ی ډو ل پنبه هم په دوه فصله ډول لاس ته را ځی .

پو ښا ك :

ددوی پوښاك عمو ماء دسپینو نه جوړ شوی وی ، ددوی دسیمی پنبه دهغوی دمصرف نه زیا ته او دبحر له لاری بمبی او نورو ځایونو ته وړل کیږی ، د وطنی سپین ټو کر نه پرته حا نان اوشتمن خلك خاصه او لټه هم اغو ندی،همدا راز دوی اوږده کمیسو نه او پراخ پر تګو نه اغو ندی‌اوسپینی پګړی په سروی چی د ځینو پګړی اوږدی اودځینو لندی وی .ددوی دو یښتو اوږد والی تر اوږو پوری رسیږی او اکثراء یی په تیلو هم غوړوی .دوی په خپلو اوږو سپین څا درو نه یا لو نګی اچوی‌ا وپه خپل‌ملك‌کی‌جوړ شوی بوټان په پښو کوی او جامی یی صو فیا نو ته ورته دی. خود نالیو او پو ښاك ښه ئی ښکلی نه ده په ژمی کی‌ددوی ځینی حلك داو ښا نو له وړیو نه جوړی شوی چینی پر اوږوکوی خو ډیر خلك پو ستینو نه اغو ندی دښځو جامی اکثراء تو ر ی‌اوکمیسو نه یی تر پښنو پوری رسیږی خود شتمنو خلکو ښځی دکمخواب(کینخاب) درایی (دره یی) اونور اعلی ډول ټو کران او پر ښاك‌استعما لوی .

دښځو اکثر یت داوبو درا وړ لودنده لری او مخ پټول او ستردشتمنو او معززو کورنیو نه پرته په نورو کور نیو کی لږدی.

دهغو دقبیلی بیان چی داسترا نی(ستو ریانی) په نوم‌هم بلل کیږی.

څرنګه چی وړا ندی وویل شو ل‌چی‌د استر یا نی یا سترا نی له پنځو زامنو نه څلور تنه یی‌دګندا پور یانوپه نامه مشهور شو ل او یوازی یوتن یی چی همر نومیده‌دخپل لوی نیکه استر یانی (ستوریانی) په نامه بلل کیږی . دیو تن‌د قول‌له مخی همرددریوز امنو پلار و چی لو مړی یی مشاء ، دویم یی چرمش‌او دریم یی اهد وو.

مؤ لف یوازی ددغه قوم له یوتن‌سره چی دین محمد نو میده ملا قات کړی او نوموړی دهمر دنسب شجره‌چی‌په سترپانی (ستور یانی) سره مشهور دی. داسی لیکلی او ویلی‌ده.

ددغه قبیلی لنډ تاریخ :

دهمر قبیله چی په ستر یا نـی سره مشهوره ده دباړ و قبیلـــی په سهیل کی پر ته ده چی یو شمیر یی دسر کار په آوارو سیمو او پــــو شمیر نور یی په غر نیو سیمو کـی اوسیږی . ددوی سهیل ته کسر انی بلو څان او لو ید یځ غره ته یـــــی دامر زایی قبیله استو گنه لـر ی. ددوی لوی کلی امك، پیور کوی، وچه کوی ،منګل او ګنډی دی . ستریا نـی په پیل کی د مالداری په چارو بو حت وو اود پوونده وو په شان به یـــی چی چیر ته ښه ځړ ځای ولید نو هلته به یی خپله ګو زاره کوله .ډیـــره موده تیره شوی نه ده چی دوی خپله اوسنی سیمه له بلو څونه ترلاسه کړی ده. دوی ددامان ټولو اوسیدونکو قبیلو دښاخو نو نه ورو ستـــه میدان ته راغلی او ور پسی یـــــی د باړ د سیمی شمالی بر خی هـــم د تو ری په ز و ر په خپلـــــــوحدود وکی شاملی کړی. دوی په ژمی کی په همد غه میدان کی اوسیدل اوپه دوبی کی به دمو سی خیلو کاکړ و غره ته تلل خو تقریباً (۷۰) کاله کیږی چی دهغو سره دبی اتفا قی په وجـه د ستریانو قبیلی نمایی خلکو خپل مالونه اوڅاروی خرڅ اودکرنی په چارو یی پیل وکړ، دوهمی نمایی خلکو غوښتل چی خپل پخوانی کسب ته ادامه ورکړی ،خو په پای کی هغوی هم دکرنی په چارو پیل وکړ خودوه ښاخونه چی مشهور یی مشی زی دی دپخوا پـه شان په پوونده ډول، ژوند کوی ددی قبیلی خلك په مسا وی ډول په تجارت زمینداری بوخت دی ، دسودا ګرانو په ډله کی ګرایه کښ هم شامل دی چی، دوی اکثرء بارونه دوښانو ،غویانو اوخرو په ذریعه وړی سودا ګران اکثرا شتمن اوهوسادی او یو بله دـ له یی دنورو پوونده ووسره یو ځای تګ راتګ کوی. ددوی ټولی زراعتی ځمکی په سرکار ی حدود وکی پر تی دی، هغه ستریانی (ستوریانی) چی په غره کی اوسیږی دهغوی ځمکی هم په لاندی میدانی برخو کی موقعیت لر ی له همدی کبله انګریزی سرکار په دوی باندی نفوذ لری ، دوی په خپلو ځمکو کی دمنی په مو سم کی ډیری باجری اوپه پسرلی کی غنم کری ددغو پیداـ ورو په سبب دوی په ژمی کی باجره او په اوړی کی غنم استعمالو ی دوی دپسو نو رمی هم ساتی او دپسونو او غوایانو غو ښی اود اور ښـــت په فصل کی خوری .



دهنی د نسب شجره
دولت
بوغزی
زومشت یا دومشت
خوست
رودان
خویداد خیل
حوتی زی

۲۳۴

ستریا نی دسپین سپتسن تو ، گرنه جوړ شوی ، گالی اڅوندی دوی څتـــی پکړی په سروی او معتبر خلك یی په اوږولونګی هم اچوی دښځو جامی یی ونګه دی . ددغه قبیلی خلك زړورا و ښه سلوك خاوندان دی او دکسرانی بلو- څوسره سخته دښمنی لری، دوی دخپل قوم مشر دخان په نامه یادوی . اوس رمضان خان دامن زی ښاغ او فتح خان ککل زی ښاغ خانان دی. ددغی قبیلی شمیر ددو ی له همسایه گانو سره تقریبا دری زروکورنیو ته رسیږی، خو ښاـ یی تر دغه اندازی نه یی شمیـــــر لږوی .

دوی په کوټو او څپروکی ژو نـدکوی. په هرکلی کی یی جوماتونه مو- جوددی اودکلیو نه دباندی وړی باندی هم لری چی دوی یی دجهوك په نامه یا- دوی تول سخنی مسلمانان او کلك دیندار دی او شرعی فرایض په ښه توګه تر سره کوی کله چی دکوم غلیم سـره دجګـــړ ی پـــه مــــــنظو ر ددو ی لښکری راټولیږی نو دهغو ی مشری دخان په لاس کی وی. اودشیرا نیو په شان دخان په لونګی کی قران شریف ایښود ل کیږی اولښکر نی دد غه څادر نه لاندی تیر یږی اودوی عقیده لری چی دخان زی نظر ز ی او اخوزی ښاخو نه دکلام الله شریف په زور ددښمن دتوپك او توری گوزارو نه بندوی .ددامان خلك ستر یانـی (ستور یانی)کورنـ ی په تیره بیا دد نظرزی او اخوزی خان زی ښاخو نو نه ستانه گڼی په دوی کی خان ډیر واك نلری اکثراشخر چی دغره په دننه کی پیښی شی نوهغه دکلی دقاضی خان یامشر لخوا فیصله کیږی .

په دوی کی څو کوره بلوڅ ،جټان او هند وان هم دهمسا یه او رعیت په ډول ژوند کوی. دوی ډیری ښی وسلی لری اودتوپکو سره زیاته مینه کوی.

دهنی قبیله :

څرګنده ده چی دغه قبیله خپل ځانونه په لومړی ، سرکیـ له کرړا نـی یا کرلانی سره گډوی او څر نګه چی دښو په تاریخ کی لیکل شوی دی دـ هنی قبیله منګلو سره یو ځای اوسیده ،چی تر اوسه په دغه ملك کی دهنی منګلو په نامه سره مشهور دی او دښو په ملك کی میشته وو.دشیتك او لاده

بټو زئ چي اوس د بنو سیمه د دوی په لاس کی ده تقریباً (۵۰۰) کاله وړاندې یې هنی او منګل له دغه ملك نه وشړل او په دغه وخت کی یو شمیر هنی هندوستان ته لاړل او یو شمیر نور یی د منګلو د قبیلی لوید یځ غره کی میشته شول. اوس په دغه قبیله کی د دو مشت ساخ چی د دومشتی اویا دومختی په هم یادیږي مشهور او دیا دولو وړدی. دومخت یا دومشت بنګښ داور کزیو او کورمی تر مینځ او د سپین غره په جنوب ختیځ غرنی سیمه کی میشته دی او دغه قبیله په دوو بناخونو باندی و یشل شوی ده . د دغه قبیلی د وسله والو کسانو شمیر نه زره ته نه بنودل شوی دی. دوی لوړ قدونه لری او مضبوط خلك دی، او اکثراء د کرنی په چارو او شیانو په خرڅولو بوخت دی او ځینی یی د بهادر حیلو له کان نه مالګه استخرا جوی او وکتی تر لاسه کوی .په دوی کی کور نی دښمنی هم شته خو له چاسره سخته بهرنی دښمنی نه لری، کله چی د دغه سرحد داقوا مو د ګوندیو په باب خبره وشی نو دغه قبیله باید په سمل ګوند ی کی شامله وګڼل شی .

دورد ګو قبیله :

د دغی قبیلی خلك ځانو نه د کرړانی یا کرلانی په زوی کودی ورګډ وی او لکه څرنګه چی د مخه وویل شول، دوی ځانونه سیدا نبولی او د دی قبیلی د پیدا ینبت اصلی ټاټو بی د سلیمان دغره لړی د برمل غردی چی له هغه ځایه د کرلانی تو له قبیله خوره وره شوه او په او سنی سیمه، کی میشته شول د هغه ځای په باب چی اوس دورد ګو په لاس کی ده دومره باید وویل شی چی لوید یځ ته یی د هزاره جات غرو نه او پانی دریو خوا ته یی د غلجیو د قبیلی سیمه موقعیت لری د دوی سیمه، دوادی په ډول شما لاء او جنو باء اوږده پرته ده او ختیځ او لویدیځ دواړو خوا ووته یی غرو نه موقعیت لری. د ختیځ غره ختیځ ته یی لوګر او خروار موقعیت لری او لویدیځ غر یی په هزاره جات پوری مربوط دی. د دغی سیمی له سهیل نه یو سپین چی سهواء د غزنی د سپین په نامه یادیږی پیل کیږی او ډیری ځمکی خړ وبیوی او شمالی خواوی یی د لوګر د سپین په واسطه اوبه کیږی، تنګی، شیخ اباد، شنیز، خوات، سه آوا و جغتو د دوی د ملك مشهور ځایونه دی، د دوی سیمه اکثراء شنه او زرخیزه ده، خو د منی موسم یی ډیر لنډ دی .غنم وریجی ډیری پکښی

د وردګ د نسب شجره

- ممک
- معیار
  - ملکیارخیل
  - خورم خیل
  - آدین خیل
  - مهري خیل — د دوی اوسنی مشر خدای نظرخان .
- میرخیل
- نوري
- ترم
- ګدائي

د مشواڼي د نسب شجره

- لودین
- مشکاني
- سلطاني
- روغاني
- تخص
  - کیوړ
  - مهمند
  - بدوړ
    - یوسف خیل
    - موسی
    - آدم خیل
    - سنجر
  - ترک
- کزبوني
- غزنب
- خرباري
- یاغن

د کومتي د نسب شجره

۲۰۳۶

- حسن شاه
- محسن شاه
  - جنګ شاه
    - میري خیل
    - سیني خیل
    - دولت خیل
  - فروز شاه

کیږی او په پسرلی کی غنم اواوربشی په پریما نه اندازه لاس ته راځی، وردګ ټول دکر کیلی په چارواحته او ډیر زیا رکښی خلک دی. ددوی نه ځینی یې د مالداری کسب هم کوی خو استو ګنه یی دایمی او په کوچنیو کو چنیو ګلیو کی او سیږی. اکثرا کلی یی له پنځو سو کورونه کم کړرو نه لری.

دور دګو له ملك نه کابل اوغزنی ته لاری تللی دی، وردګ نیك چلن او بی ازاره خلك دی. دوی ټول سنی مذهبه مسلما نان دی. او کله چی په ژمی کی واوری وور یږی نــــو دنیا یی چاری پریږ دی او اکثـــراء وخت په جوما تونو کی دخدای پـــه عبادت تیروی. وردګ، دجګو ونـــو خاوندان او کلك خلك دی.

دوی اکثراء دغو ښو او غلمینـــی ډوډی نه استفاده کوی او هغه ډوډی چی په تناره کی پخه شوی وی ډیره خو ښه وی پوښاك یی اکثراء ښکلی نه دی او زیات شمیر خلك یی کابلی دوله ټوپی په سروی، دوی دخپلـــو ګاو نډیو قومو نو سره شخړی نـــه کوی او کور نی شخړی هم په کـــی لږی دی.

ورد ګ دکابل امیر ته ټاکلی محصول ور کوی او هغه شخړی او جګړی چی ددوی تر مینځ پیښی شی په تیره بیا درنی پیښی دغزنی دحاکم په وړاندی فیصله کیږی او پاتی وړی پیښی او جګړی دملکا نو او قا ضیانو له خـــوا فیصله کیږی. ددغه قبیلی ټول شمیر لس زره کوره ښودل شوی دی چی دشمیر له مخی لوړی دمیر خیلـــو ښاخ او ورپسی مهیار (مایار) او بیا نوری دی، چی دد ی خان هم په همدی ښاخ کی دی.

اوس دخدای نظر خان، متیق خان او اکرم خان ملکان دی. دورد ګو قبیلی یو زیات شمیر کور نی دراو لپنډی دضلعی دچهچه په سیمه کی اوسیږی او په تیره بیا دنتو سیمه له دوی نه ډکه او هلته هم دځمکو خاوندان دی.

دمشوانی قبیله :

دوی ځا نونه سیدان بولی اوخپلی لو مړنی اړیکی دپښتنو کاکړو سره کوی، او ددغی قبیلی شمیر لـــږ او په متفرق ډول او سیږی، د دوی څلور سوه کور نی په کهدا مـــن (کو هدامن) کی چی د کابل نه پنځه ویشت میله شمال خواته مو قعیت لری استوګن دی. دکهدامن (کوهدامن) مشوا نی په کر کیله او ځینی یـــی په سودا ګری باندی بوخت او همدا

راز دوی دخپلو اوښانو په ذریعه تجار تی مالونه ان تر بخارا پوری انتقا لوی. دوی دهو سا ژوندښبنتنان‌دی. ددوی څو کوره په کند هار کی هم میشته دی او دکند کهرد، غـره‌په شما لی‌برخه یعنی دهزاره‌دضلعی په‌سری کوټ کی هم‌مشوانی استـوګنه لری ،همدا راز دوی د ګند کر په‌خبر باره‌نومی‌ځای کی هم‌او سیږی‌خو ددی پته نشته چی هلته کلـه تللی دی . خلك مشو ا ن---ی‌دستا نه او پیر انو په ډول بو لی. دوی نیك چلن او کم ازاره خلك‌دی‌په تیره‌بیا ددی‌قبیلی دلو دین‌ځانګه چی دغلجیو تو خوپه ملك کی پـه متفرق ډول، ژوند کوی. همدارنګه ددوی څو کور نی په کند هار کی‌استو ګنه او په دی سبب د*کرو ږ دی چی د لو د یـــن لـــه ځانګی نه دملابید وزوی محمدرفیق اوس دکابل دوالی امیر شیر علی‌خان‌خاص‌مشاوردی* اوهم‌دده تره‌ملا نسو لوی سودا ګر او دکار ښبنتن و.

دخوندی قبیله :

ددغی قبیلی دنسب شجره ترهغه‌ځایه چی معلومه وه‌دغرغښت قبیلی دداوی دښاخ سره یوځای‌له‌دی کبله‌ولیکل‌شوه چی دغه قبیله په هغـه پوری مربوطه ده خو څرنګه چی خوندی ته هم سیدان ویل کیږی نوله دی کبله یی‌دلته لنډه ذکر مناسب‌وګڼل شو. ویل کیږی چی داوی ابن دانی چی دغر غښت لمسی ودیـــوی‌سیدی کوندی‌سره چی‌دخجند ولایت نه ملتان ته‌دخپلی خور دلیدلو له‌پاره روانه وه نکاح وتړله اوهغـی له خپل‌لو مړی سید میره نه‌یوزو ی‌در لود چی سید حسین نو‌میـد ه نوموړی څلور زامن لرل بلبل‌سکندر،موسی اوعلی چی دسید حسین‌اولاده له دی کبله چی‌دی دخجند دملـك و دخجندی په‌ځای پښتنوپخپلو ورځنی محاوره کی په خوندی واړاوه .دوی‌تر یوی مودی پوری دغرغښت له قبیلی سره په کټه اوتاوان کی‌شریك ووخواوس دوی بیخی بیل دی اوپـه کندهار او دهغه په شاو خواکی‌استوګنه لری او شمیریی خورا لږ د ی.

د سپند زی قبیله :

دوی ته سیدان هم وایی او دترین له قبیلی سره یو ځای دپشین پـه سیمه کی په کرکیله او سوداګری بوخت‌دی . ددوی په باب ز یـــا ت معلومات ترلاسه نه شول .

*سردار محمد خان لودین کندهاری‌دامیر شیر علی خان وزیـــــر و

د اسمعیل یا بنګښ د نسب شجره



۲۲۸

دغر شین قبیله :

دغر شین دقبیلی ذکر د پښتـــو دمیانه د ښاخ سره یو ځای ولیکل شو. دکندهار او دمغه دښاو خوا نه پرته دغرشینو تقریباً پنځوس کوره ددوړو په شمال لویدیځ کی او سیږی ا و وایی چی دوی دحضرت بلال(رض) اولاده ده خودده روایت کوم ثبوت نـه دی ترلاسه شوی او دوی کلـه په غلطه دغرشین په ځای دخرځین په نامه یاد یږی .

دکوتی قبیله :

ویل کیږی چی د کوتی په نــوم یوسید زاده دبیتنی لمسی ابراهیم وروزه او هغه وخت چی لوی شــو ـ بیتنی په کورنی کی یی واده وکړ او دوه رامن یی پیدا شول چی محسن شاه اوحسن شاه نومیدل ، محسن شاه بنو ته لاړ اوحسن شاه په غره کی پاتــی شو . دمحسن شاه زوی فیرو ز شاه خو قتلو نه وکړل او دبدل له ویر ی تاك ته لاړ چی هلته تر اوسه هـم دده اولاده شته . ذمحسن شاه بـل زوی جنگ شاه په بنو کی ووژل شو چی قبریی د کڅ دهاوه په څـنـده کی موقعیت لری ، اود جنگ شاه اولاده دجهند وخیلو اوسورا نیو تر مـنـځ په کوتی سادات کی میشته دی. دبنو په سیمه کی‌دوی قبیلی یوازی‌پنځوس تنه شته چی نجم شاه یی ملك دی .

سیدان :

دبني هاشمی قر یشو نه د حضرت امام حسن (رض) او حضرت امام‌حسین (رض) اولادی ته سیــدان وایی . دافغانستان هیڅ یو لوی کلی نشتـه چی یویا دوه کوره سادات دی‌په کی نه وی . په افغانستان کی سیدا نـو ته دخپل معمولی نوم نه پرته‌خواجه ، سید ،میا، آغا ،پاچا، صاحب او میر هم وایی ، خلك سیدانو ته ز یـا ت‌درناوی کوی اود هزاره جات‌او دیره اسماعیل خان نه پرته په افغا نستان کی هیڅ یو سید داهل تشیع ځینی نه‌دی . په‌افغانستان کی د پشیــن سیدان په تجارت او سودا گری کی مشهور او دکلکی ارادی خاونــدان‌او شتمن خو سر زوری ، بی باکه‌دی ا وکورنی شخړی په کی‌ډ یری دی . دپشین په‌سیمه کی ډیر سیــدا ن ږسی.داور گون، بنواوزرمت په‌سیمه کی دشیخ شاه محمد روحانی (رح)اولاده ډیره ده په تونرونو کی دسیدا نـو یوه معززه کورنی شته او هغـــه مشران چی له دغه کورنی نه تاکـل کیږی دوی ورته بادشاه (پاچـــا) وایی ، دغه شریف خلك په هرملك کی شته .دوی دښه چلن خاوندان‌او بی ازاره خلك دی ، په کا بـل او کوهستان کی داسیدانو معززی‌کورنی شته چی اکثراً دافغانانو (پښتنــو) پیران د ی .

قریش :

د سیدانو نه پرته چې د قریشودقام یو ښاخ دی پاتی قریش هم دساداتو په ډول په متفرق ډول په هر ځای کې څو کوره استوګنه لري . دافغانستان په اکثرو ځایوکې دجو ماتونو ملایان او مدا رسا ندهمدې خلکو نه دي .دوی په زمینداري اوخیرات خوری باندی ګوزاره کوی . دافغانستا ن خلک دقریشو عزت ا و درناوی کوی .او دسادا تو په نسبت دقریشو شمیر بیخی لږدی .

عرب :

د قریشو نه پرته لږ شمیر عرب هم په افغانستان کې او سیږی د وی ښایی له ایران ا ولویدیځ خرا سان نه افغا نستان ته راغلی و ی. کله چې سامانی کورنی په بخارا با ندی واکمنی لرله نو عرب دایران په ختیځه برخه کې اوسیدل اوترهغه وروسته دغی سیمی ته راغلل . په افغانستان کې دعربو تقریباً دوه زره کورنــی شته او د عربو نه پر ته کوم بــل نوم نه لری . دوی زیاتره د کابــل په بالاحصار شاوخواکی اوسیږی اوتول شعیه مذهبه دی اوپاتی یی چــی دجلال آباد په بهسود وکی اوسیږ ی هغه سني مذ هبه دی. د جلال آبــاد عربان ځان ته جلا ســردار لر ی ، ابدالی احمد شاه دجلال آبادی عربو دسردار له لور سره واده کــړی ا و تیمور شاه دهغی له بطن نه دنیــاته راغلی و دوی اوس په خپله اصلــی ژبه یعنی عربی خبری نه کوی بلکــی په پښتواو فارسی ژبو کړ یږی . دجلال آباد عربان په کرکیله بوخت دي،خود کابل عربان به نوکــر ی ، سوداګری ، لاسی کارونو او دکانداری بوخت دی . اودپاتی قو مو نو نــــه تراوسه پوری په جلا ډول ژ و نــد کوی .

دبنګښ قبیله :

ددغی قبیلی خلك ځا نو نه دقریش له نسله بولی او وایی چی د خالــد ابن ولید د زوی عبدا لله نــــه رابښکته په لسم پښت کی اسمعیــل پیدا شواو ده دووزامنو کاره اوسامل ترمنځ چی موریی دفرملی دقوم نه وه سخته جګړه رامنځ ته شو هاوله دی امله دین کشش په نوم یاد یدل چی په عامه اصطلاح کې خلك د وی بنګش بولی .ددی قبیلی لوی نیکه اسمعیل دګردیز دعلاقی په زرمــت کې اوسیده ،ددوی دکورنی جګړی له کبله وچی د کاره اوسمل په نومونو دبنګش په تول قبیله کی دوی ډوندی رامنځ ته شوی لودولړه کو ندی په خپلو منځو کی سره سخته دښمنـی

لري . کله چې ددغې قبیلې شمیر په زرمت کې مخ په ډېر یدو شو او له
بلې حوایې د غلجیو د قبیلې ز و ر ولید نوتقریباً (٥٠٠) کاله ور ا ندې
یې دغه سیمه پر ینبوده او په کرمې، پیوار اوشلوزان کې چې دسپین غر ه
په جنوب کې موقعیت لري خپلـــه قبضه ټینګه کړه او تردې مودې نـــه

تقریباً سل کاله وروسته یې داور ك زیو له ښناخ سره په جګړه لاس پوری
کړ. په هغه وخت کې د ختکو قبیلـــې هم دبنګښو سره مرسته و کـــړه
او داورك زیو لاس یې تر یوې سختـــې جګړې وروسته له کوهاټ نه لنډاو

دغې قبیلې خپله قبضه ور با نـــدې ټینګه کړه .ترهغې وروسته دبنګښو
او اورك زیو ترمنځ ډېرې جګړې وشوې حو په پای کې دهغې فیصلې له مخې
چې ذکر یې داور کز یو د قبیلې پـــه برخه کې لیکل شوی د بنګښواواور
کزیو ترمنځ سر حدو ټاکل شو .

میدان او هغه دره چې اوس د بنګښو په لاس کې ده دوی ته پلاس ورغلـــه
او شمالي غر اور کز یو تر لاسه کړ. دبنګښو دنسب په باب دویـــم
روایت داسې دی چې دوی دسیستان ذ ملك ذجټ دقوم یو ښناخ دی ، خـــو

دا روایت ضعیف ښکاري ،اوس بنګښ اکثراً دکوهاټ په ضلع کې میشته
دي اوپاتې یې په لویدیځ یې نورمې او شلو زان په سیمو کې استوګنـــه
لري . د بنګښو وادی غرباً او شرقـــاً یوازې دمیدان او دغرونو په ذریعـــه
احاطه شوې ده ددې سیمې په ختیـــځ اوسهیل ختیځ کې دختکو قبیله ا ود
هغو ی غرنی سیمه موقعیت لـــر ی، په شمال کې یې داورك زیو قبیله او
په جنوب لویدیځ کې یې د وزیر ودقبیلې حدود او لو یدیځ ته یـــــې
دکورمې سیمه موقعیت لري .

هغه بنګښ چې دکورمې پـــه علاقه ا وپیوار کې اوسیږي نو هغه
دتوری دښناخ په دریعه مغلوب شوي دي ، دشلوزان اوسیدو نکي خـــود
مختار ه او دکوهاټ دضلعې اوسیدو نکي دانګریزي سر کار رعیت شمیرل
کیږي او اکثراً په کرکیله بو خـــت دي ، ځینې یې دسودا ګری اومالګـــې
خر ځولو کسب هم کوي .دبنګښـــو بدر ګه ددو ی په ملك کې بې خطره

ده . ددوی دسیمې زراعتي پیدو ا رغنم او وریجې دي ، ددې ځای هـــوا
ډیره ښه ده ددې قبیلې ځینې شیعه او ځینې سني مذهبه دي . دبنګښو
ټول شمیر تقریباً اتلس زره کـــوره ښودل شوي دي ، دو ی زړه ور ا و
جنګیـــا لـــې خلـــك دي ، او له هره یوه بالغ سړي سره تو پـــك ،
لویې چړې او ددوی په ملك کـــې جوړ ې شوې تفنګچې موجودې و ی
که څه هم دوی ډیره لار و هنه نـــه کوي خو په خپله سیمه کې مشهـــور
غله دي . دوی ډېر ښه میلمه پـــال دي په هغه شرط چې مسافر لـــه
خطراونو بچ او وکولای شي ځان د کور به کورته ورسوي .

بنگښ غنم رنگه او دټیټو و نــــو خاوندان دي خوراك يي ښه اودتناره ډوډۍ له غوښې سره خوري .دهنگـو وریجی ډیر ښې دی ، بنگښ سپیـــن تور رنګه یا بانجانی رنگه پګړۍ په سروی . ددوی کمیسو نه اکثراً تور اویا سپین رنگه اوږده او تــرژنگنو پورې رسیږی ، دوی پرا خه سپین رنگه سوسنی یا بانجا نی چـی نیلی لیکی لری اغوندی . او څپلـی په پښو کوی اوهم کله کله لونگی دکمر بند په شان له ملاوو نه تړی او څادرد لونګی په شان له سر نــه تاووی .

دبنگښو نارینه دســرد ذوا ړ وخواوو لږ ویښته دزلفو په شان دیادولو او دپور بیه غو ند ی پر یږدی او دسر پا تی برخه خریی .

ختیځ بنگښ اوږد ی ږ یــــــری پر یږدی ، خولویدیځ بنگښ خپلــــی ږیری خریی ، ښځی یی اکثراً تــو ر رنگه کمیسونه اوګیهره داره سوسنی پر تکونه اغوندی دوی به سر سپین څادرونه یا لونګی چی غاړی یــــی وریښمینی وی استعمالوی .د دوی لوی کلی دا دی .

نری او به ټل، درسمند ، هنګو ،اوسترزی، کسای ، توغه ، توره وړی کڅ اومد خوزه . اوریدل کیږی چـــی دافغانستان نه پرته د ایــــر ا ن دمازندران په صوبه کی هم دبنگښو څو کورنی شته چی له دغه ځـــا ی نه هلته تللی دی . دهندو ســتا ن په ځینو اضلاعو کی هم په تیره بیاپه فرخ آباد کی ډیر بنگښ او سیږی. دفرخ آباد نواب هم دذی قبیلـــــی دی ددی پورتنیو بنگښو نه ذ یــو ه زمیندار دا ولادی نه و،په پیل کـی دفرخ آباد نواب دلکهنو و زیر تــه څلور نیم لکه روپی ورکولی . پــه (۱۸۰۱) ع کال کی هغه څلور نیـم لکه روپی دلکهنو دریاست له خوانه دانګریزی سر کار لاس ته ور غلـی او په (۱۸۰۲ ع) کال کی دنومو ړی سیمی اداره اومالیات کال پـــــه یو لك واته زرو روپیو دپه ورکولو نواب امداد حسین خان ناصر جنـــك انګیریزی سرکار ته پریښودله . د

(۱۸۵۷ع) عیسوی کال په بغاوت کی نواب تفضل حسین خان دبی امتدا لی
په وجه وشړل شوچی اوس په مکه معظمه کی دی.*

لنډه داچی دافغا نستان په سرحدی قبایلو کی ښنګښی د قدر وړ
او قوی قبیله ده خو کینه کښی او کوړنی شخړی په کی ډیری دی.

په دوی کی دما لداری شوق خورا لږ دی دوی اوښان هیڅ نه سا تی
خو دکچرو ګلی په کی ډیری دی. دوی دبارونو له پاره له غوایانو، خرو
او کچرو نه استفاده کوی.

«د تاجکو دقوم بیان»

په افغانستان کی په داسی ډیر لږ ځایونه دی چی هلته دی یوازی
افغانان (پښتانه) میشته وی.

تاجک په لوید یځو برخواو هسد کی په ختیځه برخه کی د افغا نانو
(پښتنو) سره یو ځای اوسیږی. تاجک په خپلو منځو کی دیوقوم په شان
سره نه ګډ یږی، خو دلویدیځ افغانستان په شان دآسیا د براعظم په یوه
بری اووچی برخه کی خواره واره دی. دوی د اوزبیکو په ملک کی هم
اوسیږی، دایران اوسید ونکی د وی تاجک بولی، تاجکان په ایران په
تیره بیا په اصفهان او ترکستان کی هم په زیات شمیر استوګنه لری او
په خیوا، کرک تګین، ** اوبدخشان په دروازکی حکمرانی کوی. ځینی
وخت دوی ته فارسی بانن (پارسی زبان) هم وایی په افغا نستان کی
چی کوم اصلی پارسی وانا ن دی هغوی تاجکان دی.

دتاجك دکلمی دتسیمی وجه :

دتاجك دکلمی دتسیمی دوجی په باب مختلف او بیل بیل روا یتو نه
موجود دی خود د نوور نورلو روایتونو نه دغه روایت صحیح بریښی چی
دغه کلمه په اصل له تازی یا تازیك نه اشتق شوی ده چی په پهلوی
ژبه اوکتا بو کی عربو ته تازی ویل کیدل او دتصغیر کاف په یو ځای
کولو سره دتازی کلمه په تازیك بدله او ویل کیدله او دز، حرف
له دی کبله دتازی (ج) په حرف بدل شو چی تلفظ یی آسانه و په دی
دول په تاجك سره مشهور شول چی تراوسه هم په پارسی کی عربو ته

---

* دفرخ آباد د نوابی په باب تعلیقا نو برخه وګوری.

** ګرك تګین په اصل (٥٠٤دخ) کی هم دغسی لیکلی دی زما په خیال
شایی داقره تګین دی چی پطوا نی نوم یی «تراشت» وداوسنی تاجکستان
جمهوریت دوخش رود له دغه راشت (قره تګین) څخه تیریدی. (رشاد)

تازي وايي او د پارسي د لغاتو په اکثرو کتابو کي د تاجك د کلمي معني داسي راغلي ده چي تاجك د هغو اعرابو اولاده ده چي په فارس او يا

نورو ملکونو کي پيدا شوي دي . او د تاجيکو اوسني حال ، او د دوي پخواني مقبوضه سيمي او په تيرو واقعاتو باندي له غور کولو نه دغه لغوي

معني صحيح بريښي چي د تاجيك له لفظ نه مقصد د هغو اعرابو اولاده ده چي ذکر يي مخکي وليکل شو .

په لومړي هجري سدي کي د فارس ټول هيواد ، او د ازبکو سيمه د عربو په ذريعه فتح شوه او هغه وخت چي دغه سيمي يي ونيولي نو د هغه ځاي خلك يي تر کومه ځايه چي ممکن وو په رضا او جبر سره مسلمانان کړل او دوي ته يي د خپلي ژبي په زده کولو کي هڅي او کوښښونه وکړل په هغه

وخت کي په افغانستان باندي هم لکه څرنگه د کتاب په لومړي برخه کي يي ذکر راغلي دي يرغلو نه کيد لخو لکه څرنگه چي د ايران او اوزبيکو

ملکونه په سرعت ونيول شول نو افغانستان هماغسي زر فتح نشو ، که څه هم عربو د افغانستان او اري او ميداني سيمي ونيولي خو د غرونو

خلك د ډير جنگياليتوب له امله تر دريمي هجري پيړۍ پوري د مسلمانانو سره وجنگيدل .

په پيل کي د فارس ، لويديځ افغانستان او اوزبکو په ملکونو کي يو ډول خلك اوسيدل او په يقين سره د دوي ژبه د پخواني پارسي په بنياد منځ ته راغلي وه .

له هغه وخته چي اعرابو په دغه خلکو غلبه وموند له نو اوسني مروجه پارسي رامنځ ته شوه . يعني د دوي مخکيني ژبه او د فاتحانو ژبه

يعني عربي سره يو ځاي او اوسني مروجه پارسي منځ ته راغله او يقيناً تر څه مودي وروسته اعراب له بومي خلکو سره خلط شول او دغه خلك د

تاجيکو مورثان او مشران دي . چي د افغانستان له تاريخونو سره هم دغه روايت مطابقت لري ، داځکه هر څو مره روايتونه چي د دغه ملك

په تواريخو کي موجود دي له هغو نه څرگند يږي وروسته له دي چي اعرابو په لويديځ افغانستان قبضه ټينگه کړي وه د افغانستان او اري

برخي د تاجيکو په لاس کي او غرني سيمي د افغانانو (پښتنو) او نورو پخوانيو او سيدونکو په لاس کي وي تر هغو ديره موده

وروسته افغانان (پښتانه) له غرونو نه راښکته او اواري سيمي يي ونيولي او ديوه يا دوو سختو ملکونه پرته چي تاجيکو په کي په عليحده او خپل

سرې دول ژوند کاوه پاتې تاجکو باندې افغانانو (پښتنو) غلبه وموندا له او دپارسي وانو او اعرا بو له آميزش او يو ځای کيد و نـــه

دترکستان او چيني ترکستان تا جك هم منځ ته راغلي دي . او دغــــو تاجکانو تر هغه وخته پوری ترکستان په خپل واك کی در لود تر څو چی تاتار يانو په دوی غلبه وکــړه او بريالي شول .

د چنګيز خان له وخته دميدا نـی او اوارو سيمو تاجك مغلوب او وتکول شول او درعيت حالت ته ور ټيټ کړای شول ،خو هغه تاجك چی په غرونو کی اوسيدل هغه تراوسه خودمختاره دي او دبدخشان ، درواز او نورو سيمو حاکمان شول ، تاجکان په ټو لـــو ځايو نوکی له دی کبله مشهور د ی چی ددوی آباد ی دايمي اود کرکيلی له وړاندی تګ سره مينه لری ا و دهغه سامـــان آلات سره چی د دايمي استوګنی ژوند له پاره په کار د ی

دهغو وسايلو سره ډيره مينه لری . تراوسه پوری هم دلو يد يــــځ افغانستان پــه ځينو ځايونو کی دکرنی وړ ځمکی دتاجيکو په لاس کی دي خو

دد وی املاك او جايد ادو نه له دو ی نه اخستل شوی ا ودوی دافغا نانـــو رعيت او نوکران دي.

هغه تاجکان چی دافغا نانو پـــه مقبوضه سيمه کی ميشته دي يـــــا رعيت په دول ژوند کوی او يا هـم په بيلو بيلو کليو کی ژوند کوی، هغه برخه يی چی په سيمو کليـــو کی ژوندکوی دهغوی مشری د يــوه کتخدا په لاس کی و ی اودغه کتخـــدا دخلکو له خوا ټاکل کيږی که څه هم دده په ټاکلو کی دده کور نی اومور ثيت رول لری خو بيا هم دده د ټاکلو له پاره دکابل اميرنه اجازه ا خستـــــل ضرور دی ، کتخدا ډيره اختيار نـــه لری خوکله چی دکابل دوالی له خوا ده ته کومه وظيفه ورکړل شی پــه هغه کی اختيار لری ، همدا راز د ی ماليه هم را ټو لوی او حاکم ته يــی

سپاری ،او ددغه خدمت په بدل کی ده ته يوه اندازه ملکانه انعام د د ه د کارپه اندازه ورکول کيږی ، همداراز دی کولای شی ځينی وړی دعوی هم فيصله کړی که چيری پيښـــــی درندی وی هغه ياد حاکم حضور تـــه وړل کيږی اويا دقاضی له خوافيصله کيږی. تاجکان جنګيالی خلك نه د ی

او خپل سرکار اوحاکم ته ايل د ی ، که څه هم په عمومي دول دوی پـــه کرنه اوکرکيله بوخت دی . خودهغی پرته په سوداګری ، لا سی صنايعو او خرکاری باندی هم اخته دی. دواوس اکثراً دافغانانو په شان د ی، تاجکان له جګړی سره مينه .ته لری که څه هم ددو ی لې شمير په عسکری

خدمت بوخت دیٔ ، دبامیانو داوسیدونکو نه پرته چی شیعه مذهبه دیٔ
نور ټول تاجکان سنی مذهبه اوداهل سنت او جماعت طریقه مخی تـــه
بیایی ، دوی دینداره اولمونځ گوزاره خلك دی . کله چی په افغانستان کی
شخړی او فسادونه رامنځ ته شی نوتر ټولو وړاندی په تاجکو با ندی
ظلمونه کیږی او څه وخت چی آرامی وی پالل کیږی او مرستی ور سره
کیږی خو سره نه دی هم پـــه دوی باندی بیکار او محصول د افغانانو
په پرتله زیات دی که چیری دغه محصول زیات نه وای دوی له درانی
دولت نه راضی وی ، که څه هـــم افغانان دوی ترخپل قوم ټیټ بولی
خوله دوی سره په کبر او غـــرور چلند نه کوی لکه چی د دوی ترمنځ
خپلوی هم کیږی .
تاجکان شارونو ته نږدی ډیره دی اواکثراً په کابل ، غزنی ، هرات اوبلخ
کی اوسیږی خو د ملك به هغوبرخو کی چی غیر آباد اوصعب العبوره دی
لکه دهزاره وملك یادغلجیود ملك جنوبی برخه اویا کاکړ ستان کی په
سختی سره تا جکان موندل کیږی..
پورته دهغو دتاجکانو حال ولیکل شوچی دافغانانو په منځ کی اوسیږی
اوهغه تاجکان چی له افغانانو نـــه بیل اوسیږی عموماً په سختواوصعب
العبور وځا یونو کی میشته دی اودنورو تاجکو نه په څو مورادو کـــی
توپیر لری .
مونږ ته ترټولو وړاندی د هغـــوتاجکانو حال ولیکو چی دکوهستانی
په نامه بلل کیږی او د کا بل پـــه کوهستان کی ژوندکوی، ددوی دملك
شمال خواته دهندوکش و اور یـــن غرونه ، لویدیځ ته یی دهزاره جات
غرونه ، سهیل ته یی کوهدا مـــن اوختیځ ته یی دهندو کش د غره یـــو
سهیلی ښاخ موقعیت لری .
اود کوهستان ملك لـــه دریو اوږدوواديونه جوړ شوی . یعنی نجراب ،
پنجشیر او غوربند ، ددغو وادیو له دواړو خواوو غرونو نه او به راوځی
اود هری وادی په منځ کی د سیـــن شکل غوره کوی او دهغوی له نوم نه
ددغو وادیانو نومونه مشهور دی اودغه ټول سینو نه دکابل له دریا ب
سره یوځای کیږی ، ددی سیندو نو په غاړ وډیری آبادی او ښی ښنـــی
دونو ډکی سیمی شته ، د غنمـــو ، تنباکو او پنبی پید وار ډیـــر دیٔ .
دلته وریجی ډیری کرل کیږ ی خـــوجنسیت یی ډیر اعلی نه دی، دتوت
ونی په کی بی شمیره دي اومیوه یی هم زیاته خوړل کیږی ، همدا راز

دغه میوه لمرته وچوی او اوړه کوي یې او د ځنمویوه اندازه اوړه وړسره یو ځای کوی او دوډی ورنه پخوی که دکوهستانیو تند رستو صورتونو ته وګورو نه دغه خواړه ښه دی ، دچارمغزونی پکی په ډیره اندازه پیدا کیږی او دغوربند به دره کی ډیر اعلی بادام هم شته ، دوی په خپلو منځو کی دد ښمنی او جګړی په وخت دخپلو ځخا لفانو د توت ونی پری کوی او هغوی ته دخوراك څوکلن زیان ور رسوی .

که څه هم دکوهستان خلك په خوارو ول میشته دی خو شمیر یی ډیر نه دی خلك وایی چی دوی پنځه څلویښت زره کوره دی په کوهستان کی یوه کوچنی سیمه دریګ روان په نامه موجوده ده، دوی ډیرخاروی ته ساتی خود شیدو دغوا ګانو له ساتلو سره مینه لری . د نجرا ب او غوربند پنیر ډیر ښه، او مشهور دی . ددوی په سیمه کی ځنګلی ځناور ډیر دی او اوریدل کیږی چی دلته ځیر وونکی ځناور لکه پړانګا ن او توری ییږی ښی شمیره دی او ببرهم پیدا کیږی او ښکاری الو تونکی لکه باز ، جره اونور هم په زیات شمیر سره لیدل کیږی .

دکوهستان ښایسته او خوش آوازه بلبلی ډیری مشهوری دی ددوی د ملك دکلکوالی په سبب د کوهستا ن تاجیکو طبعیت بالکل بل ډول دی .

ددرنامه او پروان د سیمو نه پرته نور کوهستان دکابل امیر ته یوه اندازه محصول ور کوی او خپلو سردارانو او مشرانو ته هم تابع دی، دوی ډیر جنګیالی او زړه ور خلك دی ان تردی که به دوی کی ځوك دغارو غی په سبب مړ شی دا ددوی له پاره دشرم او افسوس خبره ده، که څه هم ټول کوهستان بی رحمه او ناپوهه خلك دی خو درنامی په غلا او شرارت کی ډیر مشهور دی .

دکوهستان خلك اکثراً په غرونو کی په پلی ډول جنګیږی په دوی کی دکلیو اوقومونوتر منځ دښمنی لږ ی دی خو کورپه کور دښمنی په کی ډیره ده اودخپلو دښمنانو دتوت دونو دقطع کولو په وسیله هغو ی ته ډیر زیان رسوی .

ددوی وسلی قر بین (کارا بین) او چقماقی توپك، تفنګچی ، اوږ دی چړی اوه ځینو سره وړی بر چی او دلږ شمیر نورو سره لیندی غشی او ډالونه وی اوتقریباً د هر بالغ سړی سره وسله موجوده وی . ددوی پوښاك یو پراخ کمیس دی چی له خمتانه جوړ شوی وی . اواکثره تور لنګه پراخ پرتو ګونه، اغوندی اوښنګر و پوری پا پو ش په پښو او

وریښمنی . ټوپی په سروی او ځینی یې لونگی هم تړی . کوهستانیان
ټول سني مذهبه دی . دوی د ایرانیانو او نورو شیعه گانو سره کلکه دښمنی
لری . دوی بیل بیل خانان لری . اوس ملك چی د تاجکو لوی خان دی او صاحب
زاده غلام جان هم د دوی مشر دی که څه هم دغه خانان د خپلو کورنیو
شخړو بندو بست نه شی کولای حو د بهرنی غلیم په مقابل کی د داد وی
انتظام نیولی شی او د دغه منظور له پاره ټول قوم په یوه زړه او
د بهرنی دښمن په مقابل کی د خان دامر په سبب ټول سره یو کیږی .
خانان د خپل قدرت په اندازه نوکران هم ساتی . دوی د سدوزی
شاه محمود سره ډیره دښمنی لرله ، او هغه وخت چی دی په تخت باندی
کښیناست نو کوهستانیو له ده سره مخالفت شرگند او په جگړه یی لاس
پوری کړ، لومړی یی د شهزاده عباس سره مرسته وکړه خو وروسته
د بارکزی فتح خان د بندو بست په سبب مغلوب شول .

د پشئی یا پشاوی په نامه یو بل قوم هم په کوهستان کی موجود دی
چی دهغوی په باب بابر پاچا لیکلی دی چی دوی بیله ژبه لری . اوس
هم دغه خلك په خپلو منځو کی په کوهستانی ژبه خبری کوی او د دغی
ژبی اصل او بنیاد هندی ښکاری ، د دغه قوم په باب زیات معلومات
تر لاسه نشول .

خنجانی :

خنجان دیوی اوږدی دری نوم دی چی ډیره ښکلی ، شنه او ښه
هوا لری . د دی دری ټولی ځمکی دیوه باغ په څیر ښکاری . په دغه ځای کی
د توت ډیری ونی پیدا کیږی . په دغه دره کی د تاجکو یوه ډله او سیږی
چی د خنجانیو په نامه سره یاد یږی او د دوی شمیر لس زرو کورو ته
رسیږی . دغه دره په پسرلی او منی کی ډیره ښکلی او بارو نقه ده .

برکی:

برکی هم د تاجکو د قوم یو ښاخ دی * . دوی په لوگر او بتخاك کی
اوسیږی که څه هم دوی له غلجیو سره یو ځای دی خود نورو تاجکانو
څخه بیل دی ، دوی ځانته بیل مشر او سردار لری په
زړه ورتوب کی مشهور دی او په خپلو مور نی کلیو او مقبوضه سیمو کی
اوسیږی د کابل امیر ته مالیه ورکوی او د ضرورت په وخت یو څو نه هم ورته
ته ورته وی . د دوی د نورو تاجیکو په نسبت په ټولو چاروکی ښه کنټرول کیږی
وا ټولوی . د دوی روا جو نه پښتنو

* بره کی تاجیك نه دی اور مردی. (رشاد)

داکثرو رواياتو نه دا خبره ځرګنده شوي ده چي غزنوي سلطان محمو د د يوولسمي عيسوي سدي په پيل کي ددوي نيکونه دلته ميشته کړل ، په پيل کي ددوي د سيمي وسعت ډيرو خو وروسته افغانانو له دوي نه ډيره ځمکه لاندي کړه، ددوي د نسب اصليت په صحيح توګه معلوم نه دی خو دوي په خپله ادعا کوي چي دوي اعراب دي خو ځيني خلك وايي چي دوي کردان دي او د کردستان نه محمو دغزنوي را وستي وو ، تاجك په ځرخ کلنګار ، زرغون ښار او دلوګر په نورو ځايونو کي هم اوسيږي او په هغه ځاي کي چي ميشته دي دهماغه ځاي په نوم بلل کيږي.

فرملي يا پرملي:

دوي د تاجکو يو ښاخ ګڼل کيږي او د برکيوسره برابر شميرل کيږي. دوي اکثراً داورکون په سيمه او دخروټو ملك په مينځني برخه کي او سيږي او د خروټو سره سخته دښمني هم لري . پاتي چي د کابل په لويديځ کي استوګنه لري دوي اکثراً په سوداګري او د کرني په چارو بوخت دي، پرمليان په اورګون کي اوسپنيز سامان آلات جوړوي او دخرڅلاو له پاره يي لويديځ افغانستان ته وړي دوي دکابل والي ته محصول او ماليه ورکوي . ددوي دقوم او نسب په باب پوره معلومات نشته .دوي په خپله ادعا کوي چي دوي خلجيان دي او په هندوستان کي يي پاچاهي هم کړي ده دتاريخ فرشته له مطالعي نه داسي ښکاري چي خلجي دترك دقوم يو ښاخ دي چي له هغو نه سلطان جلال الدين فيروز شاه او سلطان علاو الدين خليجي دهند مشهور پاچايان تير شوي دي . * نور خلك داسي نظر لري چي فرمليان په اصل کي خلج په نوم ذ يوه ښار او سيدونکي وو خو ځيني نور عقيده ځرګندوي چي نوموړي ښار په ترکستان کي دجيحون په غاړه پروت و. د ځينو په قول خلج د کندهار په لويديځ کي دهلمند دسيند او قلعه بست په لويديځ کي واقع واو دا ورستني روايت صحيح ښکاري . په دي کي شك نشته چي خلجي يا خولجي دترکي تاتار له نسله ووچي يوه برخه يي په لسمه عيسوي پيړي کي دسر دريا په سر کي چي دقوقند (خوقند) دملك په منځ کي بهيږي او سيدل چي ددوي يو ښاخ د ډيري مودي نه دافغانستان په سيستان او همدا راز هندوستان کي اوسيدل.

---

* دهندوستان دهغي پاچاهي کورني په باب چي خلجي بلل کيږي دتعليقاتو برخه و ګوري

په لسمه عیسوی پیړی کی دغــو خلکو په ترکی ژبه خبری کولی او امکان لری چی پر ملیان ددغه قــــوم له نسل نه وی . خو دایوه اټکلـــی خبره ده اوپه دغه برخه کی کوم ثبوت نشته .

سردیهی:

سردیهی دتاجکو یوه کوچنۍ ښېه ده چی دغزنی د سردی په مشرقی او سهیلی برخو کی میشته دی .ددو ی نه پرته په خاص غزنی او ددغه ځای په نورو برخوکی هم ډیـــر تاجـــک شته دی .

نور تاجکان :

دهغو تاجکونه پرته چی پورتـــه یی بیان وشتو په ننګر هار، ګردیز کلالګو ، لغمان او دافغانستان پـــه نورو تولو لویدیځو سیمو کی هـــم تاجك میشته دی. دسیستان تقریباً تول خلك تاجکان دی، خو یوازی سنی مذهبه یی په تاجك سره مشهور د ی او دغه قوم دبلوچستان په شمـــال او افغانستان په حدود و کی ډیـــردی . دهرات او دهغه په شاو خواکی هم اکثره تاجکان استو ګنه لری چی دلته یوازی دومره کافی دی چی پـــه ددو ی دتولو د حالا تو دلیکلو لـــه افغانستا ن کی ددوی شمیر پنځلس پاره یو بیل کتاب ته ضرورت دی خو لکو ته رسیږی .

دایما ق او هزاره قومو نه :

ایماق اوهزاره دکابل او هـــرات ترمنځ د پرو پمسین (پارا پامیزا د) په غرو نو کی اوسیږی .شمال ته یی ازبك اوسی ، سهیل ته یی پښتا نه درانی اوغلجی اوسیږی . ددیدوا ړو قومو نو ملك دری‌سوه میله اوږدوالی اوتخمیناً دوه سوه میله پلن والـــی لری .

دتعجب خبره دا ده چی دافغانستان‌حدودو په دننه اوبیا په هغه ځا ی کی چی خلك وایی چی افغا نان لـــه هغه ځایه یعنی غورنه راوتلی پـــه هغه ځای اوز هغه په شاو خوا کـــی‌اوس داسی قوم استو ګنه لري چی دپښتنو سره په رواج ، ژبه او بنـــه کی بیخی توپیر لری . که څه هـــم دوی له خپلو شمالی ترکی ګاونډیانو سره یو څه ورته والی لری خو سره له دی هم ددوی ترمنځ یو څه توپیـــر ونه شته دی . دوی ته ددی پتـــه نشته چی دوی اصلاً څوك دی او لـــه

ژبی نه یی هم چی یو دول پار سسی ده دانه ښکاری چی دوی له کوم قوم نه رابیل شوی دی ، او ددوی دژبی طرز اکثراً د زابلو دژبی سره ورته والی لری . ددوی دخبرو نه داسی ښکاری چی دوی به تا تار ترك وی او ځینی عقیده ښرگندوی چی دوی دمغلو له نسله دی ، اوس هم ډیر خلك دوی مغل بولی او دهغو چغتا یی مغلو سره چی هرات ته نږدی اوسیږی له هغو سره یی ورکډوی او دوی په خپله هم وایی چی مونږ له هغو اوهمدا راز دایمان دقوم سره چی لږ شمیر یی په کابل کی اوسیږی همقومه یو او له دغو دواړو قومو سره دوی خپلوی کوی خو دوی دهرات دمغلو په ژبه نه پوهیږی .

ابو لفضل لیکلی چی دا خلك دچنگیز خان دلمسی مانگو خا ن دپوځ اولاده ده چی دوی په دغو غرونو کی پاتی شوی و اود یو معتبر ، ثقه او با معلو ماته سړی له خولی چی مولف ورسره ملاقات کړی وایی چی دهزاره قوم دچرکس دقوم یو ښاخ دی. چرکس دترکانو مشهور قوم دی چی د داغستان په شاوخوا کی چی ددرو سیی سره ملحق الحدوده دی اوسیږی . له دغه روایت صحیح وی نو داخبره نه ده معلومه چی دلته ولی راغلی او آباد شوی دی .

بابر پاچا په خپل تصنیف کی لیکلی دی چی هزار گان په مغلی ژبه خبری کوی ، خود هغه اصلی مقصد نه دی ښرگند چی د کوم هدف له پاره ده دترکانو ، هزار گا نو قصه لیکلی ده او نو کډری یی د غرنیو هزاره گانو سره کډ کړی دی اوهمدا راز ده لیکلی چی ترکان اوایماق په اوارو سیمو کی استوگنه لری . دا هم ښرگنده نه ده چی ولی ددوی په ژبه کی دومره ترکی کلمی موجو دی دی که دوی مغول نه وای نو ولی په ترکی ژبه خبری کوی اوکه چیری مغول چرکس وی اواصلی ژبه یی ترکی وای نوسره له دی چی دوی د ترکستان په پورتنی برخه کی آباد دی نوو لی په ترکی ژبه نه غږیږی او ولی په پارسی ژبه غږیږی ، نوپه داسی حال کی چی ددوی شمالی گاو ندیان په ترکی ژبه خبری کوی اوسهیل گاوندیان یی په پښتو ژبه نوله دی کبله غالباً داسی ښکاری چی ... ... ژبی ته خوریدونه وړاندی راغلی اودغزنی یازا بل سلطنت سره ددی اړیکو په سبب دوی به کوده ماته زابلی پارسی ژبه بالندی خبری کوی اوخپله پخوانی ترکی ژبه یی هیره کړی ده خو ددغی ژبی ځینی کلمی تراوسه هم ددوی په ژبه کی پاتی دی . د دی دلیل ثبوت دپخوانیو حالاتو له مطابقت نه حاصلیږی ، داښکاره ده چی افغانانو

دمخه وراندي په غزني او په ځينو نورو جنوبي ميداني برخو با ندي
دتا جکونه پرته هزاره ګان همقبضه در لود له چي افغانا نو په تدريجي
توګه دوی د هزاره جا ت د غرو نـو خواته په شاو تمبول . مولف دايماقو
او هزاره و د قوميت په باب داسي نظر لري چي دوی د تاتاري تر کانو
له نسله دي او په دي کي هيڅ شك نشته چي ايماق او هزاره په اصـل
کي يوقوم دي او داسي ښکاري لـه هغه وخته چي مسلمان شوی سره
بيل شوی هم دي له دي کبله ايما ق پاخه سنيان او زياتره هزاره ګا ن
شيعه د ي . که څه هم دغه مذهبي اختلاف د دو ی د بيل والي باعث شو
خو سره له دي هم ډير خلك دوی يو ګنيي او دهغوی روا جو نه او بني هم
سره ورته والي لري، خو سره لـه دي په ځينو مو ضو عاتو کي سره
توپير لري نو ځکه دامناسبه بريښي چي ددواړو حالات په بيل ډول ذکر
شي لومړی به دايماقو ذکر وشي .

ايماق:

دوی دهزاره دقوم په جنوب لويد يځو غرونو کي ميشته دي، ددو ی د
ملك په لو يد يځه او شمالي برخـه کي چيرته چي جمشيدي اوسيږ ی نو
هلته يو لړ غرونه موقعيت لری چي په ونو پټ دي او دغه ملك ډيرشين
او آباد دی . بالامر غاب ،مورو چا ق (موری چاق) کوشك (کشك قرو ماچ
(غور ماچ) اوتنور سنګی ښه آبـا دځايونه دي. تيمني دسياه بند يعني
دغور په سيمه کي اوسيږي او ددوی دځمو جنوبي برخي هم ډيری ښي دي
سبزوار يا اسفزار (شين ډنډ) يوه پراخه ميداني سيمه ده چي د غرونو
په مينځ کي دفراه او هرات دلاري په ختيځه برخه کي موقعيت لري ، چي
دغه ځای کي دزو ری قوم او سي خواوس په دغه سيمه باندي دد را نی
دقبيلي دنور ز يو ماليز پو اوساکزيو ښاخو نه تسلط لري .

دايما ق دکلمي معنی په تاتاروکي دقوم ديو ی برخي ،خيل يا ښـاخ
مفهوم لري . سر جان ملکم وا يـي چي دشام په سيمه کي دا يما قـو
لوی قوم او سيده چي ددغه قوم يو ښاخ دايرا ن په لور ستا ن کـي
استو ګنه لر له چي له دغه ښاخ نه اتا بکان منځ ته راغلي چي دايران
په تاريخ کي مشهور او د شيـراز اوچهان تير شوی دی . په عوامو کي
ايما قو ته چار ايما غ هم وايي په لومړی سر کي يې دوی ته چارايماق
چي د څلورو قومو نو مفهوم لـری ،ويل او په اصل کي هم دوی هـم
دومره ښاخو نه و خو اوس دوی په ډيرو څانګو ويشل شوی دي. دپخوا

نیو چار ایما قو څلور قو مونه دادی، تیمنی ، هزار ی، تیموری اوزوری.
تیمنی بیا په دو وڅانګو ویشل شوی‌دی قبچاق او درزی مونږ د ناکرو
دقبیلی دحال په برخه کي ولیکل‌چی تیمنی ځا نو نه دکاکړو یو ښاخ
بولی . داسی اټکل کیږی چی ښا یی‌دتیمنی د درزی ښاخ دکاکړ وقوم
ته ورغلی او هلته له دوی سره‌یوځای شوی وی‌اودویم ښاخ نه قبچاق
په اصلی‌تیمنی چار ایما قوپوری‌اړه‌لری دا ځکه چی دقبچاق په نوم‌هیڅ
کوم ښاخ یا قوم په افغا نانو کــی‌نشته او دایوه تر کی کلمه ده په.
همدی ډول دد رزی کلمه په‌تر کــی‌ژبه کی هیڅ نه لیدل کیږی . زی
چی اولاد معنی لری یوه پښتو کلمه‌ده . دایما قو دو یم ښاخ هزار ی‌هم
په دوو ښاخو نو ویشل‌شــوی دی‌جمشید ی اوفیروز کو هی جمشید ی
یومشهور ښاخ دی چی هغــه ور وسته بیا په ډیرو څانګو ویشل شوی
دی لکه ، خو کرو ، کا لکنــــدی،قاقچن ، زین کر زلفی ، امفلیدی ،
جوا لی ، خیر ، قر ك ، داه زیر ی‌او نور چی داټو ل په جمشید ی‌ښاخ
پوری مربو طی څانګی دی او له دی‌کبله چی فیروز کو هی په فیروزکوه
کی اوسیږی نو ځکه په دغه نا مه‌سره مشهورشوی دی .

د کرائی قوم چی د مشهد پــــه‌سهیلی برخه کی او سیږی هغه هم
ځینی خلك ایما ق بو لی خوداصحیح‌نه ښکاری دایما قو دقو م هره‌څانګه
ځانته بیل سردار لری چی دوی لوی‌سردار ته خان یا بیګوایی اود ــ
ښاخو نو مشر یا ملك ته ار بــاب‌وایی ، خان یو شمیر سپا هــیان او
کلا هم لری . دی له خلکو نــــه محصو ل اخلی او عدلی چاری هم‌دده
په لاس کی دی ،دی‌دډیر واك خا وندی حتی په خپل قو م کی‌د پا چا
احتیار لری او هغه‌حه یی چی حوښه‌وی په هماغه ډول چلند کوی.

اوس مهد ی قلی خان چی په‌خان‌آغا سره مشهور دی د مورو چــا ق
(مور ی چاق) په کلا کی ژو نــدکوی او دجمشید یانو لوی‌رئیس‌دی،
اود هغه ورور اله قلی خان په بالامرغاب کی حاکم دی . همدا راز فتح
الله بیګ د فیروز کو هي د ښــاخ‌رئیس او عبدا لغفور خان تیمنــــی
دایمــا قومشهور سر دار و، خوعبدالغفور خان تیمنی دکابل دوا لی مرــ
حوم امیر دو ست محمد خان دزو ی‌محمد شر یف خان له خوا بی واکه
شــو .

ایماق اکثرا په کیږ دیو کـــی ژوند کوی چی دوی ورته اورد او دلبنکر و خیمه گاه ته یورت وا یی‌او دایوه ترکی کلمه ده چی معنـی یی اردو ده اود او اردو نـه مطلب لبنکر دی چی په انگریزی کــی ورته هور دوا یی *د هر کمپ‌پادیری ی ښبنتن دخا ن تر لاس لاندی وی او ددوی خیمی عیناء په هیاغه دول وی چی تاتار یی دخرگاه پـه نوم یادوی ی‌او دغه خیمی اکثره‌دخودرنگه اویاسپینو لمڅیو نه په‌گـرد دول جوړیږی ، خو تیمور ی‌اکثـراسیاه خانه یا پښتنی کیږدی خوښوی.

تول ایماق دپسو نور می سا تی‌او په خپله مربوط قشلا قـو نو او ایلا قونو کی ژوندکوی دوی‌په‌ژمی‌کی هغوقشلا قونو ته را ځی‌چی د غرونو په لمنو کی پرتی دی دو ی‌دغرونو د لمنو نشیبو نه‌دتگاو پـه نامه یادو ی .

په گر می کی دا یلاقو له کبله غرونو ته ځی او له دی کبله دوی اکثرا پوو نده ژو ند لری او په‌ځرڅایو نو کی غوایا ن او اوښان دیـر لیدل کیږی . همدا راز دوی دنرواوښځو اسا نـــو گلی بیلی‌جمشیدی بیلی ځرو ی او گله بانان یی پـــه څلورو یا پنځو اسانو باندی سپاره‌او خپله دنده تر سره کوی په یوه‌گله کی له سلو نه نیو لی تـــر در ی سوه اسانو پو لی په څر یدو بوختوی .دوی زیا ت شمیر اسان لری‌که څه هم دغه اسا ن منځنی ونی لری‌خو مضبوط ، ښا یسته او فعال دی. اودنورو ملکو نوپه‌سودا گرانوباندی‌پلور ل کیږی ددو ی دسیمی پـــه کلیو کی تاجك هم ژو ند کــوی.دایما قو په غرو نو کی پسته پیـدا کیږی او هغه ځای کی چی د پستـه ونی یا ځنگلو نه وی هغه ځای‌دپسته لغ په نامه یادوی او شیر خشــت‌او تر نجبین هم‌د معتد لی هوا لـه کبله هلته پیدا کیږی .

ددوی پو ښا ك اکثرا ایر انیانــوته ور ته دی . دوی اوږده پرتکونه لنډ کمیسو نه اغو ندی او شتمــن‌خلك یی چینی او پشمی قبا کا سی په اوږو اچو ی او اکثرا توره پیخه چی د کو چنی ور ی له پو ستکی‌نه جوړه شوی وی دیو ی جگی تو پـی‌په شکل په سرو ی او په دوی کی دپگړی دتړلو روا ج لږ دی.

---

* هـارد په انگریزی ژبـه دمغولو او تر کانو وتاتارانو دلی ته ویل کیږی . دا کلمه داردو کلمی‌انگر یزی سو ی شکل دی .(رشاد)

دایماق و خوراک پښتنو ته ورته دی . کله څه هم قوی د پسو او غوښی ډیری خوری خود اسانو غوښی هم استعمالوی . دوی د غنمو داوړو سره د کنځلو دانی ګډوی او بیا ډوډی ور پخوی.

دد غه قوم خلك ناپوه او ځانخو ښوونکی دی خود خانانو له ویری ډیره بی اعتدالی نه کوی. په جګړه کی وحشیانو غوندی جنګیږی، ددوی وسلی پلیته یی توپك دی خو ځینی چقمقی توپك هم استعمالوی، دوی ایرانی توری، پیشقبضی او تفنګچی هم لری . دوی بی رحمه خلك دی او خپل قیدیان دغرو نو نه غورځوی او سنګسار وری یی ، په دوی کی کورنی د ښمنی لږی دی خو د ترکمانو د ښاخونو سالور ، ساروغ ، تکه ، ایمو ت سره کلکه دښمنی لری او یو د بل په ملکو نو باندی یرغلو نه کوی، خو ترکمان ډیر زړه ور دی چار ایماق تل دهرات تابع دی او وړاندی په یی د هرات حاکم ته پوځ برابر اوه خو اوس یی هغه ته نغدی روپی د محصول په ډول ورکوی .

جمشیدی د هرات ګورنر ته د کاله پنځلس زره روپی ور کوی او په همدی ډول نور ایماق هم خپل محصول په نغد ډول ادا کوی ، خواندازه یی معلومه نه ده ، دغه محصول دخان له خوا راټولیږی او هرات ته یی لیږی ، پخپله خان هم له هر کورنه دکال دوه روپی اخلی چی له هغو نه خپل پوځ ته تنخواه اواسان برابروی او هم تا کلی نغدی روپی هرات ته استوی، ددی نه پرته په هرژمی کی خان له هر دریو کورو نه یو پسه او دلوټ او غارت دمال نه هم پنځمه برخه ترلاسه کوی . همدارازد حاصلشویو وړیو شپږ مه برخه هم ده ته ورکول کیږی او خلك له دغه محصول نه هیڅ ناراضه نه دی او ډیر هم نه ورته ښکاری . اوس دوایماق یعنی تیموری او هزاری د فارس دولت ته تابع دی اودمشهد په صوبی پوری اړه لری دا ځکه چی دوی دهرات لویدیځ ته پراته دی او د هغوی ځمکی دلوی غره نه بیلی چی دلته متوسط غرونه موقعیت لری. ددوی ځمکی له شګلنو سیمو نه متشکلی دی چی یوه یی له بلی نه په سپیرو غونډیو سره بیلی شوی دی . او له ډیری مودی نه را په دی خوا تیموری دلته میشته وو، او هزارګان دسدوزی شاه محمود له خوا دیوی بلوا او شخړی

په سبب چې ددوی او تیمنو ترمنځ پیښنې شوې وه او ستې مقبو ګنسو. سیمو ته راو ستل شول او دلته یې میشته کړل او ددوی سر دارا نو ته دکابل دپاچا له خوا د بیګلر بیګسی (خان خانان) خطا ب کیده، چې تر اوسه هم دفار س دخلکو له خوا په دغه لقب یاد یږي . تیمور ی لسه نورو ایما ق سره دو مره تو پیرلري چې ددوی ځیرې او پو ښنا کداوز - بکالو په شان دی . دتولو چارایماقوشمیر تقریبا څلور ونیم لکو تنو ته رسیږي .

د هزاره قو م :

ددغه قوم د نسب ذکر وړا ندې په مقدمه کې راغلی . په هغه ملک کې چې دغه خلک اوسیږي هغــه دهزاره جا ت په نامه یادوي د هزاره ووسیمه دایما قو په نسبت صعب العبور ه او د ځمکو دلوړ والي زور - والي اود مو سم دیخوا لی له کبله کر نه په کې سخته ده . خو لــه کوچنیو وادیونه یې لږ څه غلــه لاس ته را ځي او دمو سم دیخ والی له کبله په اکثرو ځایو نو کــې دغنمو فصل په منی کې اخلي . دوی اکثرا دپسو نو او غوایانو په غوښه خپله ګو زاره کوي او کر ت، پنیراو نور لبنیات ډیر استعما لوي .

دهزاره دتسمی وجه داســی ده چې د زابلستا ن د پخوا نیو واکمنا - نو په دوره کې دوی دبا ج په بدل کې زر تنه سپاره دپو ځ په دول لګه څرنګه په دغه ملک کې دودود شاهي خد ماتو له پاره لیږل له همدې کبله دغه قوم په هزاره یا نــدی مشهور شو . دایران خلک هزاره وته بر بري او د هغوی سیمې ته بربــروایې او ښنا یې ایرا نیو دغه نــوم دبند بر بر له کبله چې بند امیــریې هم بولي او هغه هزا ره جا ت دسیمې په شما ل دتر کستا ن پــه حدودو کې مو قعیت لري ، دوی ته ور کړی وی .

داستوګنی ځایونه :

هزاره ګان اکثراً په متفرق اوخواره واره ډول او سیږی د دوی په هر کلی کی له شلو نه نیو لی ترسلو کورو نو پوری شته ،کورونه یی ډیر جګ ندی اوپه هر یوکوریی یوه کوټه او یوه‌دروازه لری ،ځینی شتمن خلک یی په بنو کورو نو کی‌ژوند کوی ،خو اکثراً هزاره ګلن په داسی کوټو او خېرو کی ژوندکوی چی‌په ځمکو کی کندل شوی او چتونه یی پوښل شوی‌وی، پـه تیره بیا خپلو مالو نو ته‌هم ځمکه کنی او یو ډول مسقف ځای ور تـه‌جوړوی او ځینی مالداره خلـک یی په سیاه خانه یا تورو کیږدیوکی هم ژوندکوی ، هر کلی یـی یو برج لری چی لس دوولس تنـه پکی او سیږی * او هغه‌ته په‌خپله ژبه تیور یاتو پور وایی، دوی پـه‌اکثرو ځا یونو کی په برجونو کـی ډولو نه هم ساتی چی د ضرور ت‌په وخت کی دهغه په وهلو سره خلك راټو لیږی .

ځیری او بنی :

هزار ګان تاتار ی ځیر ی لری.ددوی عمومی بنی داسی دی‌غټ سرو نه،پراخه ور ځی، تنګی سترګی ،پر سپدلی ختو نه ، پیتی پـو زی، ګرد مخو نه ، راو تلی غمبور ی‌لندور میګو نه ، پیل غو ږی چـاغ‌او غټ بد نو نه، تیټ والی ته مایـل‌منځنی ونی ، او داوږ ونه تراندامو پوری‌پوشان ، اکثراً غنم، رنګـه‌ځینی تور بخون او ځینی یی سـره سپین رنګو نه لری، پر بدنونو باندی یی ویښته نشته او اکثراًخلك یی ږیر ی او بریتو نه نه لری اوکه‌یی ولری نو کم کوسه او بـی ویښتو دی چی ددو ی په باب‌دامتل‌مشهور دی :

هزاره موی نداره . دد غه قو م‌تو لی ښځی سپینی ، چا غی اوصاف مخونه لری خو سترګی، وروځـی‌او پوزه یی ددوی دنار ینه و پـه شان او دسر نه پر ته نور په ټول‌وجود باندی یی ویښته نه وی‌ځینی ښځی یی ښا یسته دی.

---

* دغه برجونه الفنستن په‌خپل‌اثر«دکابل سلطـنت بیا ن » کـی دفاعی برجونه بللـی او هغـه یی‌اوتوبور یا ارتوپور په شکل‌لیکلی‌چی دده په نظر ښایی له تر کی ژبی‌نه اخستل شوی وی (ژباړ ونکی)

ددغه قوم رئیس او هغه سادات چې د هزاره وو په ملك کې اوسیږي ښکلی او ښایسته ځوانان دي.

دخلکو کسبونه او عادتونه :

هزاره گان په کرکیله باندې بوخت دي ، خو څرنگه چې ددغه لوی قوم له پاره د ځمکو دکموالی په سبب د زمیندارۍ د چارو گنجایش نشته ، نو ځکه په مالدارۍ او لاسي چارو باندې بوخت دي همدا راز دوی په نورو مزدور پولکه ، کچروانی ، سارباني، دواودرو په پاکولو او فراشی باندې بوخت دي او دوی په دومره زیات شمیر سره داسانو مهتري کوي چې په لویدیځ افغانستان کې د هر شتمن او امیر په کور کې د هزاره نه پرته دا سانو مهتران بیخی لږ تر ستر گو کیږي. د وی په هر ډول ورې وچارو بوخت او په هغو باندې نه شرمیږي . حتی دچارو کښې دنده هم ترسره کوی اودلرگیو ماتول ،کاریز کنی ،په شا باندې دبارو نو وړل (پنډې توب) اکثرا د دوی له خوا ترسره کیږي خو په پو ځ کی دنوکرۍ سره مینه نه لری او نه خوك دوی د سپاهیانو په ډول استخدا موي .لنډه دا چې په لویدیځ افغانستان یعنی کابل ،غزنی او نورو لویو ښارونو کې داد ځینو کارونو له پاره هزاره گان لاس او پښې شمیرل کیږي او ډیر خواریکښ خلك دي .

دهزاره گانو ښځې دبړ کو،غالیو،تغرو ، جورابو، دستکښو اولیمځیو په جوړ ولو او بدلو بوختې دي،همدا راز دوی په رنگ ریزۍ ، گندلو ، پخلی ، د پشمی شیانو په اوبدلو او اسونو دځلونو د جوړولو کارونه هم سرته رسوي او هم دلبنیاتو په استحصال لکه دمستو په موره کولو (مایه کولو) دپنیر په جوړولو اود کرتو په جوړولو باندې هم په ښه ډول پوهیږي .لنډه دا چې دهزاره و ښځې ډیرې هوښیارې ، چالاکې او دښه استعداد خاوندانې دي .

هزاره گان دا خلاقو او عادتو له مخې کمزوري دي .دوی بې وفا او بې مینې خلك دي او په سختو شیبو کې حتی له خپلو بادارانو سره هم لږه وفا کوي .دوی گرم او تندمزاجه خلك دي او د نا مرا سې خبرې په مقابل کې صبر او تحمل نشی کولای او ډیر ساعت ښوخبرو

په منځ کې که دوی ته یوه نا موافقه کلمه وویل شي هم لاړ یا ندي خپه کیږي . له دې نه پر ته دوی د ښې طبعې خاوندان دي، دوی ښې خوږې خبرې کوي او میلمه پالنه هم په کې ډیره ده ، داخلاق ډیرې خیالي کیسې ربنتیا گڼي او په شگون ، فال او نجوم باندې عقیده لري ښځې یې هم فالونه اچوي، دوی داوړ ، پوزي او دورغو یوپه لیدلو سره پیشگویي کوي او ځینې ښځې جادو گرې گڼل کیږي ، ددوی د عجیبو خیالي کیسو په باب په افغانانو کې مشهوره ده چې ددوی اکثره ښځې او ځینې نارینه خوړونکي دي او دوی د خپل سحر او جادو په قدرت سره د سړي زړه له کوگله راباسي او خوري یې او د ځیگر خوړو په باب هم ډیرې کیسې لري خو څرنگه چې دا کیسې خیالي او فطري لي دي نو د هغوی لیدلو ته چندان ضرورت نه لیدل کیږي د ځیگر خوړلو دغه تخیلي کیسه په هندوستان او فارس کې هم ډیره عامه ده او ځینو قومونو ته یې نسبت کیږي چې مفصل حال یې په طبقات اکبري کې راغلی دی.

خوراک :

مزاړه گان داوړ و ډوډۍ په تناره کې پخوي او هر ډول حلال اواوړ ښتي هم خوري ، خوزیاتره په کرتو، پنیر ، پیروی * او نورو خوړو باندې چې له شیدو، مستو او شوړمپو نه جوړ یږي گوزاره کسوي او گوښت هم ډیر استعمال سوي، دوی د تنگسي په وخت کې ځړلې او دښتي ساپه چې اکثرا ښه خاصیتونه لري وبچ او داوړو سره یې په نیمایي ډول یو ځای کوي او ډوډۍ ور نه پخوي او هغې ته ښدرلوک وایي مدوي د پسونو او غوایانو غوښې په تازه او وچ ډول پخوي او د لوړ داغ په ډول یې خوري .

* په اصل (٤٦١ مخ) کې د قیماغ پر ځای لیساغ چاپ سوی دی (رشاد)

پوښاك :

دهزاره کانو نارینه یوډول پسا پوښي چي دکابل په ناحیه پلل کیږي او د چارو ق په ډول پرښ اودتسمه دارو بوټونه په ډول یي جوړوي په پښو کوي او د پرتوګ په ځای هغه پا جامه اغوندي چي له چوغ (دسپینو وړیو اوږ ته) څخه یي دبر کي په ډول چو ړ وي اودوي یي په خپله ژبه مشاو بولي دد وي کمیسونه لنډ اودقبا په ډول پیشواز چي تنك اوږده لستو ني لـري استعما لوي او په اوږو با ندي سپین رنګه شړي چي په غاړو باندي يي تو ري او سري لیکي وي استعمالوي دو ی لنګو ټي نه په سروي اوا کثرا دپسه یاوري دپو ستکي نه جوړي شوي خو لي ، لیمځي او یاد چیښت خولي چي په خاص ډول جو ړي شوي په سروي . ځیني مشرا ن او معتبره سادات د پګړي په ځای لونګي تړ ي او دملك د پخوالي په سبب یي پښي له زنګنو ته تر ښنګرو پوري داوږدو ترانګو په ذریعه پیچلي وي او دغه ترانګي اکثراً له وړینو ټګ کرانو نه جوړي شوي وي . دوی دسرو ښښتان ډیر اږوده نه پر یږدي په خودسرپه منځ باند ی یو اند ازه ویښته چي کاکل يي بو لي او د شیعه مذ هب نښه ده پر یږ دي . ښځي دتیکر یوا و عرقچینو په ځای سرا غوچ په سر کوي . سر اغو چ یو ډول تنکه ټو پی ده چي یوه ترانګه لري اودغه ترانګه ددوی تر ملاوو پوري ځـړیږي او دوی دخپل سرو ښښته سره ټولوي او په هغه کي يي دغلا ف په ډول ساتي او په هغه خو لي یعنـي سر غوچ باندي د کشمیر ي ښځو په څیر سپین او سري لونګي تلوو ي او وسنبا ق په ذریعه یي کلکو ي اواوږده کمیسو نه یي چي دښنګـرو پوري رسیږي ، پراخ لستو ني کریوانو نه یي چي د سیني په وسط کي دي اکثراً د یوك دوړیوا و ځینـي یي دخمتاو چینټ نه په غبرګ ډول جوړوي ، پر تګو نه یي هم غبر ګه او ځیني یي لوی پا یڅي او ځیني یي تنګي پا یڅي لوی او دِ منوسي دو له ټو کر نه چي ابي ځمکه او سپینـي لیکي لري جو ړو ي . دوی همدا رلزدچیټ ا وختما پر تګونه هم جوړوي اودهو سي ډنر مو څر منو نه جـوړي یو ډول اوږدي پاپوښي چي تر زنګنو نو پور ی رسیږي په پښـــو کوي .*

---

*دمباغلی الفنستن په کتاب کي چي د کـــا بل سلطنـت بیـا ن نومیږي داسي لیکل شوي چـــي دهزاره کانو ښځي دسویانو له پرتګو نه جو ړي شوي نر مي موزي په پښو کوي (د ژباړو نکی)

دهزاره وو ښځي په خپله میرو باندي برلاسي لري او د تعجب ځای دی چي پداسي یو شدل قوم کي د نورو قومونو په تناسب د ښځو واك ډیر دی. دکور ټول واك د ښځي په لاس کي دی میړه د ښځي سره سلا او مشوره کوي، دوی هیڅوخت نه وهل کیږي، او آزادي پرینودل کیږي. دوی مخونه نه پټوي *

د هزاره گانو مشران :

دوی د ټولو نه لوی مشر ته سلطان وایی او دغه سلطان د ډیر واك او اختیار خاوند وي. د ده تر لاس لاندي دار باب خان او بیك په نومو نو سره د ښا خونو مشران وي. په هر کلي کي یو تن او قی یعنی مشراو هم یو یا دو ه آق سقال (افسقا ل) یعنی سپین ږیري په کلي کي موجود وي چي دوی ټول سلطان ته ایل دي.

د هزاره د قوم ښا خونه :

دغه قوم په زیاتو ښاخو نو ویشل شوی چي لوی او مشهور ښاخونه یی په دی ډول دي:

دا یزنگی، دای کندی، دای میرداد، دای میر کیشه او دای میرك، دغه پنځه ښاخونه په مجموع کي د ساده سو یکه په نامه یا دوی او هغه ښلنو نه چي په ساده قبرپوری اړه لري په لاندي ډول دي: دای چوپان، دای خطای، دای نوری، دلی میری دایه. د دوی نه پر ته جاغوری یو لوی ښاخ دی چي د و لس ځانګي یی ډیر ی مشهور ی دي. او د پولاده ښاخ شمیر هم ډیر دی. هر ښاخ ځان ته بیل بیل سلطا ن لري چي د دو ی ټو لی شخړی فیصله کوی او د جرم کولو نه پر ته د اعدام کلاو ی لری دوی ښکلی جامی اغوندی واك هم لری، ځینی سلطا نان پخی او ښه خورا کو نه کو ی او نو کران هم ساتی. دغه سلطا نان اکثراً په خپلو منځو کی بی اتفاقه او د ښمنی هم لری هزاره گان د کابل ریا ست تروا ك لاندی او اکثراً د با میانو د حاکم تر حکمرانی لاندی دی، دو ی لومړیٔ د غورا تو او بامیانو په حکو متونو سره ویشل شو ی وو.

---

* دلته شپږ لیکی (کرښی) په پښتو ترجمه کی حذف سوی دی. (رشاد)

د شاړ مان دوا کمنی په دوره کی میانو حاکم زنبیل خان (زین آلخا ن) دوی دیوه تو پ په ذریعه ایل کړل امیر دو ست محمد خان هم خو ځنه په دوی یر غلو نه کړی ؤ.

له هزاره گانو نه محصول دنغدورو پیو په ډول نه اخستل کیږی بلکی هغوی نه (دبرکو) تانو نـــه ،وړی، غالی، تغر، دهو سی څر منی ،ژیر غوړی، ځاړ وی او نور اجنا س د بامیانو حاکم د محصو ل په ډول تر لاسه کوی .

همدا راز له هر کور نه په کال کی یو پسه هم اخستل کیږی ، پــه دوی کی دما لیی دور کولو او اندازی د ټاکلو سیستم ډیر ناقص دی.

کله کله دما لیی په بدل کـــی مریان او وینځی ور کول کیـــږی او ځینی هزار گان د نجو نو دخر څو لو نه هم ډډه نه کوی .

هزاره گان په لو یدیځ افغانستان کی په ډیرو شتمنو کور نیو کـــی دمز دورانو په ډول ژو ند کوی خود دوی تیښته او بی و فائی مشهوره ده او ځینی وختو نه دخپل بادار دمیـــرمنی بغچه او نور مالو نه هم لـــه ځان سره تښتوی .

بهر نـــی د ښمنی :

که څه هم دوی او س دخپلـــو گاوند یانو سره ښکاره دښمنـــی او جګړی نه لری خود خپلو شما لـــی گاوند یانو ، ازبکو او ایما قودقو - مونو سره پخوانی د ښمنی لـــری او کله کله له دوی سره جګړی هــــم کوی، ددوی دهر بالغ سړی سره توپك موجود وی او ځینی یی غشی او لیندی هم ساتی . ایراتی توری او یـــــوه اوږده چاړه اوبر چی هم د ځینو سره موجودی وی .دوی په توپك اوغش ویشتو کی ډیر مهار ت لری .

هزاره گان په جګړ وکی ډ یر ور خو په، پو ځ کی نو کری نه کوی.

کور نی دښمنی :

په دوی کی کورنی د ښمنی هـــم ډیری دی ، او ځینی وخت سلطا نان په خپلو منځو کی بی اتفا قـــــه اوجنګونو ته ملاتړ ی او دوی دخپل تند مزا ج په سبب په وړو خبرو کلکی دښمنی سره کوی .

مذهب؟

ټول هزاره ګان اهل تشیع* او کلک رافضي دي او د اهل سنت او جماعت سره د زړه له کومې د ښمنې کوي او ډېر انتها ځای دادی چې دوی د خپل مذهب له اساسه تو نه بې خبره دي ، دوی دنا پوهي په سبب حضرت امیر المومنین علي المرتضی (ك) د پېغمبر جانشین او څېنې یې نبي او د خدای نایب بولي . اودناپوهي په وجه ډېر ته چې په کوم ځای کې لویه ونه یا کومه غټه ډبره او پاچېرې دانسان او یا داس د پښو پل وو یني هغه ته د مزار په سترګه ګوري اودر ناوې یې کوي او وا یې چې دا ځای دحضرت علي (ك) دنـاستې ځای یاد مبارکو قدمو یا دلدل دپښو ځای دی ** او هلته نذرونه کوي او خیرا تو نه ور کـوي . دوی لږ لمونځونه ادا کوي او په شرعي فرایضو کي سست دي . دوی د شیعه سیدانو ډېر احترام اودر ناوې کوي او عجیب جهالت او نا پوهي خو داده چې دوي د روژ ی په مبارکه میاشت کې دو سې او قدرت پـه اندازه پسو نه ، وزې، اسان او یـاغویان خپلو پیرا نو او سیدالو تـه ور کوي او دهغوی نه ددی غو ښتنه کوي چې ددغې نذرا نې په بدل کـې دی ده ته تو له یا خو ور ځې روژه وبخښي او لکه چې همدا سې هـم اګیري او دغه خلک فایده او جا هـل سیدان هم دشر عي چارو و ګیلا ناو ګفیلا ن بـو لي .

---

* ټول هزاره ګان شیعه نه دي سني مذ هبه هزاره ګان هم شته ذکا بـل هزاره پغل دپنجشیر او اندرا بـدای قوزی ،دای مرد ګان ، نیك پی، لر خو یی اوده مرده هزاره ګان سني دي دشهر په جلمیش او ځند لـ دسرغ دپار سیا په سرغ دره کـــې اوشیخعلي کي سني هزاره ګان او سی په بامیان کې هم دسني هزاره ګانـو پنځه کلی شته . (رشاد)

** دلدل (ددالو نو په پیښ) د یوې کچرې (غاتری) نوم و چې داسکندري یې حاکم حضرت محمد صلی اللــه علیه وسلم ته د تحفې په ډول رالیږ لی وه حضرت پیغمبـــــر(ص) هغه کچره حضر ت علي رضي اللــه عنه ته ور و بخښله .(رشاد)

د علمو عقلو ښو لو ته ؟

د هزاره ګانو نر او ښځې په سندلیو او نغړ یو کې ډیر اوربلوي او دهغو په شاو خوا را ټولیږي او په ساز او سرود لاس پورې کوي،

که څه هم دوی دمو سیقي له اصولو نه بې خبره دي دوی پخپله اصطلاح کې مروجه ساز او سرود دوبو لبې په نامه یادوي او بو لبې

اکثراً دګډلو دو یګلم نه پرته یوغږدي چې په لوړ آواز سره ئې دتا ګلي دوه سره سم بې زمزمه کوي او ددغه ډول آوازونه پرته دچنګ د غږ

سره یو ځای غزلي او عاشقانه اشعار هم وایي او عاشق او معشوق دخپل حال سره سم غزلې جوړوي او بیا یې د سندرو په شکل وایي

دوی دشعر ویلو سره زیاته مینه لري ، نارینه یې خو ساعته ، په پر له پسې ډول په مشاعرو بوخت اونکلو نه او کیسې کوي ، ښځې هم په

شعر ویلو کې برخه اخلي دبیلګې په ډول دلته دیوې دوه ویشت کلنې نجلې د غزلې مطلع د نمو نې په ډول راوړو :

قاتلو ګهنه عجوزك ښو سلجې مګنه
رفته رفته تېر زي و لګه ګوچلجي مګنه

دوی دګور نه د پاندي د ښکارسره ډیره مینه لري او په سپي پالنه ښکار کول ډیر خو ښوي او په ټوپك پاندی د تکه ، مار خور او نورو هوسیو ښکار هم په دوی کې ډیر زیات دی . دوی دآس څغلو لو لوبې

هم کوي او هغه څوك چې لوبه وګټي هغه ته پسه ، غوا یې ، آس برك او نور قیمتي تو کرد انعام په ډول ورکول کیږي .

هزاره ګانو په تو پکو با ندې دنښې وشتلو لو بې هم کوي ، د ښځو د عشق نه پرته ددوی نورټول شعرونه ښه او د ستاینې وړ دي.

سوداګري :

هزاره ګان خورا لږه برخه ني سوداګري کوي ، ددوی په ملك کې هر راز وړ پنې برکې ، ښکلی رنکینې غالي ،اعلي تغر ، او د تکه هوسي غرمنی چې له هغه نه ناز کې موزې او بوټونه جوړیږي او بهر ته وړل کیږي ، په تیره بیا ایران ته دبرکې اعلي ډولونه په زیاته

اندازه صادریږي ، لکه چې دا پرا ناپاچا یو استاز ی ددغو ګانو نسو داخستلو په منظور په دایز نکی کې اوسیږي .

هزاره ګان دېړو غوړ یو او حیوانانو سوداګري هم کوي ، همدا راز په دوی کې دمریانو اونجو نوخرخول هم مروج دی خو د سني مذهب سره دمخالفت له امله دسنیانو سره لږې تجارتي اړیکې لري . ان تر دې چې که چیری کوم هزاره دافغانستان له کومې بلې سیمې نه بیرته خپلې سیمې ته ستون شي په هغه باندې هم بد ګمانه وي او فکر کوي چې کوا کې په ده به سنیانو کوم تاثیر کړی وي . که چیری کوم سني په دوی کې موجود هم وي هغه دسرکو زې او سپې نه پرته په بل نوم نه یادوي .

هغه څوک چې وغواړي ددوی ملک ته سفر وکړي نو کوټي، ستني، سلیماني مرې او د ښځو نوري ګانې ، درنجو کڅوړې او دښځو نور شیان له ځان سره یوسي نو په ارامۍ سره به سفرو کړي او ډیره ګټه به تر لاسه کړي .

کانونه :

د هزاره جات دوړو غرونو درې لري معدني ډبرې لري او حتی دغه واړه غرونه چې دوانت یو په مخ کې مزقعیت لري یه یو ډول زیړ بخونی سرې خاوري چې تیره ور سره ګډه ده جوړ شوي دي او په دغه غرونو کې ډول ډول کانونه لکه ګوګړ، زاک، مومیایي، درنجو ډبر، نیل تو تیا او سرب موجود دی او له هغو نه زیاته اندازه استخراجیږي .

په هزاره جات کې بې شمیره کانونه لکه د ډبرو سکاره ، مس او نور هر راز معادن شته دي خو دخلکو دبې خبرۍ او ناپوهۍ په وجه تر اوسه پورې کشف شوي نه دي .

دهزاره وو د قوم شمیر :

لکه څرنګه چې وړاندې ویل شول چې د هزاره قوم سردارانو او سلطانانو تر لاس لاندې ژوند کوي ، خو د ټولو هزاره ګانو حال داسې نه دی ، ځینې یې هیڅ سردارا ن نه لري اود افغانانو (پښتنو) په شان په خپل سرې ډول ژوند کوي ،مثلاً دګوی ښاخ چې دهندو کش په خوا کې میشته دي سلطان نه لري او هم هغه هزارګان چې دمقر او قره باغ دسیمو ترڅنګ په میدانی سیمو کې دغزنی لویدیځ او هم هغه علاو الدیني ښاخ چې دکابل په چهار دهی کې اوسیږي د هغوی روا جونه دتاجکو سره ورته والی لري .الفنستن ددغه قوم شمیر تقریباً دری نیم لکه تنه ښودلی دی خو دغه شمیر زما د خیړو نو په نتیجه لږ ښکاري .

هغه بېل بېل روا يات چې ما تـه دخپلو تحقيقا تو په ترڅ کې تـــر لاسه شوي دي پـــه هغې باندې دغور کولو او نتيجې اخستلو نه داسې څر ګند يږي چې ددغه قوم شمير به ترلسو لکو کم نه وي. دوی په يـــوه لوی ملک کې خواره مواره شوي دي.ددوی دملک دهوا تا ثير دا دی چې هلته دکوی ناروغی هيڅ نه ليـــدل کيږي .

د کيـــاني قوم :

ددغه قوم تقريباً پنځـه سوه کـوره په ټول افغا نستان کې ميشته دي ، چې په مغلو ب ډول ژو ند کـــوي.دوی په کند هار او دهرا ت په شا او خوا کې استو ګنه لري دوی لـه سيستان نه دغه ځای ته راغلي . د کياني لوی نيکه قباد نو ميده خودغه خلك خپل لوی نيکه رستم دستا ن بولی .د دوی يو ه بله وړه فر قـه چې په شير وانيو سره مشهور ده هغوی خپل نسب انو شير وان تـه منسو بوی . ځارا نی آزاد خان هم يو مشهور شيرواني دی. دکياني قـو م ټول مسلمانان او اکثراً شيعه مذهبه دي، خو لږ شمير يې سنيان دي .دوی دښو کرو وړو خاوندان دي او اکثراً په کرکيله او نو کری با ندی بوخت اوپر خپلو جتو ګاوند يانو با نـد ی زيات واك اوبر لاسی لري ، دکوهات غلام حيدر خان کيا ني ډير نيك بخته ميلمه پال اوخو ش طبعه سړی دی.

چغته (چغتا يي) مغل

ددغه قوم لږ شمير خلك په افغـا نستان کی ميشته دی او دوی پـــه ټيټ اوپر ك او کمزور ی ډول ژوندکوی . دهرا ت دسيمی په بيلو بيلو کليواو همدا راز د جمشيد يانو دغره په کډون ددغه قوم تقريباً زر کوره به وی او په پاتی ټو ل افغا نستا ن يې شمير له دغې ا ندازی نه لږ دی دهرا ت مغل په خپلو منځو کې پـــه ترکی ژبه باندی خبری کوی، خـود نورو خلکو سره په پار سی ژبــه خبرې کوی . نور مغل په پار سی ژبه خبرې اتر ی کو ی. دچغتا يي مغولو يوه کور نی چې دامير تيمور دنسله د ی دغزنی دواغد په سيمه کـــی اوسيږی دد غو خلکو نه ځينی دخپل قوم دواکمنی په وخت کی پـــــه دی ملك کی پاتی شوي دي.

تاريخ پوهانو ته به څرګنده وی چی د چغته قوم دمغلو يو ښاخ دی او دخپل لوی نيکه چغتای خان ابـن چنګيز خان دنامه له کبله په چغته باندی مشهور شول ، په همد ی ډول مغل هم دتر ك دقو م يو ښا خ دی او دوی دخپل لوی نيکه مغل خان ابـن التجه خا ن دنامه له مخی په مغلـو مشهور شول .

د ترک قوم د یافث ابن نوح (ع) د اولادې نه دی، د دوی اکثره روا ـ جونه د تاجکو په شان دی، خو خورا ډېر یو ښه لکه یې تر هغو دېر ښه او مکلف دی.

قزلباش:

قزلباش د هغو ترکانو له جملې نه دی چې په ایران کې معززې کورنۍ وې د قزلباش د تسمیې وجه د هغوی د سر د خولو نه اخیستل شوې ده چې په ترکي ژبه قزل سره او باش سر ته وایي او هر ځکه چې د دغو خلکو په سرې خولې په سر کولې نو ځکه په قزلباش سره ونو مول شول.

د ترکانو نه پرته د نورو قومو نو خلک هم په قزلباشو کې شامل دي دوی اکثراً په ښارو نو کې ژوند کوي خو د هرات په ښېو کلیو کې هم استوګنه لري. په ټول افغانستان کې د دوی شمېر تقریباً شل زره کوره دي چې د هغو له جملې نه دولس زره کوره د کابل په ښار کې استوګنه لري. همدا راز د کندهار توپ خانې او علي زیو په محله کې هم یو لږ شمېر قزلباش او سیږي او پاتې یې په متفرق او خواره واره ډول ژوند کوي، په تېره بیا د هرات په ښار او د هغه په شا و خوا کلیو کې میشته دي. دوی په کابل کې د ایراني نادر شاه او ابدالي احمد شاه په وخت کې میشته شول دوی له نورو خلکو نه په بېل ډول ژوند کوي او په پارسي ژبه خبرې کوي. خو په خپلو منځو کې په خپله پخوانۍ ژبه ترکي باندې گړېږي دوی شیعه مذهبه دي.

په کابل کې اکثراً محاسبان، مستوفیان او میرزایان د همدې خلکو له جملې نه دي. ځینې پیشخدمتان، سپاره ملازمان افسران، او صندوقداران هم دي. له دغو اوو ښاخونو نه پرته چې په هغو کې ټول قزلباشان راځي د کابل قزلباشان چې غلام خانه یې هم ورته وایي کېدل خاص ښاخونه یې په دې ډول دي. چنداول چې د یو ځ دزره * معنی لري، او سپاه منصور دیوه ښاخ نوم دی، جوان شیر د زړور تیا یو لقب دی د مراد خاني نوم یوه درانی سردار ته د تابع کېدو په وجه ور کړل شوی دی، همدا راز افشار دیوه ښاخ نوم دی

---

* دلته چنداول د یو ځ دزره په معنی راغلی، په داسې حال کې چې چنداول د یو ځ ورو ستی برخې ته ویل کېږي او دایوه ترکي اصطلاح ده (ژباړونکی)

چی ایرانی نادر شاه هم دهمدی پښتانه و .اوس په کابل کی قزلباش ډیر دی او افغانانو او قزلباشو تر منځ دمذهبی اختلاف له کبله دښمنی موجوده ده .

او کله کله دشعیه ګانو او سنیانو تر منځ هم جګړی را منځ ته کیږی .

اوزبیک :

د ترکستان سیمه له از بکو نه ډکه ده خو په افغانستان کښی داوز بکو تقریباً سل کوره موجوددی .از بک د ترک دقوم یو ښاخ دی په مقرګی هم یوه کوچنی سیمه شته چی هلته اوز بکان اوسیږی . او په ځینو نورو ځایو نو کی هم دوی موجود دی او په کر کیله سوداګری او نو کری بوخت دی او په پارسی ژبه خبری کوی .

دډیګان قوم :

دغه قوم چی په پیل کی په زیات شمیر سره په شمالی او ختیځ افغانستان کی میشته وو اوس یوا زی په کونړ ، پورتنی باجوړ او لږ شمیر نوری په لغمان کی استوګنه لری . دیګان په کونړ کی یو بیل قوم شمیر ل کیږی چی ځانته بیل سردار لری چی دسید له قومه دی او پاد شاه (پاچا) هم ورته وایی .

اوس سید بابو جان پاچا دکونړ رئیس دی او دکابل دامیر له خوا هم یو استازی دما لیې درا ټولو لو له پاره هلته ټاکل شوی دی .

دیګانان په هغه ژبه خبری کوی چی دبابر په تاریخ اوطبقات اکبری کی لغمانی ژبه بلل شوی ده ، داسی ښکاری چی په دیګانی ژبه کی اکثراً سنسکریت ، پارسی او ځینی پښتو کلمی هم موجود ی دی ، او ډیری کلمی یی له سنسکریت سره ورته والی لری . له دی نه معلو میږی چی دیګانان له هندی نژاد له وو . خود هندو کیو سره هیڅ اړیکی نه لری .

د افغانستان خلك په غلطی سره دهقانان ، دیګانان بولی او تاجك هم دیګانان سره یو شان ګڼی ، خو دا بیخی غلطه ده . ورانه دی لیګل شوی دی چی تاجك داسلام تر ظهور وړ ومخته دغو سیمو ته راغلی دی او هندی مذهبه دیګانان له دوی نه وړاندی په دغه ملك کی میشته وو .

هندکي ؟

هندکي د ختیځ افغانستان په ټولو برخو کې خوارهواره او ټول هندیان دي ،دوی اکثراً دسند روډله ختیځو برخو نه راغلي او میشته شوي دي ددوی یو ښاغلي جټ بلل کیږي دپنجاب په اکثرو برخو کې په کرکیله بوخت دي او زیات شمیر جټان په سند کي هم اوسيږي، دبلوچستان ، دامان ، بنو او پيښور په ضلعو کې هم جټان استوګنه لري. په بلوچستان کي دوی ته جکدال وایي په سیستان کي هم يو لوی قوم چې جټ بلل کیږي اوسيږي او یو بل قوم چې اوان نومیږي په کالا باغ او دهغه په ختیځه سیمه کې استوګنه لري دغه خلک هم په ختیځ افغانستان کې په خواره واره ډول لیدل کیږي ،دا دان د قوم خلک ځانونه د حضرت علي (ك) او لاده ګڼي او ډېره موده کیږي چې دغه خلک له غزني نه دسند رود ختيځو خواو ته راغلي دي او ددغه قوم هغه خلک چې له هغه ځایه بیر ته افغانستان ته راغلي او څرنګه چې دوی دسند درياب له ختيځو خواوو نه راغلي وو نو ځکه په هندکي سره مشهور شول دهندکي دقوم بل ښاخ پراچه دي چې اکثره خلک يې سوداګر دي.

په کابل کې دشاه جهان دوخت هندوستاني مطربان ، ډمان او قوالان چې په هغه وخت کي راغلي وو د هغوی اولاده هم ډېره شوي ده . ديو سفر يو په سيمه کې زيات شمیر ګوجر هم شته دغه خلک ځانونه دراجپوت دقوم يو ښاخ بولي او هندکي له باجوړ نه تر ننګرهاره پوري لیدل کیږي دوی په اکثرو ځايونو کي دپښتنو دهمسایه وو په ډول خپله ګوزاره کوي.ددی اصلي ژبه هندي ده خو پنجابي ته نیږدې والي لري ، مګر اکثراً يې په پښتو ژبه خبري کوي.

هندوان :

په ټول افغانستان کي هندوان شته دي ، او په لویدیځ کې دعربو تر ملک پوري په ځينو ، ځينو ځايونو کي هندوان تر ستر ګو کیږي . همدا راز دوی په ختيځ کې دچين د هيواد تر پيکن پوري خواره شوي دي .

دا فغا نستا ن په لو یو ښارونو کی هندوا ن ډیر دی . دختیځ افغا-
نستان په هر کلی کی ددوی یو یا دوه کوره شته ، خود کابل په
ښار کی یی شمیر ډیر دی. دلو یدیځ افغا نستا ن په کلیو کی هم یو
یا دوه کوره هندوان شته ، دوی په دو کا نداری ،دلالی، صرا فی
او زر گری باندی بوخت دی .ځینی یی دکر کیلی چار ی هم تر سره
کوی .

دافغا نستان هند وان اکثـــرا کهتری (۱) او ار وړی (۲) دی خو
لږ شمیر سکان هم شته. دافغــــانستان هندوا نو د هندو ستــــا ن
اکثراً روا جونه ترک کړی دی.

دوی پړیری پر یږدی او پو ښاك یی هم ددغه ملك او سیدو نکو تـه
ور ته دی. دوی په تناره پخــــه سوی ډوډی خور ی او دخپل معمولی
غسل چندا ن خیال هم نه ساتی.

دلو یدیځ افغا نستان هند وا ن دسپا یانو په خیر و سلی هم ساتی.
دو ی د هغو پخوا نیو هند وانـــــو اولاده نه ده چی ددغه ملك پخوانی
اوسیدو نکی وو. بلکـی دوی ورروسته د ډهلی پا چا یانو په وخت نی
اکثراً له هندو ستان ، پنجا ب ،او سند نه راغلی ا ودلته میشتـه
شوی دی . په افغا نستا ن کـــی دپخوا نیو هند وانو دبت پرستی آثار
او نښی نښانی مو جود ی دی.دکابل شمال خوا ته اقا سرا ی ته نږ دی
یوه سمڅه مو جوده ده چی په هغی کی یو بر همن چی کر ك تسپیـوی
نومیده او د کرشن له کور نی نــه وپه زهد او تقوا بو خت واو هند-
وان دغه سمڅه سپیڅلی گڼی. دلو کر په خو شی کی هم یو ه چینـــا
موجوده ده ،چی هند وان یی سپیڅلی گڼی ځر نگه چی هندو ان په افغا-
نستا ن کی په خـــو ا ر ه و ا ر ه میشته دی نوله دی کبلـــه د دوی
ټول شمیر ځر گند نه دی او نه یی یقینی شمیر په داډ سره لیکلی شم
خوداسی اټکل کیدا ی شی چی پــه ټول افغا نستا ن کی دیو لکو څور-
ونه ډیر هندوا ن آباد دی خو دوی کم زور ی خواره واره دی او ذلیـــل
شمیر ل کیږی.

---

(۱) ،(۲) کهتری او اروړی پــه هند وانو کی دوه بیل بیل قو مونه
دی . (ژباړو نکی).

سواتي :

اصلي سواتي تیا نو ته هم کله کله دیګان وايي ، دوی په اصل کې هندګ الاصله دي. دوی په پیل کې له جیلم نه تر جلال اباد پسورې سیمو کې میشته وو ، خو پښتنو دوی په تدریجي ډول دهسا لي غرونو خوا ته په شاو تمبول اودوی تر ټولو وروستي استوګنځي دسوات او بونیر سیمه وه چې په پنځلسمه او شپاړسمه عیسوي پیړۍ کې یوسفزیو له هغو څخه ونیوله .اوس لږ شمیر سواتي په پکلي اود هزاره د ضلعې په پورتنیو غرونو کې میشته دي خو لږ شمیر دسوات او دهغه په شاوخوا کې هم استوګنه لري . دوی د یوسفزیو له قبیلې سره یو ځای خو کمزوري او دهرعیت په ډول اوسیږي .

د سوات په سیمه کې دوی ته فقیران هم وايي چې بیان یې د یو-سفزیو دقبیلې په مبحث کې راغلی دی . او س سواتیان په پښتو ژبه خبرې کوي او پخپله پخوانۍ ژبه نه پوهیږي .

شلماني :

په پیل کې دوی دکوړ مڅي(دسين) په غاړو کې اوسیدل او دشلمان دسیمې په سبب دوی په شلماني باندې مشهور شول له دغه ځایه د تیرا خوا ته لاړل او له هغه ځایه بیاد پیښور د په اشنغر کې میشته شول . یوسفزیو په پنځلسمه (ع) پیړۍ کې دوی له هغه ځایه وشړل او تر هغه وروسته سلطان اویس سواتي هغوی ته دسوات دسیمې په الا ډنډ کې ځای ورکړ. کله چې سوات دیو-سفزیو لخوا ونیول شو نوشلماني دیوسفزیو له خوا مغلوب شول. ددوی نه ځینې یې اوس هم له یوسفزیو سره لیدل کیږي او ددوی همسایه یعني رعیت دي ، خوشمیریې دومره لږ دی چې باید مخ په ورکیدو وګڼل شي .

شلماني د افغانانو په پخوانیو تاریخونو کې دیګانان بلل شوي خو دا روایت صحیح نه دی .